د پښتو څېړنو د بین المللی مرکز ـ بین المللی سیمینار

INTERNATIONAL SEMINAR OF

Int'l CENTRE FOR PUSHTO STUDIES

Pashto Academy Afghanistan

# د میرزا خان انصاري دیوان

پښتو ټولنه

۱۳۵٤

دپښتو ټولنې دخپرونو
پرله پسې نومبره (۲۱۲)

# د
# میرزاخان انصاري دیوان

سریزه ، سمون اولمنې
د
خیر محمد دوست

پښتو ټولنه

۱۳۵۴

**دحبيب الله رفيع په اهتمام**

خطاطي او نقاشي د: نصير احمد، پ
دچاپ ځاى : دولتي مطبعـــه
دچاپ شمير : زر ټو كه

PROPERTY OF
ACKU
5285

# دمیرزاخان
# پیژندګلوی
# او
# د دیوان نسخې

# دمیرزاخان انصاری لنډه

## پیژندنه

دبایزید انصاري ملي نهضت نه یوازي دپښتون ولس دسیـــا سی بیداری رونې گهیځ رادبره کړ، بلکیدپښتو ادب یوه ځلانده دوره پرانیسته ډیر ستر لیکوال او شاعران لکه ملاارزاني، دولت لواني، میرزا خـــان انصاري اونور ددغه ملي نهضـــت زامن او په دغه زانگوکيوروزل شول. برسیره پردی که د روښاني ملـــي تحریك ډمامه په پښتو نخوا کی نه وای وهل شوي، یقینا به مونږ دسیدعلي (پیربابا) اودهغه داخون در ویزه له نامه سره هم دومره آشنا نه وای، ځکه چي د(هرڅه خپل ضدزیږوي) اصل له مخي ددرویزه تحریك دروښاني ملي نهضت زیږنده ده.

په سیاسي لحاظ دپردیو په قوت اودوخت دشرایطو په برکت دروښاني نهضت پـه ـ ضعیفو لـو کښـــي ددرویزه تحریك بریالی شو، خو په ادبي لحاظ کوم مقام چي روښاني نهضت په تاریخ کي نیولی دی ددرو یـــزه تحریك هیڅکله نه شي ور رسید لی.

میر زاخان انصاري درو ښانـــي نهضت دادبي افق یو ځلاند ستو ری دی. دده دیوان په هره برخه او هرشعر کښي دروښان پیر فلسفـــي افکار منعکس او څرگند دی .

په دی باب ددولت لواني داشهادت کفایت کوي چي وایي:

«لومړی»

**دها دی په خوله چی پټو په ډیر کا لـه**
**دمیر زا خو لـه دهغـه‌علم مظهر وه**

خپله میرزا خان هم ځان دروښانانو هنداره او دهغه ځلاند نمر په وړانگو کی ذره بولی :

**دمیر زا گو ما ن فـانـــی شو**
**هر چــی وا یی میـاروښا ن د ی**
**عار ف ذ ره شو دنمـرپــه مخکښی**
**میر زا یی رنگ کړ روښا ن یی خوم دی**

میرزا خان دنورالدین زوی دبی‌بی‌شمسو لهلاری دبایزید روښان نمسی دی. دزیږیدو نیټه یی نه‌ده معلوه مه‌خو په۱۰۴۰ ه،ق، کال کی په دکن کی‌په یوه جگړه کښی شهید شوی‌دی.

دمړینی نیټه‌یی دولت لوانی داسی‌ښوولی ده:

**ددکن په جنگ شهیـدشو خو شنود او سه**
**په تاریخ د زر ځلو یښت‌کښی یی گـذ رو**

ددبستان مذاهب په روایت دشاهجهان په وخت‌کښی(ددکن) ددولت آباد په‌جگړه کی وژل شوی دی.

ددغی جگړی‌صحنه‌خپله دمرزاخان انصاری په‌یو شعر کی هم‌ترسیم‌شوی ده. دشعر لومړی بیت دادی:

**په تاریخ دزر ځلویښت‌وی دا خبر**
**چی لیده شو په دکن گوجرات جبر**

دمیرزا په‌باب ځینی له غرضه‌ډکی‌لیکنی هم شوی دی.

ددغو لیکنو په جمله کی دنامتوختیځ پوه میجر راورټی نوم دیادولو وړدی. ده په«سلیکشن فرام دی پویتراف دی افغانز »کی لیکلی دی .

۱ـ دمیر زاخان انصاری نـــومفتح خان و. (دغه روایت پښتا نـه شعراء لومړی ټوک۸۰ مخ هم‌اخیستی‌دی) .

۲ـ میرزا خان انصاری په قوم‌یوسفزی و.

۳ـ میرزا خان انصاری په ۱۰۴۰کال کی په‌شعر ویلو پیل کړی‌دی دغه کال دده دشعر پیل نه ،بلکی‌دمړینی کال دی.

٤ـ میر زاخان انصاری دخپل‌عمرپه‌پای کی‌په خپلو کړو پښیمانه او په‌ځوانی کی‌یی چی کومه عقیده (په‌روښانی مسلك) غوره کړی وه هغه

یی پریښوده .

دغه ټولی خبری البته پوچی اوبی‌اساسه دی.

دهمدغو مو ضو عاتو غلطیو تــه پــه خپله راورټی هم متوجه شوی و او دهغو ځینی برخی‌یی په خپل پښتوګرامر لومړی چاپ ۱۸۵۵ کال پــه ۳۰ مخ کی تصحیح کړی وی .

دانصاری په باب چی یو شی دیادونی وړدی هغه دادی چی‌دی‌داحداد په‌وخت کی دروښانی تحریك نه‌په‌څنګ شوی وخو بیا ورو سته په خپل دغه حرکت پښیمان شوی دی.دده دغه حرکت اوپښیمانی دده پــه هغه شعر کی څرګند دی چی داحدادد‌شهادت په باب یی ویلی:

**ما پــه حضو ر ډیر ه‌ښیو ه کــړه**
**اوس حسا ب شو م‌ډهند وانو له کتاره**
**د رو ښــا ن د کــور سر و د وی**
**دافغان دسر دستاره**
**او ل می نه پیژند ی‌ځکه بیل شــو م**
**دو حدت له نــو بهاره**
**دمیر زا دزړه اړ مـــا نشــو ه**
**دا حداد بــاد شاه دمـــخ‌نــنداره**

دا چی ( اول نه می نه پیژنــد ی‌ځکه بیل شوم) لیکی ددی نه پـــه څرګند ډول ښکاری چی دده‌دبیلتون‌علت به‌د(احداد) سره‌ونه د(روښانی نهضت) سره دی دا نهضت بیا هــم(دو حدت‌نوبهار ) بولی. بله دا چی که‌دی دروښانی نهضت نه بیل اوپه‌خپلو کړو پښیمان وای درو ښنا نی نهضت ستر پیرو اوشاعر دولت به‌دده‌په باب نه وولیکلی:

**دمیرزا دنور الدین صفت‌بــه خو کړ م**
**میا رو ښا ن دپوهی ښارد ی یی درو**
**دها دی په زړه چی پــټو پــه ډیر کاله**
**دمیر زا خو لـــه دهغه‌علم مظهر و**

**څیړنمل دوست**

**« دریم»**

# هغه کتابونه چه‌د دغی مجموعی په ترتیب کی ورنه کار اخیستل شوی دی

دمیرزا خان انصاری دا شعار ونقل شوی پانی ماته وسپارل شوی چه له بیلو، بیلو قلمی او چاپی نسخو سره هغه مقابله او تطبیق کړم او دچاپ له پاره یی برابری کړم نوددغو اشعارو په سمون کی زه‌دی ته‌اړ شوم چیرته چه دمیرزا خان‌انصاری داشعاروځرګ‌راته ښکاریده هغه ولټوم، په دی لړکښی اته‌نسخی‌زما لاس ته راغلی چه ما ور نه استفاده کړی او دلته وړ اندی کیږی :

**۱- دپښتو ټولنی قلمی نسخه :**

دغه نسخه چه‌د پښتو ټو لنی‌په کتا بخانه کښی موجوده ده په روښانی لیك دود لیکل شوی او په‌لومړی مخ یی (دیوان مرزا افغا نی) لیکل شوی اود کتاب په پای کښی‌دنسخی ناقل ځان داسی معر فی کوی (تمت میرزا افغانی ...  به‌دستخط فقیر حقیر پراز تقصیر ملاشاه محمد ولد مرحوم المغفورملاداد محمد ولد ملاشاه مراد قوم خوګانی ساکن ار غستان تحریریوم‌دوشنبه شهر ربیع الثانی سنه ۱۳۲۷ هجری)

دمیرزا خان انصاری داشعارومجموعه چه‌د چاپ له پاره تیاره‌شوی له همد غی نسخی ښاغلی ځیړ نمل‌حبیب الله نقل کړی ده اوپه لمن لیك کی د(قلمی نسخی) په نامه یاده‌شوی ده .

**۲- دمیرزا خان انصاری‌داشعارولومړی ځل چاپ شوی مجموعه :**

دغه نسخه چه‌د (دیوان میرزاهد افغانی محشی) په نامه یاده شوی دکندهار دښار دکتا بونو دتا جرانوملاجان محمد اوملابسم الله له خوا دلاهور په اسلامیه مطبع په ۱۳۳٤کال کښی چاپ شوی ده دغه نسخه ځای په ځای حاشیی لری‌چه د ځینوناخر ګندو او نا آشنا لغتو نو په سپړلو کښی مر سته کوی .

په دغه نسخه کښی همد روښانی‌لیك دود بشپړ مراعات شوی دی‌او په‌لمن لیك کی دکند هار نسخه‌په نامه یادیږی .

دغه دوه نسخی یو تر بله تقریباًهیڅ توپیر سره نه لری او تر دی چه‌یوه دبلی کاپی ښکاری کوم لږډیر توپیرونه چه سره لری هغه به

هم‌یا په نقل یا په طبا عت کی تو پیروی.

**۳ـ دمیرزا خان انصاری دیوا ن‌دهمیش خلیل له خوا خپرونه :**

دغه کتاب په ۱۹۵۹ کال کـی پـه پیښور کښی چاپ شوی دی‌او موږ یی دده په‌نامه یادوو .

**٤ـ نیمګړی نسخه :**

دغه دیوی داسی قلمی نسخی یوه‌برخه ده‌چه ډیره پخوا لیکل شوی خو خرنګه چه سر اوپای نه لـــری‌لیکونکی او نیټه یی نه‌ده معلومه‌خو دکاغذ او لیك دود له لرغونتیا څخه‌اټکل کوم چه نیژدی اتیا کاله پخوا په‌لیکل شوی‌وی‌اودا ټولی دوه‌ویشت‌پاڼی دی چه ٤٤ مخه کیږی هغـــه هم‌مرتب اوپر له‌پسی نه دی بلکی‌ګډوډ دی، دروښانی الفبا مرا عات پکی نه‌دی شوی .

دغه پاڼی ښاغلی رفیع زمـوږداستفادی له‌پاره راکړی دی اوپه‌لمن لیك کی‌د (نیمګړی نسخی) په نامه‌یادیږی .

**٥ـ لر غونی نسخه :**

دغه نسخه په دی تازه وختونوکی دپښتو ټولنی کتا بخانی تـــه رسیدلی ده‌دلیکلو دنیټی په لحاظ‌له‌موجوده ټولو نسخو څخه معتبره ده ځکه چه په ۱۰۸۳ هـ. ق کی لیکـل‌شوی او بیخی بشپړه ده دروښانی الفبا پوره مراعات پکښی شوی دی‌خود لیك دود غلطی زیاتی لری.

چیرته چه دهمیش او ددغی نسخی‌تر منځه سمون موجود ؤ مـوږ همغـه په‌متن کی نیولی دی دغه نسخه موږدلرغونی نسخی په‌نامه په‌لمن لیـك کی یاده کړی ده‌په دغه نسخه کی‌دیا دولو مهم بل ټکی دادی چه دخیر البیان غوندی زیاتی‌کلمی لکه دنیامته‌هتیاتی او نوری) پښتو شوی دی .

**٦ـ خرستو ماتی :**

دادیوه ل.ی کتاب نوم دی چه‌په ۱۸٤۷ کال کی دپښتو نامتو محقق برنارد دورن په‌پتر ګرادکی له انګلیسی مقدمی سره چا پ کړی .

په دغه کتاب کښی دمیرزاخان‌انصاری څو نظمونه نیول شوی دی په لمن لیك کښی د( خرستو ماتی )په نامه یاده شوی ده .

دانسخه دکتور ګل محمد موږ ته په خاصه لورینه سپارلی وه‌چی دزړه له‌کومی مننه تری کوو .

**٧ـ دکابل دعامی کتا بخا نـی(بشپړه نسخه) :**

دغه نسخه چه نسبتا ډیـــره پخوانی نه ښکاری په ۲٤۰ مخونـو کی نیول شوی دسر له پلوه تـــر۵۳مخه پوری چنجیو خوړلی‌او استفاده تری نه‌شی کیدای خو وروسته‌بیخی ‌بشپړه اوډیر داسی شعرونه لری چه په‌نورو نسخو کی نشته .

له یوی خوا ددغی نسخی لیـکدود بیخی ناسم اود ډاډ وړنه دی‌خو له بلی خوا داسی څو شعرونه لر ی‌چه په نورو نسخو کی نشته .

ددغی نسخی لیکونکی ځان پـــه‌یوه شعر کی ملا لعل محمد معر فی کړی دی چه‌د صاحب جان نو مـــی‌سـ ړی‌چه په‌خـتـه نـورزی دی پــه سپارښتنه یی لیکلی دی .

خود کتاب دلیکلو نیټه او ځای‌نه‌دی معلوم دغه نسخه د(کتابخانی بشپړه نسخه) په‌نامه په‌لمن لیک‌کی‌یاد یږی .

**٨ـ دکابل دعامی کتا بخا نـی‌دخطی نسخو په ځانګه کی نیمګړ ی نسخه:**

دغه نسخه ډیره پخوا لیکـــل‌شوی اود لیك دود او کاغذ لـــه څرنګوالی څخه یی اټکل کیدای‌شی‌چه‌لږ ترلږه سل اوپنځوس کاله‌پخوابه لیکل شوی وی خر څرنګه چه پای‌اوپیل نه‌لری دهغو دلیکلو او ناقل پته نه‌لګیږی دغه نسخه ۱۳۰ ګډوډاوبی ترتیبه مخونه لری او په لمن لیك کی دکتابخانی(نیمګړی نسخه)یادیږی.

**دکتاب ترتیب:**

څر نګه چه په پخوانی لیك دودکی‌څرګنده (ه ) مجهول (واو) او مجهوله (یی) معمولا نه دی لیکل شوی‌نودهغه‌لیك دود په اساس ډیر اشعار چی اوس په دغو تورو لیکل کیږی اودهمیشس په نسخه کی په حرکا تـو افاده شوی هغه موږ داوسنی لیـك‌دود په‌اساس ترتیب کړه اوپه دغه لحاظ دزړی ردیف بندی له مراعاته‌تیر شوو .

**ښیرنمل دوست**

**«شپږم»**

# ا

# الجامع

# بسم الله الرحمن الرحيم

نـــن بــه وكــړم څو صفته        د مـــو لا لـــه ارا دتـــه
هريو(١)فعــل چــه يــى وينــى        خـــا لـــى نه دى له حكمته
پر احمد نز ول قـــر آن شو        چه سل څوارلس يى سورته
چه شپــږ زره پــه شماره د ى        شپږ سوه شپږ شپيته آيته(٢)
ديــر ش يـــى سپا رى دى        څوار لس يى سجدى دتلاوته
دير ش يـى حرفه دهجــا د ى        تــه يى زده كړه نيك خصلته
پــر مخرج يـــى برا بر كړه        همهر حرف پرخپل صفته (٣)
درىلكه نهديرش زرهدولسحرفه        بيا يى څوار لس روا يتــه(٤)
په پښتو به يى زه وا يـــم        دهر حرف يا زده لغتـــــه
رهبــرى يــى دتو حيد كـــه        پـــه څـو لـو نـه عبار ته

١ـ لرغونى نسخه (يو) نهلرى .

٢ـ دكندهار اوپهقلمى نسخوكى: (اوشپږ سوه شپږ شپيته آيته)

٣ـ دغهدوه بيتونه لهقلمى نسخى واخستل شول .

٤ـ دكنــدهار اوله قــلمى نسخو دابيت واخستل شو .

کـل صفت دی بیـان شوی — د تـو حید لــه معر فتـــه
لکه علم دتـــو حیـــد دی — نور دی وا ړه اشا رتـــــه

دمیر زا کلام شیر یـن شو
درو ښان لـه بـر کـــته (۱)

الف_اول څړه و حـــد ت دی — نن را غلی پـــر کثرت دی
دنا سوت په کیل یی زړه و — څرگند کړی یی قدر ت دی
هستی یی بـــی پـا یا نــه — په هر څه کښی یی صفت‌دی
په سړی با ندی یـــی ایښی — دخپل علم امـــا نـــت دی
مجـاز یـــی غـلاف کـړی — پکښی ایښی یی حقیقت دی
پــه یوه کښی دو یـم نشته — بی هو ده گو مان غلـت دی
هره چا ر کا نـدی په خـپله — بـا نه کړی یی صو رت دی
طـالـب یـی پـو پنا کـړ(۲) — له مطلوبه یـی غیـر ت د ی
له وبا له نـه ویر یـږ ی — لــه ثوابـه فـرا غـــت دی
په هر کور کښی تجلی کـا — عجب نور د مـعر فـت د ی

نن میر زا په پښتو کـــړی
د یـــوه مـولا صفـت دی

ب_ باور په دا کـلام کــړ ه — تــه دو وم فکـر حـرام کړه
چه کلیا ت پکښی وو ینـی — نـن طلب ددغـه جـام کړه
مقصود نه دی له تـا لیـری — پسی سیل په‌خپل گرام کړه(۳)
شاه کعبه یـــی جلیلـی ده — په اخـلا ص پسی احرام کړه
نحـــن اقـــرب الیـــه — ته یی فهم پر پیغـام کړه
که گو مان کړی‌له زړه لیری — ننداره یی صبح وشام کـړه
کار گه وبا سه لـه بـا غـه — شاه تو تی [illegible] انعام کړه
بد گو مان دی زړه نیو لی — نو را نی [illegible] اسلام کـړه
پر شاه وسو ځه فا نی شه — اوا ره دی [illegible]ك ونـام کړه

---

۱_ (دروښان) په‌ځای قلمی اودکندهـار نسخه (پیرروښان) دی .

۲_ دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی (هرطالب چه‌دی فانی کړی)

۳_ داصل اونیمگـړی نسخی د(سیل) او (گرام) په‌ځای په‌نوروکی (سیر) ،(گام)دی.

نور باقی به جا ویدان شی — ته یقین په دا الهام کړه ه (۱)

که مقصود دی شی له لاسه

پــر میر زا با ندی سلام کړه

ت- تلوار کړه په دا مر ستــه — نن طلب وکړه دا قصتـــــه

د حا صل وو خت دی دا دی — ثو اختیار دی دی له دسته

له وحد تــه شهـا را غلــه — په دا خپلو میـــو مستــه

دا پر وا له هیڅا نـــه کــا — خود نما یه خود پر ستــه

تر کلیات ده جار وتلـــــی — له‌هر چا سره پــیو ستـه (۲)

کــر شمی کــا لــون لــون — له دی کثـر تــی بر بستــه

حد پا یان یی مو نده نه‌شی — دا بلنده ده هــم پستـــه

هم په کون په مکـــان کنبی — شاه له دوا ړوکو نو در سته

له بورا سره یـــی راز دی(۳) — دزړه راز یـــی وققنستــــه

عجب میل یی پیـــدا شو — د خپــل معر فــت دکستــه

پــر میر زا بـــا ندی نز وله

خپــله بر خـــه لـــه الته

ث- ثنا کړه لـــه تـو حید ه — نن خبر شه له دی خر یــده

شاه ترتا وتا ته نــژ دی ده — بل روخ مه درومـــه بعیـــده

نحـــن اقـــــرب الیـــــه — دا کــلام دی لـــه مجیـــده

په خپل وجودکنبی یی‌وغواړه — شاه «مــن (٤)حبل الور ید ه»

دکثرت پــر بازار را غلـــه — پر دا چار عنصر سهید ه (۵)

دانسان کمیسس‌یی واغوست — په‌دوه کــو نـــه یــی بـــازی ده

چه دنمر شعله پیـــدا شوه — څه ذره څــه یــی هستــی‌ده

---

۱- په‌نورو نسخوکی : نورباقی ...- تـه یقین په‌داکلام کړه ) دی .

۲- د‌اصل او نیمګړی نسخو (دهرچاسره) په‌ځای (داله هرسری) ده .

۳- پـه‌نــورو نسخوکنبی (له‌یوه سره‌یی نازدی).

٤- د(من) پــه‌ځای پــه نورو نسخوکــی (نژدی) دی .

٥- په‌نورو نسخوکنبی د (سهید) په‌ځای (شهیده) دی .

ته تر خپله هستی تیر شه — ای پر شاه با ندی شهیـــده
یخ که هر څو محکمـــی کـــا — څه مجال یی له خور شیـــده
هر چه فقر یـــی تمـــام شی — په معنـــا یی پاد شا هـــی ده

دی میر زا پـــه پښتو کړی
کـــل صفت دی لـــه حمیده

ج-جمـــال یـــی صبحگـــا ه‌د ی — ددی دوو زلفـــو پـــه پناه‌دی
پـــر هـــر لو ری تجلی کـــا — دغافل دلیل (۱) کـــوتاه د ی
دمـــا هـــی هستی له آ بـــه — دسړی ژوندون پـــه شاه‌دی
وهر چـــا دی رسید لـــی — لکه نـــو پـــه هر گیـــاه دی
کم دلیل یی لیدای نـــه شی — په گو مان ځنی گمـــراه د ی
مقصود به رو زی نه کـــه — هر چه بند دنفس په چاه دی
دعشق نور دی را ختلـــی — نـــن دحقیقت صبـــاه دی
له غا فـــله په حجـــا ب کښی — یـــو عا رف ځنی اگـــاه دی
چه یی معر فت رو زی شو — اوس دکـــل جهـــان پادشاه دی
چه فا ینما تـــو لـــوا — ترو فثم وجـــه اللـــه دی

نـــن میر زا دلیل ویلـــی
هر کلام‌یی دحال گـــواه‌دی

ح- حاضر د ی که یی گـــوری — در نژ دی دی په تا پـــو ری
یو عجب یی سپین جمال دی — دوی یی زلفی دی دا تو ری
مختلف قمیص یی‌وا غـــوست — کر شمی یی ځنی نـــو ری
که حجاب له میا نه وا خلـــی — بـــی اختیـــا ره به وښوری
چه دعشق شغله پیـــدا شو ه — لمر به وریشی تر (۲) سیوری
ته اختیـــار کـــړه داور پښتـــی — یخ به څو له لمره ژغـــو ری
شاه له تا سره یکتـــا دی — اندیښنی مه کړه خمسوری (۳)

---

۱- په نورو نسخوکی د (دلیل) په ځـــای (نظر) دی .

۲- دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی (لمریی وغوړید پر ...،)

۳- په‌اصل نسخه‌کی د (خمسوری) په‌ځای (سملوری) دی‌چه‌معنایی څرگنده نه‌ده .

دکامل را نجه در وا خلــــه     که دزړه سترگی دی گوری(۱)
که پر شاه با ندی نثار شی     دباران په خیر بـه او ر ی
دغه سیند گنهـــه دوینـــو     او خپـــی یـــی آدم خـــو ر ی
دمیر زا خاطر یی لو ټ کـړ
محبو با دزړونو چـــو ر ی

خ- خودی دی خپل گومان د ی     په گومان کی‌دی ډیر زیان‌دی
په صو رت غلتی مـــه کړه     په بهار پسی خـــز ان دی
په‌مقصود پسی منز ل کـړ ه     څو په حکم دی عنـــان دی
مو لانه دی لـــه تا لیـــر ی     درنژدی تر خپله ځان دی(۲)
هم په ځمکه په آسمان کنبی     هم محیط تر دغـــه میان‌دی
په‌وحدت کـنبی یگـا نـــه و     په کثرت با ندی پریشان دی
له لاهو ته یی را کوچ کـړ     نن یی سیل پر جهـــان دی
حد پا یان یی مو نده نه شی     په سړی کنبی یی مکان دی
خود په خوده با زی کا نـدی     با نه کړی یـــی انسان دی
هر ولی چـه آغـا ز و کـــا     څر گند کړی یی بر هان‌دی
دمیر زا گو ما نڤانـــی شو
هر چه وایـــی میا رونبـــان د ی

د- دلیل دی خپل رفیـــق کړه     ته طلب ددی شفیق کـــړ ه
عقل نور دی په خا طر کنبی     حق با طل وبله تفر یق کړه
چه رسول پر با نــدی تللـــی     نن منزل په داطریق کـــــړ ه
شك شیطان دی مه‌یی نغوږه     اواره گو مـــا ن عمیق کړه
نا امید مه شه له ربـــــه     اعتبار یی په تو فیق کـــړه
حقیقی توره در وا خلـــــه     ته پر غوخ حجاب رقیق کړه
بد گومان دی زړه نیو لـــی     په باور کنبی یی غریق کړه
مو لانه دی له تا لیـــر ی     خپل وجود کی یی‌تحقیق‌کړه
ددنیا مینـــــه زنـــار دی     ته‌یی پربل آتش حریـــق کړ ه

---

۱- دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی (دزړه سترگی که‌په توری)
۲- دهمیش نسخه : (درنژدی دی ترخپل ځان دی )

تا وینا کړه په زړه سنـــــده　　چه هارون وته شفیق کړه (۱)
هر چه وا یی په رښتیـــا دی
دمیر زا کلام تصد یق کـړه

ذ ـ ذکـــــــر د زړه راز دی　　دا د حقیقـــــت اغـاز دی
چه دا ذکر شو له مذکـــــور ه　　په دوه کو نـــو سر افرازدی
دا دراز ډیـوه شوه بلـــــه　　داور پښتی پری گـداز دی
دگو مان قفس یی مات کـړ　　اوس په شاه‌پسی پروازد ی(۲)
چه دعشق پـه اتش و سو　　له دی سوزه سره ساز دی
ته سجده په ترك و جودکـړ　　دعا رف دغـــه نمـــاز دی
محمود چه پادشا هی کـه (۳)　　دی عاشق په خپل ایاز دی
حقیقت یی پکښی ایښی　　غلاف کړی یی مجـــاز دی
دحیات پیا له یی را کـړه　　یو سا قی مسکین نواز دی
سا جد یو دی له مسجو ده　　بیهوده گومان غمـــا زد ی(٤)
دمیر زا گو مان فا نـی شو
له در یـا بـــه دا اواز دی

ر ـرو یت د شهـــا پـــاك دی　　پاك له غیرو له خا شا كدی
یو پرتو یی له مـخ و شـو　　بینا کړی یی امـــلا ك دی
چه یی زلفی کړی پر یشا نه　　شرا شور یی پر افـلاك دی
دآدم صورت یـی رو غ کـړ　　عنایت یـی پر دا خـا ك د ی
درسول در جه گـــــو ره　　په‌قرآن (۵)کښی یی لولاك د ی
حق نژ دی تر ښار گو نـو　　هم په ده دهر چا ژواك دی

۱ـ دقلمی اودگندهار په‌نسخوکی (دادنیا کـړه په‌زړه پسنده ـ چـه قارون غـونـدی عتیق کـړه.)

۲ـ دکندهار اوپه قلمی نسخوکی‌د(گومان) په ځـای (خـالی) او د (پـرواز) په ځـای «گـداز» دی .

۳ـ په‌قلمی نسخه‌کی د(که) په‌ځای «کړه» دی .

٤ـ په‌قلمی اودکندهار په‌نسخوکی د(غماز) په‌ځای (ناساز) دی .

٥ـ دکندهار اوقلمی نسخی (درسول‌مرتبه لویه ـ په‌حدیث..،)

ددیدن خو ښی یی ډیره — چه یی نه وینی غمناك دی
چه حضور مولانه وینی — څه حجاب یی پر ادراك دی
ښه دیدن له هسی مخه — درنځو رو زړو(۱) تریاك دی
هر چه دا دیدن یی وکړ — که شهید شو څه یی باك دی

دو حدت جلوه پری وشوه
دمیرزا گومان هلاك دی

ز— زنده په هوا آب یی — په طلب ددی دریاب یی
بد گومان دی زړه نیولی — چه له حقه په حجاب یی
دحیات اوبه در څخه — ته غولیدلی په سراب یی
نن طلب دمولا وکړه — څو شیخ نه یی لا شاب یی
دی تر تا وتا نژدی دی — ته پخپله خپل نقاب یی
دغفلت پیاله دی نوش کړه — لاتر اوسه پری خراب یی
دنیا دم در باندی وکړ — څو بهخوبښ پهدغهخواب یی(۲)
له جهانه به دی تله وی — پیدا شوی په شتاب یی
چه دیدن دی رو زی نه شی — تل تر تله په عذاب یی
عذاب دی جدا یی ده(۳) — چه بیل شوی له احباب یی

دمیرزا وینا نه اوری(٤)
بیهوده له دی اصحاب یی

س— سالك په روغه لار شه — په اخلاص یی طلب گار شه
دغفلت له خوبه ویښ شه — نن په مرسته دخپل یار شه (٥)
مقصود دی نا پدید دی(٦) — په طلب یی څړه سوار شه
دغه یافت په مشقت دی — ته سر باز یی ، اختیار شه

---

۱— دکندهار او قلمی نسخی (د ړندو سترگو ......)
۲— دابیت دکندهار اوله قلمی نسخو واخستل شو په اصل نسخه کی نشته .
۳— پهقلمی اودکندهار پهنسخوکی (دعذاب جزاء بهموءی)
٤— پهقلمی اودکندهار په نسخوکی (ای میرزا دنیانه ارزی)
٥— دکندهار اوقلمی نسخه : د«ویښ‌شه» پهځای «پاڅه» اود «مرسته» پهځای (مینه)
٦— دکندهار او قلمی نسخه : (کل مقصود دده دیدن دی)

چه‌د عشق ډیـــوه یـــی بله نن‌پتنگ غوندی تری ځارشه
دحیـات پیاله یی در کـړه پر سا قی بانـدی نثار شه
ته پر دی عیب مه غـــوا ړه آیینه دخپل کـــر دار شه
خپل مقصود له تا څخه دی په اخلا ص یی تری کنارشه
ته له اصلـه یکتنهـــا یـی نن گو یا پـه دا اسرار شه
خدای احد دی بی شر یکـه ته‌له غـیرو روزه دار شه (۱)

ای میر زا اختیاردی خپل‌دی
دسا کن په خـــوی قرارشه

ش- شهـا وتـــا قر ینـــه بی پر وا ده ناز نینـــــــه
و هـــر چـــا ته رسید لی ته یی نه وینی دوه بینـــه
خزانه دی په خپل کور کښی در ویزه کړی خو شه چینه
نه دارو دزړ گی غـــوا ړی نه پر وا لری له دینـــه
دسلیمان حا لـــت دی نشته څه حا صل دی له نگینـــه
چه دی مدح په دروغ کـــا قتلوی دی بی سکینـــــه
خدای بیزار له خر قه پو شه دزړه پت یی له استینـــه
بر گز یده یی پیـــدا شو ی ای په خپل گو مان کمینـــه
دگو مـــان‌لښکربه مات کړی که خبر شی له یقینـــه
اسرا فیل چه بر غو پو کړی بیا یـــی حـد تـرار بـعینـه

دمیر زا گو ما ن فا نـــی کـــه
حشر گاه یـــــی له‌مسکینه

ص- صـــــراط المستقیم د ی دا منزل یی په ډیر بیم دی
دشیطان مکرو نه ډیـــر دی لا بتر دا نو س غلیـــم دی
دنو س پیر وی مه کـــړه بد یی حال بد یی تعلیم دی
داولاد لو مـــه یـــی کـینبو ه حال(۲) یی‌رنگ په‌رنگ نعیم‌دی
یو حصار یی نام وننگــــ شو بل بنا یست یی زر وسیم د ی

---

۱- دکندهار او قلمی نسخه : دوروستی بیت مصرع دمخکنی او دمخکنی دوروستی‌پوری نښتی ده .

۲- د(حال) په‌ځای دهمیش نسخه (مال) اوپه کندهار اوقلمی نسخه‌کی «خال» دی .

گوبنی ثوبی پو ری وکه (۱)     هر چه نقش یی پر گلیم دی
په دنیا به معمور نــه شی     چه په نغو تــه د رجیـم د ی
کل اقلیم یی شی په حکـــم     زړه یی بند پەبل اقلیم دی
چه دنفس ورمونه (۲) نغو ږ ی     ولهـــم عذاب الیـــم دی
چه تردا از مو ینبنت تیر شو     دکامل قـــوت سلیم دی (۳)

پر میر زا یی عنا یـت شو
هوالـتـواب الـر حیـم د ی

ض- ضلل د ظلـــما ت د ی     او ظـلـمـات آب حیـا ت د ی
یو ذاتی مزی یی روغ کـــه     پری پیلی یی صفـــات دی
رنگ پرنگه با زی کا ند ی     غوړولی یـــی بسا ت د ی(٤)
بی ستـو نـــو یی محکم کړ     چه قدرت یی پر ثبـا تدی
چـه الا لیعبـــد ون شو (٥)     معر فـــت دده برات دی
دتو حید جلوه پری وشوه     لکه یخ پـــه او بو مات دی
په وحدت کبنبی یـــگا نه شو     له اندوهه یی نجـــات دی
دگو مان جا مه یـــی وکبنه     اوس له ذاتـه سره ذات د ی
چه له مر گه پخوا ومـــری     نور به نه مری تل حیـــات دی
تحـــریر یـــی حقیقت که (٦)     هره نخبنه یـــی ایات دی

دمیر زا گو مان فا نـی شو
لا نفی مـولا اثبـــا ت دی

ط ـ طلـــب وکړه سا یلـــه     په طلب کړه شها خپلـــه
چه دیدن دی رو زی نه شـی     کل بند گی دی بـــیحاصله

---

**١ـ قلمی اودکندهار نسخه (کنبیدی گوتی پەوروکړی) اود همیش نسخه «گوبنی سوبی پەوروکه»**

**٢ـ د (ورمونه) پـەځـای دهمیش نسخه (امرونه) اودکندهار او قلمی نسخه «پندونه» دی .**

**٣ـ همیش «دقوت سلیم» پەځای (قـوت تسلیم) اودکندهار اوقلمی (تسلیم دی).**

**٤ـ پەقلمی اودکنهار پەنسخوکی (مختلف یی مخلوقات دی)**

**٥ـ قلمی اودکندهار نسخی (تـن چـه الالیعبد واشو)**

**٦ـ قلمی اود کندهار نسخی (دا تحـریر دحقیقت‌کا)**

دا تر تا وته نـــــژ دی ده
په گو مان پسی مـــه ځغله

هر خلـوت یـی منـور کـړ
رو ښنا یی یی له محفلـــــه

نن په عرشـس با نـدی ختلـی
عار فـــا نو ولیـــد لـــــه

عرش الله دمؤمـن زړه دی
که دلیل وکړی عا قلـــــه

عجب مخ به در ځرگند شی
ته حجاب واخله له دلـــــه

په بیوره (۱) میدرته وو یـــل
او معنا یی ده مشکلـــــــه

دهر چا په خو له کلام کـــا
هم په هر چا ده دا خلـــــه

ته فا نی خپله هستی کـړه
ای له شاه سره وا صلـــــه

دمیر زا گو مان فا نی شو
خدای با قـــی دی تل‌تر تله

ظـ ظالم نفس دی دخیـــل دی
دی له تا سره بخیـــل دی

خلاص به نه شی له عذا به
چه دده په لاس قتیـــل دی

چه جلب یی وده ور کـــړ
غلط شوی له سبیـــل دی

چه بد مکر یی افسون کـــړ
تل اخته په قال وقیـــل دی

ډیر عالم یی غلط کــــړ ی
بد پرینډ (۲) عزا زیل دی

در یا لومه یـــــی کښیښوه
چه ارزق لبا س یی نیل دی

دشیطان سـزا عـذاب شو ه
چه یی نغوته کـــاذ لیـل د ی

ددنیا طلبگـار ډیـــر دی
اود زړو پسرو قلیل د ی (۳)

یو، یو طلـــب دخدای کـا
چه عمل یی په‌تنز یـل دی

مقصود به یی روزی نه شی
چه رهبر یی خپل دلیل دی

حا جی سیل دجهان کـــــا
میـر زا کـــړی دجلیل دی

عـ عیـب بـد گـــوما ن د ی
په گو مان عــا لم حیران‌دی

هغـــه زړه بـــه جمعه نه‌شی
چه په هیڅ پسی پریشان‌دی

دوحدت بهره یی نشتـــــه
په کثرت کی ځان په ځان‌دی

---

۱ـ پـه‌قلمی اودکندهار پـه نسخوکی د (بیوره) په ځای (رموز) دی.

۲ـ په‌قلمی اودکندهار پــه نسخه کـی‌د (بدپرینډ) په‌ځای (بدترین‌تر)دی.

۳ـ په‌قلمی اودکندهار په نسخوکی(دنیوی‌طالبان ډیردی ـ اخروی طالب قلیل‌دی)

دپندار تـــا بیـــه ډیر ه (۱) لکه ابـــر بی بـــا ران دی
تر کما له به ور نـــه شی چه نظر یـــی په نقصان دی
نـــا پوه ظلم په ځان کا ندی چـــه داما نت ضمـــان دی
خود پرست له خـو دی لښلی دآدم په دود حیـــوان دی (۲)
روح یوسف شو په صورت کی دصو رت خو یی زندان دی
چه له دی زندانه خلاص شو دامین مقا م امـــا ن دی
مست دعشق په براق سپورشو خوښ وتلی په چوګان د ی(۳)

میر زا را شه نندا ره کـړه
دغه ګـوی دغه میـدان دی

غ- غیر خـوی تغیـــر کـړه روح پاد شاه عقل وزیر کړه
نوس نا دان دی مه یی نغوږه ته دا نش پر فهم خیر کړه
دشیطان مکرو نه ډیـر دی هر افسون دده ځنځیر کړه
ستا په کور کی پنځه غله دی واړه ځای په ځای اسیر کړه
بدی طمعه ځـــنی وا خله (٤) تو کل په زړه ځای ګیر کړه
واخلاص وتـه نـــژدی شه اوا ره لبا س تز ویر کـړه
پهښکاره (٥) میدرته و ویـل در ست عمل په دا تدبیر کړه
که په داصفت مو صوف شوی ترو صحبت لهخپل امیر کړه(٦)
له خناسه خـا طـــر ژغـور ه دخدای یاد باندی تحریر کړه

---

۱- دهمیش پهنسخه کی (دپندار تابع یی ډیره) پهقلمیکی (دپندار هاهوی ډیردی) د کندهار نسخه (دپندار هاهوی ډیره).

۲- پهقلمی اودکندهار په نسخهکی(خود پرست په خودی تښتی - ظاهرآدم باطن...)

۳- پهقلمیاودکندهارپهنسخوکی د(چوګان) پهځای (یوآن) دی.

٤- پـهقلمی اودکنـدهار په نسخـوکـی (ته طمعه لهزړګی واخله)

٥- د(پهښکاره) په ځایدهمیش نسخـه (بیـوره)او دکنـدهار اوپه قلمی کـی(پـه ښکاره) دی .

٦- دهمیش نسخه د(ترو) پهځای (نور)او د (امیر) په ځای (پیر) دی .

مجاز خوب دی په دنیا کښې نن یې حقیقت (۱) تعبیر کړه

د میر زا کلام نکتـــــې دی

ته یې فهم په تفسیر کړه (۲)

ف۔ فانی دتـــــن صفت د ی — بیو فـا رسم وعـــا دت دی

نن یې غوا ړه په جود کښې — دخدای څو لو نه عـزت دی

حیا تی یـــی بی نقصا نـه — په کـلام کښې یې حکمتدی

یو یی علم لد نی شـــو (۳) — هم توا نـا په خپل قدرتدی

دی شنوا پهکل غوږو نـو (٤) — په دیدن کښې بی لذت دی

مستغنی شو له مخلو قـــه — هـم دده کـل ارادت د ی(۵)

ډیر کوښښ دی پسی بو یه — دغه یافت په مشقـــت دی

پر سړی با نـدی یې ایښی — او وه لو نـــه امـا نت دی

چـه لــه حقه (٦) خبر نه و ی — ټول ژوندون یې معصیت دی

که صورت (۷) پکښې فانیکړی — مستقیم دی معــر فت دی

خپل (۸) ځان پخپله ستا یـــی

په میـر زا یـــی عنـایتدی

ق۔ قادر په خپله چـــا ردی — په هر څهکښې یې اختیاردی

په وحدت کښې یگا نه شو — په کثرت کښې بی شماردی

دیـوه در یـاب لـــه نـوه — چیری گل شی چیری خاردی

یك تنها شو په خلوت کښې — هم شهره په هر بازار دی

په کعبه لـــه مسلما نــه — په کنیشت کښې له کفار دی

---

۱۔ دهمیش نسخه (نن‌داحقیقت اوقلمی‌اودکندهار نسخه (حقیقت ځنې) دی .

۲۔ د(تفسیر) پهځای دکنـدهار اوقـلمی‌نسخه کی (تقرر) دی اود (نکتی) پهځـای دهمیش په نسخهکی (دقیق) دی .

۳۔ قلمی اودکندهار نسخی (بل‌یـی علم‌لدنی دی) .

٤۔ قلمی اودکندهار نسخی (دی شنوالـهکل بی‌غوږو)

۵۔ قلمی اودکندهار نسخی (مستغنی‌دی‌له‌مخلوقه ۔ کل‌دده پهارادت دی) .

٦۔ قلمی اودکندهار نسخی د(حق) پهځای(اصل)

۷۔ قلمی اودکندهار نسخی د(صورت) پهځای (خپل ځان)

۷۔ قلمی اودکندهار نسخی (دی‌خپل...)

کـر شمی کا لـون، لـــون چیری‌مست چیری هوښیاردی
ملکوت یی ښا یسته کـــړ لـه قدرته یــی پـر کار دی
په هر چا کښې یی بازی‌ده آیینه دخپـــل کــر دار دی
یو ذا تــی پر تو یی گو ره په هر چـــا با نــدی نثار دی
مخلو قات یی کــړ مـــری تری وکښلی یی دا تار دی

دمیر زا په خو له کلام کړی
دیر عــالم یی (۱) بزه‌گارد ی

ك- کریم په‌خپل اخـــلا قد ی دا دستـــور یی له میـــثاق د ی
چه ساقی دور گردا ن کـا(۲) درنــــدا نـــو اتفـــاق دی
مـلا مــت (۳) یی بی قیا سه ښه لـــذت یی پر مذاق دی
چه له شاه سره کنـار شو شهره شوی په آفــاق دی
لـــه غـا فله مستغنی شو عنایت یی پــــــر مشتاق د ی
دمحبوب دزلفـــــو بحـث په مجلس کښی دعشاق دی
چه‌دیدن یی روزی نه شی (٤) گر فتار دی پـــه فراق دی
چـــه الا لیعبـــدون شو ښه دیدن یی استحقاق دی
چه مشقـت یی په ریا کـړ (٥) په طلب کښی یی نفــاق‌دی
په گو مان ځنی غلط یـــی ستا په زړه کښی‌یی اطاق‌دی

هـــر کـلام لـــه حقیقتـــه
میر زا کښلی پر اوراق دی

ل-له‌اصله به خـبـر شی (٦) که پسرو دپیغمبـــــر شی
چه اختیار یی کمینی کـــړه په معنی به منــــو ر شی (۷)

---

۱- په قلمی اود کند هار په نسخوکی‌د(یی) په‌ځای (پری) دی .
۲- په قلمی اودکنـدهار په نسخو کـی(دی‌ساقی دورگردان دی)
۳- په قلمی اودکندهار په نسخو کـی د (ملامت) په ځای (ملاحت)
٤- په قلمی اودکندهار په نسخو کـی(چه‌یی دادید روزی نه‌شی)
٥- په قلمی اود کندهار پـه نسخو کـی(چه مشقت یی تول برباد شو )
٦- دانظم دکندهار اوپه قلمی نسخه کی د«شو» په‌ردیف‌کی راغلـی دی اولومړی بیت داسی دی : (دل لـه اصلـه چه خبرشو) اوهرځای د (دی) په‌ځای (یی) دی .
۷- دکندهار اوپه‌قلمی نسخه (د معنا په نورا نور شو )

قارون به دی گــــدای شی — که پاسبان دخپل گو هر شی
حقیقی سفـــر دی بو یـــه — چه‌په خپسر (۱) دیده ور شی
مقصود بـــه رو زی کـــړی — که پرزمکه قلند ر شــــی(۲)
که گو مان کړی‌له زړه لیری — په دوه کو نه به سرور شی
که رښتیا پیروی وکـــړی — دربنتینو به رهبـــر شی
معراج بـــه دی روزی شی — که دشاه تر ځـا یه ورشی (۳)
له فردوسه بـــه تو به‌کړی — بی‌پـــروا به له سقر شـــی
په‌رضا به دی چار کیږ ی(٤) — که محیط په بحـــرو برشی

میر زا غو ندی فقیر یـــی
که فارغ له نیک وشر شی

م‍ـ مـــهدی روح امیـــن د ی — خـود راغـلی مر سـلین د ی
دصورت سیوری یی نشتـه — دی خورشیدغوندی مبین دی
په وحدت کښی یگا نـه شو — بی پروا له کفــــرودین د ی
دکثرت په با زار را غــی — په هر چای‌کښی‌مساکین دی(٥)
که طلب کړی به یی مو می — دی تر تا وتــــه قر ین دی
هر چه دادیدن یـــی وشو — نن شهیـد او لیـــن دی
اسرا فیل چه بر غو پو کـا — بیا یی حد تر ار بعیـن دی
چه له مرگه پخوا ومـــری — دا ژو ند ون یی آخر ین دی
دگو مان که له چاهه وو ت — پای تخـت یـــی علیین دی
بهشت یـــی پـــه رضا شو(٦) — او س یی حکم پر سجین دی

داورواح اصل له خـــدایـه (۷)
دمیر زا صورت یی کمین دی

---

۱ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی‌د(خپسر) په‌ځای (پخپله) دی .

۲ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه ( دامقصودبه‌یی روزی ‌ه‌شی ـ مگرځان یی ...)

۳ـ دکندهار او په قلمی نسخه (دامعراج.....ـ که‌پرفضل دی‌لاس برشو )

٤ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه په(رضابه‌هرکار کیږی)

٥ـ په‌قلمی اود کندهار په نسخه‌کی د‍ـ(مساکین) په‌ځای (دی مکین) دی .

٦ـ په‌قلمی اود کندهار په نسخه کی (دا بهشت یی په‌فرمان شو)

۷ـ په‌قلمی او دکـندهار پـه نسخه‌کـی(دادروح ...)

ن- نفي پەخپل گوما ن یی — ته په خپل گو مان حیران‌یی
برگزید (۱) یی مو لا کړی — نن ددوو کو نو سلطان یی
له وحد ته یی را غلی — پەکثرت باندی تابان یی (۲)
بد حجاب دی شو له میا نه — مبتلا چه په هجران یی
له لاهو ته مستغنی شوی — کښبیو تلی په زندان یی
دغفلت پیا له دی نو ش کړه — په خمار کښبی سر گردان‌یی
اند ینبنی شوی پر تا ډیری — کەپه داصورت انسان یی (۳)
نن اول نامه وغوا ړه — په هوس پسی پر یشان یی
دخپل اصل طلب وکړه — ته مر غه دلا مکان یی
که گومان له میا نه وا خلی — لوی تر څمکه تر آسمان یی

دمیر زا خبری در دی
که رښتنی بازر گان یی

و- وحدت بی مثل ذات دی — کل اشیا دده صفات دی
او ارواح گور ەدری لو نه — که با ور دی په آیا ت‌دی (٤)
دجا ری وعده تر خو به — له بیداره یی او قات دی
دمقیم وعده ژونـدون شو — اخر تللی له اموا ت‌دی
امین روح یی اضا فی شو — مرگ یی نشته تل‌حیات دی
اروا حان گو ره څلور دی — خپل هنر یی‌کرا ما ت‌د ی (٥)
دامین لو یی و گو ره — درسره په هر حا لات دی
گو ینده شو په سړی کی — او گونگ روح دحیوانات‌دی
او جسمی دگیا هو نو — او اسمی دجما دات دی
لکه غوږ په شو ده، پیو — در ست بدن یی مقا مات‌دی

په میر زا کښبی خپل صفت‌کا
نن قا ضی دکل حا جات‌دی

---

١- پەقلمی اودکند هار نسخه:(که مختارته ...)

٢- دلته دقلمی اودکندهار نسخی پەنظرکی ونیولی شوی په اصله نسخەکی‌د (تابان) پەځای (سامان) دی .

٣- په قلمی اود کندهار په نسخوکی (ته‌اول نوم وغواړه )ضمنا ددویم بیت‌وروستی مصرع دمخکنی او مخکنی دویمه مصرع‌دوویم بیت‌سره لیگل شوی دی .

٤- په قلمی اودکندهار نسخی: (ارواحان گوره دری لونه- که باوردی پەثقات‌دی.)

٥- پەقلمی‌اودکندهارنسخی (ارواح‌نورگوره‌څلوردی - خپل هردی...)

هـ هادی دجهان میر دی
جام دجـم دده ضمیـر دی

تـر اعلا ،اسفله پـو ری
دی په کل جهان بصیـردی

ور خر گند واړه اشتا تـا
که صغیر دی یا کبیـر دی

او مشکل یی واړه حل‌شول
هـر کلام یی بنه تقریر د ی(۱)

یو کیمیا هنر یی وا خیست
کل حکمـت یی بی نظیردی

قنا عت یی خزا نـه کړ
نن یی رحم پر فقیـر دی

ارادت یی لـه در ویشو
که پاد شاه دی که وزیر دی

تر متاع دد واړو کـو نـو
عنـا یـت دده کثیـر دی

الو لاك دده و گـو ره
پر کتاب با ندی تحریر دی

تجلی یی په هر لـو ری
دآفتاب په دود منیـر دی

عـا قلان یـی پر نیو لی(۲)
دمیر زا کلام ځنځیـر دی

لا۔ نفـی صو ر ت یـی
چه‌له حقه په غفلت یـی(۳)

دنا سوت پر بازار را غلـی
کښنیو تلـی په محنت یی

حقیقی اصل نـه وینـی
په مجاز کښنی فرا غت یـی

نـن الا لیعبـد ون شه
که مشتاق دمعـر فت یی

دکا مـل طلـب دی‌بو یـه
له طر یقـه یی غلـت یی

له دید نـه بینـوا شوی
تـه هر گـو ره کم همت یی

هیڅ اثر دی په زړه نه شی
لاتـر او سه سلا مت یـی

دحوا نغو تـه دی وکـړ ه(٤)
او س وتلـی له جنت یـی

ظالم جـا هـل دی نوم شو
ته بر ده داما نـت یـی

دگـو مان وری د ی وا خست
پسو خوبښ په ضلا لت یـی(٥)

دمیر زا قـدر دی نـه زده
له رښتیا و په نفرت یـی

---

۱۔ په‌قلمی اودکندهار په نسخوکی (چـه‌مشنکل‌یی واړه حل‌شوه ـ هرکلام یی ...)

۲۔ په‌قلمی اودکندهار په‌نسخوکی (عاقل لاس پوری نیولی)

۳۔ دکندهار اوقلمی نسخه (لاوای نفـی‌صورت یی‌ـکه...)

٤۔ دکندهار اوقلمی نسخه (دحواپه‌خوله‌دی وکړه)

٥۔ دکندهار اوقلمی نسخه (دگومان‌پیتی‌دی واخیست ـ ځکه ...)

أ-اول و هـــم آخـــر د ی
چه با طن او هم ظاهر دی

وا ړه کړ یی په رضا شی
دی پــه هر چا ره قــا در دی

چه یی زړه کن فیکون شی
هر عمل یی په کړه زر دی

دی شنوا په کــل غو ږو نو
هم په هره خوله ذا کــر دی

او ژوندون دکــل هستـــی
هم بینا په هر نظـــر دی

دانا یی یی په هر څه کنبی
دی پهخپل عــلم حاضر د ی(۱)

له وحد ته یی را کوچ کــړ
نن یی وار په مهنــدر دی

امانت ور ی یـــیړ وغ کړ(۲)
وانسان ته یــی خــا طردی

چه له اصلــه خبر نــه وی
دهغــوی خــوی دکچــر دی

امانت دځبنتن ور کـــړه
لوی تــاوان دزور ور دی

دمیر زا اختیار یی خپل کړ
خدای پــه هر چاری قادردی

ی- یو شاه شجـــا ع دی
پــه هر لور څړه شعاع دی(۳)

دکثرت لبا س یی واغوست
را څر گند په ځو انواع دی

یو نخاس یی‌سر انجام کړ(٤)
دی دلال شو هـــم متاع‌دی

یو عجب سرود یی وا خست
نن آهنگ یی په سما ع دی

که بعید پــری نه پو هیږ ی
چه قــر یب په استماع دی

محتسب یی پسی شا کــړ
څه پر وا یی له منــاع‌دی

اوس له عشقه هم پیا له شو
دتو بی رفیـــق ودا ع دی

حقیقی جــر عـــه ور څخه (۵)
په خمار کنبی یی نفاع دی

---

۱- دکندهار په نسخه‌کی (باصر) په‌قلمی‌نسخه‌کی (باصیر) اوپه اصل نسخه‌کی(هاځر) لیکل شوی .

۲- دکندهار په نسخه‌کی د(ږغ کړ) په‌ځای(واخیست) دی .

۳- په‌قلمی اودکندهار په نسخوکی(ی-وایی یوشاه شجاع دی- پـه‌هر ځیز بانـدی شعاع دی)

٤- په‌قلمی‌اودکندهار په‌نسخوکی(یونخاص‌سرای انجام‌کړ).

٥- دلته قلمی اودکندهار نسخه په‌نظرکی‌ونیول شوی په اصل نسخه‌کی (حقیقی څراغ دورځی).

دسا قی پیا له یی نوش کرہ　　پەدنیایی خه نزاع د ی(١)
له هیچا یی خپلوی نشته　　دجهان دغه او ضاع دی
د میر زا وینا نه او ری
نور حجت‌دی‌انقطاع دی(٢)

١ـ پەقلمی اود لاهور پەنسخوکی (دساقی‌لەپیالی نوش‌کرہ پەدنیادی ...)
٢ـ پەقلمی اود لاهورپه نسخوکی (دمیرزاویناچه ناوری ـ دادلیل د.. )

# ۲

# قصیدے

# بسم الله الرحمن الرحیم

دی(۱) قادر دیچه قــدرت کـا — هــره چار پخــپل قو ت کـــا
د رسول نور یی پیدا کــړ — بیا لــه ځـا نـه محبت کـا
لــه وحد ته دی را غلـــی — نندارِه بــه دکثـر ت کــــا
له شر یکه مستغنــــی دی — واړه چا ری بی آلت کـــا
او له نورو شو بـــی مثلـه — په جهان کښې سیا ست کا
له هوا پـــر اوره را غـــی — گوره یون په خــه سنت کا
په اوره کښې او بـــه گوره — چه پر گل با ندی غربت کا
له دریا به څا څکی را شی — په گیاه کښې ځان لــذت کا
واړه کړه یی حقیقــی دی — په انسان کښې یی شهوت کا
چه یوه قطــره او بـــه وی — ځنی روغ تمام صو رت کـــا
ځینی غو ښې ځینی هــډوشی — جوړ په جوړ یی پهحکمت کا(۲)
دمور پهنس کښې یی ساتینه — په فرمان یی تر بیت کـــا
او چه نه میاشتی پوره شی — ترو لـــه موره ولا دت کـــا

---

۱ـ اصل نسخه (دی) نهلری .

۲ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو دامصرع پهنوروکی : (چهټول جوړدی پهحکمت کا)دی.

که شیر خور وی طعام‌خورشی	اخر زده رسم و عـــا دت کا
چه با لـغ یا مرا هـق شـی	دی ځر گند خپل خاصیت کا
بر گزید دی مـــولا کـړی	که دی فهـم په آیـــت کـا
لـه لاهو ته مستغنی (۱)شو	ځان اخته په ځـه محنت کا
له ازواجو سره جفـــت شی	ترو روز گـار په رعایت کـا
دځان زیرمه یی پری ایښی	غم دکلـــی دمهلت کـــــا
دنیا غوا ړی لو نه لو نــــه	ځــو یی عقل کفا یت (۲) کـــا
ځینی ځینی پوو نـــده شی	ځوك حا صل له تجا رت کا
او بند گی دپاد شا ها نـــو	یا عمــل د زراعت کــــا(۳)
ځوك امو خــت‌شی‌په حرامو	له حــلا لو ځان غلـــت کـا
ځینی طمع که، ځه غـــوا ړی	ځینی پیل دسر قت (٤) کـــا
دشیطان ور مو نه نغـو ږی	زړه بی غمه لـه قیا مت کـا
هر ځووخت چه‌پری تیریږی	شیر یــن عمــر کمامت کـا
او نا گاه چه تقدیر ور شی	لـه جها نـه به رحلـت کـا
مال اولاد یی په ښه نه شی	هرڅه وهیر یی په‌سکر ت‌کا(٥)
نور عالم یی نندار چـی وی	زیات اند وه یـی قـرا بت‌کا
په کفن به یـی ونغـــا ړی	چه یی غسل وطهـــا رت کا
له حیا ته به یی وا خلـــــی	و اموات یی نژد یکت کـــا
په گور کښی به‌یی کښیږ دی	پری به‌پاس‌خاوری‌حجرت کا(٦)
دژوند یو زړه بــه ښه شی	چــه یی قبر په زینــت کـا
ترو به‌هر ځوك له‌ده ولاړشی	یکتنها به یی رخصت کـــا

---

۱ــ دهمیش په نسخه‌کی د (مستغنی) پــه‌ځای (مستعفی) دی .

۲ــ په‌اصل نسخه‌کی د (کفایت) پــه‌ځای(کفارت) دی .

۳ــ دهمیش په‌نسخه‌کی ددغه‌بیت وروستی‌مصرع دمخکښی بیت سره دی ، اودمخکښی بیت دویمه مصرع او ددغه بیت لومړی‌مصرع نه‌شته .

٤ــ دکتابخانی اودهمیش‌دنسخود(پیل‌دسرقت) په‌ځای په‌نوروکی (بیل له شریعت) دی .

٥ــ دهمیش اوکتابخانی دنسخو دا مصرع په‌نورو کی (دهرڅه څخه سکرت‌کا) دی .

٦ــ په‌اصل نسخه‌کی دپټ‌به‌یی په خاورو په‌هجرت‌کا او دهمیش په‌نسخه‌کی د (حجرت) په‌ځای (مجرت) دی .

نه‌به عزیزان ور ځخه و ی(۱) — نه به محبان له ده مدت کا
ځلورلو ټمار به ور شی(۲) — یو یو ځیز به یی غارت کا
اول ملک الموت د ی — چه ارواح یی په هیبت (۳) کا
او دویم یی وار ثان دی — مال وملک به یی قسمت کا
او دریم چینجی دګور دی — چه یی غو ښی اکا لت کا
ځلورم یی خاصمان دی — پر عمل یی خصومت کا
فرښتی چه وده ور شی — له توحید یی مسا لت کا
له توحید چه خبر نه وی — په ځواب به ډیر هیبت کا
په عرصات به وشرمیږی — او په ده به ملامت کا
هیڅ حاصل به یی ترو نه‌وی — که دی هر څو ندامت کا
بد عذاب به یی شی برخه — ورځ په ورځ به‌یی زیادت کا
خدای رسول دی نزول کړی — چه کوتاه به یی حجت کا
ترو سړی لره بایده‌دی — چه طلب دهدایت کا
چه یی دا منزل دوړا ندی — زړه یی ځنبکل فراغت کا
له کامله دی لار غوا ړی — په اخلاص دی مشقت کا
د نبی خلیفه دادی — چه زنده دده سنت کا
له نا قصه حذر بویه — پر کامل دی ارادت کا
ارادت د طالب (٤) داد ی — چه فانی رسم وعادت کا
او طالب لره بایده‌دی — چه رښتیا دپیر خدمت کا
او خدمت دپیر دغه دی — چه توبه له معصیت کا
اول امر یی هم داد ی(۵) — چه عمل په شریعت کا
شریعت رښتیا وینا دی — صادقان دی اطاعت کا
داسلام پنځه بنا دی — مؤمنان دی تابعت کا
نا روا دروغ دی پریږدی — او پرهیز دی له غیبت کا
چه په شریعت ثابت‌شی — ترو دی یون په طریقت کا

---

۱ـ دکتابخانی په نسخه‌کی (نه‌به عزیزان ورځخه اوسی)

۲ـ دکتابخانی په‌نسخه‌کی (ځلور لوټه به‌پری ورشی)

۳ـ اصل نسخه د (هیبت) په ځای (مېښت) دی .

٤ـ په‌ځینو نسخوکی د «طالب» په ځای(کامل) دی .

۵ـ داصل نسخی سره سم ولیکل‌شو، په نوروکی «دربښتینی لار دغه‌ده»

ددی لاری خطـــر ډیـــردی — مگر تگ په ډیر همت (۱) کـا
طر یقت خوی دپر ښتو دی — چـه بند گی په‌هر سا عت‌کا
دغه زړه په مثال تخـت دی — چه دوه ځیز پری عدا وت کا

یـــو گـــر وه دنیکبختـــی — بل فر مان دشقـا وت کـا
هره گر وه چـه زور ورشی — پری ځر گند بـه علامت کا

که په نغو ته دشیطان شی — دی به خوار په ضلا لت کـا
هر عمل به یی سیـز ینـه — چـه دی بل اور دغیـرت کا
چه په نغو ته دفر ښتو شی — پـه پا کی بـه عبا دت کـا
ځـــا یـــی را ضیه د ی(۲) — هر چه وزن یـــی ثقلت کا
مستقیم به پر دالار شـــی — هر چـه خدای پری عنایت‌کا
چه ثابت په طر یقـت شی — او طلب دحقیقـــت کـــا
هر چه تن یی پـا کیزه شی — ترو خاطر دی تصفیت(۳) کـا
دگومان مور چی دی واخلی — دخدای یاددی مصقلت (٤) کا
هم دایم دی په یـاد او سی — او پر هیـز دی له غفلت کا
په خشکی او په تری کښی — که پرځای وی یا سیرت (٥) کا
بیهو ده عمل دی پر یږ دی — ترو دی مینه پر خلو ت کا
له کل خلکو دی گو ښه شی — خا مو شی دی په عزلت کا

دکـا مـل دا رو دغـــه دی — چه رنځـور خا طر صحت کا
چه گو مان که له زړه لیر ی — او ارواح یی تجلیـــت کـا
د ارواح تجلـــــه دا ده — چه دیدن دمعر فـت کـــا
خدای بی مثله پاك دریاب‌دی — که دزړه په دید عز لت کـا
نه یی رنگ نه یی مکان شته — چه بی مثله اشارت کـــا

---

۱ـ دهمیش دنسخی د (همت) په ځـای(هیبت) دی .

۲ـ داصل او دهمیش دنسخو دا مصرع په‌نوروکښی (ډیر به خوښ اوراضی وی)

۳ـ دهمیش په‌نسخه‌کی د(تصفیت) په‌ځای(تضیقت) دی .

٤ـ دهمیش نسخه د (صیقلت) په ځـای (مثقلت) دی .

٥ـ د(تیر، تگ) معنالری .

ترو چه روح دده روښان شی ‎  ‎ ور څرګند به معر فـت کـا(۱)
عار فان دی پنځـه لـو نـه ‎  ‎ چه میر زایی عبارت کـا(۲)
اوواجد سا مع وا صـل دی ‎  ‎ موحد چـه مسکنت کـا (۳)
دوا جد فکـر دغـه دی ‎  ‎ چه پـه هـر لوری رویت کا
ابتدا یی دی نـه غـوا ړی ‎  ‎ نـه اتکل دنهـا یـت کـا
چه یقین یی په در یاب شی ‎  ‎ او طلب یی دقـر بت کـا
چه دخدای هستی وو ینـی ‎  ‎ پر مخلوق دی شفقـت کا
معشو قه چه حجاب وا خلی ‎  ‎ ترو عاشق به نز دیکت کـا
اواز واړه لـه یـوه دی ‎  ‎ ګهی قهر ګهی رحمت کـا
چه پر ځمکه په اسمان کـی ‎  ‎ دیوه مولا صفـت کـا
که بعید پری نه پو هیـږی ‎  ‎ ثنا وا ړه په لغـت کـا
په هر صوت سامع پو هیږی ‎  ‎ او سرود یـی زیـا دت کا
عار فان به په خو ښیـږی ‎  ‎ کم دلیل ځنی وحشت کـا
په اواز چه وپو هیـږ ی(٤) ‎  ‎ ترو منزل دی دوصلت کـا
دګو مان نقاب دی وا خلـی ‎  ‎ خپل وجـود دی آخـر ت کا
او حساب بـه پـه ګناه شی ‎  ‎ هغه بنه چه په فصلت کـا
هر طا عت به یی ګناه شی ‎  ‎ چه ځوك فخر پهفصلت کا(٥)
چه تر خپله هستی تیر شی ‎  ‎ پرده زیری شهادت کـا (٦)
چهله مر ګـه پخوا ومر ی(٧) ‎  ‎ ګر دن خـلا ص له اما نتکا
هر واصل چه یګا نـه شی ‎  ‎ نندارہ به دو حـد ت کـا
مو حد خلا صـی دی لهبندګی ‎  ‎ او نه جرم وجنا یـت کـا
په یوه کښی دو یـم نشته ‎  ‎ نه زیا تـی نه کما مت کـا

---

۱- په اصل نسخهکی دابیت نشته .
۲- پهاصل نسخه کیدابیت نشته .
۳- دابیت پهاصل نسخهکی داسی دی: «واجد سامع فکردغه دی
موجددی اوساکن چهمسکنتکا»
٤- دابیت داسی هم دی : «چه ادراك یی پهآوازشی - ترو .....»
٥- دغهبیت پهاصل نسخهکی نشته .
٦- دا بیت د کندهار اود همیش نسخی نهلری .
٧- د اصل نسخی دا مصرع پهنوروکی (چهپه شاه باندی شهید شی).

PROPERTY OF ACKU 7284

دمو حـد گنـــاه دغـــه ده چه عمل دی په دوه نیت کـــا
ترو له شر کـه دهتیات‌شی هـــر کلام دی سلا مـــت کا
یگا نـه له یـوه یـــو دی په خدا یی خو یی اقا مت کا
دبند گی حد یـی پـوره‌شو چه یقین یـی تمـا مـت کـا
له مشر که دی ځـان ژغوری که سا تنه دځپل پـــت کـا
او با قی به جـا ودان شی چه نزول پر سکو نت (۱) کــا
دمسکین امـــر دغـــه دی چه‌له خواسته فرا رت کــا(۲)
دصورت صفت عـذاب دی او دروح په خوی را حت کا
دی لایق دپاد شا هـــی اوس به حکم په رعیت کــا
دا عالم همـت کا مـل شی هر چه خدای پر عنا یت کا
بنه نعمت دعـا مــلا نـو چـه عمل په تلاوت (۳) کــا
دا مقام هـــر گوره گران دی چه په خوی استقا مت کــا

میر زا بنه خوی له پا کا نو
که طالب یـی آخـذت کـا (٤)

هر قا صد چه دمقصد پەلوری‌یون کـا (٥)
رسمی‌مل به دنیمگړی لاری ستون‌کا
او توبـــه دی دپـرهـیز ورسره‌واخلی
تروهادی دی ددی لاری رهنمون کا
اود کفر له تیاری دی راروان‌شی
دزړه رخت‌دی وا سلام وته بیر ون کـــا
ثابتی به یی وژبی وتـــه ورشی
چه کلام‌به له معنا سره مو زون کـــا

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی د(مسکنت په‌ځای(قرارت) دی .
۲ـ دابیت دهمیش نسخه نه‌لری .
۳ـ دهمیش نسخه د (تـــلاوت) په ځـای(سنومت) دی .
٤ـ دابیت دهمیش نسخه نه‌لری .
اوپه اصل نسخه کی‌ددغه بیت پـه‌ځـای (عارفان دی پنځه لونه ـ چه‌میرزا دنورو وینی عبادت‌کا) .
٥ـ داقصیده دهمیش په‌نسخه‌کی نشته .

طر یقت لره به وریــه شی پخپله
چه پنځه‌غلگی پنځه ځایه زبون کـــا
له گناهه دی صورت په طا عــت وینځی
چه خیر نه‌جا مه سپینه په صا بون کـا
هره ورځ دی عدا لت کا ندی‌دښهر
او په شپه‌دی په غلگیو شوا خــون کـا
تز کیه چه یی حا صله دصورت شی
ترو دی‌غیری اند یښنی له‌زړه للون‌کا
دا مجاز به یی بدل‌په حقیقت‌شی
چه دایم‌یوازی یو با ندی زر غون کـا
او مرکب دی دنفی اثبات که‌ذکر
دمادم‌دی‌نو شا نو ش دغه معجون کا
په نفی‌به نفی‌نفی ،اثبات‌اثبات‌شی
مسیحا پرمرده هسی (۱) رنگ افسون کـا
له هغو جا هلو څه وا یـــم‌عالمه
چه‌د نن‌چاری په گا نده په پرون کـا
تصفیه به یی دزړه شینـــــه حاصله
چه څراغ‌پری‌باندی بل دخپل ژو ندون کـا
دعارف نظر له قا فه دی تــرقافه
په‌محیط‌در یاب به گډ دغه جیحون کا
عجب زیب دمعرفت دزړ ه پـــــه‌سترگو
چه‌په‌مثل‌نندا‌ره ددی بـــی چو ن کـــــا (۲)
زور ور له شش جهته منــزه‌دی
دبی چون‌تعر یــف به څر نگه چگون‌کا
دلیلی دسا دگـــی نهـــا یــت‌نشته
دښا یست‌صفت به‌یی څر نگه مجنون کا

۱ــ دگندهار په نسخه‌کی د(هسی) په‌ځای(هر)دی .

۲ــ په‌لرغونی نسخه‌کی همداسی دی. پــه‌نوروکی (عجب نوردی معرفت چه‌دزړه‌سترگی‌ـ دوی بی‌مثله ...)

سا معان چه درموز په معنا بوه شول
چه اشیا دحق ثنا په خپل قا نون کا
کم دلیل عالم یی نه اروی له لیری
دخپل راز خبر ی واړه دمقر و نکا
تر دغی بنا دی به زیاته بنادی څه وی
چه قریب یی اراده دپیو ستون کا
دصورت خو دی دی لیری که یکباره
په معنا ته له معنا سره ګهون کا
تجله به دوحدت پری باندی وشی
چه له هسی بنده خلا ص دغه مر هون کا
دا یقین به یی دیوال دعمارت شی
په اخلاص به یی بلند لکه ستون کا
دجهان راحت به واړه پری تمام شی
چه کرار به کراری با ندی سکون کا
که نور، نور عالم هوس که لون، لون
مسکینان به په دا خپل صفت ممنون کا
بنه صورت دعبا دت دپاره روغ دی
اودا روح دی تل رضا کن فیکو ن کا
دا میرزا پخپل مقدار خبری وایی
په کالی کښی چه څه وی څنی ریژون کا

دی کریم دی چه کرم کا
وا ړه صنع بی قلم کا
چه یو لوی حکمت یی دادی
چه کو نین یی له عدم کا
لذ تو نه شی پر څمکه
له آسما نه بانه نم کا
له لذته محبت شی
په شهوت یی متهم کا
په پدر کښی نا قرار شی
پسو خو بښ دمور رحم کا
څینی غوښی څینی هډ شی
په قدرت یی وبل تم کا (۱)
لکه امر دخدای و شی
دی نا ګاه ژوندی په دم کا
شیر له غیبه ور کو ینه
پخپل ځای کښی یی خرم کا

۱- لرغونی نسخه (په قدرت یی پیل تم کا)

بل مکان پری نا پدید دی
چه روز گار په دا تورتم کا
چه وعده یی ور سیبری
ترو منزل به دا عا لم کا
که شیرخوروی‌طعام‌خور شی
اخر زده لاو نعم کا
چه‌د خدای رحم پری وشی
حکمدار یی دحشم کا
دی پیشوا شی‌په‌امت کښی
پر میراث یی دآدم کا
دپاد شاه عبادت عدل
او مردود ظلم و تهم کا (۱)

او طاعت یی نا روا وی
چه نا حق په چا ستم کا
او ښه خوی دمؤ منا نو
په بد خوی شیوه لړم کا
چه اوصاف یی ذمیمه شی
پر ایمان دی او س ما تم کا
عاقلان هغه کسان دی
چه دلی دوی ددین غم کا

حا کمی دمو لا خوی دی
که پر ځان (۲) یی‌مسلم کا
حق پاد شاه دکل جهان دی
کړی حکم (۳) به محکم کا
لکه وخت دحشر گاه شی
ور خر گند به خپل رقم کا
بی عمله نعمت نشته
نه‌به ځوك په ده کرم کا
نه ذره پر عمل کښیږ دی
نه مثقال له بده کم کا
ښه پاد شاه دی ښه یی عدل
دهر چا تفحص سم کا

ای میر زا ثنا یی تل کړه
چه رفتن په دا قدم کا

دا ځښتن چه پر بنده باندی‌کرم کا
له انکاره‌یی باور وته محکم کا (٤)

اود کفر توره شپه به ځنی‌پاځی
چه پهزړه یی له اسلا مه صبحدم کا

ذمیمه به یی بدل په حمیده‌شی
تروسفر به‌د مقصود په لوری سم کا

---

۱ـ لرغونی نسخه (مردود ظلم‌غنم‌کا)

۲ـ په‌قلمی نسخه‌کی د(ځان) په‌ځای (ځایه) لیکل شوی دی .

۳ـ په لرغونی او دکندهار په‌نسخه کی د(حکم) په‌ځای (قول) دی .

٤ـ قلمی نسخه : (له‌انکاره‌یی ویاروته محکم‌کا) .

له مجازه به قـــدم پــر حقیقـت ړدی
اووقتیبه له دایمه سره ضـم کـــا
هر یو زړه دمولا عرش دی بی‌گومان
که لـــه‌غیرو پا کیزه دغـــه حرم کا
درست جهان به یی له ځا نه‌سره‌هیر شی
یو په یـوبه یـــو الف با ندی رقم کا
تجله به‌دارواح پری با نـدی‌وشی
ور څرگندبه یـو بی مثله جام دجم کـا
چه نه حد نه یی پایان شته‌نه‌یی‌مثل
بی‌جهت به نندا ره ددغه یـــم کـــا
په جهان کښی مخلو قات چه‌څر گند یږی
دغه واړه‌زند گـی په هسی نـــم کــا
حقیقی علم دانش او معر فـت‌دی
نه چــه‌بحث همیشه په لاو لـم کــا
هیڅ اواز له ښیزه نه شی‌بی‌جنبشه
چه څه کوزوی دا دریایی راست وخم کا(۱)
دا فلك لکـــه سرود اشیـــا تارونه
څه عجب‌بی‌مثل آواز په زیر وبم کـــا
زور ور له شش جهته منـــزه‌دی
دانیستی‌به‌دی واصل دزړه ملهـــم کـــا
لکه لمر دوخته لوی په نـظر کښیو زی
چه‌شعله‌یی‌په کمال شی صو رت کم کا
هر یو ښیزیی په بیل بیله نامه‌بولـــی
چه دا کـــل‌نمونه یو نوم یی په اعظم کـــا
دا هر یو له یوه خوا ست کاگوښی گوښی
بیا دایووهـــر یوه وته نعـــم کـــا
که بنده له خپلی چاری درمانده‌وی
روحانی‌پاد شاه یی‌زیرمه دحشم کـــا
نور عالم وپر دی غم ته پښی‌وهینه
او مسکین‌دخان ښادی ،دنورو غـم کـــا

---

۱ــ قلمی نسخه اودکندهار نسخه:«چه‌څوك ړك شی دادریایی راستو خم‌کا».

چه پر تخت دسلیمان بانـدیدیو کښینا ست (۱)
او پـــه‌حکم یی عمل مار ولړم کـــا
آواز یی دمعنا آ ب حیـــا ت‌که
همیشه‌دخاطر غسل په زمـزم کـــا
ای میر زا رضا دیار په رضا کښیږده
چه قدیم‌دی تـل تر تلـه یی مقدم کا(۲)
چه سجده څوك وبنا تـــه دخلیل کا
په‌اخلاص‌سجده به ذات ته دجلیل کـــا (۳)
اوله عقـله دی خـــراغ ور سره‌واخلی
تروره‌بردی ددی لاری خپل دلیل کـــا
له پرهیزه دی تو ښه کا ندی‌موجوده
ښه‌کاروان‌دی په مقصود پسی رحیل کا
ددی هسی لاری تگ څه‌آسان نه‌دی
په احتیاط‌احتیاط دی یون په داسبیل کا
دا خانه دی دخاوند دپـــاره‌غواړی
عبادت‌دی د معر فت کفیل کـــــا
له مجازه دی قدم په حقیـقت ږدی
مدام یاددی ودیدن وته وکیـــل کـــا
که‌په څیر یی ومعنا وته وگـوری
له یـوه‌الفه څو علمه تحصیل کـــــا
دا خفی ذکر دارو دی درنځورو
د ذاکرله زړه به لیری کل علیل کا
او دیدن دمعر فت به یی‌روزی‌شی
دریـــاقمیص به غرق په رود نیل کا

---

۱ــ اصل نسخه : (تخت یـی د سلیمـان پردیو وکښیښو).

۲ــ اصل نسخه : (چه‌قدیم‌ؤ تر قدیم دی مقدم کا).

۳ــ لرغونی نسخه :

(چه سجود می‌وبی‌تاوته خلیل‌که داخلاص سجده به‌عین پرجلیل‌که)

چه نه یی حد نه یی پایان نه‌یی لوری
په باطن به ننداره ددی جمیل کا
یو په یو به‌د هر چا په ژبه‌پوه شی
چه‌اشیادحق ثنا په بم زیل کا
له ړندو کڼو به څه وا یم عالمه
چه دا هسی نعمت شته خپسر ذلیل کا
په‌هرچا کښی خپله مینه (۱) ز رغونیږی
چه شنوا په‌اواز خو ښ کینه بخیل کا
دا قریب چه تر وصلته پوری راغی
له واصله‌به پو ښتنه د سجیل کا
او وا صل چه دگو مان له‌خویه مرینه
په‌دامرگ کښی حر کت لکه قتیل کا
دا وصلت څه داستو گی مقام نه دی
ښه‌قاتل ددم په ویا سته تعجیل کا
دی میرزا په عبادت کی مقصود بیا موند
چه ظاهر صو رت بنده روح به اصیل کا

پسو ځانگی پو رته کښته — دمحبوب خود رنگه نته
نه غا یبه ده له واړو — نه یی وینی څو کجو ته
عجب در یی پری پیلی — بی بها ده له قیمته
په دوه کونه یی بر یښنا ده — دین دنیا یی له زینته
چه ددی در په رڼا ځی — لار به نه کا ندی غلته
چه له شاه یی اشنایی شوه — زړه یی خلاص که له غفلته
په ژوندی زړه کښی و گوره — بی پر وا شه له جنته
دبینا ز و ناز سهینه — په سوو خو ښ له معر فته
یو دم لیری نه سهیږ ی — چه یی وینی بی جهته
پر دیدن با ندی شیدا شه — شیدا را غی تر قر بته
له فرا قه یی نعره کړه — زړه می چوی له رقته
په رموز یی ور ته‌وویل — گوره (۲) څه کړی کم همته

---

۱ـ لرغونی نسخه : (تومنه)

۲ـ لرغونی نسخه : (دوری).

اواز کل زما سرود دی	تا سا خه کړ له وحشته
ځان پسو درباندی خوږشو (۱)	بیا امید کړی له وصلته
دفر صت ورځ دی دغه‌ده	که ستی شو ی یانسته (۲)
هست که نیست کړی ته به‌مومی	ډیر حا صل له شها دته
دژو ندون طمع به خو کړی	دمقتول له حر کته
چه قوت در څخه پاخی (۳)	مگر خلا ص شی له محنته
محنت واړه په دو یی کنبی	څکه شوم شوی له‌شر کته (٤)
غم غیرت ووت له میا نه	مدام سیخ څره وحد ته
وحدت ځای دمخلصا نو	خا صان نه دی بی عز ته
نور بندگی کاندی له‌ویر ی	خاص یی خا ص له محبته
دمسکین دروح را حت یی	په تو حید کنبی مسکنته

میر زا وقت دنو بهار شو
دا دوره ده له رحمته

که خبر شی‌آدم زاده (۵)	ددی مستی شاه له مرا ده
دا په اصل یوه یک‌ده	شر یک نه لری تنها ده
حیا تی یی بی نقصا نه	هم په هر چار توا نا ده
یو یی (٦) علم لدو نی شو	شا ها بی ژبی گویا ده
او بی غو ږو هر څه اوری	هسی بی ستر گو بینا ده
چه یی کړه هغه یی وکړه	هم به کا چه یی رضا ده
دګثرت په‌کیل (۷) یی‌زړه‌وو	کل دنیا یی کړه بنیا ده
لاندی څمکه غوړو لی	پاس اسمان دی بی عماده

---

۱ـ دکتابخانی په نیمگړی نسخه‌کی (ځان په‌خو دربا ندی خوږدی) اوپه قلمی اودکندهار په‌نسخه‌کی (دځان سوه درته ترخه شوه) .

۲ـ لرغونی نسخه (دفرصت ورځی دی دادی ـ که ستی شی یانی سته).

۳ـ په‌قلمی اود کندهارپه نسخوکی(ترخپل‌حول قوت تیرشه) .

٤ـ لر غونی نسخه (څکه شوم یادی‌شرکته) .

٥ـ دهمیش نسخه داغزل نه‌لری.

٦ـ دکندهار نسخه: (یوبه).

۷ـ اصل نسخه : «کل»

مخلو قات یی رنگا رنگ که دا محیطه له هر چا ده
له یمینه تر یسا ره په اسفل او په اعلی ده
هیڅ مکان یی لیده نه‌شی شاه له دوو کو نو آزا ده
ذا ت‌یی تل پر یوه حال دی لکه نن هسی فردا ده
په دا واړه مخلو قا ت‌کی پر سړی با ندی شیدا ده
بهترین سړی هغه دی چه یی کړی دا سو دا ده
که طلب کړی به یی مو می دا تر تا نژ دی وتا ده
نن الا لیعبدوا ،شه که دی مینه په ربنتیا ده
دجنت مو نده په زهد معر فت یی له عبا ده
هر چه کړی هغه به مو می دهر چا عمل سزا ده
هر یو کښت چه دی نن وکه ته به یی یو سی تر میعا ده
له السته رسید لی دهر چا برخه جدا ده
خوك طلب دآخرت که دچا مینه له دنیا ده
هلکان (۱) باندی شیدا شول دنیا خر نگه زیباده
گوره کله شو لا کله دعا لم دغه غو غا ده
کل عا لم که ددی چا ری چار یی واړه بیو فا ده
دا لو مړی وه تر وا ړو پا ته شوی له هر چاده
ځینی تیر شو ،خوك دلی دی لا چه را شی چار یی داده
دگدای له مخه ریړ دی دتوا نگر په زړه بلاده
دسړی ښا دی په څه وی چه په را غله یی ژړاده
که روز گار که لون لون بیا اخر چا ری فنا ده
دمنعم چار ده حرا مه دمملو کزیر مه روا ده
دمقسوم قسمت باور کړه دا مو عود وعده ربنتیا ده
هر چه نه وی هغه نشته با قی در سته مهیا ده
چه راضی پخپل قسمت شو هسی (۲) چا ر داغنیا ده
معنا پټه په صو رت شوه دوحد ت کثر ت ردا ده
دمجنون اخلا ص پو ره‌شو اوس چه حکم که لیلاده
روح یی پاك‌دی پادشا هی که چه وژلی یی هوا ده

۱ـ اصل نسخه : (ملوکان)

۲ـ ددکندهار نسخه (هره) .

که په قصد خپسر فنا کړی — دفا نـــی معنـــا انـــا ده
په ویل کښی ملا مـــتشوم — کـــه حجا ب نیسم ریـــا ده
څو موجوده وه غو ټـــی وه — چه پر یشا نه شوه‌دریا ده
ترو یی اصل چر ته غوا ړم — اوس یی کو مه تمـــا شاده
که دحال په ژبـــه وا یـــم — دآدم جـــا مـــه زمـــاده
چـــه احمـــد ویـــل بی میمـــه — دا څر گنـــده معمـــا ده
دیقین پـــه رڼـــا گـــو ره — له گو مـــا نـــه ماسوا ده
دکا مـــل په زړه څراغ‌شوه — پر یا را نو یی رڼـــا ده
رنگ یی چا لید لی نـــه دی — یوه بی مثله په رښتیـــا ده (۱)
دا دهر قفس بلبلـــــــه — په هر څـــه کښی یی ثنـــاده
په څرگند کښی شوه غا یبه — په غایـــب کښی را پیدا ده
که دیـــخ مایـــه سا ړه دی — دحبـــاب هستی هـــوا ده
دا محیطه شوه لـــــه وا ړو — پیو ند نه لری یکتـــا ده
که په ډیر لونـــه ویل شی — دیـــوه معنـــا بیـــا بیـــاده

دمیر زا په ژبـــه وا یـــی
ثنـــا کل د پا ك میـــا ده (۲)

پر خاکی باندی کرم چه دکریم‌شو
په کرم‌یـــی مقـــدم تر کل قدیم شو
له اوله یی خپله روح په‌ده‌کښی پوکـــه
په دغه‌قوت توانا و، هم علیـــم شو
پخپل خوا ست به ارا دت له‌ده‌سره کـــه
چه‌په‌دا اواز شنوا و، هم کلیم شو
بیا یی ستر گی نو را نی پـــه‌بینایی کړی
ښایسته‌صفت‌یی ځای په ځای مقیـــم شو
او نامه یی دصفی پری باندی‌کښیښو
تروظاهربا طن یی دوا ړه سره هیم شو
خلاقت یـــی دخا صا نو وده‌ورکـــه
داخاکی (۳) آدم فی احسن تقو یم شو

---

۱ـ ځینی نسخی : (یی‌بریښتیا)

۲ـ ځینی نسخی : (مولا) .

۳ـ دکندهار په‌نسخه کی (خاکی)دهمیش‌په‌نسخه‌کی (اوخاکی آدم فی‌احسن تقویم)دی.

درحمت جامه یی وا غو ستـــه‌خرگنده

دجنت‌په نعمتو نو کښی مقیـــم شو

له دغ پسی یی مسجوددملایک کـــه

په‌پرښتوبا ندی یی حکم دتعظیـم شو

یك جنس(۱) واړو سجده وده‌ته وکړه

اوشیطان‌یی امر نه ما نه رجیـــم شو

دا سو زان آتش په اصل شیوه‌وکړه

اودخاورو نوریی نه‌کوت چه حلیم شو (۲)

کبر جن له خپله کبره خواری‌مومی

داخپل سریی‌وخپل سر وته غلیم شو (۳)

ترویی قصد دگمراهی یی باندی وکه (٤)

په علاج‌یی دایستو له دی حر یم شو

اشنا یی یی په نفاق ور سره‌وکړه

په‌تهمت‌دغلیمی ځنی ند یم شـــــو (۵)

دیر تعر یف یی دغنم وده ته‌وکړ

په ویناد‌نیك وبدو یی(٦) سهیم شـــو

---

۱- داصلی نسخی اودهمیش دنسخی‌سره‌سم ولیکل شو په‌نوروکی د(یك ژنس) په‌ځای (ملائکو) دی په‌اصل نسخه‌کی د(جنس) په‌ځای(ژنس) لیکل شوی .

۲- دهمیش په‌نسخه‌کی : دسوزان آتش په‌اصل یی ښیوه کړه

اودخاورو نوریی نه‌کوت چه‌حلیم شو.

۳- دامصرع دهمیش په‌نسخه‌کی‌داسی‌ده: اوپخپله دسړی سره غلیم شو

٤- دهمیش په نسخه کی‌دابیت‌داسی‌دی

تردی قصده گمراهی دباندی وکا په‌علاج‌یی دوینښتو له‌دی حریم شو

۵- دهمیش په نسخه کی‌داسی دی.

آشنایی دی په نفاق ورسره وکـړه

په تهمت دذلیل مړی ندیم شو

٦- دهمیش په نسخه کی (یی)نه‌لری.

ترو دنغو تو ځواب یی ورتـﻪووی (۱)
باریك‌زړه‌یی‌په وسوا س دده سقیـم شو
په دروغو یی سوگند وده تـﻪوکه
دخناس‌وینایی ونغوته اثیم شـو (۲)
چه قهار پرده اواز وکـــــﻪدقهر
ترو په‌دواړوغو ږو کو ڼ دده له بیم شو
دا زما امر تنها در لـــــره‌بهه‌و
یا غنم چه‌په‌یوه‌صورت دوه نیم شو (۳)
په جهان کښی یی بل ځـای‌دپنا نه‌و
لاعـلاج‌ورته حیران یسیر یتیـم شو
چه ځښتن په بی کسی ده‌نظر که
پربی‌کس‌با ندی پخپله خدای رحیم‌شو
پر گناه با ندی اقرار ده‌توبه‌وکړه
دی پخپله‌ددی خپل عـلاح حکیـم شو
عنایت دښه مـــولا دده باوروو
دا باوردده صراط المستقیـــــم‌شو
چه دا هسی برابر په مقـــام‌راغی
ترو(٤)میر زاد زړه په حال ور ته تسلیم‌شو

یو یوا زی ذات اول و (٥)
ذات په ذات له ذا ته مـل و
صفات تـل دذات جا مـه ده
کوم صفت له ذا تـــه بیل‌و
دگناه ژو ند ون او بـه دی
اور په‌غیرو باندی بل و(٦)
دصو رت حیا تـی روح شو
درست صورت دروح محل و
دی خو ښی کا په صورت‌کی
ښه صورت په روح افضل و
روح چه ور غـــی تر تخته
دزړه تـــخـــت اول اول و

---

۱- دهمیش په نسخه‌کی دامصرع‌داسی‌ده (ترودنغوتی جواب یی ورته ووی.)
۲- دامصرع دهمیش په‌نسخه کی داسی‌وه(اخیایی وینا یی ونغوته اثیم شو.)
۳- دامصرع دهمیش دنسخی له‌مخی‌ولیکل شوه په‌قلمی اودکندهار په نسخه‌کی داسی‌ده (یاغنم په‌داصورت دی په‌سیم شو)
٤- دهمیش په‌نسخه کی د(ترو)په ځـای (نه) دی .
٥- دانظم دهمیش په‌نسخه‌کی‌نشته.
٦- قلمی اودکندهار نسخه (اورپه کانـی کښی کبل‌و)

چه یی دا څراغ روښان شو — هر مشکل پــر با ندی‌حل‌و
زړه تو تــی په میوه گر ځی — دتن خوی تا ریـك ځنگل و
شیطان جنگ په مکا ری که — په غفلت کښی یی مور چل‌و(۱)

دده قصد مدام پر بــد شو — نا دان نفس ور سره مــل و
نفس خــر گندشدید غلیم‌شو — شیطان پټ په لار کښی غل‌و
خناس یون په بار یکی کــا — در ست تمام مکرو حیــل و

چه چا وپیژاند رنځـور شو — او د ده نغو ته اجــل و
دواړو گوښی پادشا هی کړه — پر ملك ځکه لــوی خلل و
په هر ملك چه میران‌ډیرشول — تل‌پردا (۲) جنگ و جــد ل و

حق‌باطل‌یی وبله‌بیل کړه (۳) — عقل لــوی کــا مــل مشعل‌و
دنا مه فرق به‌یی سو کړی(٤) — سړی در ست څــړه عمل و
حب محبوب دی په هر چاکی — عمل درست پر مینه تــل‌و

چه یی مینه پر کوم قام شوه — خوی یی هم پسی بــدل و
اختیار هر چه یی ویشلــی — ځای ځای سود، چر ته زلل و
خوند په اصل‌پسی ستون‌شو — په‌هرلور داوبو چــل و (۵)

لذت زهر شو په مــچ کښی — هم په غلــو زو کښی عسل و
که خوږ خو ند له نی شکره — ښه شیر ین اواز لــه نل و
دانسان دا نا یی گــو ره — چه مو ند لی یی پټ پـل و

کا مل واړه جمع بیا مو نــد — درست جها ن چــه مفصل و
چه دزړه ستر گی بینا شوی — مفصل پــر ده مجمــل و
هر چه دا علم یی نــه زده — په جا هلــو کښی اجهل و

---

۱ـ دکندهار اوقلمی نسخی د(مورچل)په ځای (بورچل) دی .

۲ـ دکتابخانی اودبشپړی نسخود(تل‌په‌دا) په‌ځای په‌نوروکی (پردغه) دی اوپه لرغونی کی (تل‌یی‌دا)

۳ـ دکتابخانی اودبشپړی نسخو دامصرع په‌نوروکی (حق‌باطل په خپله بیل‌کړه)دی .

٤ـ دکتابخانی دبشپړی اودنیمگړی نسخو دا مصرع په‌نوروکی (دنامه‌فرق‌یی ته‌وکړه)دی.

۵ـ دنیگړو نسخو د(او بوچــل) په‌ځای (دابو جهل) دی .

چه بی علمه زا هـــدی کـــا — کنبیو تلی په وحـــــل و(۱)
بزر گی ،علـــم لـــدن شوه — څه حا جــت پـــه مطـو ل و
کښت یی هیڅ بر کت نه دره — غافل سخت پتهـــی شه ل و
په هیڅ لوری وتای نـــه‌شی — بد گو مان یی لوی دلـدل و
دا سفر دقـــدم نـــــه دی — پښی به‌سوکا،که زړه شل و(۲)
ډیر دانا په هتیا تی ځـــی — چه‌داډیر باریك منـــز ل و (۳)
ددو بین نظر پـــر یشان شو — پر یشان څه لیـــده احول و
چه پر یشان یی جمع‌بیاموند — ښه گفتار یی ول په و ل و(٤)
دپا کانو زړه پری پـــاك شو — دکا مل تلقین صیقــــل و
دعا رف ستر گی بینا شو ی — چه‌د زړه څراغ یی بـــل و
تر هر څه یـــی نظر پریووت — کـــه اعـــلا و یا اسفـــل و
له‌دوو کونو یی لاس وکیښس — ځان‌وځان تـــه مؤ کـــل و
حال یی بیا مونده په‌حال‌کی — کوم ماضی کوم مستقبل و
په ابد چه خوك طلـــب کـــا — نیك بخت کړی یی په ازل و
یکتنهـــا څـــره وا لـــو و ت — مر گ(۵) حیران‌پرځای معطل‌و
وحدت ځـــای دقـــرا ری دی — په قرار (٦) کا مـــل اکمل و
روح قرار په سکو نـــت شو — سکو نت دروح بور جـــل و

میر زا یو یوازی یاد کـــړ
خدای با قی او لم یـــز ل‌و(۷)
چه گویا ژبه گو یا په ښـــه‌گفتار شی (۸)
ابتدایی‌په نامـــه دکـــرد گـــار شی

---

۱- دټولو نسخو (وحل) په نیمگړی نسخه کی (یوحل) اود کتابخانی په نیمگړی نسخه‌کی (دحل) دی .

۲- دکتابخانی په نسخو کی‌د(پښی‌به‌سوکا په‌زړه شل‌و) دی .

۳- په‌لرغونی نسخه‌کی (هرگور سخت ..)

٤- دکندهار او قلمی نسخه (ښه‌گفتاریی ورله پل‌و) .

۵- دکندهار اوپه قلمی نسخوکی (یکتنها جریده والوت ورك ...)

٦- دکتابخانی بشپړی اونیمگړی نسخی د(پرکرار) په‌ځای (لوی قرار) دی .

۷- دکتابخانی بشپړه نسخه‌یی نه‌لری.

۸- داقصیده دهمیش نسخه نه‌لری.

یو بی رنگه بی پا یانه بـــــی جهته
دبی حـــدصفت که لږ وا یم بسیار شی
هره چاره په رضا کن فیکون‌ده
په قدرت‌یی‌واړه نقش بی‌پرکار (۱)شی
کل حیات له خپله امــره ورکوینه
په حکمت یی وچه ونه موسیقارشی
که څوك فهم وخپل فهـــم وته‌وکا
په‌هر څه کښی اور یده دده گفتار شی
په اختیار یی بی اختیاره‌چاری کیږی
دنظر حجاب یی نشته چـــه حصار شی
هیڅ اڼکل دعام وخا صـــ نــه‌رسیږی
چه پخپله‌دی دخپل تعمیر معمـــار شی
یو عجب د لا ندی څمکــــه زلیچه ده
پری دپاسه‌شین آسمان لکه پر کار شی
شمس قمر ستاره گان دده ډیوی‌دی
په‌گردش‌یی گه لیل گــــه نهـــار شی
گه اوره، بریښنا، تنها چـــه‌باران ووری
گه‌اوری،منی، ژمی او بهــــا ر شــی
دښه خدای دثنا حد نها یــت‌نشته
یو صفت‌یی‌چیری چیری له‌هزار شی (۲)
داغه یو یوازی گنـــج گنـــج‌مخفی دی
دا پــټ‌گنج‌پرمحب(۳) باندی‌اظهار شی
درسو ل نور یی له خپله نوره‌ورکړ
کل‌ښایسـت‌یی(٤) ښایسته‌په داانوار شی

---

۱ـ خریستو ماتی د(بی‌پرکـار) په‌ځـای (په‌نګار) دی.
۲ـ دلرغونی نسخی دامصرع په نوروکی (چه‌دایوصفت یی گوری صد هزار شی) .
۳ـ خریستو مـاتی د(محب) پـه ځـای (محبت) دی .
٤ـ دکندهار په نسخه کی د(یی) په‌ځای (چه)لیکل شوی دی .

دلو لاك معنى دلى وتـــهسيىده
كل هستىيى دهستى پـــر مـــدار شى
دوحدت ونه يوه ده تل تـــرتلـــه
او كثر تيى په ښا خو نو تار په تارشى
له يوه اصله او به له يــــوهخاورى
له يوهاصله مى باد له يوه نــار شى
هميشه په اتفاق يى ودانـــىوى
گوښى گوښىزور دهـــر يـــوه دشوار شى
چه دا واړه برابر نوم يــــــىصحت دى
هرچهيوىيى زيات وكم ځينى بيمار شى
درسول (ص) ياران ډيوى دىگوښى گوښى
خلا فتپه لايقـت دهر چهـــار شى
ابو بكر (رض) يى په صدقزورور دى
په دا صد قښه باور او اعتبـــــار شى
يكتنها دزړه په مينه ورسرهو
چه خطابله حضر تـــه يار وغار شى
محبت لره تل هســـــى سړى(١) بويه
چه عا لمىيىتر رښتينى (٢)مين جارشى
دعمر (رض) رښتينى عدل پهرښتيا دى
د عا دلحكم پرهر چابانددىبار (٣)شى
دفر زند تر مينى تير شو حقىيى وغوښت
دهرچا لهلاسه چيرى هسى چا ر شى
څه عجب دعدل څراغ يى پـــرلار كيښو
طا لباندى پر دغه ډيــــوه نثار شى
او عثمان (رض) په حلم شرمښايسته دى
پخپلشرمىيى له بدو چا رو ډار شى(٤)

---

١ـ په قلمى اودكنــدهار په نسخهكــىد (سړى) پهځاى (سړه) دى .

٢ـ پهقلمى نسخه كى د(رښتينى) پهځاى (وروستنى) ليكل شوى دى .

٣ـ دكندهار پهنسخه كى د(بــار)پهځـاى (جار) دى .

٤ـ خريستوماتى د (ډار)پهځاى(عار)دى

وحلال وتەقدم پە اهتیار ت‌ړدی
داپرهیز پەدغه هسی پرهیزگار شی(۱)
چه توانگر دقنا عت پە خزانەوی
څه پروا یی دگنجو نـــو پە انبـــار شی
دعلی (رض) پر مخ کرم دالهی دی
دکرم له مخه هسی کـــار وزار شی
دباور وسله چه وا غو نـــدی ځرگنده
بیا عجب دمحبت پر دلـــــدل سوارشی
چه تنها می دیقین پر میـــدان ووځی
پە دیدن یی ماتی گډه (۲) پە کفار شی
پە هیڅ دود بە لە ژوند ونـــەطمع نه که
پر هغوچه رسیده دذو الفقـــار شی
ذوالفقار یی تیره تـــوره دوسره وه
مشر کان یی قتل قتل پە گو زار شی
دی غازی ددواړو کونو پهلوان دی
دستار چاری هغه که چه ستار شی
پە معنی یی جدا یی وبلـــــەنشته
دامیر بە امر یو لیده چهـــــار شی
ملایك بە یی پە عر ش سندری وایی
چـــــەمجلس دمها جرو دانصار شی
رافضی او خا رجی هغـــــەکسان دی
چه پر چاباندی اقرار لە چا انکار شی
چه قبول دنا قبول پە نامـــــەبولی
پەښەخدای او پە رسول بەبزەکار شی
جا هلان لە بده خویه نه جاروځی
دا نایان لە ناپو هی استغفـــار شی
پە گفتار یی اتفاق پە شر یعـــت دی
چەدواړو مسلما نو پری روز گـــار شی

---

۱ـ پەقلمی نسخەکی (داپرهیزی دغەهسی پرهیز گارشی) دی .
۲ـ پە لرغونی نسخه کی‌د (گډه) پە ځای (گډه) لیکل شوی‌ده .

یو عجب دعامو خاصو انبوهی ده
دمو منډهندو فرق په دا بـــا زار شی
دمسلم نښانه داده که یـــی وینی
چه اول په شر یعت باندی استوار شی
کل عمل یی دصورت پـــــه طریقت دی
ددی سالکانو تګ په دغه لار شـــی
چه له هسی سمی لاری جارو تلی
کل بندګی یی دطبا حون لکه حمار شی
له ګناهه دصو رت پا کیـــزه دین
دپاکی خوی چه ونیسی ابـــرار شی
دزړه حال دهر یوه په حقیقت وی
چه هردم پخپل مقصود پسی تیـــار شی
دغفلت له بده زنګه بـــه زړه خلاص که
چه هردم له خپلی شهـــی پهره دار شی
چه په لااله نفی لـــــــه زړه واخلی
الا الله به یی اثبا ت په زړه هـــوا رشی
تجلی به یی دروح په معرفت وی
چه بی مثله ننداره یی ددیـــدار شی
چه ظا هر یی دظاهر په سترګو ګوری
او باطن یی په باطن لیده اسرار شی
ددنیا عا قلان ډیر دی لـــو نلون
چه یی دا فهم رسی او لو الا بصار شی
تر هغی ښادی به زیاته ښادی څه وی
چه نظر یـــی ونظـــر تـــه انتظارشی
دا نایان به په ژو ندون هله نازیږی
چه دابخت یی له اوده خو به بیدار شـــی
دا بی مثله زړه می جام لکـــه دجم دی
چـــه داهسی زړه لری هغه دلدار شی
تر هر چایی یو بی مثله مزی وکیښس
یګانګی دعام و خا ص په دغه تار شی

دغه تار له سا دگی نا پد یددی
او مری یی رنگا رنگ نوم یی هار شی
درموز معنا له کومه وی تـر کومه
اوس دچا مقصود تسبیح دچا زنار شی
چه دروح له معر فته خبر نه وی
دصو رت مثال یی نقش ددیـوار شی
نا آشنا په نا قبول طا عـت غره دی
لکه ستور چه سر گرزنی په عصا ر شـی
درست حجاب دسړی خپلــه ناپوهی ده
دهر چارا تکل دفهم په مقدار شـــی
کل اواز درحم قهر له یــوه دی
اوریده چیری رحیم چیر ی قهـار شی (۱)
سا معان چه محبت که لـــه سروده
دتسبیح په پو هیده یی افتخـــار شی
پر بعید باندی جمله اوازساخه دی
دقریب تر فهم کل دفومز ما ر شـــی
هیڅ اواز یی خالی نه دی له تسبیحه
چه لــه کانی، له حیوا نه له اشجار شی
که څوك فهم پر تسبیح داوازو که
په هر څه کښی اور یده اواز دیـار شی
نزد یکان به په دغه معنـــا پو هیږی
چه په هرلوری اواز لکه اشبار شی (۲)
یگانه بلبل په هسی ثنـــا کښیووت
چه صفت یی او ریده په هر گلزا ر شـی
هر سړی دی دخپل عمـــر حساب وکه
دفراق ژوندون به څرنگه په شمارشی
دبلبل په زړه یی نوی آتش بل که
چه خزان یی سر دسره نو بهـــار شی

---

۱ـ په قلمی نسخه کی (اوریده چیری درحم چیری قهارشی) دی .

۲ـ په ځینو نسخوکی (ایثار) دگندهارپه نسخه کی(ابثار)اوپه لرغونی نسخی کی(اشبار) دی چه معنی یی (برغو) ده .

دگو مان دویی چه لیری که‌له‌میانه
پەمعنابه(۱) له معنا سـره کنار شـی
په اختیار به جدایی ځنی ونه‌کـه
بی اختیاربه‌چه وصلت با ندی دو خارشی
په قر بت کښی جدایی پری‌باندی گرانه
په وصلت‌کښی خپل وجود دزړه غبارشی
په یقین په هر دیار دده وطـن‌دی
چه‌گومان‌یی بی وطنـه بی دیار شی
چه قدم می له مقامه پر مقام‌ږدی
وتوحید وته‌رسد په دا رفتـــارشی
له اخلاصه هره چار په محبت‌وی
در یـابندگی په طمع یاپـه ډار شی
هر دریاب په سهم درو مـی‌گوښی گوښی
په دالوی‌محیط کښی ورك واړه بحار شی
دمخلص په برخه سخ دی تـل‌ترتله
چه‌یوازی‌خپل اخلاص یی غمگسار شی
هر بنده چه دصاحب په رضاومری
باقی ننګ‌شرم یی واړه دسر کـار شی
چه رضا دزور ور په رضـاکښیږدی
پەجهان(۲)کښی‌واړه کړه دده اختیار شی
په ظاهر باطن پەواړو رسیده‌وی
چه مخلص دمسکینا نو پـه قطار شی
یومسکین‌تخلقــوا با خلا قـی دی
چه یی‌روح‌پر قرا ری با ندی قرار شی
مسکینا ن له واړو بدو فرارشوی
دښیګڼی‌خوی به کاندی ځو یی‌پار شی

---

۱ــ دکندهار پەنسخەکی د (بـه) پەځـای(یی) دی .
۲ــ دکندهار پەنسخەکی (دجهان) په ځای(جهات) دی .

په ظاهر صورت بنده بند گی به کاندی
اوپه‌روح به‌د دوو کونو حکـم دار شی
همیشه به زندگی په خدا یی‌خوی که
چه‌ایمان‌یی‌پر ایمان با ندی استوار شی
دمیر زا خزانه چیری وه لـــه کومه
چه‌په هر نفس یی خرید په دابازار شی
ما چه وکوت په باطن دمعناولی
دوحد ت‌پرانگړ میشت د کثر ت کلـــی
دلطیف دبی حدی صفت پــه‌خو کړم
چه تمام‌کیف یی رش پر مخ نیو لــی
پر اوبو باندی دخاوری جهازوینم
لور په‌لور دکانی میخ دی تری ختلی
په هوا گردان پسو پر بلـه‌گر زی (۱)
لوی حکیم‌په کوم حکمت پوری تړ لــــی
دعاقل دعقل قیا س رسیدای‌نه شی
چه‌د کـن‌فیکون لاس دی رسید لـــــی
دا ساده اسمان په نقش وپــه‌نگار شو
دقدرت‌په‌الما سونو دی کیند لـــــــی
دآفتاب دمهتاب څراغ ور باندی‌بل شو
دغه خپل‌هنر یی نه پر یښو پو ښلــی
له اورو یی ښه با را ن پـــرځمکه کښی کړ
ځای په‌ځای یی نبا تات باندی کرلی
دبهار دخزان مخ پر ښایسته‌شو
د غر مودسړو رنگ پر پوړ وهلـــی
گل دبی رنگی یی‌رنگـک دی‌څرگند یږی
رنگا رنگ‌د ځمکــی مخ پری اخښلی (۲)
په هر لوری چه نظر کړم لون‌لون
دعظیـم‌فراش بساط دی غوړ ولـــــی

---

۱ــ دهمیش په‌نسخه‌کی (چـه هوا گـردان په‌څو ...)

۲ــ دگندهار اوپه قلمی نسخوکی (دارنگ گـل‌له بی رنگی څرگندیږی ...،پری اغښلی)

بی حسابه مخلو قات چه لیده کیږی
ددی لوی‌شطر نج لنبکر دی‌بو لولی(۱)
وهر چا وته به خپل قسمت رسیږی
له‌ازله‌یی‌سپور سپور کړ پلی پلـی
او آدم په اصل واړه سـره‌وصل (۲)
ځینی‌ځینی‌پاد شا هی کا ځوك نتلـی
حیوا نات چه ژوندی گر زی‌بی تکلیفه
کل دکړودنه کړو بـارپر سړی لنبلی
هر سړی دخپلـی چا ری‌بسنده دی
تن‌په تن‌دحا کم حکم پر ویشلـی
مخلو قات دآدم زاد دپـاره‌وشول
او سړی‌دی معرفت لره سا زلـی
دالست رحم پر هر چا برا بردی
په‌اختیارځنی منکر شـو چا منلـی
چه په داحیات له ذاته خبر نه‌شو
هر حیوان‌څه انسان نه‌نبا یی بللی (۳)
چه دنفس اماره په نغـو تـه‌کنبیو ت
که ظاهرصورت حیات روح یی وژلـی
دمجاز په ژوندون څه لـره نازیږی
بی طلب‌پر لارو لاړ دی لکه خلـی
تل په غتهو ستر گو خوب کـالکه سویه
پسوویښ‌د خو بو لی په دود زغلی (٤)

---

۱ـ دهمیش په‌نسخه‌کی د(بولولی)په‌ځـای(پسولولی) دی .

۲ـ په‌قلمی‌اودکندهار په‌نسخو کی(آدم‌زادپه‌اصل واړه برابردی).

۳ـ دهمیش په‌نسخه‌کی (چه‌په داحیات‌خبر نه‌شی له‌ذاته‌ـ هر حیوان څه انسان‌نه‌بویـه بللی) دی.

٤ـ دکتابخانی بشپړی اودنیمګړی نسخـوسره‌سم نقل شو دهمیش په نسخه‌کی (په‌څو ویښ‌دخوب بیولی په‌دودراغلی) اوپه‌نوروکی (نه‌شو ویښ له‌خوبه شوی دی‌غلی‌شوی.)

دخناس په نصیحت لـه لار ىووت
درىا پهډیر مکرونو ځـــــان ښکلی
خوار جا هل ددیوو، ددو پــهحسا ب دی
لابتر لهخوشی مړو سره شمیر لــــی
تن تاریك زړه یی لحد ، روح یی مرده شو
آراستهصورت یی گور باندی در بلی
او پر یشا نی اند یښنی مثال چنجی دی
گور لحـــدیی سلا مت روح یی خو ړلی
هیڅ راحت پری باندی نشتهبی عذابه
دم په دمپه خواری خوار ناپاك(۱) رټلی
دیوه صو رت دوړو قوت یی نه در
اما نت یی په سرواخستبی تللی (۲)
دکچر په دود یی اصل بـــــرطرف شو
چه یی یو اصل په بل اصل گډ لــــی
دظالم دجا هل هسی رنگــــكبایده دی
چهتیری ناری به کړی سر یی وهلـــی
هسی بار چه آسمان ځمکــیوړی نه شو
بیقوتنادان په کوم قوت زغملــــــی
په تلوار دکا ملانو طلــــببویه
چه دابارشی (۳) وځبنتن وته سپا رلی
هر دانا چه له داتاوانه خلاصشو (٤)
تروصحیحعلـــــم لدن پر ده را غلــــــی
ددی هسی علم قدر او لیــازده
چه په ځانیی درست جهان دی پلټلــــــی

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی د (ناپاك) پهځای (خوی) دی .

۲ـ دهمیش دنسخی سرهسم نقل شوپــه قلمی نسخه‌کی (بیجلی) اوپه لرغونی نسخه کی (بیځللی) دی .

۳ـ دهمیش دنسخی سرهسم نقل شو پــه قلمی نسخه‌کی د (شی) پهځای (دیوی) دی.

٤ـ لرغونی نسخه : (هرنادان چه ..،)

دده امر په هر څه کښې روا نیږي
داومو خاورو دیوار یې دی تیز لی (۱)
مرد گا ن یېد ژوند یو پــــه‌حساب کړه
چه کامل پخپله دم په کښې دملـــــــې
تل ترتله به حیات وی مر گ‌یې نشته
چه حیات‌دحیات مزی تری وکښلې (۲)
کوم نیکبخت له‌دو گانگی(۳)پاکیزه شو
چه ولی‌دولایت په او بــو وللـــــې
په اوبو باندی دده څــــراغ‌بلیږی
شرك‌گومان یې په کی سوځی لکه‌خلی
په طلب یې نحسیت (٤) لــه‌ستوریو واخیست
په‌بنه خوی‌یې هیڅ سا عت نه دی کړ لی
لکه حق داولیاو دصفـــــــت‌دی
ای میرزا له ډیـــرو لږ دی ما ویلـــــې

| | |
|---|---|
| دشر یعت مقام بهتـر دی (۵) | دجملـــــه مقا مـــــه بر دی |
| طا لبان دی په طلـــب کښې | دسا لــك بر خه سفـر دی |
| ذاکران یـــې یـا دو ینـــه | دعا رف پر مخ نظـــر دی |
| له سامعه سره راز کـــــه | کم دلیل په غو ږو کــر دی |
| جدا یـــې به څنې نه کـــه | چه له وصله یې خبــــر دی |
| په یوه کښې ځان فا نی کړه | که یقیـــــن دی زور ور دی |
| نا امید له ځانــه مـــه شه | دوحدت عمـــل بـا ور دی |
| که قرار په سکو نت شــــې | مسکین هـــر کله داور دی |
| سا کن یو دی په یوه کښې | بیا دهـر یـــوه مصدر دی |

۱ـ دکـتابخانــی پـه بشپړه نسخه کــی (پیځلی) دی.

۲ـ دهمیش اودکتابخانی دبشپړی نسخی‌سره‌سم نقل شوپه قلمی اودکندهار په‌نسخو کی (چه‌دی ځی‌دی دحیات مزی تری‌کښلی).

۳ـ دهمیش په نسخه کی د(دوگانگی)پــه‌ځای (بیگانگی) دی .

٤ـ (دنحسیت) په‌ځای دهمیش په‌نسخه‌کی(نحوست) دی .

٥ـ دهمیش په نسخه کی دانظم نشته.

ور خر گند دی دواړه کو نه    له جملــه حا لــه خبــر دی
دا معنا بــه هغــه وینــی    هــر چه سر یــی منور دی
کل عا لــم یــی آیینــه‌شی    چه دنــور تاج یی پر سردی
دا جهان یی رڼا ورځ کــړ    دهغــه جهــان سحر دی
علم زیــب دی دبا طنــو    دظا هر بنا یسته نمــر دی
هره شپــه ،شپه د بــرا ت‌ده    هره ورځ، ورځ داختــر دی
چه معرا ج یی نه فلــك شو    پر ده هر زمان اختــر دی
روح پادشاه دی‌په صورت‌کی    هــر صو رت دده نفر دی
هم هر رنگ دده له رنگــه    دهر رنگ رنگ یی دیگردی
دهر چا په زړه پو هیــږ ی    دهمه ستر گــو نظــر دی
خپل اواز په خپلــه اوری    گو ینده دبحــرو بــر دی
واړه چار یی په رضــا شی    کننــده دهـــر بشر دی
دحیات او بــه ور څخــه    خود سا قی‌جام دکو ثــردی
دانسان په جامه پــټ شو    دتو حید دباغ شجــر دی
ځینی پا ځی څــو ك گلو نه    چیری خار چیری ثمــر دی
میوه ورځ په ورځ لذت کــه    خار چه پوخ شی لا بتر دی
په عمل به څــر گنــد یږی    دهر چــا اصل جــو هر دی
په سینه کښی چ ه‌هر څه‌وی    تر ی څر گنــد هغه اثــر دی
له تر خو یی مړ غو نـــی    له خوږو یی نی شکــر دی
دیوه در یاب له مو جـــه    هم مسلم شی هــم کا فردی
حقیقت لـــه ابــرا هیمــه    او مجاز یــی لـــه اذر دی
روح عیسی شیطان د جال شو    زړه مهدی او نفس‌یی‌خر دی
کر شمــه که لو نــه لونــه    گــهی سیوری گــهی نمردی
څه عجب یی خپل مخ‌جوړکړ    کل اشیا دشاه زیــور دی
او مونده په عنا یــت شی    دلد ن علــم هنــر دی
په اوراق به یی نه مو مــی    نه چا کښلی په دفتــر دی
فقیــر ډیر ملکونه گــو ری    په وطن کښی یی سفر دی
په زړه سیر دجهان کـــه    خوا طر یی بــال وپــر دی
ددرو یش فکــر خطیب شو    نــن ختلی پــر منبــر دی

داحــد صفت بــی حــده
میر زا کــړی مختصر دی

یوعجب خا کی (۱) بشـــر دی | چـــه احسن او مختصر دی

اختیا ری صورت ته گــو ره | چه تر هر صورت بهتر دی

دی بهتر په دا دلیـــــل شو | چه‌د معر فـــت دفتـــر دی

هم په دا دفتر کښی جمـــع | چه پر یشان په بحرو بر دی

هر چه دا دفتر یی ولو ست | حجاب نه لری انــــور دی

ثـ گند مخ په کښی لیده شی | دی دلوی جمال مظهـــر دی

په هرچا کښی جلوه کاندی | بیا دکل عالم مصــــدر دی

اصل ډیر شو په ښا خو نو | څه عجب پر یشان شجر دی

دا پر یشان شجر وگــو ره | څرنگ نغښتی په ثمــــر دی

یی ، الف یی تفــــا وت شو | دا کبیـــر هغـــه اکبر دی

عاقلان پری ښا یستـــه شوه | عقل نورانی جو هر دی (۲)

روح پاد شاه دسرد پا سه(۳) | دی وکیل شو ځای یی‌سردی

قلم ژبه دحـــال کښو نـــی | سم گفتار یی ښه رهبر دی

غوږ مکـــان دارو یـــدو شو | همیشه پــــرا نتـــی در دی

له نیکا نو فایده‌مو مــــــی | له نا اهـــل یـــی ضرر دی

---

۱ـ دهمیش په‌نسخه کی د(خاکی)په‌ځـای(خالی) دی .

۲ـ په قلمی او دکنـدهـار په نسخه‌کی(عقل نورانی دفتر دی).

۳ـ په‌کندهار اوقلمی نسخه‌کی (روح‌پادشاه پرعقل پاس دی ).

نفس بوی ځکوی په پــو زه درست بدن(۱) پری معطر دی
ددیدن مکان یی ستر گــــی هم دشرم ځــــای بصر دی
دا یم یاد یی په زړه کنبلـــی لکــه نقش فــــی الحجردی
بنه سینه مثال کرسی شوه ځــای دفکــــر مقــــرر دی
زړه یی عرش مکان دعلــــم خاص په ذکـــر منــــور دی
دی بی مثله پا کلطیـــــف شو له کــــل رنگــــه مقشر دی
په ځرگند واړه پو هیـــږ ی هم له کل غیبه خبــــر دی
نیك وبد پــرده معلــوم دی د تما م عا لم محضــر دی(۲)
جام دجم ور ته څه وا یـــی آیینه دسکنــــــــدر دی
نو س مقیل دی ځای دصبــر چه صبــور وی معتبردی (۳)
په خلقت دی نژ دی شو ی تر شیطا نیی شر بتــــردی
در ست صورتیی ولایتشو هر اندام دروح نفــــر دی
دی خو بنی کا په صورت کی دصورت خو ی یی خطر(٤)دی
چه رسول ځنی حــذر کـــړ لا ولاړ هغـــــه کمــــر دی

---

۱ـ دهمیش په نسخه کی د(درست بـدن) په ځای (چه دماغ) دی.

۲ـ دکتابخانی اود همیش دنسخو ددغــی مصرع په ځای په نوروکــی (دوی تــمام وده محضردی) دی .

۳ـ دکندهار اود همیش دنسخو دابیت په نوروکی (نفس مقید که ځای دصبر ـ څوصابر وی معتبر وی) ، په لرغونی اوپه نیمگړی نسخه کی د (مقیل) په ځای (مقبل) دی .

٤ـ دهمیش په نسخه کی (خطر) اوپه نورو کی (هنر) دی اود کتابخانی په نسخه کی (خبر) دی .

وجود څه کثیف غبــــار شو　　چه لطیــف پری مکــدر دی
عشق یی‌اور په‌زړه کی کښیوت　　گه لمبه گهی اخگــــر دی
خوی وبوی یی څر گند یږی　　هــر سړی مثــال مجمــردی
عار فا نو دلی بیا مو نـــــد　　هغه حال چه په محشر دی
نه مو نده شی بی طلبـــــه　　نه پر هیڅ لــو ری سفر دی
اوس قرار په سکو نت شو　　خو نښ را غلی وحضــر دی
عدد ورك شی په احــد کښی　　که ښوك يو وينی بهتــر دی

ای میر زا طلب تمــــام شو
خپل قسمت دی مقـــدردی

ښوك یی څه‌پیژنی کوم دی(۱)　　ذات یی ذات اونوم‌یی نوم‌دی
دا میوی دی هم له لو نــــــه　　پوخ‌یی پوخ دی‌اوم یی‌اوم‌دی
دی بی مثله شو لــه مثلـــه　　هم مجهول دی هم معلــوم‌دی
له ذر ی د ی هــم لـــه نمره　　بیا له اوږ می له نجــوم دی
له سر دی څخه خزان شو　　له گر می څخه سمـــوم دی
په نیستی کښی یی‌هستی ده　　په هستی کښی یی معدوم‌دی
مدرس پری نه پـــو هیږی　　دا دسپین علم رقــــــوم دی
په جاهلو کښی اجهــل شو　　چه له دی علمه محـــر وم‌دی

---

۱- دهمیش په‌نسخه‌کی دانظم نشته .

چه پخپلـــه فضو لی کـــه
زړه یی تورشو رنگ‌یی‌شوم‌دی
امانت یی پرځان وا خست
دی جاهل په ځان ظلوم دی
دخپل ځان ترسیوری کنبیناست
دگو مان په ساړه موم دی
چه له پټه شر که خلاص‌شی
گناه نه لری معصـــوم دی
عام وخاص یی خادمان دی
دی دکـل عا لـم مخدوم دی

دپندار په نوك یی گروی (۱)
شرك یی عین دزړه یوم دی
رو ښنایی دکل عا لـــم‌شو
په‌هر خه‌کښی دی (۲)مکتوم دی
حیاتی دی له حیـــا تـــو
دا نا یی د هـر علوم دی (۳)
ارا ده یـــی ده لـــه وا ړو
دی حاکم دهر محکـــوم دی
گو یا یی یی لـه گویـــا و
شنوا یـــی دهر مفهـــوم دی
چه‌د تن له خو یه ومـــر ی
دی په خاص رحم مر حوم‌دی

رنگ په‌رنگ لبنکر یی‌جوړ‌کړ
اوس‌یی‌وخاورو ته‌هجوم‌دی(٤)
چـــه‌د فقـــر پـــه اور وسو
دغه سو خت یی مرز بوم‌دی
ته یی باقی صفت وگـو ره
پر فانی با ندی مقسوم دی

دمیر زا جامه یی رنگ کـړه
یو عجب بی مثله خـــوم دی

---

۱ــ دکندهار په‌نسخه کی(دپندارپنوك‌یـــی‌کوینی ــ شرك یی‌عین دزړه‌یوم دی).
اودکتابخانی په نیمگړی نسخه‌کی‌د (کوینی) په‌ځای (کویی) دی .

۲ــ دکتابخانی نیمگړی نسخه (هرخه کښی‌دی)په‌ځای (په‌هرکس کښی) دی .

۳ــ دکتابخانی دنیمگړی نسخی د(علوم)په‌ځای پـــه قلـمی او دکـندهار په نسخوکـی (معلوم) دی .

٤ــ دکتابخانی په نیمگړی نسخه‌کی (اوس‌خاکی ته ...) دی

# ۳

# غزلیات

# بسم الله الرحمن الرحيم

ابتداشوه په‌پښتو دحق ثنـــا
ښه ثنا په عنایت د ربنـــا
که‌توفیق دکننده یی‌رفیق نه‌وی
دبا قی تعر یف پسو وا یی‌فنا
ټول حباب چه‌له دریاب سره‌خور شی (۱)
عجب‌غږشی ربنـــا افتـــح بیننـــا
لام الف دواړو خلقو هستـــی‌یوه وه (۲)
بیا دایویګا نـــه نون شو دلنـــــا
چه فانی می دفنا له ملکـــــه‌ولیښ
تـــروباقی شو دفا نی معنـــا انـــا
دده امر په هر څه کښی روانیږی
په محیطدر یاب کښی ذوق کابی‌شنـــا
دا دفقر حال یی ور غی تـــرفخره
پرتمام‌عالـــم یی برق دی دڅنـــــا

---

۱ـ دکتابخانی په بشپړی او دهمیش پـه‌نسخو کی (خـور) اوپه قلمی اودکندهارپـه نسخوکی (خوښ) دی .

۲ـ دکندهار په نسخه‌کی د(لام الف دواړو خلق هستی یووو) اودکتابخانی په بشپړی او په قلمی نسخه‌کی د (خلقو) په‌ځای (خلق) اودهستی په‌ځای (هسی) دی .

نبه باران یی درحمت په اهل اوری
رسیده عقل بر ینبنا دی عشق تنـــا
کل اشیا د ده لــه ذو قه شــورقاص
پر هــرلوری یو اواز دتـــن تنـــا
کم دلیل دزړه په ستر گـــونابینا دی
در ستبشر گنهی پسویهد و ننـــا
ای میرزا گو مان دی لری کړه له میانه
بی گومانه زه هم ستا یم ته لنـــا
په هرتن کنبی چه امیره شوه هوا
دهوا اسیر له عقلــه بینـــــوا
چه په زړه با ندی خراغ دعقل نه وی
دنادا نو نـــا پـــو هـــی دخان غـوا
سړی زیات له امرو نهی خبر شوی
دا نسته چـــا ره بـــه سو کـــا نا روا
دغه زړه دسړی ځـــای دی دکرنی
پری کری ځینی سموم ځینـــی دوا
دا رانده خناس دهر اناس په قصد دی
چه آدم یی غلط کړی هم حـــوا
دبینا په حضور چاری خه پټ نه شی
لاس و پښی یی دی ځلور عدل گوا (۱)
هر عالم چه په خپل علم عمل نه کا
په تحقیق لــــه جـــا هـــلا نو دی سوا
په رو حانو کنبی ناطق بللی شوی
که سامع دی چه پوهیږی په نو ا (۲)
حیاتی دصور تونو په اروا ح ده
دلطیف ارواح پـــه خـــه کیږی قوا

---

۱ــ دهمیش اودکتابخانی په نسخه کی دا مصرع داسی ده:
(بیاچه لاس وپښی عدل ځلورگوا)

۲ــ دهمیش اودکتابخانی په نیمگړی نسخو کی (که سامع وی به پوهیږی په غوا)

دا غوټی رنګ یی هوا پــــه پورته واخست
چه هواور ځخه ولاړ شی تشه خوا (۱)
ای میرزا په جمع زړه ترځان تیر یږه
پـــه لغت دتیر یـــدو معنـــا روا
څو صفت کړم د دلدا رو لـــه وفا
دا دلدار پـــه وفادار و کښی او فـــا
دباور په میدان سم را غلـــه ژبښتنی
پــــه تحقیق دی امتی دمصطفـــــی
په ظاهر باطن له نهی جـاروتلی
یـــو تنها امر جلی کا هـــم خفـــا
بی دیدنه فراغت پری باندی نشته
په طلب کښی ویره نه کا له جفـــــا
په بندګی به نه نازیږی بـــی اخلاصه
په قدرت به یی نظر وی پـــر عفـــا
امانت به په امان تر ځایـــه وړینه (۲)
کدورت بـــه یـــی بدل شی په صفـــا
سخاوت به یی دبخل په ځای کښنی
چـــه غضب یی شی په حلم انطفـــا
دعارف زړ ګـــی بـــی مثلـــه آیینه شو
تـــل دبد ګومان له زنګـــه مصفـــا
دنفاق داهل بر خـــه ریا یی ده
داخلاص ښبنتن به بنه کړی په اخفـــا (۳)
دهر چا تر فهمه خپل هنر، هنر دی
پرهر چادی خپلـــی چا ری اکتفـــا
پر میرزا دکا ملا نو نظـــــر وشو
چه ایمان یـــی په دلیل مو مـــی شفا (٤)

---

۱- پەلرغونی نسخه کی (چەهوا ورځخەځیاوبه خوا) .

۲- دهمیش پەنسخه کی د(وړینه) پەځـای(وروړی) دی اودکتابخانی په نیمګـړی نسخه کی (ورشی) دی .

۳- دهمیش په نسخه کی دابیت داسیدی(دنفاق داهل برخەیی ریاکړه ـداخلاص ښبنتن بنیګڼه کا اخفا).

٤- دهمیش پەنسخه کی دامصرع داسیده(چەایمان یی پری دلیل مومی شفا)

پر دا صاف صو فی جا یـزه‌ده سما
چه یی‌خاصه بی ریا که بـی طـمـا
اهل دل به‌د صورت نو مو نه‌سوکه
چـــه‌مذکوز شی په هر اسم مسما
دا ددین ددنیا مینه یی فا نـی کړه
ځکه‌دواړه‌لاس له تا ښنډی له مـــا
چه تر عر شه تر کرسی یی‌نظر تیر شی
تروحایل‌به یی نه ارض وی نه سمـــا
عاقبت به‌د افتاب په مخ اوبه‌شی
یخ هرڅو دی دسړو په زور جمـــا
په باور کبنبی دگومان فکرونه‌نه ښی
منا فـق‌دی جو فرو ش گندم نمـــا
رنځو ران چه له طبیبه عیب(۱) نغا ړی
په علاج‌بـــی کو ښبنس نه کـــا حکما
ظا هری علم یو جــــز و دهنر دی (۲)
ترو په‌کوم دانش کامل شول علمـــا
دا سړی په اصل واړه برابردی
دلدن په‌پو هی زیات دی قـد مـــا
مخلصان په دوا ړو کونو پادشاهی کا
خاص‌له‌شرکه‌له گو ما نه سلما (۳)
ای میرزا‌ښبیگړه پته‌کړه له‌بدو(٤)
بیا پرځای چه ښبه یا ران وی ند ما
دا گویا هد هد چه را غی لـه‌سبا
ومشتاقو ته یی وویـــل عجبـــا
ده عجب دحال په ژبه خوا ب‌ورکړ
راشه‌را شه بلـــی بلی مر حبـــا

---

۱ـ دکتابخانی په نسخه‌کی دعیب په‌ځای (رنځ) دی .

۲ـ دکتابخانی په نسخه کی (ظاهری‌علم‌بی‌اوجزاو هنردی).

۳ـ د(سلما) پرځای (سلیما) دی

٤ـ دامصرع داسی هم ده: (ای مـیرزا‌ښبیگنه پته کړه له بدو).

کل جهان له محبته پیــــداشوی

دا ربنتینیعشق دکــل عــا لـم آبـا

داحد په یکا نگی کبنبی دویینشته

دگو مانپـــه حجاب بیل شول غر با

لهاشراکه دشر کتشومیپیدا شوه

ځکــهیاد په عقا رب دی اقــر بــا

یعقوب ویر دیوسف پر پرهنوکړ

چه حاسدورونه یینه کاندی قبــــا

دتو حید په امنیت یی باور نهکــړ

دمشرك په ایمان کبنیو ته وبــــا

هر چه مغز داخلاص ور سرهنه وی

دتشیرسم چاری واړه دی تبـــا

دغا فل دنا پو هی توره تیارهشوه

ددی عارفا نــو فهم سپین سبا(۱)

یو بی مثله مخ دزړه پهسترګوګوری

دامعنا پــر نــا آشنا وعجبا

ای میرزا په مـرد وزن امــر دغه دی

چه پــهقصد دنهــی نه شی تقر بــا

چــه مو جـود ته ژر یا دیله ژرا

دتبنتنله حکمه نه دی مــــا ورا

له وحد ته دکثرت په ننداره‌شو

محبتیی‌تر میان راوړه ما جـــــرا

دلاهوت په تنهــا یــی کبنبیقراری ده (۲)

دنا سوت‌پهبازار غوږی چون و چرا(۳)

عجب تن په تن یی خپله تماشاده

په هرلوری دده بیع هــــم شرا

---

۱ـ دکندهار اوپه قلمي نسخو کیوروستیلاندی مصرع دپاس بیت او دپـاس بیت وروسته مصرع دلاندی بیت جزء ده.

۲ـ دلرغونی نسخی دامصرع په نوروکی(دلاهوت په قراری کبنی تنهایی وه)

۳ـ دکتا بخانی دنیمگـړی نسخی سرهسم نقلشو ـ په نورو نسخوکی دامصرع (پــه) او (دي) نهلري ۰

«انه مع کما» یـی اشـا رت دی
ته نظر په«اسـمع» و کـسر ه و« ارا»

دخالق په خلایق کښې تفاوت‌دی
دا چـه «فـا رجـع البصـر هل‌ترا»

پـه رضا یی واړه چارې پوره کیږی
هرصورت یـی نـوی نـوی اخترا

دغه اسم چه اعظم جامع الاسمادی
که‌دانایی پـه دالـوی مـصدر درا

که دی‌مینه دکرار په کـراری‌شی
له هـرلوری تـه و ده و تـبه برا(۱)

دهزار حساب یی را وړ تـوالفـه
یو الف دی په او لوف حساب غـرا

ای میرزا خبره پټه په رمـوزکړه
در موز معناخـر گنده «مـن یرا»

چه دیار په مینه ډیره چـا رقفنس کا(۲)
اول‌بویه چه دا هسی اختیار کس‌کا

محبت یی بی حسابه زور ورشو
له‌هوسه‌سره جمع خـا رو خـس کـا

دهجران له دوکه پاس پـوباندی کښینی
اوله‌آهه‌یی اور پوری په نفس کا (۳)

په بار بار شوه جدایی پـری‌باندی گرانه (٤)
چه علاج‌یی‌داروا ح شیریـن قفس کـا

---

۱- لرغونی نسخه «له هرخه لـوری‌دی‌ده‌وته سرا»

۲- دغه نظم دلرغونی نسخی پـه حاشیه اودکتابخانی پـه بشپړه نسخه کـی لیـکل شوی دی .

۳- بشپړه نسخه د«کښینی» پـه ځـای (کښیناست)دی او «اوله آهه یی اور پوری په نفس‌کا» په‌ځای (اول‌یی اورپی‌پوری دنفس‌کا) دی .

٤- دامصرع په بشپړه نسخه کی: (په‌بار بارشوه‌گرانی دجدایی پرباندی)

هر گوره دجدایی پــــه اوروسوم
په دنیا کنبی‌می همدا جدا یی بس کـــــا
په جهان کنبی آشنایی حاصل نشته
چه‌داهسی په کوکار ناری جر س کـــــا
او بلبل چه په وصلت دگــل غره شی
تروضامن‌به‌په قسمت کوم عسس کـــا
د قضا شا هین یی چا لیـدلی نه دی
په‌دنیا‌کی‌استو گی پر جو س کـا (۱)

دمیراز په دیدن هسی ډیـر نازیږی
لکه گداچه دقارون په گنج هوس کـا
چه امید په درو غجنی مکا ره‌کـــا
په‌داهیڅ‌هنر به‌هر څوك انگاره کا (۲)
دنا دانو نادانی تر فـهـم وعقل
چه په‌سخت اهاړ دوا ورو مناره کا
ودانی یی مشقت پری ز هیر یږی
ویرانی‌یی‌نـــوی غـــم پــر دو باره کا
هر سړی چه له دنیــا وفایی‌غواړی
بی عقلی‌به یی(۳) ډیر غمو نه اجاره کا
سعد ونحس په کرده پو ری‌تړلـــی
کم دلیل‌دچار قیا س په ستاره کـــا
زه عجب یم ودا هسی رنگـ‌عالم ته
چه امیدیی‌د حبـا ب په نـــواره کـا(٤)
یوه ورځ به درياب موج وهی‌بزبله
په‌تعجیل بــه دحباب جا مــه پاره کا

۱- دابیت دکتابخانی په‌بشپړه نسخه‌کی (دقضا شاهین یی‌لالیدلی نه‌دی - په‌بسات کی چی‌استوگه په اجنس‌کا)

۲- همیش: څــه امید به‌دروغژنه مکاری‌که - په داهیڅ فردی هیڅ‌وانکاره‌که.
۳- همیش: د(بی عقلی‌به‌یی) پــه ځـای(بی‌وفا به) دی .
٤- همیش:- (چه‌امیدمی دحباب په‌نواره‌که)

سا لګان چه دا رواني او بـه ګورې
په داتله کبنبی دخپل عمر ننــدا ره کا
مسا فر به له خواږه خو بـه بیدار شی
چه سحرجرس دتلو په وخت نا ره کا

دا نایان دخپل مقصود پــه طلب ګرزی
حیوا نان زیرمه دنماستو چاره کا (۱)
دا کران چه د غفلت له خوبه ویښس شوه
د نفس وچلیــده تــه نظا ره کــا

دفقیر خو ښی له سو زه لــه کتابه
امرا به یی پــه توغ په نغا ره کا
هغه ملك به له خلله نــه خلاصیږی
چه لښکریی لــوا مـه واما ره کا(۲)

که اشنا دنا اشنا خبــــره نغوږی
اشنایان به خپلی چا ری اواره کــــا
که فرمان دزور ور ور باندی وشی
دمیرزا قوت له کومه چه چــاره کــا

له اول چه محبت دخان آغاز کا(۳)
دا کثرت یی له وحد ت سره انباز کا
او جمال یی ښا یسته که په خالونه
او دپاسه یی پر سر داوږ دنا ز کــا

توری (٤)ستر ګی یی درياب پر بله اوږی
دغه کسی یی ددی درياب جهـــاز کــا
دا نظر یی معلم دی په کښی اوسی
په دیدن یی لور په لور له هر چا راز کا

---

۱ـ دقلمی اودکندهار په نسخه کی د(چاره) په ځای (خواږه) دی دهمیش دنسخی له مخی (چاره) ولیکل شو .

۲ـ په قلمی نسخه کی د(لوامه) پــه ځـای(شیطنت) دی .

۳ـ دغه او ورپسی نظم په دیوانو کی د(نه) په ردیف کی قید دی .

٤ـ دهمیش (توری) نه لری.

نابینا غافل په مثل شاه نه وینی
وعارف ته یی بی مثله ناتار ساز کا (۱)
رموز واړه حقیقت دی که یی وینی
کم دلیل گومان لیده نوم یی مجاز کا
محمود ځمر نګه مشتاق پسی جار وزی
چه ځښتن دمعر فت ځښتن ایاز کا
په معنا به سر بلند تر کل اشیا (۲) شی
چه یسی یو قدم په کبر بل په آز کا
په رښتیا چه یی هوا حرص بندی کړه
هغه کس یی په دوو کو نو سر فراز کا
هم ارواح یی په لاهوت کښی پاد شاهی کا
چه د تن له بده خویه یی پرواز کا
دی (۳) میرزا پخپله هیڅ ویلی نه دی
په قفس کښی دوحدت طوطی اواز کا
په رښتیا مینه پر گل با ندی بلبل کا
چه په خو جفا وخا رته تحمل کا
که عاشق یی په رښتیا ترځبل سر تیر شه (٤)
محبوبا سو دا دسرو په با زل کا
چه قدم په تیره خار بږدی ځی ویار ته (٥)
دا شها به یی له ځان سره وا صل کا
او حاله به یی دمراد تخم زرغون شی
چه دنیو په په اوبو جمال کا گل کا (٦)

---

۱ـ همیش: (نابینا غافل مثله شاه نه وینی ـ وعارف ته یی بی مثله بازار سازکه)
۲ـ همیش د (اشیا) په ځای «عالم» دی.
۳ـ همیش (دی) نه لری.
٤ـ دهمیش په نسخه کی (که عاشق یی ترسر تیر شی) اود کتابخانی په نسخه کی (که عاشق یی ترسر تیرشه) دی .
٥ـ دهمیش او کتابخانی په نسخوکی (ځی ویارته) نه لری .
٦ـ دهمیش او کتا بخانی دنسخو سره سم ولیکل شو په نوروکی د (نیو) په ځای (وینو) اوجمال په ځای (وجود) دی .

له اوله یی سبق وهر چــــاوزکه
بیا پخپل اختیار هر څوك دځان حاصل کا
چه یی اوس کړه آسانی پــه ځان قبوله
په آخـر به دا اسان سفر مشکل کــــا
چه دخلکو امید اوړد شو پــه دنیا کښنی
او قضابه یی فا نی عمل با طــل کا
خو(۱) هرچا دواړندی کړی یو هنر دی
ترو نازك خــا طــر وچا وته ما یل کــــا
نیك وبد واړه را غلی دی له خدایه
اوس دکړو ملا مت ولی یو پر بل کا
برخی ټولی په قسمت ازلــی دی(۲)
په هر چاباندی به خپل قسمت نازل کا
دنیا توا نګرو پر ینبـــووی ما نی
اومیرزا عمار تو نــــه په ویل کا (۳)

دی بـــــاد شاه دهــر چا رب — حکمتـــــو نه یـــی عجب(٤)
واړه کړه یی پــه رضا شی — حکمران پــــه هر سبــــب
جهان یی مخ وخت کـــــــړ — گا هی ورځ شی گاهی شب
ودانی یی شی په رحــــم — ویرا نـــی یــــی په غضب
نه په ذات دی لــه چا لیر ی — نه له چا ســره نـــسب

---

۱ـ دهمیش اوکتابخانی نسخه (خو)نه لری.

۲ـ دهمیش اودکتابخانی په نسخه کی(هرچه په ازل ورلره شوی) .

۳ـ همیش (درویش میرزاعمارتونه یو په بل کــا).

٤ـ دکتابخانی بشپړه اودهمیش دنسخــو سره سم نقل شو دهمیش په نسخه کی د (دی) په ځای (ب) دی خو څرنګه چه په الفنامه کښی د(ب) ړویت نشته نو داغلطی بنکاری :په قلمی اودکندهار په نسخه کی : دی خالق دهرسبب حکمت وینی ډیر عجب

دمخلوق ژوندپه ده دی — په او بو ژوندی دی کب
شپه‌اوورځ دی په اوبو کښی — ما هیا نګر زی تشنه لب
که مشتاق یی لری مه ځه — دی تر تاو تبا اقرب
رنګ یبی هیچا صحیح نه‌که — دیر عالم یی په طلب (۱)
که په دا طلب دی زړه دی — هر قدم زده په ادب (۲)
که دی زړه دی با ادب — معنی کل سم له عرب

دمیر زا کلام پښتو دی
کل معنا یی له عرب (۳)

زما زړه کا دیر شتاب — په دیدن د خپل احباب (٤)
عجب وقت دنو بهار دی — بنه ګل بانګ ددی دریاب
معشوقه حسن آرایه (٥) — اوهم عهدو د شباب (٦)
ساقی مست په غمزه راغی — لکه سری سترګی له‌خواب
دم په دم یی ګروینه — داد حقیقت شراب (۷)
هر چه دا پیاله یی نوش کړه — تل تر تله وی خراب
چه‌دعشق په آتش وسوه — څه دوزخ څه یی عقاب (۸)
درضوان روضه وګوره — پروزش یی پنه دا آب

---

۱ـ دکتابخانی بشپړه اودهمیش دنسخوپه اساس ولیکل شو په‌قلمی اودکندهارپه نسخه‌کی (که‌طلب‌کړی داطلب) دی .

۲ـ په قلمی اودکندهار په نسخوکښی‌دابیت نشته .

۳ـ دکتابخانی بشپړه اودهمیش دنسخودابیت په‌قلمی اودکندهار په نسخوکی داسی دی . (مرزاکړی دی کلام پښتوژبه له‌عرب)

٤ـ دکتا بخانی دنیمګړی اودهمیش په‌نسخوکی د (احباب) په‌ځای (اصحاب) دی .

٥ـ په‌لرغونی نسخه کی (معشوقه‌اوحسن‌اثروی).

٦ـ دکتابخانی دبشپړی نسخی سره‌سم نقل‌شو دهمیش په نسخه‌کی دامصرع داسی‌ده (اوهم احد یی شباب )اوپه‌قلمی‌اودکندهارپه‌نسخوکی (اوهم داډیره شتاب) دی .

۷ـ دامصرع په‌قلمی اودکندهار په‌نسخوکی (حقیقی قوی شراب) دی .

۸ـ دلرغونی د(عقاب) په ځای په ځینونسخو کی د(عتاب)اوپه ځینو یی «څه‌یی‌تاب» دی .

عيش يې واړه مهيا شو    نن په بزم داحباب
ښنا دې واړه په ديدن کښېنې    گل غمو نه له حجاب
دا حضور زمان او لحـظـه ده    وبال پرېږده کړه ثواب(۱)
گل هوس کا په ښنا خو نه    تل به نه‌وي په دا باب
چه خزان يې په زړه ور شي    په گل غږ يو وکا سحاب (۲)

وفايي دجهان نشته    عمر لږ دی په حساب
دا دراز کلام وگوره
ميرزا کښېنلی په کتاب

نن ناره و کړه حبيب (۳)    ښه اواز يې دی عجيب (٤)
دزړه مهر يې پيدا شو    که مې وليده حبيب
فراغت پرې با ندې نشته    چه په يار پسې منيب
تل تر تله سر گشته وي    دوطن وته غريب
په دا رو يې حاصل نه شي    چه علاج کا ندې طبيب
مخ يې هيچا سهی نه که    بې حسابه يې رقيب
دغه يو صفت يې نه دی    لور په لوري عندليب
هره بخره ازلي ده    او س رسيږي په نصيب
په ميرزا يې عنايت که(٥)
دخدای رحم عنقريب

دعشق درد دی بې پايانه الغياث
بې‌علاجه بې درمانه الغياث
گل هرگز بې خاره نه‌وي
اشنا يې ده له هجرانه الغياث

---

۱ـ په خريستو ماتې اوهميش په نسخه‌کې دامصرع داسې ده (ته‌که سوال کړې يا خواب ).

۲ـ دکتابخانې دښپړې نسخې دامصرع دهميش په نسخه کې(په‌گل‌غږ نره‌کا سحاب)ده.

۳ـ دهميش‌په‌نسخه‌کې (حبيب)اودکتابخانې په‌نيمگړې نسخه‌کې (خطيب) دی .

٤ـ دانظم يوازې د هميش اودکتابخانې‌په‌نيمگړې نسخوکې و موندل شو .

٥ـ دکتابخانې نيمگړې نسخه (په‌ميرزاکه‌عنايت‌کا)

شاه له خپلـه ځانـه خو ښه
بی پروادی دلستا نـــــه الغیا ث
داشنـــا پـــه یاد ژو ندیـــم
رښتیـانه پا یم بی‌جانه (۱) الغیاث
د عشق درد هغـــه نـــه‌وینی
چه خبرنه وی له ځا نـــه الغیا ث
دمـیړ زا فـر یـاد د غـــه دی
چه‌مقصودیی (۲) بی نشا نه الغیـــا ث
کل عا لم وشاه وتـــــــه‌محتاج (۳)
یو دیدن‌دعـــا رف دخـــا طـر راج
روغ یی نو را نی په خپـــل‌جمال کړه
شپه یی‌هم ددو (٤) زلفـــو دوا ج
په ذات کښی یگا نه را څـرگند یری
دصفات‌عا لـم یی کړی دی از وا ج
زا هد یی په ډیر زهد ښایسته‌کـــړ
پرعارف با ندی یی کښیښود عشق‌تاج (۵)
قسمت یی په ازل جـلا جـلا کـــړ
هر چاپه هوس ونیو خپـل خـرا ج
فر هاد چه هسی گـــو ښی‌شولـــه خلقه
دی‌شر ینی زړگی وړی دی تاراج
میرزا چه ستا له مینی دیـوانه‌شو
طبیبا نـیـــی نه پـــو هیږی په علاج

---

۱ـ دکتابخانی په‌بشپړه نسخه‌کی(بی‌جانه) په‌قلمی‌اودکندهار په‌نسخه‌کی (ځانه)اودهمیش په‌نسخه‌کی (جانانه) دی .

۲ـ دکتابخانی په بشپړه او دهمیش پـه نسخه‌کی (یی) په قلمی اود کندهار په‌نسخه کی (می) دی.

۳ـ داشعر له لرغـونی اودکتابـخانـی‌لـه بشپړی نسخی واخیستل شو .

٤ـ لرغونی نسخه «دیو» ددوو په ځای.

۵ـ لرغونی نسخه (تاج) اوبشپړه‌نسـخه «باج» .

څه عجب و دعاشق(۱)دخاطر اوج
چه وتخت وته یی لارنه وه(۲) دعـــو ج
دا منزل یی دصراط تر غا ښی(۳) سخت و
تر وپسو پری یا ندی وخوت دعشق فـــو ج
محبت یی یو بی حده لــوی دریاب شی (٤)
په لومړی اثر یی لاندی کا تر مـــو ج
دوحدت توره یی وا خسته له میانه
په کثرت یی نامـــه کښیښوه دزو ج
ای میر زا محیط وهر چـــا رسیدلی
او ګنګا په شمس آباد ځی پر کنوج (٥)
ددا نـــا کـــلام سا ده وی مختصر
د معنا پـــه اشنـــا یـــا نـو معتبر
لکه قدر دجو هرو جو هـــری زده
یـــاد زرو اصل پیـــژ نـــی زر ګر
عار فان پر عار فـــا نو قیمتی دی
چه دانش یی وبله ور شی سر پـــه سر
چه په کسی کښی یی تاب ددیدن نه وی
دړوندو دستر ګـــو څه فا یده له نمر
نمر یکسان پر عام وخا صـــو باندی بریښی
دهر رنګ په رنګ یی پو هیږی مبصـــر
شو پرك چه په حجاب ګرزی له ورځی
ددید ن طاقت یی نـــه لری نظـــر

---

۱ـ دکندهار نسخه :د(عاقل) اودکتابخانی بشپړه نسخه : «عارف».

۲ـ دکتابخانی دبشپړی او دهمیش له نسخو سره سم نقل شو په قلمی او دکندهـار په نسخه کی (...لارنه وشوه)دی.

۳ـ پـه قلمی اودکندهار پـه نسخو کـی د(غانبی) په ځای (لار) ده.

٤ـ دکتابخانی په بشپړه او دهمیش پـه نسخـو کـي د(یـی) پـه ځـای (مـی) اود (شی) په ځای (شو) دی.

٥ـ دهمیش او دبشپړی نسخی دامصرع په قلمی اودکندهار په نسخوکی داسي ده. (اوګنګا چه شمس آباد یی پرکنوج)

کم دلیل له حقیقته خبر نـــه‌دی
دمجازعا لـم یی وینی ستر گـــور
که صورت یی دسړی سړی‌باله شی
پـــه‌معنا کښی تر حیوا نو لابتر
گه غافل په خا موشی کښـــی‌لکه څلی
گهی‌بد بی ځایه ناړی لکه خـــر
ترو ځواب به دمنکر نکیرپسوکړی
چه په‌قهـــر پو ښتیده شی‌په‌سفر (۱)
ددنیا په زیر مه څرنګ ښه‌پو هیږی
له دی‌هسی حا له گر زی کور وکر
که دلی دی له با قی عا لمـه‌بویه (۲)
دمر شدپـــه لو ری زر وکـــړه سفـــر
دکامل دصحبت هسی رنګ‌تاثیر دی
چه‌د لی‌شی لـــه هغـــه جهان خبر
که آسمان یی نورانی په‌مهروماه دی
دا دځمکی‌مـــخ پـــه چـــا دی منـــور
دا مثال به ودانا وته څرګندشی
چه خپل‌زړه کا له گو ما نـــــه مقشر
بی‌خبره به څو خوب په بـــی‌غمی کا
دمقصودپه طلب گـــرزی درپه در (۳)
په آدم کښی یی له خپله‌روحه‌پوکړ
هم دغـــه‌روح یی صا حـــب میرزا نفر
یوعجب خال دی دورځیو پـــه پیوندر (٤)
بیاپه‌څو دی وعاشق وته څـــرگندر

---

۱ـ په‌قلمی اودکندهار په‌نسخوکی د(سقر) په‌ځای (قبر) دی .

۲ـ دهمیش اودکندهار نسخی (که دلی‌ته‌باقی عالم حال گوری )

۳ـ دکتابخانی ددواړو نسخو اودهـــمیش دنسخی دابیت په قلمی اودکندهار په‌نسخه‌کی (بی‌خبرخلك به‌څو بیغمی کـــاندی ـ دمقصود طلب دی وکا درپه‌در) اوپه لرغونی‌نسخه‌کی (په‌تخیر به خوب پسو په بیغمی کړی).

٤ـ دهمیش له نسخی نقل شوـ په‌نوروکی نشته .

په رنبتیا عا شق دی بند گړ نه خلاصیږی
تو ری‌زلفی دچه پرمخ کمند ر

دواړه ستر گی دی همیش دزړونو ښکار کا
دنظرغشی د ی لگی لکه تندر

په دی هسی تیر گایل شی‌نه‌رغیږی
دا یوحال دی طبیبا نو ته ځر گند ر

دعالم دملا متہ نه خلاصیږم
چه‌عاشق دشاه له‌حاله خان قلندر

دغبار لړی به کله نه ته‌ولیږی
چه پښتی‌خړه بریښنا شوه پیزوان تندر

نه می غشی نه لینده‌شته
زر غونه‌طوطیان پریښا سمه له مهند ر

یو می خوا ست بله زا ری‌دی
دسرونته و تر داوږ که را ځرگند ر

مر زا مدح‌دکامل کا
په‌هر دم می دالله په‌لور چلند ر

زه به څه وایم په جهر — له وفا دفا نی دهر (۱)
نو ش یی مه گڼه بی نیشه — له دا رو سره یی زهر
کل هو س یی له اندو هه — بیا په رحم پسی قهر
ځمکه ځرنگ مر غزار شوه — په کنار ددغه نهر
چه بهار شو دنیا دی — زرپړی وخوت دغم لهر
څو شا ها نو پا یتخت کړ — بیا یی پر ینبو دغه ښهر
هر چه عقد له دنیا کا — فرا غت دی ددی مهر
که‌ته فهم پر گړ یال کړی — عمر درو می پهر پهر
ورځ وشپه دی پربل اوړی — نوم یی کښیښنو سن وشهر
څوک‌یی وبښل په پو هه — دچا علم په ځا ن قهر (۲)

میر زا خلا ص دی له نفا قه
خدای درون وینی هم بهر

---

۱ـ دکتابخانی بشپړه نسخه (زه‌به‌څه ... له فادفانی ....)

۲ـ دکتابخانی په بشپړه او دهمیش په نسخو د(قهر) په‌ځای (گهر) دی .

گه می‌زړه په دا فکر ت شــی متحیر
**چه دا** کل اشیا په ذات وینم یاغیر(۱)

کل صفات نه عین ذات **نه‌غیر** ذات دی
**دانکار** معــنا بــلا شوه بــلا آیر (۲)

دیکتا دستور چــه د ی **هسی** به‌تل وی
**دبــی** رنګ رنګونه نه‌شی متغیر (۳)

لکه آیینــه **یوه مخو نـــه دوه** شول
**دیوه** باور دوستی‌شو گومان بیر (٤)

بی‌جهت چه په‌مکان کنبی نه‌ځاییږی
څه مونده‌په خانقاه شی یا په دیر (۵)

دمولا طلب له فر ضو **پخــوا** فرض دی
**په حجاب** یی ډیر گناه **دی حضور خیــر**

دمحیط حد وپا یا ن معین نــه‌دی
چه سفر یی په لامبو **شی** یا **پـــه سیر**

دغه کار دهو سنا کو **سورونه** دی (٦)
**دهــوا** طاقت یی نه **لری هیڅ طیــر**

دتحقیق فهم به‌یو یو سا لك مومی
**چه دپیر** په امر ځی دزړه په **سیـــــر**

---

**۱ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو دامصرع په‌نوروکی (چه‌آشنا دخدای‌په‌ذات دی‌که‌په‌غیر)**

**۲ـ دکندهار نسخه : (رنگارنگــك معــنی بلاشوه بلاهیر).**

**۳ـ دهمیش اوکتابخانی دنسخو په ځای‌په‌نوروکی (کله شی تغیر).**

**٤ـ دهمیش په‌نسخه‌کی (یگانه باوردوستی شی گومان پیر) اودکتابخانی پــه نسخه‌کــی (دیکتا،..)**

**۵ـ په‌قلمی نسخه‌کی دابیت داسی دی:**
**بی‌جهت چه‌په گومان کی نه ځائیږی        څه‌موده په خانقاشی یاپه میر**

**٦ـ دهمیش اوکتابخانی د(سورو) په‌ځــای‌دکندهار په‌نسخه کی (خلق).**

هسی تگ یی عام وخا صــــوکړای نه شی(۱)
پهآغــاز کښی یی ور کیږی غیر زیـــــر

دمیرزا دقوت نخښه پا تی نهشوه
بیا عاجزبنده فاعــل د ی هــم مــخیر

ښه و قوف یی د دانش پــــه‌تښسته در (۲)
چه‌په‌یر هنر یی یو دلیل سره در

دزړه حال یی دمقال له اهلــهګوښی
محبــتـیی له محبو بــه پیو ستــه در

دمحبوب صفت تمام ویلی نــهشم
ملاحتیی واړه حسن په مـــزه در

دجمال جلوه یی زیا ته ده لـــه‌روڅی
بیا دنورو زلفو زیب یی توره شپه‌در

دا ابرویی په مثال ګره کشاکړه
او شینکو تهی‌خــــال یــی لا نو ره فتنه در

عجب قد یی ښا یسته ترسهی‌سروی
په‌داښه‌صورت یی یون په کر شمه در

دافتاب ویل ،لیدل اور یــدلچیری
یا قمـــربه نفس کوم مـــــرده زنده‌در

دوصال په هوا الو تلای نــهشی
ګو مانکله دیقین پــه اندازه در (۳)

وجاهل وتـــه دجهـــل حصارنیسی
او عالـــمیی دخپل علم په پرده در (٤)

---

۱ـ دهمیش اودکتابخانی په‌نسخوکی (هسی تګ په‌عام وخاص به‌وکړای نه‌شی) .

۲ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخود(تښته) په‌ځ ی (طنطنه) دی .

۳ـ دهمیش په نسخه کی دامصرع‌داسی‌ده(چه‌ګومان یی‌په‌یقین باندی اره‌در)

٤ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو د(پرده) په‌ځای (اندازه) دی .

اشنایی به دی تر هسی ځایه‌وروړی
چه پــه‌لوی باور یی محوه داهمه در(۱)
که میر زا کادمسکین‌په نامه (۲) فخر
جمعیت یی دکثرت‌په تفر قه در
ډیر په بال او پر غرور ویېمدمیور (۳)
چه داهسی په شیوه گرزی په دور
دا عجب په کر شمـــه ږ دی‌قدمونه
ښایسته‌وزر یی زیب که طور طـــور
په‌ډیر حسن یی نــظر خپسروشو
چه‌د ځان پـــه دود څوك نه که متصور
دعنقا طلـــب یی نــه و کـــړ دوخته
دنو سك‌په نغـو ته پاته شو پر تهور(٤)
لور په لور پخپله مینه پسی‌گرزی
دکعبی‌په‌طلب چیـــری درو می گـــور
دحباب په دود یی باد په‌خولی(۵) کښمیووت
دښا یست‌تکبر ونیوه پـــه خــــــو ر(٦)
هو سناکوسوروغږ پری‌باندی‌وکړ
چه لــه‌پخښو(۷) ځایه پاخاوه با لفور

---

۱ـ دهمیش اوکتابخانی په نسخوکی‌دابیت‌داسی دی. (آشنایـــی دیـــکتاتر ځایــه‌وروړه چه‌په لوی باوریی محوه دا دغه در)

۲ـ دهمیش اوکتابخانی (دنامـــه)په ځـــای‌په‌نوروکی (صفت) دی .

۳ـ دهمیش اودکتابخانی‌له نسخو دامصرع‌نقل‌شوه په قلمی اودکندهار په نسخوکی‌په‌دی ډول ده:

(ډیر په‌باد اوپر غرور وینم دابور)

٤ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو د(تهور)په‌ځای په قلمی نسخوکی (مخ‌تور) دی .

٥ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی دخولی‌په‌ځای (باطن) او د کتابخانی په نسخه‌کـــی (خلی)دی .

٦ـ دکتابخانی په‌نسخه کی (دور)دی.

۷ـ دکندهار نسخه : (چه‌له خپله ...).

نازك تن یی پرو زرو با ندیدروند شو
جیره باز پری باندی کنبیناست لکه‌بور
ترو اختیار یی دهوښیارو پەلاس کښیووت
دده غوښی یی په اور کړی وزر چـــور
دنا دان سزا تر هسی حـال بتوه
چه پـه‌زړه کښی نه څراغ لری‌نه غور (۱)
دمجاز دا هـل څـه لـه حقیقتـــه
دمیرزا کـلام پښتو معنا یی اور (۲)
په تاریخ دزر څلو یښت وایم‌داخبر (۳)
چه لیده‌شوه پـر د کن ګجرات جبر (٤)
پخپل عمر چه خبر په نبك‌وبدشوم
په دا دود می قتل نه لید پـه‌ډبر
مسلمان کافران ګډ سره پراته‌دی
چه یی‌ستر نه په اور شی نه په قبر
یو عجب دوینو تړی زما نــه‌ده
درحمت‌په او ښکـو نــه وژړل ا بــر
په ضرور ضرور پر یشا نشوله وطنه
دخینو ځینــو شو تلــف تمام‌ټبر
حیرانان زهیران پاته پخپـل‌ځای شول
ظا لمـانو ر تـــه پـــه قهر لکه ببر (۵)

---

۱ـ دهمیش اوکتابخانی دنسخو د(غـور)په‌ځای په‌نوروکی (اور)دی .

۲ـ دهمیش اوکتابخانی (داور)په ځای په‌نورو نسخوکی (غور) دی .

۳ـ داشعر دهمیش په نسخه کی نشته‌اوکتابخانی دنسخی دا (وایم) په ځای په نورو کی (ده) دی .

٤ـ په‌قلمی نسخه کـی د(جبر)په ځـای (ضرر) دی اودکندهار محشی ورته ظـلم‌او جبر معنا لیکلی ده .

٥ـ لرغونی نسخه (حیران فقیران،، ورته‌قهریږی لکه ببر،

ددی دور زور ورهسی د لیر شو
چه‌د ظلم نــوك وهی لکه هــژ بــر
په یقین کنبی تردا زیاته‌فایده نشته
چه‌دخدای په کړه را ضی په بــلا صبر
ای میرزا له هسی قومه پناه غــواړه
چه په ژبه مسلمان خوی یی دگبــر
څوك بی چا وچا ته څه‌گوری مخلص
چه پــه‌ما و مــا ته نه‌گوری مخلص(۱)
پر بی مثله آیینه‌به دی نظــر شی
که‌دزړه اهل په زړه گوری مخلص
اود دوو کونو غلاف به ځنی‌واخلی
تروبه مخ پــه مخ کنبی وگو ری مخلص
تل ښادی به‌یی په‌ښادی باندی‌تازه شی (۲)
مدام ښه‌دیدن که ښه گو ری مخلــص
دیقین په نور به هسی دیده‌ور شی
چه ظاهرعالــم لیده گوری مخلص (۳)
پر بنده دځښتن هسی‌عنایت‌دی
چه دده‌دیدن په ده گو ری مخلــص
بیر نگی دبیر نگــی په ننداره‌کــا
و اوبوته‌په او بــه گوری مخلــص
دځره رحمت باران با نــدی‌اوریږی
چه‌یی‌درست عقل‌اوره(٤)گوری مخلص

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی (ته‌به چا وچاتــه خه‌گوری مخلصه) اودویمه مصرع دهمیش‌او کتابخانی له نسخو واخیستل شوه په‌نوروکی (چه یی یار ویارته ...)

۲ـ دهمیش په نسخه‌کی (تل ښادی بــه پرښادی باندی زیاتیږی)

۳ـ دهمیش په نسخه‌کی د (نور) په‌ځای (دید) اوپه دویمه مصرع‌کی (لیده گوری) په ځای (نه‌گوری) دی او په لرغونی اودکتابخانی په‌نسخه‌کی د (لیده گوری) په‌ځای (لیمه‌گوری) دی .

٤ـ دهمیش په‌نسخه‌کي د (اوره) په ځای (اوده) دی ،

شیرین عمر دم په دم درڅخه‌درومی
څو درود(۱) داوبه تله ګوری مخلص
له اوله دی را تله له کو مـــه‌ځایه
ځان‌دکوم مکان مرغه ګوری مخلص(۲)
له میرزا سره به پته و فایی کـــا
داچه‌ځان دکړونی‌کړه‌ګوری‌مخلص(۳)
تل به نه وی ددنیا فا نـــــی‌رباط
سراسردغه امیـــد وینـــم افـــراط
کم دلیل له خوا زه عمره خبرنه دی
دانایان‌پـــه هـر نفس کـا احتیاط
ابراهیم‌غوندی نبی(٤) ترجهان تیر شو
لا بهتر بیغمبـــر ان لکـــه اسبا ط
که په دا ژو ندون خلاصی‌له‌غمه غواړی
له ناهلـــه سره مکـــړه اختلاط
دروند وری دامانت در با ندی‌ایښی
اوس بی‌وخته تلوار مه‌کړه پر اسقا ط
عبادت چه له عادت څخه سـرنه شی (۵)
رنځوری‌دبد خویو نـــو دی اخـــلاط
سر په سر جامه هله وبلـــه‌ورشی
چـــه‌زیاتی کمی یی وسکښی خیاط

---

۱ـ دلرغونی اودهمیش دنسخی سره سم‌ولیکل شو په نورو نسخوکی د(رود) په ځای (اور)دی.

۲ـ دهمیش نسخه دابیت نه‌لري.

۳ـ دهمیش او دکتابخانـــی په نسخوکـــی(دمرزا په‌خیر به‌قطع وفای‌کړی ـبیاچه ځـان دکړونی که‌ګوری مخلص) په لرغونی نسخه‌کی د(به‌پته) په ځای (په‌قتی) دی.

٤ـ دهمیش اودکتابخانی‌په نسخوکی‌د«نبی» په‌ځای (ولی) دی .

۵ـ دکندهار اوپه قلمي نسخه‌کی (عبادت څه له‌عادته سره نه‌شي ـ رنځوری ده دبدخویو اختلاط ).

وهر حرف ته یی پیچ ور ګه‌لون لون
او الف یی پسو سم وکیبنې خطا ط (۱)

چه نه پیچ لری نه جزم نه‌بناخونه
بیا خالص یوا زی یو دی بی نقا ط

یو بی نیازه له تعلقه منزه دی
کل اشیا نخبنی دده دی پر بسا ط

ای میر زا داخرت زیر مه‌دلی کړه
دا دلی (۲) کرده دی تله دی پر صرا ط

الف یو یوازی سم دی بی نقط
دګو مان خو یو نه کل ځنی سقط

چه اول وهسی دی هسی به‌تل وی
دده خوی بد لیده نه لری فقط

له هر چا سره محیط دی په‌هر څه کبنی
دی عجب بی مثل ورنګه بی حد شط

که لاهوت می بنا یسته په‌سادګی دی
بیا نا سوت پری باندی رنګ شو مخطط

مشر کان چه خبر نه شو له‌مقصوده
دکثرت په‌ډیر حساب کبنی دی غلط

دقلم نامه هاله پر جهان وشوه
چه یی سر شو داستاد له لاسه قط

دا شهید چه په پریکړی سرجار وزی
پر جهان نخبنه دده دو ینو خط

وخت په وخت یی نوی نوی سر پریکیږی
بیا بیا نوی نوی سر ږدی پر مقط

چه مو توا قبل ان‌تمو توا پری پوهیږی
دا چه پسی له مر ګه څه وایی بربط

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی (وحرفونو یی پیچ ورګه لون‌لون ـ اوالف یی په‌څه سم‌وکیبنې خطاط .) او دګندهار نسخه: (په‌قد سم وکیبنې...)

۲ـ دهمیش په‌نسخه کی د(دادلی) په‌ځای(داویل) دی .

هر دانا چه‌په داهسې خــــال‌گويا شي

ترونا پوه عالم يې بــولـــې محبــط

اى ميرزا په حقيقت دحق ثنا کړه

ښه‌پښتو وينا عجب په دا نمـــط

دا خطيب چه کر شمه کاندي‌په وعظ

دي په‌کوم هنر شيوه کا ندي په‌وعظ

چه پخپله (۱) خبر وايــې عمل نه‌کـــا

چيرې‌ځان به مسخره کاندي په وعظ

چه يې لارليدلې نه وي رهبرې‌کـــا

رښا ورځ‌به توره شپه کا ندي په وعظ

نصيحت به يې هاله په نــوروخوږ شي

که پخپل‌صو رت کرده کا ندي په وعظ

چه‌ويل عمل‌يې دواړه برا بروي

ترو به‌توره شپه ډيوه کا ندي په‌وعظ

عالمان به‌په دغه رښا روز گـــار کـــا

جاهلان‌به سره لمبه کا ندي په وعظ

کاملان دوروستي ورځې زيرمه‌کاندي

بل به‌نيك وبد ښکاره کاندي په وعظ (۲)

پر هادي دخاوند هسې عنايت‌دي

چه دلې(۳) خر گند هغه کاندي په وعـظ

عار فان يې دباطن په سترگو‌گورې

دين دنياچه ښا يسته کا ندي په وعظ

دگو مان له حجا بونو به يـــې‌خلاص کا

پر لطيف‌زړه چه جلوه کا ندي په وعــظ

---

۱ـ همېش: د (پخپله خبر) په ځاى (په‌خوښه خبره) دي .

۲ـ لرغوني اودهمېش نسخې (کاملان دي‌دوروستي ورځې څمکه ـ نيك‌و بدبه برهــنه کاندي په وعظ )

۳ـ همېش داشعر تکرار اخيستي په يوه‌ځاى د (دلې) په‌ځاى (ولې) او په بل ځاى کې عمل‌دي .

ای میرزا گه څان ذپیر پهامر نیست کړی
ذغه نیست به څان همه کا ندی په وعظ
هر طا لب به له کامله مو می‌حظ
په توبه‌به له باطله مومی حظ
دغفلت له اند ینبنو کـــه‌فراغت شی
دم پهدم بـه تل ترتله مومی حـظ
اود ژبی یاد به وروولی تـــرنفسه
چه په‌پټ ذکر له دله مومی خظ
چه دا هسی شغل بیا مو می‌له‌یاره
ترو پسو به اوس له بله‌مومی‌حظ
پاك خلوت د ذاکرانو به وطن‌کـــا
په عـزت‌به له غافلـه مـو مـی حـظ
هر یو زړه مثال پټی، محبت‌تخم
دانا یان‌په داکـر لـه مـو مـی حـظ
چه‌د ذکر محبت یی پـــه زړه‌پریملی (۱)
اشنایان‌به‌یو پـه سله مـو مـی حـظ
په حیات چه له حیاته خبر نه‌شی
کم دلیل‌عالم بـه کـله مـومـی حـظ
هر یو رنگ چه دبیر نگ په‌نظر گوری
پر گلزاربه لـه بلبلـه مـو مـی حـظ
چه‌دی تن له فانی خویه څان‌فانی کا
وا صلان‌به له واصله مـو مـی حـظ
روح به‌دی میر زا دهر صورت‌دی(۲)
څان په څان کنبی به پخپله مومی حـظ

---

۱ـ دهمیش او دکتابخانــی دنسخود(پـریملی) په ځای په نوروکی (پریوځی) دی .

۲ـ دهمیش :ـ (روح مرزا دهرصورت‌دی)اودکتابخانی په نسخه کی (به روح به‌دمرزا دهر صورت وی ) اودگندهار اوپه قلمی‌نسخه کی (اوداروح به‌یی میرزا دکل‌بدن شی).

رسیده عارف تمام لــــر ئی وقوف
ځکه‌چارکا ندی په امر ذمعـــــر وف

حقیقت دکل اشیاو ده ،څرگندشی (۱)
دهر چاخوی یی وطن مو نده ما لوف

دعا لم قسمت ویشلی په ازل‌دی (۲)
اوس‌هر څوك پخپله بخره دی مصروف

دهر چا تر فهمه خپل وطــــن کشمیر دی
ځان په‌ځان پخپل بخره‌دی مشغــو ف(۳)

دیوه له یگا نگی یی ذوق پیداشو
ترو کثرت‌شو له وحدت سره معطو ف(٤)

له لاهو ته یی ناسوت په نظر کښیووت
له یوه‌حرفه پیداشول ډیر حرو ف (۵)

محبت په معرفت باندی شیداشو
لــه‌یوه الفه وینم خــــو الــوف (٦)

دصفات استو گه چیری شی‌بی ذاته
یو الف‌دی په الوفو کښی مغلــــو ف (۷)

منا فق به له نفا قه وتی نــه‌شی
دنا قصــ‌ایمان په دوه لوری مو قو ف

دنا پوه دعمر هیڅ حـــلا و ت نشته
دباور افتا ب‌یی کښیو وت پـــــه کسو ف

---

۱- دهمیش په نسخه‌کی‌د (وده څرگندشی) په‌ځای (ورڅرگندیږی) دی .

۲- همیش د (ازل) په‌ځای (میثاق) لیکلی دی .

۳- ارغونی نسخه د (مشغوف) په ځــای (مکشوف) دی .

٤- دهمیش په نسخه‌کی (تروکثرت شوله وحدته په‌معطوف) دی .

۵- دهمیش په نسخه‌کی په لومړی مصرع کی د(یی) په‌ځای (می) اوبله مصرع داسی‌ده (دله یوه حرفه جداشول ډیرحروف).

٦- دهمیش په‌نسخه‌کی (له‌یوه الفه وینــم څوالوف).

۷- دهمیش په‌نسخه‌کی (یوالف دی‌په‌الفوکی مغلوف).

لــه دی هسی رڼا ورځی بــی نصیب شو
بیا دشپی سپو ږمی چه لاندی که خسوف
که صورت یی دسړی ،خوی دحیوان دی
چه د علم عمل (۱) نــه دی پــر مکشو ف
مسلما ن په اصل یو، په قدر گوښی
ځینــی ځینی بخیلان شول ، ځوك عطو ف
مؤ منان له مؤ منا نو یگا نــه دی
عارفان په خلق الله با نـــدی رؤ ف
ای میرزا دمؤ منانو ثنا گوی شه
مؤمنان دی په خدایی صفت موصوف (۲)
پر بنده باندی چه رحم دامین کړم
په دارحم یی لایق دخپل یقین کـــړم
دبدن په تاریکی کښی نا بینادی
د ارواح څیوه یی بله پر با لین کـــړم
دگو مان اوره بـــه وسوزی یکباره
پر اشنا باندی چه هسی آسمان شین کړم (۳)
لکه نمر دمعر فت پری با ندی وخوت
تر و په رنگ دبیر نگی به یی رنگین کـــړم
کل مجاز به یی بدل په حقیقت شی
هر چه زړه یی دغفلت له زنگه سپین کړم
دا تمام وجود یی کښی دباورشی
بی جهت به خپل جمال ورته رنگین (٤) کړم
دا سړی می بهتر کړي تـــر عالم دی
دکم دیدو خپل گو مان به تهتر ین کړم
دو بینان وتحت الثرا ته تیاری کا
دیکتـــاؤ پای تخت به علیین کـــړم

---

۱ـ دکتابخانی دنسخی د(علم عمل) په ځای دهمیش په نسخه کی (دبیرغ توغ) اوپه نورو کی د(علم علم) دی .

۲ـ دهمیش په نسخه کی (که مرزادمسکینانو ثناگوی شو ـ مسکینان دی)...،

۳ـ دهمیش په نسخه کی د(اوره به) په ځای(اوری دی) اود (هسی) په ځای (گوښی)دي.

٤ـ دهمیش په نسخه کي د(رنگین) په ځای(کمین) دی .

چه بی ما په دواړو کو نــوغرض نه‌کا
هغه‌کس بــه پــه قطار دمسا کین کړم
لکه یار زما په مینه ملا مــت‌شو
داغیار کفر به واړه دده دین کـــــړم
دا نژدی لیری می څوك پری اینبی نه‌دی
دافقیر میر زابه نقش پر جبیـــن کـــړم
زه چه ډیره ډیره مینه پـــــه‌گلزار کړم
په‌هر رنگ کبنی ننداره ودخپل یار کړم
که طالب په اند یبنو کبنی‌تفکر دی
زه به یی‌اوس دمحبت په غږ بیدارکړم
یو زمان به فراغت پری باندی‌نه‌وی
که‌زه خان‌ورته پخپل دستورسینگار کړم(۱)
په هر لور به لاعلاج را پسی‌گرزی
چه‌د خوږ‌زړگو تی مینه یی مهار کـــړم
که مجاز دحقیقت له مخـــــه‌واخلم
دا اورپښتی‌به تر بلی ډیوی جـار کـــړم
او باطن به په ظاهر کبنی ورڅرگند شی
چه صورت‌یی خا نقاه زړه یی بازار کړم
په هر لور چه دمعنا په‌سترگو‌گوری
ور ،څر گند‌به په هر ،څه کی خپل دیدارکړم
که نور ،نور عالم بندی دی‌په‌خواری
خپل‌اشنا به‌و دیدن وته وز گار کــــړم
چه داهسی حقیقی سفر یـــی‌وکړ
مخلصان‌به‌په لیده باندی قرار کـــــړم
هر عارف چه دصورت له خویه‌ووزی
تروبه‌یی‌زه دمسکینا نو په قطار کـــړم

---

۱ـ لرغونی نسخه : که‌زه خان پــه خپل‌دستور ورته اشکار کړم .

دمیر زا خبری ږمنځی دمعنادی (۱)
چه غونچه ملوکی زلفی پری تار تار کړم

زه چه ډیره مینه په چمن کړم
په داباغ کښی ننداره دیا سمن کړم

چه زما دخاطر سود وځنی طمع
دو باره یی دمحبوب په مخ مین کړم

رنگیا خپسر یی بی رنگه بی‌نښان که (۲)
زه یی ځکه په کلیات کښی بی وطن کړم

مسته شاه ده یکتنها په ډیر عالم کښی
زه یی ولی په خلوت کښی انجمن کړم

له نژدی یی جدا یی سهلا ی نشم
ترو به لیری ځنی ځښکله مسکن کړم

کم دلیل چه له قر بته زهیر یږی
په دا وصل به یی لازړگی غمجن کړم

او زما چه دیقین قوت په لاس شو
تار په تار به زه لښکرو نه دمجن کړم (۳)

دغه دیو که د دښنه په هوا پاځی
ور خبر به باوره تهمتن (٤) کړم

او خناس چه د یقین له لاسه و مری
دمشرک دا بد گومان به یی کفن کړم

چه می هسی رنگ نژدی فتحه روزی شوه
ښاد نامه (٥) به په یسار او په یمن کړم

---

۱ـ دلرغونی، دهمیش اود کتا بخانی دنسخو دامصرع په نوروکی پدی ډول ده (دمیرزا خبری ټول دمعنا ږمنځ ده).

۲ـ دهمیش اودکتابخانی دامصرع په نوروکی (رنگیا هرچیری بی رنگه بی‌نښان شو) دکند هار په نسخه کی (رنگیا) ته (درنگ ورکونکی) معنا لیکلی ده .

۳ـ دکندهار اوقلمی نسخه د(مجن) په ځای (انس وجن) دی.

٤ـ (تهمتن) ته یی دکندهار په نسخه کی د(قوی پهلوان) معنی لیکلی ده په لرغونی نسخه کی د(تهمتن) په ځای (ستهتن) دی.

٥ـ لرغونی نسخه (ښادیانه) دی.

او میرزا چه په دا حال راسره پوه شو
بی گومانه‌دی‌ی ځان دی ،ځان به‌یی تن‌کړم
که یو ځل دزړه له حا لــــه‌وو‌ییبرم
په رښتیابه په عالم کښی نه ځا ییـــرم
که‌ی وای دحقیقت ژو ندو ئلیدلی (۱)
یو زمان‌به بی دید نه نــه پا ییــږ م
دزړه حال می واشناو تـــــه‌څرګند دی
او په‌خلکو ملامت یم نه قبلیــــرم
زه که هر څو ډیره ډیـــره‌هتیاتی کړم
دخود بیـــن‌له ملامته نه خـــلا صیـــږ م
ملا مت دخلایق په خدای قبول‌دی
په‌دا خپله‌بخره خو ښ یم هو سیــــرم
دعارف دیدن راحت دی که‌یی‌وینی
دغا فل‌صحبت تیاره په در بلیــــږ م
اشنا یی عجب بهار په مخــه‌زاغی
جدا یی‌لکه خزان ځنی تر هیـــــرم
لکه گل زما او وه ورځی میلمه‌دی (۲)
زه بلبل‌باندی ناری کړم تر جار یږم
دلاله دزړ گی داغ چه په زړه‌زاوړم
زه‌اووریځ‌دنو بهار بانـــدی وریــږ م (۳)
کم دلیل دخپل گو مان پـــــه‌ساړه یخ دی
زه هردم‌له‌خپل وجـود ه روا نیـږ م
په وحدت کښی له وجـــوده یگانه یم
په کثر ت کښی دمیر زا په خوله وئیږ م

---

۱ــ دهمیش نسخه‌یی نه لری اولــوم‌ړی‌مصرع په لرغونی او دکتابخانی په نسخوکی (زما دحقیقت ژوندون لیده‌دی) دی .

۲ــ دهمیش په نسخه‌کی (هوګل زمایوځو ورځو میلمه دی) دی .

۳ــ دهمیش په نسخه‌کی (دی لاله دمینی داغ په‌زړگی داوړ ـ زه‌وریځ دنو بهار یم پری وریږم) اود کـتابخانی دنسخی لوم‌ړی‌مصرع (دی‌لاله په‌زړگی داغ پرپانی راوړ)دی.

زه به‌څه‌وا یم‌چه څـــــه‌یم
نیست‌وهست واړه په ده یــــــم

هر چه نیست شی لــــــه‌هستی
د نیستی معنا یـــی ز ه یـــــم

گه ذره د لمر په مـــــخ کښی
گه‌غو ټـــی (۱) پـــر او بـــه یـــم

دو صا ل پـــــه هـــــواور زم
ددی‌لامکـــــا ن مر غـــه یـــم

ځا ن د یخ په نا مـــــــه‌بولم
جمع‌شـــــوی په ساړ ه یـــم

یو څلور عنـصر می وا غـــو ست
داسمـــان پـــر مـخ اوره یـــم

لــــه و حــد ته په کــثـر ت‌شو م
هغه‌نشته چـــــه زه نـــــه یم

حیاتی می لـــــــــه‌حیاتو
او گویا په هره خــــــو له یم

زه شنوا په کل غـــــــو ږونو
بینا یـی دهـر لیمـــه یـــم

توا نا یی می په هر چـــــا کښی
دا نایـــــی د هر یو ه یـــــم

ارا دت می د ی لــــــه‌واړه
بیا را ضی په دا خپل کـــــړه یم

له بدا نو می بـــــد ی‌ده
له‌نیکا نو ســــــره ښه یـــم

د نیک بخت په بخـــــــر ه‌شهد
دکم بخت په ځان لاشــــــه یم

---

۱ـ دکندهار اوقلمی نسخه: «گه کبی...»

له هر چا یـــم په هر څه کښی
خیری نــه لــر م نـــــازه یم (۱)

د میرزا په خو لـــــــــه وییږ م
د رو ښان بی مثله زړ ه یـــم (۲)

زه هرخو چه دعا دت په‌رسم تللم
د تحقیــق ترفهم نه ورسیدلــم (۳)
یومی سخـــت پـــر نالیــدلی لا رسفر که
اما نـــتمـــی سرباری (٤) وپه ځان ظلم
رهنمایی له‌یوه لوری را پیدا شو
دی دلسوز په‌ناپو هی و پو هو لم

د غه دروند وری یی درست‌را څخه وا خست
زه‌یی هم وزیر مه کارته وسپا ر لـم
دګو مان له علتونه یی فار غ کړم
دیقین پــــه پـــر هیز و نو یی ساتلم
دمعنا قو ت می هسی مدد بیــامو نــد
په‌یوه نفس‌کی قا ف تر قا فه څغلم

نا مه یی د صفی راباـنـد ی‌کښیښښوه
لکه‌بخت په بختور یی وو یشلـــــم

چه دا هسی زورور ا ختیارمی‌خپل شو
همیشه‌پـر پا کیـــز ه ملکـــو نو ملم

دا وینا د حقیقت په ژبـــه‌وایم
اوس یی‌زه‌پر خلکو ږدم هم‌یی اخلــم (٥)

---

۱ـ دکندهار اوقلمـی نسخه: (خـزان نـه‌لرم تازه یم).
۲ـ دکندهار اوقلمی نسخه (یوبی رنـګ بی‌مثله زه‌یم)
۳ـ لرغونـی نسخه (دتحقیــق وفهـم‌نـه پوهیدلم)
٤ـ دهمیش په نسخه کی د(سرباری)پـه ځای (په سر واخیست) اوپـه لرغونی کـی (سربازی) دی .
٥ـ لرغونی نسخه (اوس خوبی‌یر...)

ئور څه ځای مې‌دویلو پاتــه‌نه‌شو
تر دازیات گوا هی کو مه‌چی‌بی‌نه لم
ومیرزا وته‌مې درست له حاله وو ی
چه په‌کوم پټی‌زرغون‌شوم،چاکرلم(۱)

هر بنده چه‌د رحمت په نامــه‌یاد کړم
په دازحم یی بهتر تر کل عباد کړم
چه هردم به‌یی دولت پــــه فزونی وی
چه سعیدیی له اوله مادر زاد کـــړم
په ازل چه مې کرم پری باندی‌وکه
ترابده‌وفا یی پخپــل میعـــاد کړم
زما یاد به یی څراغ دمعر فت‌شی
اویقین‌به یی اسا س لکه عماد کـړم
غا فلان له هسی حا له خبـر نه دی
چه‌په‌زړه دذاکرانو اعتـــقاد کـــړ م
داندوه نخښبــه به ځـــای پـر ی باندی نه کا
هغه زړه‌چه په داخپله خوښی ښاد کړم
چه هریو به په کرده سزا بیاموی (۲)
له‌نیکانوسره ښه پر خلکو داد کـــړم
چه اختیار مې تن په تن باندی‌ویشلی
دهر چا پخپلـــه مینـــه‌استعداد کړم
عرش الله دمؤ مـــن زړه پـــه‌دا معنادی
چه خپل‌مهر ومحبت باندی بنیاد کړم
هر مسکین چه دصورت تـــرخوښی تیر شی
دا زمارضا به واړه دده مراد کـــړم
جدا یی پیو ند زما په نظـــر نشته
ترو لـــه‌چا سره آشتی له‌چا جهاد کړ م

---

۱ـ دابیت په‌لرغونی نسخه‌کی: دمیرزاپه‌ترک وجود هسی گواهلی.
چه له‌دی هستیه‌نیست شم‌هست‌به‌شم

۲ـ دهمیش په نسخه کی (هریو بــدیــی‌دگړو سزا بیاموی .)

چه طالب تر سکو ننه پوری راغی
دشاگردپه خوله خبره داستا د کـــړه
که‌درسم حجاب لیری کړم له‌میانه
دمیرزا په‌دودبه خوبنده آزادکړم (۱)

دا کلام دحقیقت په ژبـــــه‌وایم
لکه ذات‌په هر صفات کنبی خپسرستایم

زه کنبی دنیا تـــات ،وا ړه‌ساتمه
هم ژغروی(۲) دزنده سر وواړه پیا یـــم
یکتنها لکه الف یمه بـــــی‌ټکیه (۳)
په یوه‌وجود محیط دکل اشیا یـــم
له هر چا سره په علم په‌هستی‌کنبی
یو په یـــوور رسید لی سر تر پا یـــم

مدام یو له یوه وجو ده‌تماشا کړم
تل‌تر تله بی شر یکه بی همتا یـم
که زما ویکا نگی وته نظـــر کړی
په وحدت‌کنبی دویی نشته یکتنها یـم
په رنبتنی دین به نن وو زی فوځونه (٤)
په دغه‌معنا اقرار پـــه اذا جـــا یـم

دکثرت په عددو نو می ځان‌پټ کړ
اوس گـهی گـهی دغه شم گـهی دایم
په یقین یقین نژ دی په گومان‌لیری (٥)
په دیدن‌له دواړو کونو مـــا ورا یـــم

له نیکا نو سره بنه بد مـــی‌له بدو
وهر چاو تـــــه د خپـــل عمل و فا یـــم

---

۱ـ په‌لرغونی نسخه‌کی د (بنده) پـــه‌ځای (بندی) دی .

۲ـ د(ژغروی) په ځای په نورو نسخوکی (پرکی) دی .

۳ـ د(ټکیه)په ځای پـــه نوروکی (نقطه) دی.

٤ـ په‌قلمی نسخه‌کی (په رښتینی‌دی‌به‌نن‌فوجونه ووځی)

٥ـ دهمیش په‌نسخه‌کی (پـــه‌یقین نـــژدی‌نژدی په‌گومان لری)

په دا بزرگ نامه مي څــوك بللي نه شي
زه مدام له هره اسمه مسما يـــــــم

حيا تي مي تل تر تله برقرارده
په توحيدكښې فنا شوی له فنـــا يـم

دا ثبات قدم مي پاس په نفي كښيښود
اود ذات زوال مي نشته تـــل بقا يـم

وعارف ته څره مخ يم په هر لوري
ددو بين پرمخ گو مان، زه‌يي تر شايـم

لكه كب دی له اوبو ،او به‌له كبـه
دغـــــه‌هسې رسيد لې و هر چا (۱) يـم

نا تمام مشــرك له ځا نه پــه عذاب دی
دانسان كامل دزړه په مد عــــا يــــم

زما ذات په دواړو كونو نـــه ځاييږي
په قفس كښې وييدلي دمير زا يـــم

صفت به دمولا له بنه اخلاق كړم (۲)
چه يي وخپل ځان وته مشتاق كــړم

مدام مي دخاطر اند يښنـــــه‌داوه
چه‌استوگه يي په وصل دعشا ق كــــړم

نا گاه له غيبه هسې اشا رت شو
چه‌په‌عكس به دا هسې اتفاق كــړم

په بار بار مي په ديدن ديــارهوس كړ
مبتلا يي دهجران په ډير فراق كـــــړم

گردش دفلك اوس واژ گون شو (۳)
شكايت به له قسمته دميثاق كـــړم

---

۱ـ لرغوني نسخه : (هرچا) .

۲ـ داغزل د كتابخانې له بشپړې نسخې څخه واخستل شو .

۳ـ (واچگون) ليكل شوی دی.

دفراق بیان به واړه پوره نه‌شی
پی تمام‌که دجهان وا ړه اوراق کـړم

میر زا دی په دیدن‌هسی هوس کا
چه خاطر به یی‌دیارغم اوتاق کړم

ستا دړیری مینی زه بـه خـه تدبیر کړم
تر دا خـوبه په دا هسی غـم شبگیر کړم

نن می زړه له نصیحته‌مستغنی‌شو
مگر بندیی ستا دزلفو په ځنځیر کړم

دا ستا زلفو می داجمـع زړه‌پریشان کړ
خه‌مجال‌دی چه یی یوپه یو تقریر کړم

دجدایی غم‌چه پر ما با نـدی‌تیریږی
په یوه‌نامه محال چه یی‌تحریر کړم(۱)

هر زمان چه می پخپل دیـدن‌رضا شی
په نظر به‌ستا خو با جمال تصو یرکړم

که می زده وای چه په دابـه‌وصال مومم
دین دنیابه بانډی وبازم تو پیرکړم(۲)

زه یی چه له میثاقه عا شـق‌راغلم
اوس به خه‌لره زه مکر او تز ویـــر کـړم

ددی عشق غمونه واړه پر ماتیر شوه
تروبه‌اوس‌دسوز له سازه خه گزیر کړم

له او له ملامت دمیـر زا بخـــــره
دازل قسمت به څرنگه تغیر کـــړم

---

۱ـ دهمیش‌په‌نسخه‌کی (دادجدایی‌غم‌چه‌پرما تیرشو ـ بیوفا نامه محال دی‌خه تحریرکړم) دکندهار په‌نسخه کی دبیت پـه‌سرکښی (دا) هم شته.

۲ـ دهمیش له‌نسخی نقل‌شو په نوروکـی (که‌می زده‌وای چه‌به‌یی بیاپه وصال مومم) (بیا به‌دین ودنیا بازم توفیر کړم)

له اوله به کلام کړم | زه به یاد دمولا نام کړم
او فرقان می دی منلی | زه به خپل پیشوا امام کړم
امتی دپیغمبر یم | او خدمت دپیر تمام کړم
پر دیسی یم په جهان کښی | نن به سیل پر دا گرام کړم
نو شیروان تر جهان تیرشو | ځو خبری دبهرام کړم
دجمشید حکمت فانی شو | دپیر تعریف به یی له جام کړم
دسکندر آیینه څه شوه | چه دپیر پټ په کښی اعلام کړم
ددا را له حاله وایم | که یادکرددسیتا رام(۱) کړم
چه سلیمان له تخته پریووت | څه امید به په ایام کړم
داموا تو حال می را وړ | پر حیا تو به پیغام کړم
دنیا تګه ده طرا ره | محبت به یی حرام کړم
دا زړه ده خیال یی مه کړه | هتیاتی به یی له دام کړم
عجب گنج می قناعت دی | پری پر یشان خاطر آرام کړم
له تیرا یمه را غلی | نن صفت پر کړیوام(۲) کړم

خپل اختیار می دی پخپله
میرزا څه لره بدنام کړم

زه څرگند دمحبت په بنه بنیاد یم
له نیستی هم په دا هستی آباد یم
په ازل می داقرار په ژبه ووی
تر ابده وفادار په خپل میعاد یم
اما نن چه اسمان څمکی وړای نه شو
اوس یی زه په دا عاجز صورت عماد یم
په اختیار می هسی ظلم په ځان وکړ
له دی قصده دجهول په نامه یاد یم
که دجهل بار می لری شی له سره
بی گومانه دصفی آدم او لاد یم

---

۱- دکندهار نسخی محشی ورته (حاکم شهرهند) لیکلی دی .

۲- دهمیش په نسخه کی (گریوام) اوپه قلمی اودکندهار په نسخوکی (وگرعام) دلته دلرغونی او دکتابخانی دنسخی سره سم ولیکل شو .

اما نت که په امان وتښتـــن ورکړم
ترو امین له نیکه نیته نیك نهـاد یـم

تل تو به مـی دګناه (۱) په مخ نیو لی
اوس په صلح جار وتلی له فساد یـم

په اختیار می له کل نهیـــولاس وکښلی
په اختیار دواړو امرو انقیاد یــــــم

ګه طا لــب ګهی سالك ګهـی ذاکر شم
ګه عارف په معر فت با ندی اشهاد یم

ګهی قطب قراری کړم په ځای اوسم
ګهی غوث ګهی ابدال ګهی او تاد یـــم

بی ګومانه دګو مان اهل بندی شو
په باور کښی له جمله چارو کشادیم (۲)

په خپل قصد به له دی قیده وتای نه شم
که پرمادی نظروش می ان یکـــا دیـم

دا شرین آشنا می کسی پـه لیمه کښی
دا په کسی کښی لیده زه یی مداد یـــم

په ظاهر صورت دیار له یاری ګوښی
په باطن له یاره یو په اعتقاد یــــم

کل عالم می په نظر کښی واړه وینم
اوهر چیر ی داشنا په دیدن ښاد یــــم

چه تښتن می دخد مت حلقــه په غوږ کړه
په ښادی کښی له جمله غمو ازاد یـــم

په بندګی کښی عنایت رابا ندی وشو
له دی مهره دمیرزا په نا مه یـاد یم

چه دیار په نامه مینه دم په دم کړم
دغه یاد به یی دخوږ خاطر مرهم کـــړم

---

۱ـ دکتابخانی اود همیش په نسخوکی د (ګناه) په ځای (ګومان) دی .

۲ـ دهمیش په نسخه کـی (په باور کی دجمله وکار کشادیم.)

دجهان وهو سونو ته می شاشوه
مشغولا په هر زمان دیار په غم کړم
په سپین مخ به سپینی اوښی ځغلومه
پر دامخ به دحباب صورت رقم کړم
ښه پتنګ چه دی په بله لمبه پریووت
اوس دسوی زیاتی څه دی چه یی کم کړم
دا حباب چه د دریاب په مخ کښی مات شو
رنګ ونوم یی له دریا به سره سم کړم(۱)
عام وخاص په هسی حال راخبر نه دی
چه په کومه تخته کښل په کوم قلم کړم(۲)
په نیستی کښی له هستی تعجب دی
چه داڅا ځکی له محیطه سره ضم کړم
دکثرت په عددونه قطرات دی
چه فانی خوی یی فانی شی نوم یی یم کړم
دګو مان له بیګا نګی به فارغ شی
هر مخلص چه په داهسی حال محرم کړم
په یکتا نظر به واړه عالم وینی
کل اشیا به ورته جام لکه دجم کړم
په وروستی ورځ دقام پوښتنه نشته
آخرین به تر قدیمه مقدم کړم
په یقین دیوه قطب لویی ګوره
چه په ذات یی زند ګی دکل حشم کړم
مدام یووهر یوه ته رسیدلی
دا فقیر میرزا ماهی مینه یی یم کړم
چه واقف دخپل وجود په کائنات شوم(۳)
دنفی رموز می ولیده اثبات شوم

---

۱- دهمیش په نسخه‌کی د(مات) په ځای (ماه) اود (سم) په‌ځای (سنم) دی .
۲- دکتابخانی په‌نسخه‌کی د (قلم) په‌ځای (رقم) دی .
۳- دهمیش نسخه یی نه‌لری.

په گومان می خپل سر یــــخ گانه اوبه وم
دیقین لهتـاوه و بهیـــد م ذا ت شو م
دصو رت عالم به څه لره ماتم کـــا
ددریاب لــهموجه روغ دریاب وم مات شوم

دقیامت هول وهیبت را باندیتیر شو
داجل پیالهیی را کړه پر حیـــات شو م
هر زمان می دحساب تله پــهلاس ده
پر ځای باندیحسا بیږم عـــر صات شو م
معر فت می په لاهوت کښیڼهځاییږی
اوس دعقـــلمیدان تنگ‌زه څنی‌زیات شوم
دصفات حساب می ورغی ترذاته
دو باره پرموجودات با ندی برات شو م

ارادت می دلاهوت په تما شادی
په اخفا کښیحکمدار دکـــل صفات شو م

ځای پر ځای په محبت سرودوهلی
لکه یار زما قربان زه یــــیدعوات شوم
دظلما ت حجاب یی درست راځخه واخست
پهرحمت یی اسا نی دمشکـــلات شوم

په جهان یی گرزوم راسره خوښ‌دی
سوداگرزما میرزا ،زه یی‌سوغات‌شوم

چه دیار دمینی خوږ په خرابزړه وړم
بیهودهبه دنور چا منت په څــه وړم
خپل اشنا دیادو داغرابا ندیکښیښو
ددی داغنخښه یی عین په لیمه وړ م
دواړه کسی می له دغه سیاهیروغ دی
اوس یی‌ځکه په سیاهی پسی لیدهوړم
هر دیدن دزړه په مینه ښایستهدی
بیا دزړهصورت هوری دی چه کاته وړم

دی یوه کتوله هر لوری پیل‌راوړ (۱)
دا دجنگ ناوکی ډوب په لړمانه وړ م

دفراق له حاله هیڅ ویلی نه‌شم
مدام‌اوبنی‌او یزا نـــی پر بانـــه وړم

ناز پرور له هسی حاله خبر نه‌دی
دهجران‌دغه درانه با رونـــه زه وړم

یخ صورت می دم تردمه ویلی کیږی
په علاج یـــی گـهی اور گـهی او بـــه وړم

محبت می په مثال زنبور خانه‌شوه
چه خوازه‌یی‌پر یکوم په ځـــان لا شه وړم

غم نبادی دعا شقانو همخا نه‌دی
چه هوسـپیی قبلوم اندوه یی بنه وړ م

لکه روح می دخپل یار په هوا ‌والوت
داخسته‌صورت به هم پسی هاله وړم

داشنا له لاسه اور را با ندی‌بل شو
دغه سپین‌هپو نه تور لکه سکاره و ړم

په میر زا دمحبت لمبی چوپیر شوی
په دغه‌آتشس به ډیر او مه پاخـــه‌وړم

حق په ذات یوا زی یـــو
یوبی مثله پاك پـر تـــو

یکتنها او بی شر یکـــــه
مخلو قات په نیستی گـــرو

چه دکن امر یی وکـــــړ
کل صفات په خـــــړه شو

پـه‌زما ن وبله و ځغا ست
په خه پټ ساتلـــی خـــو

له وحد ته پـــه کثرت شو
لـــور پــه لـــوری دوا دو

دی لا هوت پرمخ نیولی (۲)
دنا سوت خو شر نگ پلـو

احد پټ شو پـــه عدد کښی
په صفـــات کښی دذات رو

---

۱ـ دکندهار اوقلمی نسخی (دی‌یوه کته له هره لوری بیل کړم).

۲ـ په‌لرغونی او د همیش په نسخوکـی (دلاهوت پرمخ غوړیدلی) دی .

هر څو ډیر دی ګیا هو نه — لوی حیات دوا ړو نـــــو
ګه بهار ګهـی خـزان شی — ګهی کښت شی ګهی لـــو
ګهی نون په دوه الف کښی — ګـــه ده د وړا نـــدی وو(۱)

ای میر زا مقصود دی‌بیاموند
چـــه سم کړی دی دا کو(۲)

چه زما په زړه قرار متا بعـتو
یګانه‌روح می په مهر ومحبـــت و
داعنقا چه دوصال په هـــوا‌ءالوت
دا زما‌ارواح دده د زړه خلو ت و(۳)
په اسمان کښی معلم دملکوت‌ءم
اودځمکی‌مخ می در منـد دطـاعـت و
چه تښتن زما په لار کښـــی‌لومه کښیښوه
چه دانه‌یـی ددغـه آدم خـلـقـت و
دآدم صور ت لـه خاورو زه له‌اور ه
دا دحلـــم‌نور دخا ورو لایقــــت و
دخاوند په نژد یکا نو کښی‌می وکوت
چه پرلوح یی‌نوم کښلی دلعنـت و
دا زما دزړه ګومان پری‌هسی‌و شو (٤)
چه لـه‌ځانه با لکلیه می فراغت و (٥)
دا نسته یی زما نوم په بـدی‌وکیښی
پر خاکی‌آد م یـی خه لر ه تهمـــت و

---

۱ـ (لومړی)(انا = زه) دویم « هو ـ دی ، هغه . »
۲ـ دکندهار په‌نسخه‌کی (کو) ته د(نـاره) معنا لیکل شوی .
۳ـ په نیمګړی نسخه‌کـی (دازما داورواح زړه دده خلوت ؤ)
٤ـ دهمیش په‌نسخه کی (دازما دزړه‌ګومان په‌هر یوه‌شو) (اوله ځانه‌رخ قطعی فراغتؤ)
٥ـ دکتابخانی اوپه لرغـونی نسخو کـی(اودځان روخ قتی فراغت ؤ)

نور دی (۱) څوك وپه طاعت‌غرگی نه‌کا
دغه کبـــرد‌شیطان دځان عــبرت و (۲)

دتمام عمر بند گی یی هبتـــه‌کړه
دپندار‌گناه درو ند تر مشقـــــت و

دجاهل وغوږ سوری دی‌پوری‌ووری
دا گفتارمی ودا نا ته نصیحـــــــــت و

چه په خوف وپه رجا کښی کا استوگه
په‌تحقیق‌یی په بندگی کښی معرفت و

دمیر زا عقل ترکومــه ځایــه ر سی
دا کــلام می له استاده اشا ر ت و

زما کله (چه) نظر په دادر یاب‌شو (۳)
داو بو پرمخ می فهم پر حباب شو

په رموز می یی له ذاته کــړه‌پوښتنه
په څواب‌کښی ترمی ترمی په‌شتاب شو(٤)

نا پدید تومن به څرنگ پسی‌غواړم
لکه یخ‌چه په تاو ویلی دآفـتاب شو

دا شبنم په گیا هونو تار پتارو
چه هوا‌وبله وځیښنه سحـا ب شو

سرو غر مـو مـدد ور سر ه‌وکړ (۵)
یو چندگاهه داسمان په مخ نقاب شو

---

۱ـ دهمیش: (نور) اودکتابخانی په نسخه‌کی (اوخو) دی.

۲ـ دهمیش په نسخه‌کی (عبرت)دکتابخانی په‌نسخه‌کـی (غیرت) او په نورو نسخوکـی (منعت) دی .

۳ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو دامصرع په‌نوروکی داسی ده (چه‌زما نظـر واقـع پـر دریاب شو).

٤ـ دهمیش اوکتابخانی په نسخوکی(ترم)(ترم) اوپه نورو کی «نرم» «نرم» راغلی دی.

٥ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو سره‌سم‌ولیکل شو په نوروکی (چه گرمی اوس دهوا شوله معینه) دی .

له هوسه یی اواز پر بلـــــه وکړ
چه هریودهر یوه دځان مضراب شو (۱)
یو عجب دمحبـــت باران وریږی
چه دانسل وخپل اصـل تـه مـآ ب شو
دغه خاخکی رو نده دپا سه راغی
په دائمکه کنبی گل لی لـه تــراب شو
دگیا هودانی ولی زر غو نــی شوی
بیا داوم ویوخ په زیرمه ددواب شو (۲)
لکه نم په گیا هو نو کــبنی غزیږی
په دادودسړی هلك ور پسی شا ب شو
له اول په حیوا نی له غـمـه خلاص و
پـه کمال یی امرفرض دده کتاب شو(۳)
مجذو بان له سود وزیا نه خبر نه دی
دهر چادانش راحت دی هم عذاب شو
دا صد برگ دزړه په وینـــو کښی یشیږ ی
دفراق اوښکی یی ځی نوم یی گـــلاب شو
چه پتنگ دمحبت په لمبــــه وسو
دا زمـــازړگی پرده باندی کباب شو (٤)
چه هر څوك به دکرلی غلــــی لوکا
دا دلـــی ویل کرله لوی حساب شو (٥)

---

۱ـ دابیت همیش داسی اخیستی دی «لـه هوسه یی پرواز پربله وکه ـ هریوه دهریوه دخاص مضراب شو.»

۲ـ دابیت همیش داسی اخیستی دی (دگیاه ددانه ونه زرغونه شوه ـ بیاوم ویوخ...،)

۳ـ دهمیش اوکتابخانی له نسخو نقل شوپه اوروکی داسی دی : چه اول په حیوانی له غمه خلاص ؤ ـ په کمال دعقل فرض پـه ده کتاب شو .

٤ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو سره سم ولیکل شو په نورو نسخوکی (زما زړگی دده له غمه پرکباب شو)

٥ـ دکتابخانی اودهمیش په نسـخو کـی دابیت داسی دی: «هرڅوك بهدا کرلی غله لوکا دادلی ویل کړده یی ځپل حساب شو»

دعارف چه‌د باطن سترگی بیناشوی
دمعنا له‌مخه لیری کل حجـــاب شو
دوحدت په ځان له ځان سره بازی ده
دکثرت نوم یی ارهټ کړ یا گرداب شو
دایمان صحـت دلیـــل دی دبنادی
دا تاثیر یی دمؤمن په زړه خطـاب شو
لوی نښان دسعادت متا بعت دی
هسی رحم دمولا کـــر یـــم وهاب شو
دپیر خدمت (۱) دکاملا نوکری بو یــه
چه هر خواست یی له خاونده مستجاب شو
دی میرزا پخپل مقدار کـلام و یلــی
داشننا په نظر څرنګ انتخاب شـــو
چه زما لکه نظر پخپل حبیب شو (۲)
دا خاطر می په اشنا پسی غریب شو
دغه فکر چه‌د عشق پر منبــر وخوت
په اواز یی تحسر گـــوره خطیب شـــو
دغه زمکه چه دعشق په آتش وسوه
په اوازیی په‌حقیر گوره خطیب شو (۳)
دابعید له‌لیری ولی مــلا مــت کا
په فریاد یی له قریبه خپل قریـــب شو
دغه‌گل چه‌حجاب ونیوه دوړا نــد ی
په فغان یی له فراقه عند لیـــب شو

۱ـ دکتابخانی په‌نسخه کی د (خدمت) پـه ځای «منت» دی .

۲ـ دهمیش په‌دیوان کښی داشعر نشته.

۳ـ دغه بیت یوازی دکتابخانی په‌نسخه‌کی موجود دی څرنګه چه‌دمخکنی بیت سره زیات توپیر لری ځکه نوپه متن‌کی ونیول شو .

دصد برگ له رنگ وبو یــه‌کمی نشته
**بیاله‌خنگه**یی تیره اغزی رقیـــــب شو

دهو س غمونه واړه لور پــه‌لور دی
**له اوله**دجهان دغـــه تـــر تیب شو

ددی دور بنا یست لافی دوفاکـا
**دخزان‌په**وخت یی بیا گفتار تکذ یب‌شو

دا هر درد چه لــه قــسمتــه رسیدلی
**په عــلاج**یی درما نده دا نا طبیب شو(۱)

دامیرزا په‌خپل اختیار ملامت نه دی
هیڅ دعقل مجال نشته چه‌نصیب شو

عجب وخت دبـر سات شو — لهــر لهــر قطــرا ت شو
ذات بی مثله جلوه وکــړه — له پر توه یی صفـــات شو
شاخ به‌خوپایی بی‌بیخه (۲) — دا صفات دلیل دذا ت شو
یو عجب حکمت لیــده شی — چه دامخ دغه مرآت شو
کثرت نه دی بی وحد تــــه — پرو همیو ظلمـــات (۳)شو
ددیدن بهــره بـــه مـومـی — چه فا نی یی دا قنــا ت شو
چه له مر گه پخوا ومــــړ — نور به نه مری تل حیات‌شو
دخلیل طوا ف چه وکــــا — بنه یقین یی عر فـــا ت شو
نیك وبد په‌ځان کبنی وینی — معرفت یی عر صات شو
دد وو کو نو ننداره کــــا — چه له زړه یی ملا قات شو

ای میرزا وجود فا نی کړه
دایمان دغــــه زکـــات شو

---

۱ـ دابیت دکتابخانی په نسخه کی‌نشته.

۲ـ لرغونی نسخه د«بیخ» په‌ځـای (ولی) دی .

۳ـ دهمیش په‌نسخه‌کی د(ظلمات) په‌ځای«طلسمات» دی .

دغه گل چه‌له نیستی په وجودشو
بنفشه‌یی په قدم کښې په سجود شو

دکامل (۱) پیا له به نو ښ کړی
که دی‌فهم پر نغمه دنی وعـــود شو

ته خپـــل زړه دخلیـــل بـــا غ کړه (۲)
لکـــــه‌بــــــــل اور دنمـــر ود شو

وفا یی دجهـــــــا ن گـــــوره
چه پسوخالی له عاده لـــه ثمود شو

گل چه راغی هسی درو مـــــی
لکه عمریی دباد په دود معدود شو(۳)

چیری گل چیـــــــری اغـــــزی‌دی
په هرچا کښې یو مقصــــــــــود شو

دثا نـــــی گو مان فا نـــــــی‌دی
یگانه‌احـــد مـــــو جـــــود شو

دکثـــرت پـــه بـــازار را غـــی
دی‌ثنا هد دی هـــم مشهود شو

شاه حجاب له مخـــه واخست
دمیر زا طالع مسعـــو د شـــو

لکه عشق زمـــا رهبــــــرشو
ستـــا په لـــوری مـــــی سفـــر شو

چه می یـــــار په نظـــــــرکښیو وت
فـــرامـــــو ش می بحـــرو بـــر شو

فرا غت پری با نـــدی نشتـــه
چه وتـــا تـــه یـــی نظـــر شـــو

---

۱ـ دکتابخانی په نسخه کی د«کامل»پـه ځای (کل‌مل) دی .

۲ـ دهمیش په‌نسخه‌کی دامصرع داسی‌ده (پرخلـل بانډی دی باغ‌که)

۳ـ دهمیش په‌نسخه‌کی دامصرع داسی‌ده (لکه‌عمریی دبادپه دودمعدود شی) اوپه‌لرغونی اودکتابخانی په‌نسخه‌کی د«باد» په‌ځای (زها) دی .

چه دستر گـــو پسر وی(۱) تا
دزړه‌خون یی مخـطـر شــو (۲)
تل به زیـــړ زبیښلی گـــرزی
چـه‌دا درد پـــری بـرا بـــر شو
رخصتـــی پـــر ده حـــرامه
محبت‌یو لــــو ی خطــــر شو
هــو سنـــا ك په اشنا یـی‌و
ځکه غـــــم پـــری مکـــرر شو
دبنادی اصل (۳) غـــم د ی
خپل‌قسمــــت یـــی مقـــدر شو
مدام ژا ړی د زړه وینـی (٤)
او س‌فـــرا ق پـری زور ور شو
بـــی دیـــد نـــه بـه روغ‌نه شی
چـه‌پـــه شاه پسی او تـــر شو
کل مقصود یـــی ځان بازی‌ده (٥)
پرده‌درو نـــد دا خپـــل بشر شو
د اشنـــا لــــه ډیـــر ی‌مینی
هوی (٦) مـــر گـــك پـر ده اختـــر شو
په آتش بــه هغــه ســو زی
چـه‌لــــه دی حـــا لــه خبـر شو
خوشبو یـــی لـــور پــه لـــو ر
په مثـــال لکــه عـــنبـــر شـــو

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی د«پسروی» په‌ځای «په‌سروی» لیکل شوی دی .
۲ـ دکتابخانی‌په نسخه کی‌د(مخطر) په‌ځای (محضر) دی .
۳ـ دکتابخانی اوپه دغه نسخه‌کی د«اصل» په‌ځای «حاصل» دی .
٤ـ دکتابخانی اوپه دغه نسخه‌کی د(زړه) په‌ځای «اوښی» دی .
٥ـ دکتابخانی اوپه دغه نسخه‌کی د(کل) په‌ځای «او» دی .
٦ـ دهمیش‌اوکتابخانی دنسخو ځخه.د(هوی) په‌ځ‌ی په‌نوروکی «دلی» دی .

کـــل تـــا ثیر یی په وینـــا کښې
درست مجلس پـــــری معطـــر شو

چه دشاه دخـــو لی صفا ت کـا
هـــر کـــلام یـــی نیشکـــر شو
میـــرزا وا یـــی لـــون لـــو ن
چه یاد گار یی دا(۱) هنرشو

په هر زړه چه داشنا دیـــادگوزر شو
په یقین له غیره پوسته مقشر شو(۲)

دغفلت په نا پو هی توره تیاره وه
دتو حیـــد ډیوه چه بله شوه سحـــر شو

کل ذری یی ودیدن ته آیینـــه شوی
په هرڅه کښې یی دیار په مخ نظر شو

ددانا دزړه عجبه روښنا یـــی ده
داسمان دځمکی مخ پـــــری منور شو

اوظاهر می په ځرگند وا ړ ه پوهیږی
او باطن می دجمله غیبـــو خبـــر شـــو

په تحقیق به تر کـــما له و رسیږی
چه په دالار یی دزړه په پښو سفر شو(۳)

په رښتیا می درښتینو پسروی کړه
اوس می ځکه په رښتیا یو کس رهبر شـــو(٤)

ددی هسی بی بها حا صـــل دپاره
دکامل دپښی تلی دطا لـــب سر شو

---

۱ـ همیش اوکتابخانی په نسخوکی د(دا) په ځای «ځپل» دی .

۲ـ دهمیش په نسخه کی دامصرع داسی ده (په یقین له غیره خویه په حذر شو)

۳ـ دهمیش په نسخه کی «په پښوسفر» په ځای (په پښی خبر) دی .

٤ـ دهمیش په نسخه کی دابیت داسی دی (په رښتیایی درښتینو پیروی کړه ـ اوس می ځکه په رښتینو کښی سرورشو) اودکتابخانی په نسخه کـی د «پـه رښتیا یوکس» پـه ځـای «په رښتینوکی» دی.

ډېر مړده یې له نفسه حیا ت مومي
ددرویش دصحبت هسې رنګ اثر شو

دمعنا اهل په دا ژو ندون پوهیږي
دصو رت دعالم فهم پر بصر (۱) شو

تل تر تله به حیات وي مرګ یې نشته
چه له هسې رنګ ژو ندو نه بهرور شو

هر سړی له خپله بخته (۲) بهره مومي
دازل قسمت دهر چا مقدر شو

ای میرزا له پاکو پاکه وینا وایه
دمخلص کلام خالص دی معتبر شو

دخپل یار مهر دی ولې په زړه سوړ شو
وسکه زړه (۳) دی دسو خته په مینه موړ شو

پر بلبل چه نو بهار وغوړیدلی
دخزان دلمبو مخ پرې با ندې جوړ شو

دوصا ل په خوښې څر نګ تسله وې
په هجران کښې له جمله هو سه بوړ شو

که دلو علاج یې نه کړی و به رژی
دژوندون زراعت ور سیده پر وړ شو

ښه دمو نه په هر چا کښې په شماره دی
بې بها عمر نفس په نفس خوړ شو

لکه یخ دسړو زور سره تړلی
چه ګرمي پرې باندې زیاته شوه نچوړ شو

دوحدت په یګا نګي کې شماره چیری
دکثرت په حساب تیر ترلك وکروړ شو

دعارف نظر تر دواړو کو نو وخوت
ددوبین نظر کو تاه وځکه ووړ شو

---

۱ـ دهېش په نسخه کی (بصر) او په نورو کښې (بشر) دی .

۲ـ دکتابخانې دنسخې د«بخت» په ځای په نورو کی «عقل» دی .

۳ـ دهېش په نسخه اودکندهار او په قلمي نسخه کی (ځکه زړه) دی.

دتحقیق له فهمه لیری وهـر گوره
چه گومان یی بر یقین با نـدی مروړ شو
چه بی رنګ یی دباور پـه‌ستر ګو گوری (۱)
دمخلص له‌دله محوه کـل از وړ شو
پاك روښان (۲) لکه چه‌دی هـی بـه تـل وی
او میرزا پـه‌اروا ځوان په صورت زوړ شو

لکه عشق می رهنمون شو
په اشنا پسی می یون شو
چه می یار په نظر کښیووت
له جهانه می زړه ستون شو
محبـت یـو زور ور دی
چه‌هوښیار عاشق(۳) مجنون‌شو
چه دستر گو پیر وی کـا
کل‌خوراك یی‌دزړه خون شو
ددیدن لذت بـی حـده
واړه غم دیـار بیلتون شو
لور په لوز غمو نه را غلـه
دغه زړه می میړ تـون شو
څو یی زیرمه دعلاج کـړم
لا بتر باندی افـزون شو
دښادی بیلـك (٤) غـم دی
هسی دور دیګر گـون شو
دغه زړه به څه خو ښی کـا
چه‌اختیار ځنی بیرون شو
دفراق اوښی را زور شوی
داسپین مخ می په‌گلګون شو

دهجران په تجر به کښی
دمیرزا کـلام مـو زون شو

دغه کلك ویل حبـا بـه
داوبو پرمخ کر یا بـه (۵)
که مدام په کښی جار وزی
څوك دی نه وړی له گر دابه
دهیچا غرض در نشتـه
واړه چار دی بی صوا بـه

---

۱ـ دلرغونی نسخی دامصرع‌په نوروکـی(چه‌بی رنګ یی‌دبی رنګ په‌سترګو وکوت)
۲ـ دکندهار اوپه‌قلمی نسخه‌کی‌د«روښان» په‌ځای «الله» دی.
۳ـ په‌قلمی‌اودکندهار په‌نسخه‌کی‌د(عاشق) په‌ځای (عاقل) دی .
٤ـ دلرغونی ، همیش اودکتابخانی‌د«بیلك» په‌ځ‌ای په‌نوروکی (پیك) دی .
چه غالباً به (بیلګه) وی دکندهارپه‌نسخه‌کی «قاصد» معنا ورته لیکلی ده .
٥ـ په‌قلمی نسخه‌کی د(کریاب) په‌ځـای«کرداب» دی .

چه راتله دی په تعجیـل دی　　هسی درو می په شتا بـــه
هیڅ افزون تر قاعده نه‌شی　　څه صفت کړی له در یا بـه
غوټی وویل ای کلکـــــه　　کلك دی وویل بی حجا به
په غفلت دی عمر تیر کـــړ　　لا بیدار نه یی لـه خوا بـه
له مقصوده خبر نه شو ی　　کل گفتار دی بی حسا بـــه
که وځان وته نظر کـــړ ی　　پرو رش دی دی له آبـــه
ته دنوح پسر په زړه کـــړه　　پسو بیل شوله اصحابه(۱)
ددر یاب قدر دی هیر کـــړ　　سوز دی برخه شو کذا به
چه داور طلبگــــار درشی　　ژر دی یو سی بی ځوا بـــه
اتش در ست په تا بلیـــږی　　په تا غو ښی شی کبا بـــه
که دانا یی ځواب را کـــړه　　ستا نصیب دی څو عذا بـــه

دمیر زا گفتار رمـــوز دی
چه معنایی په څو با بـــه

هر چه وینی یکتا محبـو بخود رایه
ښه‌ارام‌زړه به یی وخوځی له ځا یـــه
سر تر پایه څړه مهر ومحبت‌شوه
بیـاوځانته دمهر ویو رهـنما یـه
دجمال جلوه یی زیا ته ده له‌نمره (۲)
په‌ښایست‌کښی دا یوه اوز می همتا یـه
مخ په مخ‌یی واړه رنگ له‌رنگه‌ویوست
پـــــه‌سایه یی‌دولت رانیوله همایه(۳)

---

۱ـ دابیت دکتابخانی په نیمگړی‌اودهمیش په‌نسخوکی نشته .

۲ـ دکتابخانی نسخی د(نمـر) په ځـای(ورځ) لیکلی ده .

۳ـ دهمیش نسخه دابیتونه نـه‌لری‌اودکتابخانی په‌نسخه کـی د (رانیو) پـه ځای (راپیرود) دی اوپه لرغونی نسخه‌کی (بیاپه‌سایه دولت راپردله همایه.)

پخپل ناز دنیاز لەاهله مستغنی ده
دا بی‌نیازه دبی نیازو دلر با یه(۱)

په غفلت له غافلا نو په پرده‌شوه
په خلوت‌دخلو تیا نو راز افشا یـــــه

له فقیر سره دفقر په جا مه‌کښی
بیا یی‌حکم تر اعلی تحـت ثـرا یـه

توری زلفی یی انفا س دمسیحا کړی
په‌بنه‌بوی یی عطار ستون کـړ له ختایه

عاقلان له خپله عقله بیگا نـــه‌شو
دا نشمندودین دنیا کړه بانـدی با یـه

دا خود رنگه شاه په کو مه‌ژبه‌ستا یم
دصفــت‌لایق یی نه وینم بی خدا یـه

ای میر زا له غامو خا صواشنا یی کړه
وهر (۲) یار ته‌دخپل‌یارخـبـری وا یــه

نسبی چه مدد غوا ړی لـــه‌نسبه
دنسب‌مدد دی نه نغوت له سببه (۳)

په حیات چه دنیکانو نغو تـه‌نه‌کا
په آخربه‌نا امید شی بـی حـسبه(٤)

کم دلیل تر نابیناو لا بتـــردی
چه له‌ورځی قدر نه وینی له شبـه

ځکه دیر سړی یاد شوی دی‌په‌همج
چه غا فــل‌پر ځای ولاړ دی بی طلبـــه

خود پر ست له خپله ذات خبر نه شو
دغنم‌مستی شوه زیا ته له عنبـــه

---

۱ـ په‌ځینو نسخوکی دامصرع داسی‌ده: (دابی نیازه دنیاز منو دلربایه).
۲ـ دکتابخانی په‌نسخه کی د(وهر)په‌ځای(بیاو) دی .
۳ـ دامصرع په‌قلمی اودکندهار په‌نسخوکی (دنسب مددمه نغوزه له نسبه).
٤ـ دهمیش په نسخه کی داسی ده(په‌آخر به‌یی امید شی بی‌حسبه)

نصیحت دمرد گانو لایـــق نـــه‌دی
واودووتـــه ویل شی بی اد بـــــه
په‌ظاهر صورت آدم په‌شما ره‌ډیر دی
دمعنـــامیراث یی نشته بی لقبـــــه
دمولا له نزد یکـــی خبر نه‌دی
بی او بودژو ندون طمعه که له کبـــه
خلك واړه دخالق په هستـــی‌هست دی
دصفات‌جا مـــــه په ذات ده مـــــر تبه
دا نایان به‌د دانا په چـــــارخوښیړی (۱)
چه ثابت‌وی په خلور واړه مذ هبـــه
ومیر زا ته دگویا په ژبـــــه وا یی (۲)
داپښتووینــــــا را غلی لـــــه عر به
غافل مه شه ددی دور لـــــه‌آشو به
دا شریف‌عقل دی پا خوه له خو بـــــه
که‌په‌نفـــس امـــاره دی بـــر ی بیامو ند
ستا په‌نزد فتحه دغه ده لو یه سوبه
په زاری په عا جزی یی ایمن‌مشه
هر خوسر پورته کوی با ندی یی کو به
ته فرصت دپا څیدو وده ورمه‌کړه
په وینا که‌ډیر ډیر وایی توبه توبـــــه
له اوله په خلقت وتا نـــژ دی‌دی
لکه گل‌وخار چه دی له یوه چو بـــــه
که‌اختیار دی ددیدن په تزکیه‌شی
دکو ښښ‌په اور یی وچ کړه له نلوبه (۳)

---

**۱ـ دهمیش دنسخی سره سم ولیکل‌شـو په‌قلمی نسخه‌کی دامصرع داسی ده (دانایان په‌دانایی چاری خوښیږی.)**

**۲ـ دهمیش اودکتابخانی دبشپړی نسخوسره سم ولیکل شو په نوروکی (میرزاگوری چه‌په خه‌ژبه گویادی) .**

**۳ـ دکتابخانی نیمگړی اودهمیش په‌نسخوکی (نلوب) په قلمی نسخه کی (لښوبه)دی.**

دصورت پەڕنگری دزړه صافیده
پەخربښتبه زیاته نه کړی بی زهو به
دمر دانو کار لـه نفسه سرەجنګ دی
دهلك پەدود یی مه غوا ړه په لو بـــه
په نیمګړی طلب خـه لـره نا زیږی
چه لەنمره ور تلی نشی تر سرړو به
دو حدت په در یاب واړه جهانډوب دی
دکثر ت‌قافله نه شوه پری خړوبه (۱)
ای میر زا دجا هلا نو په دود مشه
چه پەهسی طلب ننګ کا له خاکروبه
چه کامل محبت ور شی تـر قلږبه
په محب‌کښی خپله مینه شی محبوبه(۲)
په وړمی اثر اختیار ور شخەیوسی
چەدعشق‌په زور یی پوهه شی مغلو به
ترو پخپله مد عا یی ګـــــرزوینه
هر راکب‌چه قوت را نیو له مر کو بـه
دعذاب اود راحت تر پوهەتیرشو
ترو طاعت‌ګناه سما قط شی له مجـذوبه
هیڅ له ځانه خبر نه دی غیب‌وایی (۳)
چه لەهرصوته سماع کا بی اسلو بـه
بیګا نه وو خپلو (٤) طمع‌ځنی پریکړه
دهنرپو ښتنه څوك کا له معیو بـه

---

۱ـ دکتابخانی دنیمګړی اودهمیش دنسخودامصرع په قلمی اودکندهار په چاپ‌کی (دغفلت ترو ونه ځښویو څخوبه).

۲ـ پەقلمی نسخەکـی دامصرع داسی ده(پەمحبت کی ځبله مینه شی محـبوبـه)اود کتابخانی بشپره نسخه کی د«محب» پەځای(محبت) دی .

۳ـ دکندهار او قلمی نسخه : (چەپه هیڅ خبرنەدی عیب یی دادی) .

٤ـ دهمیش پەنسخەکی د (ووخپلو) پـه ځای «دخپلو» دی .

دیوا نه عیب پر یشان کا هنر(۱) جمع
خلقه‌دلی بینا هوری محجو به

حاسدان یی له حسده لیدا ی نه شی
دیوسف له‌قدره چا زده بی یعقو به

اصل اصل خوی په خوی سره گه‌یږی
دهر قام‌منا سبت شی له منسو به

صفات هیڅ کله له ذاته نه‌بیلیږی
ځای په ځای حکم درب دی له مر بوبه

په هر څه کښی ایا تو نه دمولا دی
ومیرزاوته جلوه کا بی‌مکتوبه

چه په شپه په کوڅه گر ځی‌بی تقریبه (۲)
ته‌د کوردغله هتیات اوسه نقیبه

ددنیا په جنجال څر نگ خودنما ی یی (۳)
ښی ددین‌خبری زده کړه له خطیبه

یو زمان دیار له یاده غا فل‌مشه
تل په‌فکر خاطر ژغوره له رقیبه

او په پټه په زاری یی ثنا وایه
په حرمت‌یی حاضر او سه له ادیبه

وحا ضرو ته په کوم عقل‌ناری کړی
چه‌تر میان‌دنه بسوه شته نه جر یبه

«نحن اقرب الیه» در تـه‌وایی
دی تر ځان‌وځان اقرب گڼه قر یبه

په حیات صورت شمیر لی له‌مرده یی
ای نادانه‌له دانا یی بی نصیبه

دم په دم له خپله ذا ته لری‌وځی
په وطن‌کښی اشنا نه مو می غر یبه

---

۱ـ په‌لرغونی نسخه کی د«هنر» په‌ځای«سره» دی .

۲ـ په‌قلمی ، دکندهار اودهمیش په‌نسخوکی «چه‌په شپه په کوڅه نه‌ځی بی‌رقیبه»

۳ـ دهمیش په نسخه کی دابیت داسی‌دی(ددنیا په‌جنجال څه‌بدنمای شوی) .

ته اول دمحبت په نغو تـــــه‌راغلی
اوس دی‌محبت حجـــاب شو له حبیبه
محبوبا له یاره راز په تنهایی کا
دوه روخه‌مینه دی عیب شوه لبیبـــــه
که هر خو ناری وهی پر بلـــه‌گرزی
ددی رنځ‌علاج دی نشته بی طبیبـــــه
په حاجت(۱) دطبیبا نو طلب وکړه
چه خبردی ددارو وله تر کیبـــــــه
یو په‌یو یی له مزاجه خبـــــردار شو
دخوراك‌فا یده یی نشته بی تر تیبـــه
هر قدم دکاملانو پر قـــــدم‌ږده
درښتینی‌وینا مـــه گـــڼـــه تـــکـــذ یبـــه
که رښتیا دگل په مینه یگانه یـــی
دمیرزا په اواز (۲) ویښ شه عندلیبه
هر طالب چه نقد ور وړ تـــرصرایه
نا سره‌مهر وپیژا ند له صا پــــــه
تر ظاهر یی وبا طن ته نظـــرپر یو وت
خلقه‌یی پـــه خړه دیدن کړه ما په
ځینی ځینی دغفلت په خـــوب‌اوده دی
ډیروډیر یی دگو مان پـــه مر گ خرا په
مرد گا نو ښخه عقل علـــــم‌نشته
پر اودوبا ندی غـــږ و کړه ته نا ځا په

---

۱ـ دهمیش په‌نسخه کی د(حاجت) په‌ځای «حیات» دی .

۲ـ په‌قلمی نسخه کـــی د(آواز) په‌ځـــای «ویل» دی.

چه داهسی شان اواز یی په‌غوږ کښیوت
دسامع زړګی‌یی درست خلاص که له پا په
ددانا نصیحت هسی رنګ‌دارودی
چه ضعیف‌مزاج یی وجار یوست له تاپه
معر فت دولی غیب و کرا مت دی
داشیو ه نه په ریا شی نه په لا پـــه
واړه ملك دملکوت ور ښرګندیږی
چه خبرشی دتو حید له لو یه چا په
دبیتها اسم به ها له په کـمال راشی
چه‌د ښوپه کرتوت وریشی تر با په(۱)
که رښتینی اختیار یواند یښنی‌ډیری
اس یك‌رنګ نیلی خوښیږی له‌سخاپه(۲)
ای میرزا قدم دپیر په قــدم کښیږ ده
پر غلطه لار سود نه وی بی له تا پـــه
له دی خپله حاله څه وا یــم وچاته
چه دزړه‌مینه له چا ده پر چا زیا تــه
دا زما محبت واړه پخپل یـارشو
اوس دیارمحبت وَ جار ووت وما تــــه
له دی خپلی رضا هسی رنګ‌فانی شوم
چه نفی‌معنا می را وړه تر اثبا تــــه
کل ذری می ونظرتــه آیینــی‌شوی
په‌هر څه‌کښی یو اشنا وینم مخ را ته
مهتر خضر وما هسی او بــه‌را کړی
دسکندرملکو نه وینم بی مرا تــــه
چه ګو مان دکوه طور په لمبه‌وسو
د«ارنی»ناره یی اروم وموسی تــه (۳)

---

۱ـ دګندهار نسخه: داپتې اسم به‌هاله په‌کمال راشی
چه‌دی درست وجود ·برنورشی هرپرتاپه
۲ـ دکتابخانی بشپړه نسخه د«سخاب»په‌ځای (سجاپ) دی .
۳ـ دکندهار اوپه قلمی‌نسخو کی«څه‌ګومان‌به‌یی دديد کړی طوریی وسوـ لن ترا...»

په نیستی کښې دهستی معناوینم
دا باقی‌مخ یی خر ګند که وفنا تـــه
دا بی مثله زړه می جام لکـــه‌دجم شو
پکښې‌وینم‌او وه زمکی سما وا تـــه
دګو مان دویی می لری کړه‌له‌میانه
له فانی‌منز لـــه را غلم وبقا تـــه
کل صفات می دصفات په‌خویی‌کښې پریښو ه(۱)
اوذات‌اصل می ورغی تر ذا تـــه
پر مسکین دمستحق حکم نـــه وینی (۲)
دا فقیر میرزا یی خلاص کـړ له ز کا تـه

زه به‌څه وایم و تا ته (۳) — ای زمـــا په دم حیا تـــه
زه مدام له تا سره یـــــم — لور په لور ګو ری وچا تـــه
په غفلت یی له ما لیـــری — اند یښنی څه کوی پرا تـه
دصور ت معنـــا نه وینـــی — نه یی بـــت له سو منا تـه
په بد خوی تر حیوان کم یی — په بزر ګی تر پر ښتو زیا ته
تر ښـهر ګ وتا نژ دی یـم — ته په زړه نه ګو ری را تـه
دګو مان په ساړه یـخ شوی — خوی دی بیل شو له فرا ته
زه دی هر څو پور ته بو لـم — ته بتر درو مـی په کښتا ته
ګومان جال‌دربانډی پریووت(٤) — ته یی بیل کړی له خپل ذاته
غیر وجود له میا نه وا خلـه — ایمان خ لاص کړه له زکا ته
یو وحدت دی تجلـــی کـــا — که را ووزی له قنا تــــه
ته فا نی خپله هستی کړه — صفات ورك ګنـــه بی ذا ته
وجود شرك دی ته‌پری‌سوزی — یو ځل ووځه وفنـــا تـــه

---

۱ـ په قلمی اودکندهار په نسخو کـی(داصفات می دصفاتو آینه شوه)

۲ـ په قلمی او دکـندهار په نسخوکـی(...،، حکمونه نه‌وی)

۳ـ دهمیش په نسخه‌کی د(تاته) په ځای «چاته» دی .

٤ـ دکندهار اوپه قلمی نسخوکی«دګومان دجال شوی لاندی .

ته زما په روح ژوندی یـــی ای په خپل گو مان امواتـه
دمیر زا گو مان فانـــی شو
اوس په ما گو ری ومـا ته

شاه تر تانژ دی وتا ته(۱) بل روخ مه درو مه بی را ته
وهر لورو ته چه گـو رم دا حضوره ده مخ را تـــه
نه زما نه یی له پتهـــــه نه یی مینه شی پی ما تـ ـه
کل عا لم یی په نظـــر کبنبی دا هم بی رو حه حیا تـــه
که په دادید ن دی زړه دی حقا نی مینـــه کړه زیا تـه
با قی مینـــه حقیقـــی ده صحبت مه کـړه له اموا تـــه
دحرص خانگو نه‌مات کړه مخا لف شه وهوا تـــــه
په قضا دخدای صا بـــرشه را ضی او سه وقضا تـــه
چه په کړه یی راضی نه شی ترو امید لری وچا تـــه
که په دادی باور نـــه شی حد یث را وړه له آیا تـــه
دمیر زا عمـــل دغـــه دی
چه له ما وا یـــی وما تـــه

خبر زده کړه نن دو خته دایمـــان لـــه با قی رخته
دحا صل وقـــت دی دا دی که یاری دی شی له بختـه
ددنیا وفا یی نشتـــــــه په طلـــب هر گو ره سخته
دقا رون گنجو نه خـه شول سلیمان پا څید له تختـــه
دا هاړ غرمه پسی ده (۲) تکیه خـــو نسی ویختـه
په صراط به څه‌رنگه درو می اوس حیران شوی وبر زخته
هر څو لوړه شوه غو تـــــی په هوا با ندی وڅختـــــه
ته‌د چاپه هستی هست یـی فهم وکړه ونفختـــــــــه
میر زا وا روه اوا زو نـــه
واړه دا(۳) وایی یـک لختـه

---

۱- داشعر دکتابخانی له نیمگړی نسخی څخه واخیستل‌شو په نوروکی نشته .

۲- دهمیش په‌نسخه‌کی دامصرع داسی‌ده«داهاړ غارمه پسی دی »

۳- دهـمیش په‌نسخه‌کـــی (در) دی اودکتابخانی په بشپړه نسخه‌کی د (دا) په ځای «و» دی .

پتنگ پټ په رموز وويل وشام ته
چه زه ستا کړ شمو دروستم ودام تــه

لکه تاچه دعشــق لمبی (۱) پـر تندی کښیښوی
دخاصانو لار دی وښو وه وعام تــــه

خلو تیان یی وبازار وته خپار ه کړه
دحجری رو ښنا یی وخته وبام تـــــه

ومشتاق ته یی له لیری جلوه وکړه
دپخوالی خو ند یی وستا یه وخام تــه

وبل اوروته یی هســی ر نـــګ رجوع شوه
لکه مغ چه زړه تسلیم کا واصنام تـــه

په اختیار دمحبت پر لمبـــه پریووت
دانیمګړی ذات یی ورو و ړو تمـــام ته

دازاد نا مه پر ده باندی صحیح شوه
دصورت له کفره ووت واسلام تـــــ ه

یخ ګو مان دمعر فت په نمـــرشو ویلی
له وقتی راحته راغی و دوام تـــــه

تل هوس یی په هوس باندی زیا تیږی
دتشو یشی له ملکه تیر شو وارام تـــه

بی قوت فقیر که سو ځی عشق یی نار شو
تا پر څه خپسر نیو لی ونا کام تـــــه

پا کیزه دعار فانو په زړه پـــر یمشت
دمیر زا په نظر ږیر ګوری وجام ته (۲)

---

۱ـ قلمی اودکندهار نسخه د(لمبی) په ځای «داغ» دی .

۲ـ دکتابخانی دبشپړی اودهمیش دنسخی په اساس نقل شو په قــلمی اودکندهار پـــه نسخه کی دابیت داسی دی :

(پاکیزه دعارفانو دزړه میاشت ـ دمیرزاپه نظر ځیرګوره وجام ته)

شمع وویل عجب ولاړ له ماوخه ته
دا شیرین‌اشنا زما چه ډیـــر جهتــــه

دغه یار زما معنا (۱)زه یې‌صورت‌وم
اوس بی‌یاره لکه تش بکس بی بهتـــه(۲)

دا زما ودانی تــل دده پـــه‌ذات وه
زه‌یې‌بنهر‌بنا یسته وم دی می مهتـــه

دخپل یار صفت په کومه ژبـــه‌وایم
چه‌تر واړوخوږو خوږدی نوم یې شهتــــه

زه مدام دیار په وصل قیمتی‌وم
داشنا په‌بیو ستون زما ونهتـــــه

دهجران له درده اور را باندی‌بل شو
په‌فراق کښی مجال نه لرم دقهتـــه

سو زنده ډیوه زما پـــه سربلیږی
چه په تاویی ویلی کیږم بهت بهتـــه

له هستی به دفنا پــه قـــد مدرومم
دا وجودتوره نیاه شـــی دځا نکهته(۳)

نه فریاد کړم په دستور دمظلومانو
نه شیوه‌دخپل هنر کړم په دا سهتـــه

داور پښتی په دود نه ځغلـمړنا ته
نه‌دا ستا‌په هیبت سپك تښتم له دهته

ای میر زا په حقیقت پو ښتنه وکړه
چه له‌کومه ملکه تله شی‌چیری رهته

---

۱ـ دهمیش اوکتابخانی د بشپړی نسخی«معنا» په ځای په قلمی اودکندهار په‌نسخوکی (ماغزه) دی .

۲ـ دهمیش اودکتابخانی دبشپړی نسخود(لکه‌تش بکس) په‌ځای په قلمی اودکندهارپه نسخوکی «زه‌تش پوست شوم» دی .

۳ـ دکتابخانی دبشپړی او دهمیش دنسخوپه اساس نقل‌شو ، په قلمی اودکندهار پـــه نسخوکی دامسرع داسی ده : «داوجود دتوتیاده دځان کهته»

ای ددین په بنایسته چارو کی‌لتـه
دمعنا په فهم کم، په صورت غتـه
په ظاهر جامه فقیر په خوی بخیله
لکه نغښتی پـه ایرو تازه سکرو تـه
ته چه اوس دریا ضت په تاو پوخ‌نه شوی
دجحیم پر بټ به ستړی شی له نتـه(۱)
دا بند گی چه ته په رسم‌و په‌ریا کړی
خپل عادت‌څه عبادت گڼی چغمتـه(۲)
دا سړی دسړی هوښ دپاره‌ښه دی (۳)
نه ناپـوه‌چه خپسرزیات وینی په ختـه
په څړه لاره څړه تیرید ل گران دی
په‌داهسی‌لار به څـه وړی درنه څتـه
پسو خوښ په حیوانی کښې‌فراغت یی
خدای‌دی‌واخله دپنجـاب نا دا نه جتـه
دا پنځم اصل دی وغواړه چه‌څه دی
دا صورت‌یوه جامـه په څلـور پتـه
رو حانی محبوب که غـوا ړی‌لیری مه‌څه
په طلـب‌ددی څلور عنصر لـه کتـه
همیشه تر دا څلور څـادردلاندی
یگـانه‌محبوب له تا سـره (٤) لټ پټـه

---

۱- دکتابخانی دښپړی اود همیش دنسخو په اساس نقل شو په قلمی اودکندهار پـه نسخوکی د (نه‌شوی) په‌ځای(نه‌شی) په‌لرغونی‌نسخه‌کی د(بټ) په‌ځای تهښت دی اوپه قلمی اودکندهار په‌نسخوکی د (پټ) اود (مټ) په‌ځای (سټ) دی

۲- دکتابخانی په‌ښپړه نسخه‌کی (جغمټ) په‌قلمی او دکندهار په نسخوکی (شین غټ) دی .

۳- دهمیش په نسخه‌کی د (داسړی) پـه ځای (ښه سړی) دی.

٤- دکتابخانی په‌ښپړه نسخه‌کی د(تاسره) په‌ځای (یاره سره) دی .

دعارف چه دباطن ستر گـــی بینا شوی
پەهر څەکښی تل محبوب وینی پرکته
دکثرت بازار یی روغ کـــړلون لون
تـــل‌سودایی داشنا (۱) دزړه له هـــته
ای میرزا کلام ثابت پرمقامات‌کړه
لکه سم غشی دښه استاذ بی وتـــــه

محبوب نه ده له تا پټـــــه — ای دځان دوړا ندی ختـــــه
ته پخپله خپل حجاب شو ی — دگومان پەلار کښی هتـــه (۲)
چه پر ځمکه تو منه پریوزی — یوځل ورکه شـــی سا پټـــــه
پا کیزه له شش جهتـــــه — ،ځړه مخ شوه بی له ځتـــــه
که دا وویني نیك بخت یـــی — څو وځان ته گو ری رتـــــه
دا نه چیری زر غو نیـــبری — په خو شکی کښی سخته‌غته
ته ،ځر گند یی دا غا یبـــه — ستا په څیر ده کته متـــــه
بورا سپك پر گلـــو گرزی — تر بار لاندی شوی گو نگته
لمبه زر تر وانبه پر یو زی — په ځنځ سوزی لنده ستـــه (۳)
زړه ژوندی په محبـــت وی — جی جی څو دی بی لو یتـــه

میرزا شرط دعشق بـــا زی
پتنگ درست کړ له ډیو تـــه
پر غافل با ندی دسود سوداشوه تروته
چـــه‌بند گی یی په ریا خبره جوته
هره چار چه داخلاص له مخه‌نه وی
ددانا‌په‌نظر تل وی سوڅ بو تـــــه

---

۱ـ دکتابخانی په بشپړه نسخه‌کی د«اشنا»په‌ځای (عارف) دی .

۲ـ لرغونی نسخه د(هتــ) پەځای (بټ)دی .

۳ـ دکتابخانی په بشپړه نسخه‌کی‌دامصرع داسی‌ده :(پەزار سوزی‌پرپړه سته)

که هر څو یی تود وی بیلوده‌شی
دپندارلینده بی غوږو ده بی موته (۱)
په لښکر دتو کل یی طمع‌زور شوه
دایمـــانبدرگه راغله گټـــه گوټه (۲)
په ارمان به دواړه لاس پـــر بله موږی
چه خنا س یی کړه ددین سر ما یه لو ټـــه
دخوښیه ،له راحته بـــی نصیب‌شه
نوی‌نوی‌غم‌یی تل په ورو څو غـــوټـــه (۳)
چه په هسی لوی در یاب کی‌ویلی نه شی
دمنکـــر زړگوټی کانی دی نه لوټـــه
که ظاهر په صورت لوی پـــه‌همت کم‌یی
خدای‌دی‌واخله داوبو دخاورو هو ټـــه
دمجاز په ترکیب څر نگـــه‌ښایسته یی
ولی‌هسی‌بـــی مـــزی ښا یسته‌پـــوټـــه (٤)
که جامه دی دانسان په خوی‌بدل یی
له باوره‌دگو مان په لوری تو ټـــــه
ای میر زا سرې هغه بللـــی‌بویه
هر چه‌ئن‌یی دوحدت پیاله کړه گوټه

---

۱ـ دهمیش او دکتابخانی دبشپړی نسخوسره‌سم ولیکل‌شو په قـلمی اودکندهار پـه نسخوکی داسی دی :

(که‌هرخویی تودوی بلودی به‌نه‌شی ـدپندارلینده‌یی وه بی غوږو موټه)

۲ـ دهمیش او دکتابخانی په بشپړه نسخه‌کی‌د (گټه‌گوټه) په ځای (کټه‌کوټه) دی .

۳ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو له مخـی‌نقل‌شو په‌چاپی اود کندهار په نسخه‌کی دابیت داسی دی :

(دخوښی‌یی له‌راحته بی‌نصیب‌شوـ نوی‌نوی‌غم‌یی تل‌پر ورځ غوټه)

٤ـ دکتابخانی په بشپړه او د همیش پـه‌نسخوکی دامصرع داسی ده (بله مویی‌بی‌مزه ښایسته پوټه )

په هستي كښې مي گومان ؤ — بيا مي نه مونده اي غو ثه
واړه بود زما نا بــــود و — اوس مي بود (١)مونده اي غوثه
دا وينا به څوك باور كـــا — چه دزړه په پښې سفر كـــا
چه پــــه دا لارې روان شو — ده مقصود مونده اي غــو ثــه
مقصود يو دی كه يې وينې — دا يو زړه او ډيرې مينــــې
چه يې مينه حقيقــې شو ه — حق يې سود مونده اي غو ثه
سود دغه دی كه باور كړ ی — چه خپل خوا ست وكامل وركړی
هم له دی فا نی طلبـــــــه — ده خلود مـــونـــده اي غـــو ثه
تل باقي به هغــه كس شي — چه په بنه خويونه‌بس شي(٢)
پسنــده هنـــر دغـــه دی — چه محمود مونده اي غــو ثــه
محمود ذوق كــړلــه ايــا زه — دا ياز (٣) دزړه لـــــه را زه
دشا هد اخلاص پــو ره شو — دمشهود مونــده اي غــو ثــه
دعاشق زړگی شهيد د ی (٤) — سيوری نه لری تجر يد دی
او س منصور په كل‌عالم شو — ده‌جنود مونــده اي غــو ثــه
منصور يو له يوه وا يـــــې — ځا ن‌دحال په ژبه ستا يـــې
درموز اسرار وگـــــور ه (٥) — چنگ وعود مونده اي غــو ثه
كل صفت كانــدی له حا لـــه — ددی هسی حـــال دلالـــــه
چه له مر گه پخوا ومـــــری — ځان يې زود مونده اي غوثه(٦)
چه فا نی يې خپل صفات كړ — دو باره يې ځان حيات كــړ
دبد نفس عـــلاج دغـــه دی — چه‌دا ؤد مونـــده اي غـــو ثــه

---

**١- دهميش په نسخه‌كي د (بود) په ځاى(زود) دى .**

**٢-په لرغوني‌نسخه كي (چي‌يي‌خپل‌خويونه‌بس‌شي) او دكتابخاني په بشپړه نسخه‌كـي (چه‌يي خپله خونه پس‌شي)**

**٣- دكتابخاني په بشپړه نسخه‌كي د(اياز) په‌ځاى (باور) دى .**

**٤- دكتابخاني په بشپړه نسخه‌كي (دعارف‌بزرگي شهيددي)**

**٥- دهميش په‌نسخه‌كي دامصرع داسې ده(درموز اخلاص پوره‌شو) اودكتابخاني په‌بشپړه نسخه‌كي (درموز اسرار پوره شو)**

**٦- په‌قلمي اودكندهار پــه نسخوكــي د(زود) په‌ځاى (ژر) دى .**

مقصود نه دی له چا گو ښی　　مشرك ځان دوړا ندی ینبسی
دمیر زا گو مان فا نی شو
جود موجود مونده ای غو ثـه

دا نسته طواف له ځه ملـكالحاجه
وسکـهخلاص شی پهدنیا ددین لهباجه(۱)

په همت د یداسفر په ځـاناختیار کړ
ای دعامتو حیـد داهل دسر تا جـه

نور ته طمـــع ددنیاله هیچامهکــړه
چهپهدینږدی خلقی تاو تا محتــــا جه (۲)

ته دا ډیر حاصل په لړه بهـاپلوری
چه تازهپسرلی دی نه شی بی روا جه

دخړه کوتی دیـــد ن در بانـــدیفرض دی
دخښتناشنا یی نه ده له احتیا جـــه

چه حاذق طبیـــب حضور دیدارو نه کړی
در پو هیږمزنځ بد تر کـــړی له علا جه

لوی طبیب دهر بیمار په حالپوهیږی
که یــیته خه واقف نه یی له مزا جه

دمرشد نغو ته رو ښا نه دهلهورځی
دخپلخویتار یکــی زیاته ده لــه دا جـه

کهد رسم جامه سپینه کړی بهخه شی
دخو رنگ دی خرگند یږی لهزجاجه(۳)

---

۱ـ دکتابخانی په بشپړه اود همیش پـهنسخوکی دامصرع داسی ده : (اوس که خلاص شوی پهدنیا ددین لهباجه)

۲ـ دهمیش اودکتابخانی پـه بشپړه نسخوکی دابیت داسی دی:

(نوره طمعه ددنیا لههیچا مه کړهـچهپردیخلقه تاوته محتاجه )

۳ـ دکتابخانی دپشپړو او دهمیش دنسخومصرع پهقلمی اودکندهار په نسخوکی پدی ډول ده : (دخو دغهزنگ دی بهدی بیل شی لهزجاجه)

که خبر یی دا معنا را تـــــه‌ووایه (۱)
چـــــه‌حضرت څه قدر راوړ له معراجه
واړه عیب وهنر خپل پخپلــه‌گوری
دمیر زا چراغ رو ښان شو له سرا جه
په ژوندون که دی رضا ده‌بی‌لالچه
دغـــه‌صافه سینه خلاصه کړه‌له‌غچه
په غفلت دی خاطر خړ نګـــه‌ځنګل شو
شیطانی‌وسوسی کنـــی ، سپړ ه، ر چـه
نګران زړګی‌دی یو، اند یښنی‌ډیری
دژوندون‌وعده دی لـــړه ډیره تچــــــه
رو حانی میلمه عزیز دی ښه‌یی ګوره
دملوك‌لایقت نه لـــری خمچـــــــه
بده طمع دستر ګ خوږو پـــه‌دود ښوری (۲)
ته په‌ښه‌توکل خلاص کړه دوی له لچـــــه
دا شریر کبر بدل په کهتری کړه
دغرور توره دی کښیبا سه په تچـــه
په مثال دنرمی لښتی خمیده‌شه
نه پخپله‌رضا سختـــه ګر ګه وچـــه
دپنځو ګوتو عجب سره دعوه‌وه
چه پـــه‌کهتری اقراره شو ه کچـــه (۳)
دصورت په کمینی کښی درجه‌ده
دنګیـــن‌لایقـــت وز غـــی وخچــــــه
په ظاهر کښی دباطن وننداره کړه
دیقین‌په‌اصل لوی په ګو مـــان کچـه
ای میرزا دیګانګـــی لویی و ګـــو ره
ای میرزا دیګا نګی لو یی و ګـــوره

---

۱ـ دهم‌یش په‌نسخه‌کی دابیت داسی دی (که‌خبروی داو‌ینا راته ووایه)

۲ـ لرغونی نسخه «پدغه دسترګی‌خوږی،،،»

۳ـ دهم‌ش له‌نسخی نقل‌شو پــه قلمی‌اودلاهور په‌نسخه‌کی (،،، اقرار شوه داکمچه)

چه په هسې ترو ړمې درومې په کوڅه
دنا سوت کوڅه هر گور دەښوڅه، ښوڅه (۱)
دغفلت په خمار مست پر بـــه گرزې
چيرې نه چه پښه دې کښيوزې په کړ هوڅه (۲)
په جزا دځپل عمل دې باور نـــه شي
نابېره (۳) بــلا به در شي بو څـــه
لکه طفل سرو لمبو تـــــه هوسيږې
هسې لـــوې حريص دسرو زرو په خو څه (٤)
په حساب دسيم وزرو هــــوسيږې
لکه، وږ کــې دزړه سود کا ندې په مو څه
گه ناگاه په محبت به و بلــــه ورشي
بيا ناگاه يې سره جنگ شي تر نکو څه
اې ميرزا ستارې عين دانايې ده
دحجاب خبره ولې وا يې لو څــــــه

که خبــر شې له صبا حــــه | له دې حقيقي مفتا حــــــه
صور تو نه يې کښتې کړه | محبو با په کښې ملا حـــــه
نوې جنگ يې تنسته کـــړ | څه غـر ضـ يې له اصلا حه
لور په لورې غشي (٥) ولـــې | ددې ستر گې له مسما حـــه
له اوبا له نه وير يـــږ ي | خو نر يزې يې کړه مبا حه

---

۱ـ دکتابخانې پـه بشپړه اود هـميش دنسخو سره سم نقل شو په قلمې اود کندهار په نسخه د(په کوڅه) په ځای (کوڅه کوڅه)او د (ده ښوڅه ، ښوڅه) په ځای (سوڅه،سوڅه) دې ، ددريمې (کوڅه) په ځای دهميش په نسخه کې (بازار) دې .

۲ـ لرغونې نسخه د (کړهوڅه) پـه ځـای(کړدوڅه) دې .

۳ـ دهميش په نسخه کې د (نابېره) په ځای(نابو هبره) دې د کـتابخانې په بشپړه کـې (نابوره) دې .

٤ـ دهميش په نسخه کې دابيت داسې دې:(لکه تلپ دسرو لمبوته ټپيږې ،،، وغوڅه)او دکتابخانې په بشپړه نسخه کې (لکه تلف چـه سرې پښې ورته پښځې ،،،، خوځه) دې.
په لر غونې نسخه کې د (طفل) په ځـای(پتنگ) دې .

٥ـ په لرغونې اود هميش په نسخه کې د(غشي) په ځای (اوکې) دې .

چه په مرگ معنوی ومـــــړ اوس ژوندی که بی اروا حه
دمیر زا رموز به وینـــــی
چه خبر وی له دی را حـــه
چه په زړه نصیحت کښینی له نصوحه
دم په دم به بهره مو می له فتو حه
دبا طن غیبه ډیوه به یی شی بله(۱)
درموز معنا به بیا مو می مشروحـــه
دعارف نظر تر دوا ړو کو نو تیر دی
دتوحیدروښنا یی زیا ته ده له یوحه
رسیده کا مل ددوا ړو کونونمر(۲) دی
چه ددین ددنیا چار ده پری وضو حـــه
چه باور یی ددانا په پو هـــه وشو
دایمان تړلی لار یی کړه مفتو حـــــه
یو زمان به له خو ښی خا لی نه شی
چه مدام یی سری کار شی له صبو حـــه
فرعه هیڅکله بی اصله نـــه پاییږی
دمدا ح جدایی نشته له ممد وحــــه
منکران یی دطو فان په اوبو ډوب کړه
چه درد نوحه خر گنده شوه له نو حه
کار دیده بهٔ د رنځور په حـــال پوهیږی
ناز پروروردروغ څـــه زده لـــه مجرو حه
په تلوار چه لاس وپښی پر بل وهینه
دهستـــی قوت به درومی له مذ بو حـــه
دمیر زا ژو ندون په وصـــــل داشنا دی
دصورت استو گه څه کیږی بی رو حه

---

۱ـ دهمیش په نسخه کی (دباطن دغیب ...،،)دی .

۲ـ دهمیش په نسخه کی دنـــمر په ځـــای (میر) دی .

هر نا پوه چه ددانا په کار کارخــه (۱)
په خپل خوی دی بینوا له هره سخــه
لور دلوری اند یښنی پر ی غلبــه شوی
عجـب نرم زړه یی پریوست پر بنده خه
دزحمت له مخه تور پـــر بلــــه واوښت
دفسادتاثیر یی زیات وینم تر زخــه
ډیر ارزو یی لور په لور خبله خکوینه
در ست تمام یی رگ وپلی شوی لکه نخه
اوس دنفس اماره په کو مـــی کښیووت
ناز پرورکوکړی به څوك کا خینی چخه
نا بینا مرید به لاس پر بلــه مړی
دریغه دریغه مدد نه کړی مشا یخــه
نا تمام که دصورت په لو یـــی لوی دی
په معنــاکښی اشیانی مرغی په پخــه
شیرین عمر په هرزه در څخه دروهی
لکه دوړچه نیسی اخلی له سپنډ خه (۲)
هیڅ محبوب له معر فته خبر نه دی
خام شوده دشر یعت پر مقـــام تخــــه
ای میرزا پر معر فت ذره ذره شه
پــه ذره کښی عارف نه وینی بی مخــه

---

۱ـ دامصرع دکتابخانی له بشپړی اودهمیش له نسخو نقل شوه په قلمی اود کــندهار پــه نسخه کی داسی ده : (هرناپوه دی ددانا په چارکه رخه)

۲ـ دهمیش په نسخه کی دابیت داسی دی :(شرین عمر دم په دم درځنی دروهی ـ لکه دوړچه نوسی اخله له پندوخه)

ای په خوی له مؤ منانو سره‌ستوخه
په پندارکښی خمیره په مثال پو خــه
لکه پیاز څړه پوستو نه سره‌نغښتی
لابتــرپه تش رسمونو کښی تربوخه
دانسان له اصل ونسله خبرنه شوی
اوس دی‌سرله لوری وچ،شوی لکه لوخه
له عا دته عبادت لره نــه درومی
په پاخه‌اتام کښی اوم لکه شمو خـــه
پسو عمر بیهوده در ځخــــه‌درومی
دمقصودطلب دی نه وکړ شیو خـــــه
ددنیا په مینه څرنګه فراغت یی
لــه‌باوره‌وګومان وتــه منــسو خه (۱)
کامل نمر دمعر فت په جها ن‌وخوت
بیهوده دخپل ګومان په‌ساړه(۲) څو خه
حق محیط له تا سره تر تـــاچار پیر دی
په دریاب‌کښی په ګومان وچه کلوخـــه
ته یوځل که دباطن ستر ګــی‌کړی رونی
یو جمال‌دی لور په لور وتا ته مو خه
دګومان بلغم دی‌کلك په زړګی‌ونښت
ته یـــوځله دباور په زور وتو خـــــه
که دوهم خبره وکا زړی لـــــه‌غو ږه (۳)
هر اوازدر ته ګوا هی‌لی رخ له رو خه
که دا نایی اشارت در لـــــره‌بس دی
تر دازیات وتاته ‌څه وایم مملو خه
ای میر زا له یوه یو یګا نـــه‌وایی
په وحدت کښی ددوم وینا منسو خـــه

---

۱ـ دهمیش په‌نسخه‌کی د(منسوخه) په‌ځای(مستوخ) اود کندهار اوپه قلــمی نسخوکـی (ستوخ) دی .

۲ـ د (ساړه) په‌ځای دهمیش په نسخه‌کی(سپاړه) دکندهار په نسخه‌کی (ساړه) اوپـه قلمی نسخه‌کی (ساره) دی .

۳ـ په قلمی نسخه‌کی داسی ده : (که‌دوهم خبروکاږی له‌غوږوته)

خبره زده کړه دا نشمنـــــده ددا نش له سر بلنده (۱)
عار فان دنـور ډيـــوی دی زړه پری بل کـړه مستمنده
که دی داخراغ رو ښان شو پټ به نه وی بی خر گنـده
لمر ختلی پـــر افــلاك دی دا ډيــوه تر حد بلنـــــده
چه يی دا ډيوه شوه بلــــه روح يی خلاص له هره بنـده
اصل بنديی نا پوهی وه(۲) سر يی وکيښس له کمنـــده
کل حساب له يوه يـــو دی يو يی وپيژاند له چنـــده
چوړا هر څو رنگا رنگ وی زيب يی نه وی بی مړو نـده
په هيڅ دود به جدا نه شی که واصل شوی بی‌پيونده(۳)
عجب مرگ له مرگه غوا ړی اور يی ور وړ تر سپنـــده
ددی مرگ عجب تلخــی ده خونديی را نيوه له قنده
ققنس هرڅو مړی ايری شی ورك به نه اوسی تر انـــده
زر د پلار په منزل را شه ای دپاك سړی (٤) فرزند ه
چه زنده شی پس له مر گه غم پری نشته بی اننـــــده
دوحدت پيا له دی نو ش‌کړه
ای مير زا په حال خور سنده
نن طلب کړه زما جنـــده ښه طلب په ډيره تنـــــده
ته گدای دولا يت يــــــی شاه دد وړ کو نو مير منده
دوا ړه کو نه دهغـــــه دی چه يی دا محبوب‌بيا منده
ددوو کونو کښيده کـــا دقد رت په لاس يی ستننده
نبا تات کـری پر ځمکــــه ځای پر ځای وا له ،کنـــده
شمس قمر دده ډيوی دی آسمان گرځنده ميچنـــــده

---

۱ـ دکتابخانی په‌بشپړه اودهميش په‌نسخوکی‌دا مصرع داسی ده (ددانشه له‌سر بنده) او په‌لرغونی نسخه‌کی (ددانش له‌سړی بنده)

۲ـ دهميش په‌نسخه کـی (اصل ښه پـه‌ناپوهی ؤ)

۳ـ دهميش اودکتابخانی په بشپړه نسخه کی‌د(که) په‌ځای (اوس) دی‌په لرغونی نسخه‌کی (اوس واصل شه‌بی ونده)

٥ـ دهميش په نسخه‌کی‌د (سړی) په‌ځای(صفی)دی. اوپه لرغونی نسخه‌کی (رسول)دی،

گه رڼا گڼهی تیا ره شی                شپه یی تیره ورځ یی ننده
لوی ارهڼ پربلـه او ړی                دوحدت له لو یه سینـده
خوك حیات پهمرګکی غواړی          خوك خوك مرګ غواړی لهژونده
شاه له زهده زا هدی کــا              خود سا قی له رندو رنده
چیری غم چیری ښادی کــا              چیری نړور شوهچیری بنده
خوك پیو ند شو پړوکی پړوکی         خوك ډوك ووا ته له ګو نده

میر زا ذوق په فقیری کـا
فقـر ښه لویه لمنـــده

چه دا هسی ئا امید شوی لهمقصوده
ددی‌حال‌حاصل دی‌تیرلیده بیهو ده(۱)
دقدیم چاری چه دی‌هسی بهټل‌وی
دازل‌قسمت‌می درومی تـر خلـو د ه(۲)
دلولاك له معنا ولی خبـر نـهشوی
دافـلاك‌ودانی څه ګڼـی مــردوده
له جهانه وخپل ځان وته نظر کړه
دوجودحیا تی وینه له مو جـو ده
ځان جهان می دیوه په هستی‌هست دی
بی یـوهمی دواړه کونه دی نا بـوده
په دا هسی کور څوك څه لرهنازیږی
چهله ځګه لـه ایرو (۳) وی یاله دو د ه
چه ابلیس داور په اصل‌شیوهوکړه
تکبریی مغزی مات کړ له سجـو ده
ددرست عمر مشقت یـی هبته شو
یو دکبـرزیان یی زیات له واړه سو ده
تل خواری می په خواری‌باندی‌زیا تیری
هربندهچهروی ګر دان شی له معبـو ده

---

**۱ـ دهمیش لهنسخی سره سم نقل‌شو،پهلرغونی اوپه بشپړه نسخهکی (ددی حـال دی تیری نو بیهوده)**

**۲ـ لرغونی نسخه (داول ،،، ترجلوده)**

**۳ـ لرغونی نسخه (چیدك لابرودی ،،،)**

نادا نانو باقی سود له لا سه‌زویست
دفانی‌خوښی یو څو ورځی معـدو ده
ددانا دوړا ندی لهو ولعب څه‌دی
دهلك‌تر فهمه سره لمبـــه کو کوده
نا تمام اهل تر اوسه په کښی‌سوزی
دغم اورچه افرو ختـه شو له نمرو ده
داخلاص په عالم ولی دخل نه‌کا
دمعنا په‌زور یی لاس دی له جنـــو ده
مدام نغو ته دښیګنې سر مایه‌ده (۱)
دنیکخوا نصیحت تل نغو ته مسعو ده
د میرزا چه داخلاص حلقه په‌غوږ شوه
دایاز په دودیـی ذوق دی لـه محـمود ه

شیرین یار په خوب وده مـه‌شه ترځنه
چه‌نفس‌می یی په یاد پوری دی ګنه

ښه دیدن یی حیاتـی دی زه‌پری پایم
په حجاب می‌دژوندون وسهه شی لنـــه

داشنا بیلتون می مرګ معنوی‌دی
لکه‌نیوردتازه کښت وا له کا خنـــه (۲)

دهستی نوم به څو با نـدی‌باقی وی
ددریاب‌اوبه چه وګر زی له ډنــــه

په هر وخت چه‌د تالاب او به‌شی کمی
پر ما هی‌باندی داخپل صورت شی پنه

دصفات استوګه چیـری شی‌بی ذاته
یخ زلـی‌واوره نه پا یی بـی تنــــه

---

۱ـ دبشپړی اودهمیش د (سرمایه) په‌ځای‌په‌قلمی اودګندهار په نسخوکی (بی‌شیوه)دی.
۲ـ دامسری د کتابخانی له بشپړی اودهمیش له‌نسخواوله‌خرستوماتی واخیستل شو.
په‌قلمی اودګندهار په نسخوداسی ده :
(شرین یارپه خوب وده‌شو ښه‌ایرنه)
۲ـ دکتابخانی په بشپړه نسخه‌کی د (خنه) په‌ځای (ژغنه) دی .

چه دا هسی باقی ځان ورځخه پاځی
دفنا پهځور به رغړی لکه کنه ه(۱)
چه ځراغ دمعر فت په کښی بل نه وی
دا صورت توره تیاره خالی گور نــــه
په ظاهر لباس که هر ځـــوښایسته وی
کم دلیل لکه بی باره ونه شنــــــه
په دا حال به دنفس اشنـــاپوهیږی
چه پهاورباندی اګر سیځی یا جنه(۲)
ای میرزا که غیرو جود لـــه میانه واخلی
ووحدت وته ځر ګنده لار ده منـــــه

| | |
|---|---|
| حیاتی زما دځان یــــــی | ای تر ځان پر ما لذ یـــذه |
| ته هستی دکل جهان یـــی | تر جهان پر ما لذیـــــذه |
| وهر چا یې رسید لـــی | هر چا نه یی پیژا ند لـــی |
| دایمان ځای دی نیـو لـی | تر ایمان پر ما لذ یــــذه |
| دجنت دیدن به ځــــه وی | چه دا ستا دیدن یی نه وی |
| ستا ار زو می زړ ګی رو ی | تـــر جنان پر ما لذ یذه |
| دجنان صفت به ځو کـــړم | چه ته نه یی نور پسو کـړم |
| تابلبل په رنګ و بو کړ م | تربستان پر ما لذیذ ه(۳) |
| بوستان زړه د عا بدا نـو | بنه جنـــت دزا هدا نـــو |
| او دیدن دبی نشا نـــــو | تر نشان پر ما لـذیذ ه(٤) |
| ته بیمثله بی پا یـان یـــی | تحقیق شوی بی ګو مان یـــی |

---

۳ـ دهمیش اودکتابخانی پهبشپړه نسخهکیدرغړی پهځای (درومی) دی اوپه لر غونــی نسخهکی (پههـروختچی داهسی باقیځان ــدفناء ځوړ ته ،،،،)

۲ـ دهمیش اودبشپړی نسخی د(نفس آشنا)اود (اګر) پهځای په قلمی اودکندهار پهنسخو کی (هرناپوه سړی اودکری) دی دهمیش د(جنه) پهځای پهبشپړه نسخهکی (کنه) دی.

۳ـ پهقلمی اودکندهار پهنسخوکی داسیده : دجنان صفت زهځو کړم ـ چهته نهیــی نوریی ځهکړم ـ دبلبل پهرنګ نارهکړم)

٤ـ دکتابخانی اودهمیش لهنسخوواخیستلشو داکړی پهقلمی اودکندهار په نسخوکـی نشته .

په هستی دهر چا کـان یی — تـر هـر کان پـر ما لذ یذه
بیا ژوندون دکل عالم یـی — دهمه ژونـد یـو د م یـی
معرفت ددی آدم یـی — تر عرفان پر ما لذیذه (۱)
د جمله هستی وکا ن یـی — رسید لی ځان په ځان یـی
چیری پټ چیری عیان یـی — تر عیان پر ما لذ یـذ ه
یو اواز دی په خـو شا نـه — دی محیط دی بی نشا نـه
بی نشا نـه له هر شا نـه — تر هر شان پر ما لذ یـذه
بی نشان یی په‌هر شان کښی — پسو پټ یی په عیان کښی
معنا ته یی پـه بیان کښی — تر بیان پر ما لذ یـذه
زه به څه وایم له چانه(۲) — یو صفت دی لـه وحدا نـه

میرزا نه پا یی بی ځا نه
ای تر ځان پر ما لذیذه
دفلك له چـپ رفتـاره
چه ترغوږ می تیروی دغم کوکاره(۳)
ما پـه حضور ډیـره ښیوه‌کړه
اوس‌حساب شوم دهند وا نو له‌کتاره
د رو ښان دکـور سرورو ی
دافغان دسر دستا ره
اول می نه پیژ اندی څکه بیل‌شوم
دوحد ت له نو بهـا ره

---

۱- داکړی دهمیش او کتابخانی له‌بشپړونسخو سره سمه ولیکله شوه.

۲- دچانه په‌ځای پـه قلمی نسخه کی-(ځانه) دی .

۳- داشعر له لرغونی‌نسخی اودکتابخانی‌له‌بشپړی نسخی واخستل شو. په لرغونی نسخه‌کی د(ګوکاره) په‌ځای (ګفتاره) دی .

بقا يت دشمهادت دی مبارك شه

چه‌دا هسی‌سر بازی دی کړه اختیار ره

تا چه له فانی سرا یه(۱)کوچ کړ

په‌ما دی‌رڼا ورځ کړ له شب تار ره

په عرش کښی حوری گڼی په‌ژړا دی

پښتني په سره څه وايي شاه سوا ره

په مغول په پښتنا نه به هنگامه‌وی

څه شوی‌څه‌شوی دقادر ښایسته پلاره (۲)

د میر زا دزړه ار مان‌شوه

داحداد غنی (۳) باد شاه دمخ نندارة

ای په ځان له خپله ځا نه‌بی خبره

ته معنا له معنا وغوا ړه بشره

دایمان له رو ښنا یی بی خبرزده کړه

دا دکفر تیا ره یو سه تر سحره

له گناهه وطا عت وته رو ان شه

دغه‌لار ده بی اندو هه بی خطره

دا خفی ذکر څراغ دحقیقت‌دی

دکا مل له لاسه بله ډیوه دره

که څراغ دمعر فت دی په‌زړه بل شی

دژوندون‌لذت به مومی سر دسره

---

۱ـ دکتابخانی په بشپړه نسخه کی‌د(سرای) په ځای (دنیا) ده .

۲ـ د«قادر» نه مطلب (عبدالقادر)دی چه د(احداد) اود «بی‌بی‌الایی» زوی، دشیخ عمر نمسی اود «بی‌بی‌شمسو» له‌لاری دبایزیدروښان کروسی دی . ده دخپل پلار دقاتل مغولی (ظفر) پوځ په خیبر توټه توټه کړ.داوخت دشاهجهان دتخت نشینی لومړی کال ؤ .

٤ـ «احداد» په لرغونی نسخه‌کی «احد» لیکل شوی اودکتابخانی بشپړه نسخه (غنی) نه‌لری . احداد له‌شپږو میاشتو محا صری وروسته په (۱۰۳۵ هـ ، ق) کال‌کی‌په‌لواغره کی مغولی‌پوځونو وواژه.

عـــارفان ددواړو گو نـــــوننداره گا
شو پرك په تيا ره گر زی بی نظــره
نا بيتا مى دبنا يست له حاله خه زده
داوازمعنا به خه غــواړی لــه کــره
ينو په يو نه دهر قوم په ژبه پوه شی
که دز ړه غوږ دی شنوا کړ مبصـــره
دصفات په عـــبد دو نه غلطمشه
اودذات اصل تر ذاته يو ری وره
فاصلان له خپل وجوده پــه عذاب دی (١)
دفناويره پری خه شی لـه ضـرر ه(٢)
هر واصل چه له فا نی خو يه فانی شی
دبقــامعنايـــی را وړه مقـــر ره
دکثرت په انبو هی کبنی بــه سفر کا
دوحدت په ديدن را غی تر حضـــره
دا ميوه چه پخپل بناخ پوری پخه شوه
دکما لدعوه (٣) يی وکړه مختـصره
که هر شو دی په لو يــــی نهايت نشته
پخپل ځان کبنی دی تمام وينم شجـــره
له اوله دی بنياد له ما زرغون شو
دمقصودچار دی پرما شوه مؤ خـــره
دشجر له لوری هسی ځواب وشو
چه تـــا رنگ وخو ند له چا مو نده ثمره
له يوی ميوی يو ه ونه پيــد ا شی
اوميوه يی کال په کال شی مقـــر ره

١ـ د کتابخانی په نسخه کی (فاسدان لــه خپله خويه په عذاب دی. )

٢ـ دهميش دنسخی سره سم وليکله شو، اوپه قلمی نسخه کی دامصرع داسی ده : «دفانی ويره به خه شی له ضرره»

٣ـ دکتابخانی په نسخه کی د (دعوه) په ځای «وعده» دی .

ترو دلي وته ځواب دو ني بهٔدی (۱)
که ويناددی ميوی ده معتبــــره
او بی مغزه هيڅ غله نه زرغونيږی
خوداتخم غله نه کــږ ی مقشره
دنفر پخپل صا حب پـو ریٔعزت دی
دصاحب‌صا حبی نه شی بی نفــره
دميرزا خبره وغوا ړه په زړه‌کــــی
که د زړه تخته د ی نــــه ده مکدره
دا زمـــا خبره و نغو ړه ای وروره
ته يوځلی دکان بوت ونه و گو ره(۲)
بند پر بند کړه وزه ده سرتوپايه
پيچ پرپيچ گره گره ده لور دلـــوره
نه يی ولی نه يی پانی نـــــه‌گلونه
دغه‌هسی‌نه ميوه لری نــه سيـــو ره
بر همن چه وصورت وته نظرکــړ
لايفت‌يی‌نور څه نه ليــده بــــی او ره
کم دليل له حقيقته خبر نــه‌دی
دمجاز پربانده‌ی شپه شوه تکـــه تو ره
چه داروح دجبر وت په مقا م‌راغی
په‌کامل‌کنبـی يی ناره وکـړه په زو ره
چه يو ځل له خوا به پا څـــه ننداره کړه
دغفلـت‌دپاره نه ز وو ی لــه موره(۳)
ددی روح له رو ښنا يی خبــر نه شوی
ای دزړه‌په غوږو کوڼ په سترگوکوره

۱ـ دهميش او لرغونی نسخی دامصرع دکندهار اوپه قلمی نسخه کی :
(ته‌دونی ځواب ښه بولی ای‌ياره)
۲ـ د«کان بوت» په ځای په نورونسخوکی(کالبوت) دی .
۳ـ دهميش په نسخه‌کی د«پاڅه‌ننداره‌کړه» په‌ځای «پاڅی ننداره‌کړی» اود (زووی) په ځای (زوولی) دی .

ته زما په هستي هست په مـا كلام كړي
بيهودهدي دگو مان اند يښنه نـو ره
هر عارف چه دصورت لهخويهومړ
په معناكي خپسر خلاص ويني‌له پوره(١)

اى مير زا په زړه هو س كړهتل ترتله
چه پـهخپله محبو با دي شوه غمخوره

څوك به څهوايي‌اى ورورة(٢)
دبي نيازه شا لـه زو ر ه
دكثرت پر بـا زار را غلـــه
عجب كيل كا ندي سر تو ره
لړ پر تو يي دمـــخ و شو
خلقه سيځـــي بـــي او ره
په تعجيل طا لبان بو لــــي
لار يي بند كړه لور دلو ره
مخ يي پټ كړ له غا فلـــه
بيا فر مان كا چه ما گـو ره
دي پخپله خپل حجا ب شو
غافل‌څه زده لـه بيو ره(٣)
دگو مان په لو مه كښيو وت
داميد غله سمســور ه(٤)

پرون تيرشونن‌او ده(٥)دي
دا فردا وعدي تـــه گو ره
دعا رف نو م يي سعيد كــړ
هم په خپله شوه غمخو ره
چهد زړه سترگي يي ور كړي
لمر يي وغوړيد پر سيوره
تل ديـــدن كا بي جهتـــه
دي بنده دي چار يي نـو ره
چه له شا ســره آشنـا شي
خلاص بهنه شي له پيغو ره(٦)

ميرزا وخت دنو بهار د ي
تل در حم او ره پري وو ره

---

١ـ دكتابخاني اوهميش دنسخود«خپسر» پهځاى د (خپل‌سر) اود «ومړ» پــه ځــاى (ووځي) دي .

٢ـ په لرغوني نسخه اودهميش پهنسخه‌كي د(اي‌ورورة) پهځاى (پهزوره) دي.

٣ـ دامصرع دكتابخاني اوهميش پهنسخوكښي داسي ده (ناپوهه څه‌زده له بي دوره)او پهنوروكي (پيغوره) دي .

٤ـ دهميش اودكتابخاني دنسخو دامصرع‌پهنوروكي داسي ده (دميدي غلي سمسوره)

٥ـ دكتابخاني اوهميش په نسخو كــي‌د(اوده) پهځاى (هوى) دي .

٦ـ دكتابخاني اوهميش دنسخو دامصرع‌پهنوروكي (خلاص بهشي اوس له‌پيغوره)دي.

دا ترخه شراب با یـده دی
مکر یو ز ما نپخنبو(۱)شم
دستا قی له میو نو ش کـــړه
چه سلیمان له تخته پریووت
څه امید کړئ په دا دهـــــر
په طلب کښی یی ډیر غم دی
ورځ په ورځ پرښتی سفر کا
عمارت به کل خـــراب شی
هر څو زړه په دنیا بند کړی
که په دا دی با ور نه شی
دنیا نا وی(۳) زړه شوی
مقتولان یئ ځان کندن کـــا
څو یئ مړه پرا ته، پر غو لی
چه دزړه ستر گی یی نشته
هر سړی چه پر عاشق شی
په‌خصلت (٦)یی نه پوهیږم
په دنیا پسی څو درو مـــی
که ته مـخ په نمر و نیسی
دنیکخواه خبـــره نغو ږه
کم دلیل په غوږ کا نه دی

چه تعر یف یی شی له زوره
ذدنیـــا لـــــه شرو شو ره
زینت وا ړه فرا مو ش کـړه
څه بهرام څه یی له گـو ره
نوش یی نیش دار ویی زهر
دبیلتون تلخی یی نـــو ره
لور په لوری دا خبر کا(۲)
هم چه وزیږی له مـــو ره
عا قبت به ځینی پند کـړی
ستا پخـــوا پیړی وگوره
په خون نه ده مـړه شو ی
بیا (٤) ولاړه ده سر تـو ره
نوی نور (٥) عا شقا ن بولی
پسی ځغلی لور دلـــو ره
په حیات دمر گ لایـق شی
دهلـــك مینه لـــه او ره
قرا ری بـــه یی نه مو می
در پسی به درو می سیو ره
په مقصود پسی و کـوږ ه
زه وتا ته وا یـــم ور وره

---

۱- دهمیش اوکتابخانی په نسخوکسی د(پخنبو) په‌ځای (بی‌غم)دی.

۲- دهمیش او کتابخانی له نسخو نقل‌شو په‌نوروکی د(سفر) په‌ځای (خبر) اودخبر په ځای (گذر) دی .

۳- دکتابخانی په نسخه‌کی د(ناوی) په‌ځای (نه‌ده) دی .

٤- کتابخانی دهمیش د(بیا) په‌ځای‌په‌نورو کی (دا) دی . همیش د (دا) پسه‌ځای «بیـــا» اخیستی دی .

٥- دهمیش اوکتابخانی دنسخو د«نوی‌نور» په‌ځای په‌نوروکی (دالانور) دی .

٦- دهمیش په‌نسخه کی د(خصلت)په‌ځای‌عمل اخیستی دی

میر زا و خت د یٓ‌آخرین د ی    په قسمت (۱)سفله کمین دی
ددی دهر فتنه ډیــــــره
له بدا نو خپسر ژغـــو ره

چه وماته نصیحت وا ېیٔ پـــه‌زوره (۲)
تـــر دازیاته چار به نه وی بله نو ره

داشنا په مینه ځان، جهـــان‌بښند مه (۳)
نه چه‌ځان سا تم له ننګه ،له پیغوره

دستی نامه پر ما باندی صحیح‌شوه
خلقی‌را ته ټو لیږی لور دلـــو ره

دا شیرین اشنــا زمـــا دسرداوڼ و
چه پرماباندی ډیوه وه دده سیـــو ره

اوس به څو دبیګا نه ودو ستی کړم
دخپل‌یارپه مینه مسته وم هر ګـــو ره

زه مدام دیار په مینه ښایسته‌وم
او س نیمکړی کښیده‌یم بی انځو ره

نورانی چتر یی زما لـــه سره‌پریووت
په ویران‌ښهر کښی پاتی شوم سرتوره

تر اشنا پوری می کل عیبـــه‌هنر وو
اوس‌به‌څو ګرزم له خپلی مینی چوره

له خپل یارسره سوځتن رالره‌به د ی
نه‌په تاوچه دهجران سو ځـــم بی اوره

که ته زړه پر ما سیځی له ماپځښو شه (٤)
که‌تیره‌اختیار دخو ښی دی راته ګوره

---

۱ـ دکتابخانی د(قسمت) په‌ځای په‌نوروکی«قیمت» دی .

۲ـ دکتابخانی نسخه (بیهوده نصیحت‌څووایی په زوره.)

۳ـ لرغونی نسخه د«ښښنم» پــه ځـای(سیزم) دی .

٤ـ دکتابخانی دنسخی دامصرع‌همیش‌داسی‌اخیستی ده ، (کــه‌دی زړه پـــرما ـسیــزی پرکناره شه) اوپه نورو نسخوکی هم (کنار) دی .

دهجران تر ژوندون مر گ ئرالره به دي
ښه علاج دخلا صیدو کړم له دي پو ره

په اول (۱) مي دقسمت بخره دغه وه
اخر ین میراث مي دا مو نده له مـــوره

ای میر زا دجا رو تـوفکر مي مـه کــړه
پر تمام اختیار و تلـيـیم لـه کـــو ره

ای مدام وما حضـــو ره — ته نا ظـر زه دي منظـو ره
که وما وتـــه و گـــو ر ی — سر به وویني له نـــو ره
زه تر تاو تا نـــژ دي يـــم — بيا له تا په تـــا مستـــو ره
دیقین په تخت جلوه کـــړم — دگو مان له زړه مهجـــو ره
په غافل با ندي تیا ره شو ه — په دا نـــور خلقـــه پوره
شو دا شك دي باور نه شي — خلاص به نه شي له ضر وره
په کثرت کښي تار په تارشوی — ته دما ځځــــه له ما دو ره
له دي حا له خبــر نه وی — نا امید شوی لـــه غرو ره
ښه اثـــر دیگا نگـــی — چه عسل شي له زنبوره (۲)
دپو لاد له یـــك جهتـــه — میان ارسي شو مخ یي گوره
ته پاد شاه دولا یت یـــی — دهلـك کلـــي مـــز دو ره
دنسب پو ښتنه نه شتـــه — چه اواز و شي له صـــو ره
کامل کاشف الا روا ح دي — هـم خبـــر دي له قبــو ره
ددر ویشس خبـــری در دي — نن یي موج کړ له صدو ره

میرزا مـدح دذاکـر (۳) کـا
ذاکر نه دي بي مذ کـــو ره

دذاکر چه محبت شو لــــه مذکوره (٤)
په دا ذکر یي پر ده شوه له زړه دوره

دگو ما نحجاب یي لیری شو دوړاندي
حقیقي محبوب یي ولـیده حـضو ره

---

۱ــ همیش داول په ځای ازل اخیستی دی.

۲ــ دامصرع دکتابخانی اوهمیش له نسخوولیکله شوه په قلمي اودکندهار په نسخوکی دامسي ده: «لکه عسل چه له زنبوره».

۳ــ دکتابخانی په نسخه کي د(ذاکر) په ځای (کامل) دی .

٤ــ دهمیش په نسخه کي د(مذکور) په ځای (ذگور) دی .

دا بی حده بی حسابه ښایسته‌ده

تل یی‌ذوق دی له هوسه له سرو ره

دجمال جلوه یی زیاته ده له‌ورځی

او دازلفی یی رواج (۱) وړی‌له‌دیجوره

هر نظر یی دمعنا نا وکـــی‌ولی

سپین‌مړوندیی دبا ور دی کښلی تـــو ره

له یك رنګ سره یی ذوق وتماشا ده

دا دو رنګـك‌په‌خواری خوار پ‌ه‌زړه مغروره(۲)

که یو ځل په ساد ګی خپسرخرګند کا

په‌ښایست‌یی نه پری شته نه یی حو ره

چه له هسی محبو با یی اشنایی شوه

دخپل‌شکرحق یی بیا مو ند له شکـوره

کل لذت یی دخندا په اجر بیاموند

یو عجب‌قصر یی خپل شوبی قصوره(۳)

دګو مان جامه یی واړه په‌اورکښیښوه

دامان‌علاج یی وکـړ لـــه نشو ره

کل هوس یی داشنا په غـــم‌بدل کړ

دیار غم‌یی رهبری وکړه تر صـو ره

چه‌د تن له فانی خو یه ځان‌فانی کا

واصلان‌به ورته ووایـی معـذو ره(٤)

په وحدت کښی ددو یم خبره نه وی

دمیر زا اصل دپاك رو ښیان‌له نوره(۵)

---

۱ـ په لرغونی نسخه کی د«رواج» په‌ځای(راج) دی ۰

۲ـ په‌لرغونی اودهمیش او کتابخانـی‌پـه‌نسخوکی دامصرع داسی ده (دادوتا په لوی سپرګاله مزدوره) اودکتابخانی په نسخه‌کی‌د(مزدور) په‌ځای (ثرور) دی ۰

۳ـ دهمیش په نسخه کی‌دابیت داسی‌دی(کل‌لذت یی دخندا په‌اجرورکه ـ بدعجب‌قصر یی‌خپل شو بی قصوره)

٤ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه کی(واصلان‌به‌یی اوس وبولی ذی نوره )

۵ـ دهمیش اوپه لرغونی نسخو کی‌دابیت‌داسی دی: (په وحدت کی ددویم خبره‌نشته‌ـ دمیرزا اصل دپاك میان له‌نوره) ۰

په بار بار مې پر خپل يـــارشې مينه ډيره (١)
داشنامينه تر کل جهان را تيـــره
ديار ياد بله ډيوه پـــه زړه بليږي
دصورت کرده‌پـــر ده با نـــدې چو پيره
دظاهر دباطن خو نه تفا وت‌دی
درياشيوه ښا يسته لرې برسيره
توره شپه په رڼا ورځ پو رې‌جار وزی
له ميوی‌سره اغزی لرې دا بيـــــره
حق باطل وبله نژ دی ځبلـــه‌جدا دی
دپيږي‌پيژاند گلی بويه له ميره (٢)
په يوه خاطر ددوو مينو ځای نه شې
چه يوه‌پر باندې پريملی بله هيره (٣)
دهجران اند يښنې هيـــځ راځخه نه وی
دخپل‌يارپه وصل هسی وم دليـــره
اوس مې هر زمان دبل زمان‌قاتل شو
دالطيف‌نفس تيره دی له شمشيـــره
ترو به خه لره دتير عمرارمان‌کړم
چه اول‌مې فکر ونه کړ شوه تيره(٤)
له يوه لوړي مې يار سيځـــې، بل خلك
زه‌لانه‌يم دخپل يار په مينـــه سيره
ای ميرزا رو ښان پر هرلوري جلوه کا
تبريزی آفتاب را وخو ت له منيره (٥)

---

١ـ داشعر دهميش په نسخه کې نشته.

٢ـ دلرغونی اودکتابخانی دنسخی د(پيژاندگلی بويه له ميره) په نورو نسخو کـی (پيژاند په کلی ياپه ميره) دی.اوپه لرغونی‌نسخه کی د(پيږی) په‌ځای«سری »دی.

٣ـ دکتابخانی د (پرباندی راشی) په‌ځای‌په نورو نسخوکی (شی پرغالبه ...) دی،

٤ـ دامصرع دکتابخانی په نسخه‌کی (چه‌اول فکرمی نه‌وکړشو يره) دی .

٥ـ دنورونسخو د(روښان)په‌ځای دکتابخانی‌په‌نسخه‌کی «خضر» دی او دکتابخانی دنسخې د (منير) په‌ځای په نوروکی (بونير) دی .

ګه یی وو یني په ځیـــــره ذا ددوا ړو ګو نو میـــــرهٔ
په وحدت کښي یګا نـــه ده بي شر یکه بي نظیـــــره
کثر تی لښکر یی جوړ کـړ ګه پاد شاه ګهی و زیر ه
داڅ غرو یه دهر کښت ده هـم دهـر حیوا ن اهیــــره
چه نظر می په محبـوب شو زړه می ووت له تـد بیـــره
نور عالم په خپله لار ځـی زه یی بیل کړم له بهیـــره
داستاد کلام رښتیـــــا دی صحبت نه‌دی بی تاثیره (۱)
چه دعشق په لومه کښیووت بند یی سخت دی له ځنځیره
په دا بند کـښی آزاد ی کـا دخود بین خو دی تغیـــره
محبـــت دده زنـــدان شی زړه یی لوی کاله سریره(۲)
ځو ځوا نان یی رسیده کړل کل ځواني ده له دی پیـــره
خلك طمع له پاد شاه کـــا پاد شاه خوا ست کا له فقیره

میر زا امن هغه بیا مو نـــد
چه هوا یـی کـــړه اسیره

دامستی دی له انګورده یا له‌تاړه (۳)
چه وتی‌نه شی دخپل عادت له بــــاړه
ځو عا دت په عبا دت مبـــدل‌نکړی
حقیقی‌محبوب به نه مو می ولاړه (٤)
که په دا وینا دی قتی با ورنه شی (٥)
په‌جهان‌کښی تجربه کړه ویی غوا ړه

---

۱ـ دکتابخانی په بشپړه نسخه‌کی (داستادخبره پند کړه ـ دنیانده بی تاثیره)

۲ـ دکتابخانی ددواړو اود همیش دنسخودابیت په نوروکی پدی ډول دی :

(محبت چه یی زندان وی ـ زړه‌به‌یی‌پری شی له‌سر یره)

۳ـ دکتابخانی او دهمیش له نسخونقـل‌شو په‌نوروکی (دتاړ) په‌ځای «ناړ» دی .

٤ـ دکتابخانـی اوهمیش دنسخو (ولاړه) په‌ځای په نورو کی (ای ویاړه)دی‌اودکندهار په نسخه کی«ویاړ» ته د(عیبناك)معنالیکل‌شوی ده .

٥ـ (دباورنه‌شی) پـه ځای دکتـابخانی‌او همیش نسخو «قطعی با ور شی» لیـکلی دی (قتی ـ قطعی)

په طلب یی تر دیدنه پو ری ورشه
پەخالی نیت به دی نه شی خلا صەغاړه
ای حاجی له پټه بخته سیا لی مه کړه
چه دکورمیرمن ونه وینی مه ویا ړه (۱)
که په رسم درسمیو پیر وی کړی
درپوهیږم خپله چا ر به کړی بیگا ړه (۲)
که ریا دی داخلاص پر مینـــه پریملی (۳)
ترو بنا دی در بخخه کوچ شوه پسی ژا ړه
دجلیل کعبه په تـــا کنبی دەسازلی
دغفلت پەخوی دی خوشی (٤) کړه ویجاړه
یوعجب دبینا یـــی شرم خـــه شو
دزړەدانایی خه شوه چیرته ولاړه (٥)
چــه په حال له حقیقته خبر نەشوی
دمجاز مسلەتپه کـــړه و یـــی نـــغا ړه (٦)
یخ که هر خو مناره پر بلـــەپاس کړی
په ډیرډیر ترتیب که ورشی تر اهاړه
دا جامه دعاریت به دی تل نەوی
دخا سی لمن به خو خکوی له جـا ړه

---

۱- دابیت همیش داسی اخیستی دی «دحاجی له پټه بخته سیالی مه کړه»
(خودکور میرمن ونەوینی مەویاړه) پەنورو نسخوکی د (مەویاړه) په ځای (تل ژاړه) دی دکتابخانی په نسخه کی «مه ویاړه» دی .
۲- همیش دابیت داسی اخیستی دی: (که پەرسم و رسمیوپسی روی کـړی- درپوهیږم خپلەچار بەکړی بیگاړه) دکتابخانی پەنسخەکی هم (بیگاړه) دی اوپه نوروکی «ویجاړه» دی .
۳- دهمیش اوکتابخانی دنسخو د(پریملی) پەځای په نوروکی «پریوځی» دی.
٤- د«خوشی» پەځای همیـش (خـوښه) اخیستی ده .
٥- دامصرع کتابخانـــی اودهمیش نسخوداسی اخیستی ده (یوعجب د بینایی یی شرم خه شو.)
٦- دابیت دهمیش او کتابخانی پەنسخوکیداسیدی (چەپه حـال له حقیقتەخبر نەشوی- دمجاز پوزی تپی کړه ویی نغاړه)

ائې میر زا له مرګه وړا نـدی‌مرګ دغه دی
که دا خپله رضا وویشی پر واړه (۱)

اوس له حقه التما س کـړه     ته نسیه سودا په لاس کړه
دغفلت له خوبه پا څـــه     دحق یاد په هر انفا س کړه
شك ثانی کړه لـه زړه لیری     او یقین با ندی اسا س کړه
دثـواب عمـل دی دا دی     ته نفی فا نـی لبا سـ کـړه
د ګو مـان حجاب محکم شو     نن یی غوځ په دا الما س‌کړه
که دروح ازا دی غـوا ړ ی     اوس بندی نفسك(۲)خناس‌کړه
چه اختیار دی‌دی له دستـه     نن رښتیا له کذبه پا س کړه
لکه تله دی په لاسـ شوه     نیك وبد وبله قیا س کـړه
مقصود دردی په در یاب کی     غواصی یی بی‌وسواس کړه(۳)
څوپه عا مه بندګی‌ویاړی(٤)     چار دخضر ودالیا س کـړ ه

دمیر زا کـلام صحیـح دی
پس روی دحق شنا س کړه

عینی عدل پخپل ځان کـړه     اواره فا نی ایوان کـــړه
د«لا» توره دی د ر وا خلـه     ته پری غوځ غیر ګو مان‌کړه
اول وار درا جفـــه د ی(٥)     ترو د«لا» غونډی ویـران کـړ ه
چه ژو ندی به واړه ومـری     اخر محو پر ښتګـان کـړه
چه هیڅ غیر به پا ته نه شی     ترو وځان وته فر مان کـړه
یو مالك ددغی ور ځـــــی     قراری په لا مکـان کـــړه
متا بع یی را دفـــــه دی     بیا ژو ندی پیری انسان‌کړه

---

۱ـ دکتابخانـی او همیش د(وویشی)پـه ځای په‌نورو نسخوکی (کښیږدی) دی .

۲ـ د«نفسك» په ځای دهمیش نسخه«نفس‌ؤ» اخیستی دی .

۳ـ دکتابخانی نسخه (خـپل دلـیل پسی‌غواص‌کړه) دی .

٤ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی : «که‌ته‌خاص بندګی غواړی» دی .

٥ـ لرغونی نسخه (اول‌دارو داجیفه‌دی).

هرچه ودری اشتاًتـاً (۱) خپل عمل ور ته عیـــان کړه
او س دی وخت دتفحصـــدی نیك وبد یی په میزان کـړه
چه گناه‌دی پری ز یا تیږی هغه فکر په زنـدان کــــړه

دمیر زا کلام رښتیـــا دی
را شه نغو ته دفر قان کـړه

که خبر شی دمحبوب له پټهـه‌رازه
یوزمان‌به خالی نه شی له نیا زه(۲)
شاه په ذات کښی یگا نه دی‌بی شریکه
په صفات‌کښی یی ثنا په څو الفا زه(۳)
حقیقت یی دکا مل په نظــــرو رکړ (٤)
کثر تی‌عا لـم دفتر دی لــــه مجـا زه
معر فت دذات بی حده لـــوی‌در یاب دی(٥)
چه نشان‌یی لیدای نه شی بــی اوا زه
دا نشمند ویی پایان مو ندلی‌نه‌دی
عا لمان یی خبر نه دی له آ غـا زه
چه هر موج یی بی حسا بـــه‌خونر یزی کا
او څپه‌یی‌گوښی گوښی جان گــدا زه
که ته لافه درندی کړی پـــه‌رښتیا (٦)
په‌داهسی‌دریاب کښیو زه بی جهـا زه

---

۱ـ دامصر ع همیش داسي اخیستی‌ده (هرچه ودری آشناته)خـودا آیت ته‌اشاره‌ده چه«اشتاتاً لیروا اعمالهم ط» په نورو نسخو کی (ودری) «دروسی» دی .

۲ـ دکتابخانی اودهمیش په نسخو کـی‌د(نیاز)په ځای «نماز» دی.

۳ـ دکتابخانـی اودهمیش په نسخه کـی‌د«شاه» کلمه نشته اود (الفازه) پـه ځـای (انگازه) دی .

٤ـ دهمیش او کتابخانی په نسخو کـی‌د«ورکړ» په‌ځای (کښیښو) دی.

٥ـ دهمیش او کتابخانی په نسخوکـی‌دامصرع داسی ده :

(څپسریی بی‌حده‌لوی دریاب کا)

٦ـ دهمیش او کتابخانی پـه نسخوکـی«ته‌که رښتیا لاف‌کړی درندی»

کمین شرط دعا شقی یی خودغه دی (۱)
چه اول قدم له ځا نه شی بی نیـــا زه

څو قطعی په خپل ځان با زی‌ونه کړی (۲)
په سودا به دیدن نه مو می بـــزا زه

په رفتن کبنی له نشیبه نـاچاری ده
که‌سالك یی‌ویره مه کړه لـه فـــرا زه

په داخام هوس به وصل روزی نه کړی
چه بوراغوندی هر ځای گر زی غمازه

دا همای له خپله خو یه قیمتی‌دی
دازارتعلیم به څه اخلی له بازه (۳)

او محمود په صورت ډیـــره‌کمینی کړه
چه حاصل یی معر فت شو له ایـــا زه

کم دلیل چه دجلیل طواف‌ونه‌کـړ
بـــی‌دیدنه بیارته را غـی له حجازه

که مقصود یی دخپل مخ‌نندار‌ه‌نه وای
دانسان‌جامه یی څه لره کــــړه سا زه

کلیات به دباطن په ستر گـو گوری
که خبرشی دمعنا له بنه پر وازه (٤)

دافقیر میرزا قانع پخپل قسمت دی
دعاشق بخره مدام له سوز و سا زه

---

۱ـ دهمیش او کتـابخانـی په نسخوکـی(کمینه دعاشقی شرط دغه‌دی)

۲ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه کی:(څواول‌ترخپله مراده ته‌تیر نه‌شی) دی .

۳ـ دهمیش په نسخه کی‌دابیت داسی‌دی:(همای له‌خپله خویه قیمتی شو ـ دآزار تعلیم به‌نه اخلی له‌بازه)

٤ـ دهمیش او کتابخانی په نسخوکـی (کلیات به دباطن په‌سترگو وینی که‌خبرشی له‌دی حقیقی‌پروازه)

کامرانی کړی پر جهان گردن‌فرازه
همتناکه،دلاور بلنــــد پـــر وازه
خود پسنده ،خود پـر ستـه‌خود نمایه
شهسواره،هو سنا که بی انــــدا زه
بختــو ره، دو لتمنـــده اوځیرکه
گردن‌کشه، کبر جنه بـــی نیا زه
تل بیباکه ،بی تکلیفه بی وفاده
هنرمنده‌اختیار ی ده جا ن گـــداز ه
شیوه گره خنده رویه طـــربناکه
طلبگاره‌نــا قــرار ه خـــږ ه آ زه
دمجاز دکار وانو نو پری گذردی
لکــه‌ار ته بیږ یــه یــا جــها ز ه
ددخول اود خروج حساب یــی‌نشته
لکــه‌سرای د لویی لاری بی در وازه
تل بی ننگه، بی نا موسه ،بی‌حجابه
قابو چینه،آز مــوده ،زبــان درازه (۱)
زیاتی‌بو یه ،درو غــجنه ، وعیبــجنه
دهمجنسوتـــــر نــظر ده نیك اوا زه
پر کم اصلو خر ببنت هیځکلــه‌ساز نه‌دی
له مستی‌بد عتی کا ندی آ غــا زه (۲)
نار ینه‌و میراث را نیوه لــــه‌ښځو
له ناکامه‌ددی هم‌ورســره ســا زه (۳)
پښتنی په بی عقلی ور خـــرگند یږی
چه پـه‌هسـی رنگ بدعت نه دی پروازه

---

۱ـ دهمیش او کتابخانی په نسخوکی‌داسی‌ده: (قابوچنه ، ازموده زبان درازه)

۲ـ دابیت دهمیش او دکـتابخانی دنسخوسره سم ولیکل شو په‌قلمی اودکندهار پـه نسخوکی داسی دی :

(پرکم اصل خربښت هیڅ کله نه‌تیاریږی‌ـ په‌مستی په بدعتی یی کړه اغازه)

۳ـ دهمیش په‌نسخه‌کی (نارینه‌ددوی‌میراث‌دښځو رانیوـ له نــا کــامــه دوی هــم شو سره سازه)

له زیاتی طربه، عیشه بی‌بهره‌دی
هغه چاره‌به ضرور کا چه (۱) جوا زه
که په چایی بدگو مان دبدووشی
په ناموس‌یی میندی خویندی شی غمازه(۲)

له ناکامه ساده چاره په ادب‌کا
نه دلال،نه مشتری دی نه بزا زه
اولیا په جهان ځکه نه ښکاریږی
تفاوت‌دپاك وكوم دی له بینمازه (۳)

دبد بویو بد بویی به پټه نه‌شی
که په‌ډیرلباس یی نغاړی لکه پیازه
چه ازاده په بازار کښی‌اموخته‌وی
که په‌تخت باندی یی کښینوی نارازه

دا میرزا یی له‌نظره‌ډیر ویریږی
چه‌پوښلی سترگی‌گرزی‌لکه‌بازه
زه دی تل وینم زما سا قی‌دلسوزه
چه دشپی رڼادی زیاته ده له روزه

دصورت عالم که هر خونښایسته دی
دمعنا‌زیبایی زیاته ده هنوزه
عارفان دی پخپل علم ښایسته‌کړه
او ددم‌نته دهر زنده په بوزه
ددنیا توانگر وا ړه گدا یان‌دی
ای غنی‌دمعرفت گوهر اندو زه (٤)

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی د«چه» په‌ځای(په) دی .
۲ـ دکتابخانی اوهمیش دنسخو سره‌سم‌نقل‌شو په‌نورو نسخوکی داسی دی :
(که‌په ځای‌یی څه‌گومان دبدو وشی ـ په‌ناموس خویی بندنه‌شی له‌غمازه)
دهمیش په‌نسخه د (بدگومان) په ځای(شك گومان) دی .
۳ـ دهمیش نسخه (اولیا په‌جهان ځکه‌څرگندیږی ـ تفاوت له‌پاکه‌کوم‌دی‌له‌بی‌نمازه)
٤ـ دکندهار اوقلمی نسخه: (ددنیاتوانگرگدای ددواړو کونو ـ داخبره کړه‌ته‌پندحکمت اندوزه)

ته به بار دامانت زغملای نــه‌شی (۱)
دصلاح‌په لار څړه ځــه نــو آمــو زه
بی محنته به راحت له لاسه‌نه‌کړی
دخربښت‌وازده دی ویلی کړه له غو زه
اوښ وری دخپل همت په قدراخلی
دخوراك‌قوت یی قیا س بویه له ځو زه
لوی کامل ددواړو کو نـــــوپهلوان دی
په مددیی قا فلــــه تر ځایه بــو زه
که صراط پر کم دلیلو تــو ره‌شپه دی
دمر شددلیل ډیوه ګنہــــــــه افروزه
چه دا هسی برابر پر نښانه‌ځــی
دمیر زاغشی دپیر کامل له لــــو زه
عنایت دلوی پادشاه‌رابانده‌ی وشو
دمیرزا په خاطر نوی‌شوی نو رو زه
سا معان چه سماع کاندی له‌قبوزه
دساقی‌پیا لی خبر کړل له رمــو زه
منقلب دناز په سیوری فراغت‌دی
بی سا یی‌برهنه (۲) خبر دی له تمو زه
چه‌د عشق په مثال اور پــــری‌باندی بل شی (۳)
تر نا مده‌زړګی یی تل خیــږی ډډو زه
وچ لرګی تمام دسوو دپــاره‌ښه دی
په رضاشی تانده نر مه لښته کــوزه

---

۱ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو دامصرع‌په‌نوروګی (چه‌دی بار دامانت دی‌قبول‌کړی)

۲ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو د(برهنه)په‌ځای په‌نورو کی «خلك» دی.

۳ـ دهمیش اوکتا بخانی دنسخو دامصرع‌په‌نورو کی داسی ده: (چه دعشق توده‌لمبه وربانده‌ی راشی .)

گمان گر چه هنر درست پــه‌لینده ټول که
په بلــودی اول وازمیی بی توزه (۱)

هر څو لوی تریناك باز پــــه‌لومه کنبیوزی
په قیمــت‌یی سیالی چیری شی له چوزه

که سفر دطر یقت دی لا بدی‌دی (۲)
پــــه‌تعجیل دطبیعت له‌سرا یه‌ووزه

که عادت پر عامو عین عبادت‌دی
دا شیوه‌ده پر خا صا نو لایجـــــو زه

هره چار له خپله وختــه سره‌زیب کا
دځوانی‌هنر به نه شی له عجـــو زه

نه زمری په ډیر قوت ترسړی‌به دی
نه سړی‌په کبر زیات شی دی له یوزه

ای میرزا تکیــه دخدای په معرفت کړه
دمولا معر فت کنز دی له کنوزه

زه عجب یم له عابده سحـــرخیزه
چه‌ددین‌لقمه یی‌نه وی بی پر هیـــزه

میخانه یی لکه عین بتخا نـــه‌شوه
حریفان‌یی‌لیده ئـه شــی لــه ستیــز ه

وساقی وته یی قهر په خه‌شان‌که
چه گرمی‌یی ده داور تر لمبی تیـــــزه

دمطرب اواز پرده باندی نوحه‌وی
صرا حی‌په عداوت لکه خو نر یـــزه

---

۱ـ دکندهار په‌نسخه کی محشی (بلودی) ته‌د«انداختن تیر بطرف نشستن»معني ورکړی او (توز) ته‌یی داسی لیکلی دی : «نام درخت‌است که پوست آن بکما نها پیچیدوبربالای آن‌روغن دهند»دابیت په‌قلمی نسخه‌کی‌داسی‌دی.

«کمانگر چه هنر درست په‌لینده‌ټول‌کا·    په هرسو به‌یی دی واز مویی بی‌توزه»

۲ـ دهمیش په نسخه کی د«لابدی دی»په‌ځای «له ابدوی» دی.

دسماع پر اهل ځنبګلـــــــهضرور وو
چه لهده یی علاج نهو بی ګر یـــزه
له بازاره وګلزار وته ستا نـــهشوه
خپلـــیچاری په خلوت کی کړی انګیزه
له قضا عابد وباغ وته روانشو
دبستانهوایی یاده شوه ګل ریز ه(۱)
عجایب شیرین (۲)اواز یی پهغوږ کنبیووت
چهد عشق ناره یی وکـــړه درد آ میـــز ه
په لومړی اثر له عقله بیګا نـــهشو
دولاړږنهو کی خه دی له کار یز ه
له نفاقه واخلاص وتـــــه روانشو
دریــــاجامه یی ور وړه تر رنګر یزه
که بهنه یی دباغبا ن تر بیـــتنه وای
دغـــهدومری فیض به چاوړ لهپا لیزه
رسیده درو یشس هغه بللـــــیبویه
چه پهدا حیات خبر له رستخیــــــزه
ای میرزا هستـــیحجاب دی دخود بینو (۳)
وکا مل وته نیستیکړه دست آو یـــزه

---

۱ـ دهمیش اوکتابخانیپه بشپړونسخوکیده«ګلریزه» پهځای «ګل بیزه» دی .

۲ـ دهمیش اودکتابخانيپه بشپړونسخوکيد«شرین» پهځای «حزین» دی .

۳ـ دامصرع دکتابخانی او همیش دنسخوسرهسم ولیکله شوه په قلمی اودکندهار په نسخهکی داسی ده :

(ای‌مرزا هستی حجاب اوخود بینی ده)

ستا کە ویرە شی پە ئان گنبیلە مواسە
تلوزڕە تە پهر دار شە لە وسواسە
ملا دنوس پە میر خی وتـــڕەاستوارە (١)
پە نرمیبە سود یو نسی لە خنـا سە
تر غمناکە ژوندون مرگ‌درلرە بە دی
چەپەکورکنبی پخبنو(٢) نەشوی لەهراسە
پە زاری پە عاجـزی یی غلـطمشە
یو زمان تەزڕە غافل مە کڕە لە بـا سە
پە دا جنگ یی وبیدیا وتـــەحصار کڕە
دپریشانخاطر لە ملکە یـــی وبـا سە
پە اختیار دپا ئیدو فر صتورمە کڕە (٣)
پە نفیاثبات یی ولە لـــە انفـا سە
تا تمامو غین دعین پـــە دودوکینبی
دگوماننقطەیی وا چوە لە قیـــــا سە
دمجاز محبت پول دحقیقـــتدی
دیقینپە دیدن ووزە لـــە لبـا سە
دباور پە لیندە هسی کمز ورمشە
چە نظردی وتی نە شی لە پـلا سە
پە تمام فهم وئان وتـــــەگورە
چەپە تاکینور ئە هم شتە بی حوا سە
دعارف خبری واڕە نصیحـــتدی
کەد زڕەپەغوږ یی وا وری حق شنا سە
او ریدە وعـبا رت وتـە بیدارکڕە
کلرموزیی پەمعنی پسی جار باسە(٤)

---

١ـ دکتابخانی اود همیش دنسخو دامصرع پەنوروکی (تەدنفس و نامرادی تەتڕە ملا)

٢ـ دکتابخانی او دهمیش دنسخو د(پخبنو) پەئای پە نوروکی (خوشوقت) دی .

٣ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو دابیتپەنوروکی داسی دی :

(تەاختیار دپاخیدو ودە ورمەکڕە)

٤ـ دهمیش نسخە دابیت نەلری .

ای میرزا آب حیات دِی په ظلمت گنبی
مهتر خضر خبر داردی‌له الـیا سـه (۱)
دفقیر خبره ونغـــوږه ای‌کسه
ته په داحیات خبر شه لـــه نفسه
که له‌دی شیرینه دمه خبردارشی
دژو ندون‌لذت به مو می یو پـــه لسه
چه مدام دی له دایمه سریکارشی
هم دغه‌فایده دی تل تر تلـــه بسه
که په دا حضور له ځانه خبرنه شوی
په معناکبنی ته یی کم له کمه خسه
په دافکر مدام زړه له غیـــروژغوره
یوزمان‌یی‌خالی مه کړه لـه عسسه (۲)
هر نعمت به دی بی شکه پـه‌ځای در شی (۳)
که یی‌ژغوری له میږ یو، له مگســـه
قناعت به دی هاله پـــه زړه‌قرار شی
چه یـک‌لخته حرص را نسی لـه نسه
خپل زړگی، (٤) دی عجب باغ‌په میوه‌پوردی
ته یی‌خلاص‌کړه له دغه نیژ دی کر گسه
حق تر تاوته نیژدی دی کـه‌باور کړی
ته‌داخپله‌معنا و غـواړه بی کســه (٥)
دصورت په صفت ولـــــی‌غلطیږی
له اوله‌مراد آواز دی لـــــه جر سه
دهوا ځنگونه مات کړه لـــــه‌پروازه
هم وزړه‌ته پهر دار شه له وسو سه

---

۱ـ همیش: «مهتر خضر پـری خبـردی‌له الیاسه »
۲ـ دابیت دهمیش په نسخه‌کی نشته.
۳ـ دامصرع همیش داسی اخیستی ده: (نیامت به‌دی بیشکه په زاره شی)
٤ـ دهمیش په نسخه کی د«خپل‌زړگی»په‌ځای (هویه زړه) لیکل شویدی .
٥ـ دامصرع همیش داسی اخیستی ده: (ته‌و دمعنی‌ته نه‌گوری بیکسه)

ته گومان دمحبت پر لمبـــه‌کښېږده

په داخوی به یگانه‌شی له قفنسه(۱)

دا رضا کــه درضا ومقام ورکړی (۲)

ستاالندوه‌بــه ها لــه ور شی تر هو سه

کل جهان به ستا له مخبـــه‌مرغزار شی

ته بهاردولایت یی دهنــد و سه (۳)

چه عارف دنز دیکی مقصـودبیا موند

په یقین‌به لیری نه څـــی له جو سه

هر گدای چه همنشین شی‌له‌مسکینه

په شړی‌به‌یی گرو را پیرودله اطلسه(٤)

دا میرزا پخپله څـه‌دی چه څه وایی

دوحدت تو تی اوازکاله قفسه

زه دی تل وینـم زمـــا دزړه‌انیسه

کل‌حیات‌می ستا دذکر لــه تقـد یسه

پر مشتاق باندی دی هسی‌زیری وکړ

چه هدهد پر سلیمان کړ له بلقیسه

که‌د اوسپنی اختیار دفعـــل‌نشته

په‌کشش‌یی څه مجال له مقنـــا طیسه

---

۱ـ دکتابخانی دنسخی سره سم نقل شو په‌نورو نسخوکی دمحبت په ځای «معرفت»اود «قفنس» په‌ځای‌قفس دی. او دهمیش په‌نسخه‌کی د(ته)په‌ځای «که» اود(به یگانه) په‌ځای «بیگانه» دی.

۲ـ دکندهار اوقلمی نسخه : (که‌رضا خپله‌دده ورضا ورکړی)

۳ـ دکندهار په نسخه‌کی محشی «هندوس» ته‌د (برسات) معنا ورکړی ده .

٤ـ دلرغونی اود کتابخانی اود همیش له‌نسخو سره سم نقل شو په نورو کی‌د(لــه مسکینه) په‌ځای «له‌شرفه» او ورپسی مصرع داسی ده :

په‌شړی به گـهرو یوسی له اطلـسه اوهمیش «په‌شړی گهرور...» دی.

دقلبې خوی به درست ورځخه‌پاځې
دکیمیانظر چه وریښی تر سیسه (۱)

دګو مان له حجا بونو به فارغښې
وباوروته‌چه وزی له قمیسه (۲)

دعارف نظر تردواړو کو نوتیر شو
دهر چامعنا یی ولیده تجنیسه

نن دروح ورو ښنا یی وته‌پرواز کړه
دصورت‌په‌بند به څو اوسی خسیسه

عاقلان به‌د ښو طمع څینی‌پری کا
شهزاده‌چه‌همنشین شی له سئیسه

ملایك به په خدمت در لره‌درشی
که‌د پلارپه مقام ودری رئیسه

ښه خیاط چه جا مه جوړه پرقد سکښی
دامیرا ثؤ رسید لی له ادریسه

تل ترتله میرزا عید دی‌مبارك شه(٤)
چه دنور جامه دی واغو سته نفیسه

که اشنا شی له ساده سا قی‌مهو شه
دتو حیدپیا له به‌در کاندی بی غشه

---

۱ـ دکتابخانی اود همیش دنسخو سره‌سم ولیکل شو په قلمی اود کندهار په‌نسخوکی د«قلبې» په‌ځای«کلفی » اود(سیس)په ځای«میس» لیکل شوی دی اود کتابخانی په‌نسخه کې‌د (نظر)په‌ځای (هنر) دی .

۲ـ دهمیش په‌نسخه‌کی د «قمیس» په‌ځای (تلبیس)دی.

۳ـ دهمیش په نسخه‌کی د(نن) په‌ځای(ته) اود (خسیس) په ځای «خبیس» دی .
دکتابخانی په نسخه‌کی د «خبیس» په ځای (خنیس) دی

(٤) دکتابخانی نسخه : «میرزا دامیرزایی‌دی مبارك شه »

په مستی کښې به له غيبــوا،از واوری
دگومان وری دی وا چوه بـــار کشه

دا کلی عالم دخدای په هستی هست دی
هم کثرت یــوه جـــا مـــه ده منقشه

دگو مان دسړو زور دربانديوشو
لکه یـخ ددی لطیفی او بـور شه (۱)

دیوازی زړه می یو محبت بس دی
ددا ناالند یښنه نـــوی مشو شه

اتفاق په یگا نگـــی دی با وروکړه
په یوه وجود کی زید وعمر مه شه (۲)

ښه راحت دقراری بهدی خپل شی
که پـریشان خاطر دی زانیسی لهاشه (۳)

که دشرك له بده چرکه خلاصی غواړی
په یقین دریاضت په اور کـښی یشه

له صور ته ومعنا وته نظـــر کړه
دسیـــد(٤) مرتبـه راغلـه تر حبشه

کا ملان کا دفقیر په نامـــه فخر
اوس ممنون په دغه هسی مر تبهشه

---

۱ـ دهمیش اود کتابخانی له نسخی ولیکل شو په نورونسخوکی «لکهیخ چهو لطیفو اوبو ورشه» دی .

۲ـ دکتابخانی په نسخه کی (اتفاق پریگانه دیکه باورکړی ـ په یوه وجود شریك زیدو عمرشو)

۳ـ دهمیش له نسخی سره سم ولیکل شو پهنورونسـ خوکی د «اش» په ځای (لهنتسنه) دی چهد کندهار په نسخو کی د (مغلوب عقل) معنا ورته لیکل شوی اود کتابخانی پهنسخه کی «لهخشه » دی.

٥ـ د «سید» په ځای دکتابخانی پهنسخهکی (رسیده) دی .

چه تل بحث دلذن پکبنبی جاروځی
ددیهسی مدرسی ومدرسه شه(۱)
باوری دخپل باور په نظـــــر گوره (۲)
ته ایمان‌دایما ندارو در جـــــه شه
په ساده جا مه بی شکه قلندریی
دریـــاخرقه دی واچوه څره شه (۳)
دعمل نامه به هر چا لره ورشی
دقریشی‌تفا وت څـه دی لـــه حبشه
ای میرزا دولایت نبنان دغـه‌دی
چه‌کثیف‌صورت رونبان کابی آتشه(٤)
که مدام دی له باقی عالمه (٥) بویه
ای‌میرزا (٦) دمسکینانو په تپه شه
چه لیده شبی دنا سوت خلقـه‌پیبنبه (۷)
له مـولاپه غفلت گرزی کم اند یبنبه
ددنیا په چاری پوه ترا نـده‌تیره
څه ددین‌په طلب نه پو هیــــږی هیبنبه
کم همت دمزدورانو مز دو ری‌کا
خپله‌چاریی همگی نا تمام پر یبنبه (۸)

---

۱ــ دهمیش له نسخی واخیستل‌شوپه‌نوروکی نشته .

۲ــ ددغه بیت لوړی مصرع‌دکتابخانی‌اوهمیش نسخو داسی اخیستی ده (ته‌باور دخپل باور په‌نظر گوره)

۳ــ دابیت دهمیش نسخه نه‌لری.

٤ــ دهمیش په‌نسخه کی د«نبنان» په‌ځای(اسان) دی اود کتابخانی په نسخه‌کی دابیت نشته .

٥ــ دهمیش په‌نسخه کی «دعالم»په‌ځای(راحت) دی .

٦ــ دهمیش په نسخه کی «ای‌میرزا»په‌ځاي‌په‌یقین دی .

۷ــ دهمیش په نسخه کي د«پیبنی» په‌ځای(ریبنی) او دکنـدهار اوپه قـلمی نسخه‌کـی «پیبنبه» دی .

۸ــ دابیت دهمیش په‌نسخه کی داسی‌دی: (بی‌وفاپه تش غمونوپسی ولاړشه هوی‌خپلی چاری ناتمامه )

کل همت (۱) یی په‌مجاز پوری‌ترلی
دلبا سن‌زیبا یی زیا ته شوه له خیبنبه
په ریایی دطا عت تخم تیـــارکړ
په پنداریی‌دښوری ځمکه کړه کیښبه(۲)
تن پر ست په ډیر حرص پــه‌ختهٔ گڼشو
پسو خوښ‌په کښی جاروزی لکه میښبه(۳)
لکه مچ پخپله میـــــــه پسی‌کښیوت
په نفــاق‌به وتی چیری شیٍ له سریښبه
دلیوه دغا فل هو مره تفا وت‌دی
لکه یــوچه په‌غاښ کابل په‌نیښبه (٤)
درنځور زړگی علاج په‌قناعــت‌دی
ده دا طمــــع‌پلیته پر بــا نــــدی کښیښبه
کم دلیل به خوب په څو پـــــه‌بیغمی کا
چه دا هسی‌پر یشا نی پری با ندی پیښبه
غیر غیر محبت زهــرقاتل دی
ای میرزا دزړه پهړوشه‌ویی‌زبیښبه(٥)
چه سینه کا دغیرت له زنگـه‌خلاصه
په کیمیاهنر به زر شی له رصا صــه
دگو مان غباربه درست له‌میانه‌پاخی
ترو لطیف‌به حجــاب نه وی له غوا صه
همیشه به عجب مخ په مخ‌کی‌وینی
په باورکښی پرده نه شبی له خوا صه
په نظر به‌د معنی قدر انـــدازشی
چه صفت‌به‌یی کم نه وی لــه و قاصه

---

۱ـ دکتا بخانی په نسخه کی «کم‌همت»او په‌نوروکی «کل‌همت» دی
۲ـ دهمیش په نسخه کی (دښوری ځمکه‌کړه کیښبه) په ځای (دښوره زمکه کرکیښبه) د ی .
۳ـ دهمیش اولرغونی نسخه : (دحــرص‌په‌ډیره ډیره ختهٔ‌گڼ شو ــ په‌څه خوښ ٬.)
٤ـ همیش اودکتابخانی په نسخه کی لکه(یویی په‌غاښ بل په نیښبه) ، (لیښبه) دی .
٥ـ دهمیش اوکتابخانی په‌نسخه کی «ای‌مرزا دزړه پیړوشه ویی زبیښبه»

لور پەلور بەدبیدارو ژړو نــەولی

پە هیڅدود بە ویره نە کا لە قصا صه

مخلصان بەد نفاق لە خو یــەووځی (۱)

چە ژوند ون‌یی باقی نە وی بی اخلا صـــه

بنی بنادی بە یی دغم پرغولی‌پریملی (۲)

کل اشیابەوی ددە پە ذوق زقا صــــه

ترو بە شی تخلقوا با خــلاق‌الله

چە کردەیی‌بە دا خوی شی اختصا صــــه

ددنیا د آخر ت اهل بە پریږدی

پە قطاربە ودری لە خاص الخا صــه

ترو قرار بە لە قرارە سرەورشی

هر چــەوریشی ترهسی رنگ مناصه(۳)

پە ظاهر بەد با طــن‌پە چار پو هیږی

دمیر زا وینا پښتومعنا یی خاصه

هر طالب چە فیض غواړی لــەفیاضه

لەنور چادی خپسر پریکابی مقراضه (٤)

پیر کامل بە ودە هسی تلقین‌ورکا

چە بەخلاص شی دغفلتو لەامراضه(۵)

داندوە پە ځای بە صبر مقیمی‌شی

پە زغمل‌کا امن مومی لە اعرا ضه (٦)

---

۱ـ دهمیش پەنسخەکی (لەخویە ووځی) پەځای (خویونە وژنی) دی .

۲ـ دهمیش اودکــتابخانی پــە نسخوکی«پریملی» دی‌چە سم بنکاری پەنورونسخوکی (پرولی) دی .

۳ـ دهمیش پەنسخە کی دلومړی«ورشی» پەځای «تــلە شی» دی او ددوهم«وریی شی» پەځای «وربەشی» دی او دکتابخانی دلومړی‌ځای «ورشی» پە ځای «اوسی» دی.

٤ـ دهمیش پە نسخە کی د«غواړی»پەځای(بیاموند) اود نورو چاری پە ځای «لە زورو چایی» دی.

۵ـ همیش: (پیر کامل می ودە هسی‌تلقین‌ورکړەـ چەشو دغفلتونو لە امراضە)

٦ـ همیش :(داندوە پە ځای کە صبرمقیم‌پریملیـ هرمومن بەامن مومی لەاعراضە)

هسی زړه بهپاکیزه تر ملکوت‌وی
په بنایست به بنا یسته وی لهریاضه
هر کلام به دکلام‌پهمعنا وا یی
دمیرزا په دود یی‌صاف زړه له بیا ضه
که خوبنی دریا ضت مو مـی‌رایضه!
زړه بهخلاص کړی دخناس لهعوارضه(۱)
تل مدام بهدی ځراغ په خاطربل شی
که پهفکر کبنی دایم او سی خایضه
ذاکران چه نن په لااله نفـی‌شوه
الا الله‌یی هم بیاو موند له عارضه (۲)
نوری غیر اند یبنبنی ځنـــی‌فانی شوی
چهد ذکرفیض یی بیا مو ند له فا یضه
دنا قص عالم په رسم غلـــطمشه
کهامیدکړی دکا مل له فـــوا یضـــه
عا قلان چه بی مرشده قدم نهږدی
په باربار یی‌احتیاط (۳)شی لهناقضه
مشر کان تر نااشنا پــو ری‌شیوه کا
دریااهل خجل دی له حا یضــــــه
پهظاهر علــم دا دانا نـــا زیږی
چه خبروی دبا طـــن له فرا یضــــه
دنادان زړ گوتی حکم دربـــاطدی
چه یوهاندیبنبنه ځی بلـــه قا بضه(٤)
دشمهسوار نامه پهده با ندی‌صحیح شوه
چه دعشق‌براق یی وتیځه له را یضـــــه
ای میرزا داځپل آشناپهنظر راوړه
که دی شته د حقیقـــت لـــه عرا یضه

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی د «عوارضه» پهځای (عوایضه) دی .

۲ـ دهمیش پهنسخه‌کی «ذکرانچهپه دالاالله نفی‌شوه» هم دالاالله یی کوټکهله عایضه)

۳ـ دهمیش په نسخه‌کی د(احتیاط) پهځای (احتیاطی) دی .

٤ـ دهمیش او کتابخانی په نسخوکـی‌د(قابضه) په ځای پهنوروکی (فایضه) دی .

ددنیا په طلب خو گــــر زی‌طامعه
له‌مقصوده‌دی دطمعه شوه ما نعـــــه
دحرص لمبه یی لا ترا ور بدتره
څو خو راڅیی زیاتوی هومره جایعــه(۱)
هر زمان یی نوی نوی غــــم‌زیاتیږی
دخوښی‌یی ذوق یی‌را نیوله طامعه (۲)
وهر چا ته گوښی گـــو ښی‌کرشمه کا
کل عالم‌یی مشتری دی دا بایعـــــه
نه شداد پخپل پندار په جنت‌گه‌شو
نه قارون‌څنی مو ند لی منــــا فعــه
عبادت یی دنفاق له اهله پټ‌کړ
دعا دت‌نامه یی کښیښوده شا رعـــه
پر دا عامه لاریی لویه لومــــه‌کښیښوه
هیڅ‌داناڅنی خلاص نه شو بی قا نعه
ایما ندار په قناعت با نـــــدی‌قرار شو
چه پر یشان‌خا طر یی وروړ تــر جا معــه
در ویشا ن به سر تر پا یه‌منورشـــی
چه‌دزړه‌په همت ور شی تر را فعـــــه
هــر چه خپسر یی فانی‌کړ کل‌به مومی
دغـــه‌پند دی له قدیمه مزار عه (۳)
منفعت به یی وډیرو وتــــه‌ورشی
په حاجت‌چه فایده موند شی له نافعــه
هر نفس ددواړو کونو ننداره‌کـــا
په معناکښی گړندی دی (٤)له لا معه

۱- دهمیش اود کـتابخانی په‌نسخه‌کــی (جایعه) په‌نوروکی (جامعه) دی .
۲- دهمیش اود کتابخانی په‌نسخه‌کی د (طامع) په ځای (تابعه) دی .
۳- دهمیش په نسخه‌کی (هرچه جزو یی فانی کړه کل‌به مومی دغه‌پنددی ...،منافعه)
٤- دهمیش په نسخه کی د«دی»په‌ځــای (ځی) دی .

دباطن په قدم تل پر با ندی گرزی

که هرخودی عرش بلند کر سی وا سعه

یخ گومان یی دتوحید په نمـرشی ویلی

هیڅویل کرده یی نه دی بی‌صانعه (۱)

ددانا خوښی به هسی رنگ بیان شی

چه معنایی ومعنا وته را جعــــــه

که سجده دخدای ولوری وته‌فرض ده

دکا مل‌په لوری وگرزه را کـعه (۲)

دمیرزا واسطه څووینی په میان کښی

دگو یا په آ واز فهـم کړه سا معـه

دهر زړه مثال پټی وینــــــمدزرعه

ځینو ځینوعر ش الله کړ ځینو مر عـــه

عار فان په معرفت با نـــدی‌قرار شول

ملوکان(۳)کا دلذت په طلب سر عـــــه

دیقین په دیدن غیر فکر نــــه‌شی

دهوس‌په نغو ته چیری اوسی ور عه

دکثرت محبت یو جزدوحدتدی

په تحقیق‌یی اصل ذات دی صفات‌فرعه

ای‌میرزا زړه(٤) به دی‌څرنگ اشنا پیری

له پنځو عیبو چه‌یولوری په شر عه

دعارف نښان څرگند دی لکه‌شمعه

رهنمای‌او سر بلند دی لکه شمعــــه

---

۱ـ دهمیش نسخه په لومړی مصرع‌کـی‌د(یی) په‌ځای (دی) د «شی» په ځای «شو» او د کتـابـخا نـی پـه نـسخـه کـی «صانع» په‌ځای (مانع) دی . اود کندهار او قلمی نسخه (نافع) دی .

۲ـ دهمیش‌په لومړی مصرع‌کی‌د«لوری‌وته»په‌ځای (وامروته) اوپه دویمه مصرع کی د (راکم) په‌ځای «راجع» دی .

۳ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو د«ملوکان»په‌ځای په‌نوروکی (هلکان) دی .

٤ـ د«زړه» په ځای دکتابخانی په‌نسخـه‌کی «ژر» دی .

په هر دم بی مثله اور با ندی‌بلیږی
پخپل ځای‌باندی پابند دی لکه شمعـــه

پر ساده څیره یی گرمی اوښی‌درو می
بیا په‌سوزگداز خر سند دی لکه شمعـه

هر زمان یی نوی نوی سرپریکیږی
بیا یی پـــه‌دنوی سرلاانند دی لکه شمعه(۱)

دعر فان وعده یی ورو ستـــه‌ترسره
دا پوره‌وفاداشنا اند دی لکه شمعه(۲)

له فانی سرایه لیږ دی پر باقی ملی (۳)
له نقصانه‌په کمال پوری بند دی لکه شمعه

دا دفقر جا مه سکښتیی پـــه‌فقیر ده (٤)
چه تمام‌بدن‌سر وتیغ ته چند دی لکه شمعه

مو توا قبل ان تمو توا پـر ی پوهیږی
چه څکلی یی‌دمرگ دپیا لی خوند دی لکه‌شمعه

عاشقان لکه پتنگ با نـــدی‌پریو زی
چه‌دا هسی‌تجله،مخ یی کمند دی لکه شمعـــه

په کوم کوم علاج به زړه‌ځینی‌ساته شی
چه دیدن یی‌دنظر لینده کمند دی لکه شمعه

دافقیر میرزا ثنا دمیاروښان کا (٥)
چه دانش یی دکـل علم‌،سر بلند دی لکه شمعه

---

۱ـ دهمیش په‌نسخه‌کی د په‌دانوی سر یی لاتازه انند دی لکه شمع.
۲ـ قلمی اودکندهار نسخه (دآشنا په‌وفا اند) دی او دهمیش په نسخه کی د«وفا»پـه ځای «وعده» ده.

دکندهار نسخی محشی «اند» ته«دشـوق، ذوق ، عیش» معنا لیکلی ده.
۳ـ دکتابخانی اود همیش له‌نسخو ولیکل شوپه نورو کی د«ملی» په‌ځای «خملی» دی.
٤ـ دهمیش په نسخه‌کی دا دفقر خرقـی سکښتی پرفقیر دی )
٥ـ دلرغونی او دهمیش له نسخو نقل‌شو په نورو نسخو کي (دافقیر مرزا ثنا دپـاك الله‌کا) دي .

که‌د شفاعت امید کړی لــــه‌شفیعه
دمر شد په‌نغو ته چار به وی مطیعـــــه
ونبیگڼو وته امر په تعجیـــل‌دی
په‌دا هسی‌طلب بیړه (۱) کړه سر یــعه
عبادت پر نابیناو مشقـــــت‌دی
اشنا یان می‌خپله چار که بی تصد یعـــه
مخلصان یی له تکلیفه فراغـت‌شوه
کل وینا یی‌پر کرده با ندی تقـطیعه (۲)
دهر چا رجوع وا صل وتــــه‌کیږی
کل مزه‌له خپله تخم شی بـــد یعـــه
کم دلیل عالم به خه طمع‌دبنوکـا
چه اکثرفعل یی بد، وینا شنیعـــــه
تل عذاب یی په عذاب با نـدی‌زیاتیږی
چه نفاق‌کا له دانا او له سمیعـــــــه
دزړگی پر کنبت یی حرص‌دتوقع دی
سیرا ب‌کیږی له خریفه شی ربیعـــه
قناعت دفقیرانو مسکنـــــت‌دی
چه پریشان‌دلیل یی ور شی تر جمیعـــه
دعارف دزړه نظر ور رسیـدلـــی
که هر خـــودی عرش ،بلند کرسی وسیعه
په میرزا دکا ملانوعنایت شو
چه کلام یی مختصرمعنا رفیعه
زه چه ډیر ډیر محبت کړم له‌ایا غه
دخو بنی(۳) بوی راغـــی تر دمـا غــه

---

۱ـ دهمیش او کتابخانی دنسخو د «بیړه» په‌ځای په‌نوروگی (سیر) دی .
۲ـ دهمیش د «شوه» پـه‌ځای (دی) او د(وینا) په‌ځای (دنیا) لیکلی دی .
۳ـ دهمیش په نسخه کی د«یی» پـه‌ځای(می) دی.

دا زما دماغ یی هسی معطـر کړه
چه بلبل یی (۱) دیوانه شو له سرا غـه
عند لیب چه هسی ډیر ډیـرفریاد کاندی
داشنـاخبر یی بیا مو نده له باغــه
لکه باغ چه په گلو نو ښایسته دی
دبلبل په زړه یی کښینښوه هومره داغه(۲)
عار فان دزړه په حال ځبلـــه خبر شول
له یـوی ډیوی یی بل کړه څو څراغه
چه ډیوه دمعرفت شوه بانـدی بلـه
دهمای اصل یی گو ښی کړ (۳) له زاغه
عجب خوږ له محبته ور پیداشول
په دا دردکښی یی خبر کړ له فرا غــه
دمحبوب عنا یت گوره نـوی نوی
وعا شق ته مخ په مخ شو بی قنا غه(٤)
چه عا شق له معشو قی سره ملیا شی
پرده نورخه باری نشته بی بلاغه (٥)
محبت یی پر دا عقل غلبـــه شی
ددا نش ویره یی نه شی له ایا غه (٦)
په میرزا دخپلی مینی نو بهار شو
په بهار کښی تماشاکا ندی له راغه

---

۱ـ همیش : «می».
۲ـ دهمیش په نسخه کی ( دبلبل په زړه یی بل کړه څو چراغه)
۳ـ همیش د «گـوښی کړ» پـه ځـای(وپیژاند) دی .
٤ـ دهمیش په نسخه کی (دمحبوب عنایت گوری په ژوی ومحبت ته ...)
٥ـ دهمیش په نسخه کی په لومړی مصرع کی د «شی» په ځای (شو) او دویمه داسی ده (په ریبار یی نورخه نه شته بی بلاغه)
٦ـ دکتابخانی او دهمیش په نسخه کـی د«ایاغ» په ځای (الفاغ)دی.

دکامل مکمل وی حمیـــــــداو صافه (۱)
په تلقین یی‌زنگ زده سینه شی صا فه (۲)
پر گو مان باندی ده هسی اره‌کښبیښوه
چه‌صورت‌یی لیده نه شی بی شکا فــــه
عجب صور(۳) دی دمعنا په‌عالم پو که
دپو نبی‌مجال به خه وی له ندا فــــه
دا بی مثله زړه رو ښا نه‌آیینه‌شوه
نن ده‌وکښه ددوو کو نو له غلا فــه
په عارف باندی می هسی رڼـاورځ (٤) شوه
لکه نمرچـــه‌وخیژی له کـــوه قا فـــه
په هر لور چه‌د معنا په نظـــرگوری
عام وخاص‌ورځرگند یږی ځو اوصافه (٥)
هر یو اصل به خپل اصل‌ته‌راستون کا
په داورځ خطا یی نشته له‌صرافه
و هر چاو ته به خپـــل عمــــل‌رسیږی
ترو هوری‌به نور څه‌نه وی بی انصا فــه
نه به هیڅ ذره حساب تـــــرحساب کم‌وی
باری‌نه‌به‌هیڅ نښان وی له (٦) اسرافه
هر چه مغز داخلا ص ورسره‌نه‌وی
دمغرورپه‌ځان بلاشی خپله لا فه (۷)

---

۱ـ لرغـونی او دکـتابخانی نسخه «وی» نه‌لری .

۲ـ همیش د (یی) په‌ځای (دی) اود «شی» په‌ځای «کړه» دی .

۳ـ د(صور) په‌ځای دکندهار په نسخه‌کی «صورت» دی

٤ـ همیش : د(ورځ) په ځای «زور»دی.

٥ـ همیش د (اوصاف) په ځای «اصناف» دی .

٦ـ د«له» په‌ځای (بی) دی .

۷ـ همیش (درزدوز ځان) ...، دی اودکتـابخانی په‌نسخه‌کی د «مغـرور» په ځـای (زورور) دی .

پــه اول چه دی اختيـــا رهكمينی كړه (۱)
دتاوان‌وری‌دی سپك دی بوريا با فــه
په دنيا كه هر څو لــوی شی‌لويی مه كړه
كه دی بويه‌دبزر گا نو لــه الطا فـــــه
داستاد په خدمت سم لكـــه‌الف‌شه
دپندارکجی دی ليری کړه له کا فــه
په اخلاص دمخلصا نو يكانه‌شه
اودويی‌كړه ودو بين وته معـــا فــه
ای ميرزا دزړه يقين‌تر ځايه ور وړه
تل دوتا اند يښنه‌مه كړه اختلافه
كه دی زده شی دخپل اصل‌له‌شرفه (۲)
واړه‌چاربه تر شر يفو كړی اشر فــه
كه خاصه درونه بيا مومی له‌كانه
دطلب لاس‌به كوتاه كړی له خذ فـــــه
بی كامله به مقصود له لاسه‌نه‌كړی
لكه در چه‌موندہ نه شی بی صد فـــه
قيمتی عقل دی پا څوه سړی‌شه
دغفلت‌په خوی حيوان يی نا خلفـــه
په ارمان به دواړه لاس پربله‌موږی
كه دا بنه‌ځوانی دی هسی كړه تلفـــه
دغه نن ساعت در څخه‌غنيمت‌دی
دپرون‌انـــد يښنـــه واړه ده سلفـــه
په هيڅ دود به يی‌له لا ســه‌كړلی نه شی
لكه تيرچه په‌اختيار ووځی(۳) له كفه

۱ـ په‌نورو نسخو كی «له‌اوله كــه‌دی...» دكتابخانی اوهميش دنسخی سره سم وليكل شو .

۲ـ دكندهار په‌قلمی نسخه كی د«زده»په‌ځای (زړه) دی او دهميش په نسخه‌كی (كــه خبرشی دخپل ....»)دی ،

۳ـ دهميش په نسخه كی د«ووځی»په‌ځای(والوزی) دی .

دظلمت له عذابو نه‌به دی‌خلاص‌کـــا
که تــه‌ور شی د درو یشــو تر کنفــه
دکامل دنظر هسی رنگـــک‌تاثیر دی
چه لوی‌لوی غرو نه یی ویلی شبی له‌تفه
داحد دبی حدی لــو یــــی‌وگوره
ددیــدن‌حجاب یی وا خست له طر فــه
کل عالم‌دیگانه‌په هستی هست‌دی
پخپل خو ی‌به هر یوشی له خپله صفــه (۱)
دوحدت توتی په کومه ژبــه‌وایی
په هرځــای دده ثــنا له چنگ و د فــه
ومیرزا یی دبـــاورناوکی ورکړل
هیڅ گوزار یی‌خطانه ځی له هدفه
وعر فان ته رسیــده عقـــل‌شریفه
عاشقا ن‌دی ښا یسته کړه له تشر یفه
عجب رنگ دی دبیرنگ پــه‌نظر کښیووت
دوصال‌په هوا وا لــو تـــی ضعیفــه
ښه پتنگ چه وبل اور وتــه‌پرواز کا
پر سوزانه لمبه پر یوت بی ردیفــه
دانسته په‌محبت پسی (۲)روان‌شو
دصورت‌حجاب یی وا خست له کثیفه
په اختیار می ددیدن تراختیارتیر شو
ددیــدن‌حصار یی نشته له لطیفــه (۳)
چه دا فهم ومحبت وبلــه‌ورشی
توره‌شپه‌یی رڼا ورځ شی له تا لیفـــه
درو ښان (٤)ثنا په کومه ژ به‌وایم
هر اوازیی دلالت دی له تعر یفـــه

---

۱ـ دهمیش په نسخه کی(په‌خپل‌کړه‌به‌شی‌هم‌یوله خپله صفه)
۲ـ دهمیش په نسخه کی «پسی»اوپه‌نوروکی (بانډی) دی .
۳ـ دهمیش نسخه دابیت نه‌لری.
٤ـ دکتابخانی نسخه : «مولا»

ذمیمه یی په نظر حمیـــــده کیږی
دصحبت اثر یی تیر دی (۱) له توصیفه
په ځار به زړگی درحم اثـــرنه وی
لوی همت یی مدد گار دی له نحیفـــه
ددو بین دا خپل قوت دځـــان بلا شو
دگومان په رنگ یی واخست له ضعیفه (۲)
په معنی به دمعنـــی اهل پوهیږی
درسمیوسر کار د ی لـــه تصحیفـه
نا دانی پر نادا نانو با نـــدی بار شوه
دانا یانو خپله زیر مه کړه خفیـفه (۳)
دنفاق خرقه یی درسته په اورکښیښنوه
داخلاص جامه یی وا غو سته ظر یفـه
تل هوس یی پر هوس باندی زیاتیږی
داخلاص عالم یی ویو ست له تکلیفــــه
مخلصان یی تر ابد حلقـــــه بگوش دی
ښه وینایی تــل تر تــله دی مـنیفـه
المدام یی له مدامه ســــره ذو ق دی
یوعجب حریف یی بیا موند له حر یفه
واشنا ته داشنا په ژبـــــه وایی
ښه معنی یی له معنی سره لفیفـــــــه
په امید به بی طاعته نه نـــازیږی
بی گناه به ویره نه کا له تخو یفــــه
رسیده فکر اوره دښه بهـــارشو
بی بهاگوهر یی اوری له تصنیفـــــــه

---

۱ــ دهــمیش اودکتابخانی پــه نسخوکی د(تیردی) په ځای «تل وی» دی.

۲ــ په لرغونی نسخه کی (دگومان پارسنگ یی واخیست له اصعیفه) او همیش د( ددوبینو خپل قوت په ځان بالاشی ــ دگومان سپک بار یی واخیست له ضعیفه )

۳ــ دهمیش او دکتابخانی دنسخودامصرع په نوروکی (دانایان دی خپــله زیرمه کــړی ضعیفه) دی .

عام وخاص کا دمسکین پەنامەفخر
چه ویل کرده یی دواړه ده حنیفـــه
دکیمیا نفس یی‌هسی‌رنگ تاثیر دی
چه میرزا یی فقیری‌کا له تصر یفه
دازل قسمت ویشلی لـــەمیثا قه
مستحـــق‌لره ور درو می استحقا قـــه
فانی سرای دبقا یی مزر عـــەده
دهر چانصیب لیده شی له اخـلا قـه
لور په لور دمینی دام دی‌غوړیدلی (۱)
بی‌حسابەزړو نه نسبی اشتیا قـــه
محبوبا له غا فلانو بی نیا زی‌کا
پر مشتاقوتر مشتا قو ده مشتا قـــه
څه عجب بی مثـل بی رنگـەتنسته ده
ارزو مندیی وبله را څکول اشوا قـــه
کل گرانی په همتنا کوا سانی‌ده
سهل چار پەکم همت با ندی وی شا قـه
شو پرك دنمر دیدن سهلا ی‌نه شی
تل پەتوره شپه هو س کا له محا قه
ظا لمان له سمی لاری جـــاروتلی
دفر مان‌عمل به نه کیږی له عا قـــه
کبر جن له خپله کبره خواری‌مومی
لکەسپی‌چه لیو نی شی له خنا قـــه
کم دلیل دتش پندار پەسیوری‌وچ شو
اوس دحلم‌نر می مه غوا ړه له قـا قه(۲)
لکه تاند دنو له زوره تـا زەکیږی(۳)
هسی‌وچ نتیجه مومی له چقما قـــه

۱ـ دهمیش نسخی د(غوړیدلی) په ځـای (غوړولی) لیکلی دی .

۲ـ دکتابخانی اود همیش دنسخی سرەسم نقل‌شو پەنوروکی د (وچ‌شو) په ځای«درومی» اود«حلم» پەځای «علم»دی پەځینی نسخوکی‌د«پندار» پەځای «گومان» دی.

۳ـ همیش اودکتابخانی په نسخەکی(لکه تاندە ونەوی له زوره تازه کیږی .

دیوه کافر بچه په مر ضـــاسو ځی (۱)
دصنعـــان‌دطا عت ډیره طمطرا قـــــه
دین دنیا دی په مثال سره‌دوی‌خویندی (۲)
چــــه‌یوه یی په عقد کښی بله طلاقه
ددی دوو وګړو صلحه به ونه‌شی (۳)
چه رضایی ګو ښی ګو ښی ،مینه طاقه
څه عجب په یوه کور کښی هم‌خانه دی
له یوه‌سره وصال له بل فرا قـــــه
مخلصان له دواړوکو نوفراغت‌دی
چه دیدن‌یی روزی شوی له رزا قـــــه
دریا خرقه یی درسته په او رکښیښنوه
په اخلاص‌کښی ذره (٤) نه وی له نفا قه
په وحد ت‌کښی ددویم حاکمی‌نه وی
پیدا یش‌دواړو خلقو له خلا قــــــه
دیوه تر یوه زیا ته‌شماره نشته
دی(٥) فقیرمیرزاحساب یی‌کړبی‌باقه
دعارف قوت چه وریشی تـــرخرقه (٦)
په اخلاص‌به پا کیزه ووزی له زر قـــه
ددنیا ، د آخر ت حجـــا ب چـــه‌واخلی
ددوو کونوبار به وا چوی له فر قـــــه

---

۱ـ همیش: «په مرضا سوځی» پــه‌ځای(په‌بیانه‌وسو) دی اوپه لرغونی اوکتابخانی‌په نسخه کی «په‌بهاوسو» دی .

۲ـ دهمیش اودکتابخا نی په نسخو کـــی(ددیووګړوصلحه به‌څه شی) اودکتابخانی په نسخه کی (ددیوغوبکروصلح به پسوشی) دی.

۳ـ دهمیش اودکتابخانی په‌نسخو کـــی(دین‌دنیا می‌په‌مثال دی‌سره خویندی)

٤ـ همیش د«ذره» په‌ځای «زړه»دی.

٥ـ همیش د(دی) په‌ځای «د»دی.

٦ـ دهمیش په‌نسخه کی د«وریشی»په‌ځای(ورشی) دی .

چه ښرګند وغیب هیڅ ورځخه‌نه‌وی
تروپر ښه‌باندی به و یرګړ ی‌له‌سرقه(۱)
دماهی له اوبو هیڅ اندیښنه‌نه‌شی
سمندرخه (۲) پروانه لری له حر قـه
وعارف وته تمام جهان میدان‌شو
چه نظـریی ګړ ندی درو مبی له بر قه
پر جنوب او پر شمال یی قدم‌کښیښنو
په یوه‌نفس له غربه ځی تر شر قه
دکثرت قافله هرخودانبوه د ه
دوحدت‌په‌در یاب واړه وینم غر قـــــه
یګانه قرار (۳)وهر چا رسیدلی
له هرچا سره تر مغزه دی تر عرقه
ای میرزا ظاهرعالم‌که لوی، هلك دی
په‌هستی کښی برابروینه بی‌فرقه(٤)
نا بینا که هر څو ډیر ځی بی‌رفیقه
پخپـــل‌قیاس به خبر نه شی له طر یقه
هر څو لاس وپښی وهی پربله‌ګرزی
دګومان‌سا لك به څو ځی تر تحقیقه
چه عالم ور ته حیران حصارولاړ دی
ترحـــدزیاته خلقه په کښی غر یقـــه
کم دلیلو دباور او بازی نـــه‌زده
بیادشك‌ګرداب هر ګوره دی عمیقه (۵)
دظلوم جهول سزا ده خلا ص‌به‌نه شی
چه پـــرسر دجهل بار وړی بی شفیقه

---

۱ـ همیش: «دځړه ویره پری څه کیـــږی‌له سرقه »

۲ـ دهمیش د«څه» په‌ځای په نوروکی«یی»دی .

۳ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو «قرار»په‌نوروکی (اقرب) دی .

٤ـ دکتابخانی دنسخی سره سم‌ولیکل‌شوپه‌نوروکی د (لوی‌هلك) په ځای «تهلکه» اود همیش په‌نسخه‌کی دابیت داسی دی :

«ای‌مرزا ظاهر، باطن که‌لوی هلك دی‌ـپـه‌هستی کی‌برابردی نه‌بی فرقه»

٥ـ دهمیش اودکتابخانی پـه نسخوکـی«کم‌دلیل چه دباور آب‌بازی نه‌زده‌ـ بیا دشك اهل‌هرګوره ترحد عمیقه»

زمهر یر یی له سر دی پیداشوی

اوگرمی‌یی ترجحیم ده لا حـــر یقـه

ترو په گور او په قیا مت به‌یی‌حال خه وی (۱)

چه خوښی‌شوه په حـیات دده تضیقـه

دا سفر به بی مر شده کړلای‌نه شی

بیادپیره فا یده نشته بی تصد یقه

پر خلیل دعنا یت معجـــزه‌گوره

چه په‌اور سلا مت ولاړ له منجنیقـه

داخلاص داهل ځای پر علیین‌دی

دبنده‌سیالی به ځوشی له عتیقـه (۲)

دکامل دصحبت هسی رنگـــک‌تاثیر دی

چه‌بنده‌یی آزاد ی کا له تر فیقـه (۳)

ته هارون په دغه خپله پو هه‌مشه

دشفیق‌په‌چار به ور شی تر شفیقـه (٤)

هر ړانده درنا ورځی قدر څه‌زده

دصدیق‌له‌قدره چا زده بی صد یقـــــه

کل عالم دیوه خدای په هستی‌هست دی

مسلمان‌له اصله یودی څـو فر یقـه

ای‌میرزا له اهله اهل فایده مو مـی

دا پښتو وینا ساده‌معنا دقیقه

---

۱ـ دهمیش‌په‌نسخه کی د«به‌یی‌حال‌خه‌وی» په‌ځای (بی‌حاله خه‌دی)

۲ـ دکتابخانی نسخه دابیت نه‌لری.

۳ـ دهمیش او دکتابخانـی په‌نسخوکـی‌د«ترفیق» په‌ځای (توفیق) دی .

٤ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو د«هارون» په‌ځای «حارص» دی اودکتابخانی په نسخه‌کی دواړه ځایه (شفیق) دهمیش‌په نسخه‌کی‌لومړی‌ځای «شفیق» او دویم ځای (شقیق) اوپه‌نورو نسخوکی بالعکس دی .

ای مسکینه دل هلا کـــه پەدا درك له غیرو پا که(۱)
هر چه غیر یی فا نی کـــڕه دا فا نی نوم به بقا کـــه
با قی یو دی په هر خه کنبی لون لون تما شا کـــه
تما شا کـــا ندی پخپلـــه داعنصر پر مخ ردا (۲) که
که ردا له مخـــه وا خلـــی ملك به لا ندی تر ثنا کـــه
ثنا ختم شوه دلـــی تـــه چه یی وویل لـو لا کـــه
دلـــو لاك معنا و گـــو ره کل حساب ووت له ژوا کـه
ژواك دهر چا په یـــوه دی دیکتا چار ده بی با کـــه
یو بی با کـــه زور ور دی چار یی نه دی بی ادرا کـــه
ادراك پـــاس په عبادت شو بنده نه دی چه خطا کـــه

روح پاد شاه دهر صورت‌دی
ځکه حکـم پر میر زا کـــه

له اوله چه یی پرله میو جام‌کـه
او ساقی‌یی له دی مستو ستر گو وام‌که
گویا قصد یی دعا شق پەخاطروشو
دخو بانو دفتنو زلفی یی دام که
چه هر چیری په جهـــان دردوبـــلاوه
بالکلیه‌یی‌وبله ور وڕه عشق یی نام کـه
چه د عشق اثر پـــــــری‌وشو
خو بـخنـــدا یی پـــر حرا م کـــه
له اوله یی سو زا نه ډیـــوه‌راوڕه
دغه اور یی(۳) پر عا شق با ندی سلام کـه
ودان ځای پـــــا تــــه‌نه‌و
چـه‌ویران زڕه یـــی مقا م کـــه
دچمن گلو نه ډیر دی لـــون‌لون
دزڕه داغ‌یی پر لاله باندی انعام (٤) که

---

۱ـ د(مسکین دلەهلاکهـ پەداورك له غیرو پاکه)

۲ـ همیش د «ردا» پەځای (روا) دی .

۳ـ دهمیش اوکـتابخا نی په نسخوکـی‌د«دغه اور» پەځای (نن‌یی) دی .

٤ـ همیش د«انعام» په ځای «اعلام»دی.

چه دا هسی رنگ دعشق پــه‌لمبو وسو
په داتاو کبنی دی له کل غمه ارام‌که
چه تر دا از میبنت تیـــرشو
کل نعمت‌یی پر هغه باندی تمام که (۱)
او هر څوك چه روزه یی شوه‌له غیرو (۲)
ښایسته‌دیدن یی اجر دصیـــا م کـه
پخپل اختیار یـــی‌راز په ژبه راوړ
دا فقیر میرزا یـــی‌ولی په بد نام که
یگانه محبوبا ولی دی سر تورکـه
دا آرامه‌خلـك‌دی واړه شرا شور کـه (۳)
لکه تاچه غو نچه زلفی کـړی‌پریشانی
دعاشق‌خاطر دی هسی پسی خپور که
دښا یست لښکر دی ټول درسره ویوست
اول تاخت‌دی دعا شق دزړه په کور که
په اختیار (٤)دملاحت دی‌جهان‌ونیو
داتمام‌حسن‌دی خپل دی که دی پـور که
پر هغو باندی به څرنگ‌کراری وی
چه پـه‌پوری دی دخپلی مینی اور که
چه‌د ناز پلو دی ونیوه دوړاندی
په عاشق‌دی دو باره محبت زور کـه
وعالم دی ښا یست ور که لون‌لون
بیادی‌خپل‌ښایست دکل ښایست انځورکه
یوعجب حکمت دی و که دلـی‌باندی
چه‌هر رنگ‌له یوه رنگه نوم یی نور که

---

۱ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو سره‌سم‌ولیکل شو په نورو نسخوکی (هراحد چه‌دی‌تر دا ازمویښت تیرشی)ښه نعمت‌به...،

۲ـ دکتابخانی او دهمیـش په نسخوکـی(چه‌روژه یی‌شوه له‌غیرو)

۳ـ همیش «دآرام‌خلك‌دی واړه‌شروشورکه»

٤ـ دهمیش په نسخه کی د«په‌اختیار»پـه‌ځای (اتفاق) دی .

دا بینا ستر گی دی وینی بی‌جهته
داسلام‌قوت یی کل پر یوه لور کـه

دگو مان حجاب دی لیری کړه‌له مخه
چه تنهادی له تنها سره بیور (۱) که

ملامت پر سلا متوباندی نه وی
محبت یی ومیر زاوته پیغور که

دغفلت له رنځه ولی نه کړی کرکه
ای عجب‌په صورت لوی په زړه هلکـه

لور په لوری دهو س په نغوته ځغلی
دا خالی‌گومان دی درونـد ،په یقین‌سپکه

ددی ځان دسود وزیانه فارغت‌یی
کل مقصوددی په بیدیا شو، پسی ورکه

دا لیده اوریده واړه نصیحت‌دی
چه دزړه‌فهم دی نه‌وی خوك دی څکه

ته یو ځل په امرو نهی نظروکړه
عارفان‌چه‌وپو هیږی هسی کړه کـــه

سا معان چه‌د اواز په رموزپوه شول
همیشه‌دزړه په غو ږو اور یده کـــه

هر عاشق چه تر محبو بـه‌ور سیږی
په یقین‌به نور بیلتون ځینی ونه کـه

که یو ځله معنوی قیا مت‌پری‌راشی
دگومان‌غرونه به لوی، هلك واړه کـه

یو بیحد به دبیحد په‌ستر گه‌گوری
هم وده‌ته کاته به هم په ده کـه (۲)

ترو جهان به قاف تر قافه یومیدان شی
لوړژور به برابر کا ندی په ځمکه

---

۱ـ «دبیور»کلمه دهمیش له‌نسخی واخستله‌شوه په‌نورو دواړو نسخوکی (یولور) دی .

۲ـ همیش (چه دالویی نظر پرواړه‌عالـم‌وکه)

کل عالم به ورته ودری اشتاتاً (۱)
ترو هــرخوك به وخپل اصل ته کاږه که

ښه اختیار یی تن په تن باندیویشلی
بیل پهبیل بهدهر چادصورت کړهکه(۲)

مسکینان له وا ړوبدو قرار شوی
دمیر زا قوت لـــهکومه چهبه ښه که

باور لیری دی (۳) له شکــه — دمحیط در یاب سمکـــــــه
ته په کوم قوت جار وز ی — دلطیف مــزی را م چکه (٤)
احمد یو دی لـــه احــده — که دمیم رشحه کړه حکه (٥)
ددو وستر گو نظر یو دی — ستا ارسی ده مشتر کـــه
نمر ختلی په جهـــان دی — پسو پټ له شو پــر کـــه
سجده څو کړی بی حضوره — دنا سوت کښې ملا چرگکه
یو لههر چا سره یــو دی — حساب تیر تر کروړ ولکــه
حباب ژر په اوبه مات شی — اور حساب غوا ړی له ککه
یو باقی ژوندون به مو می — دفنا دخو نـــد په څکــه
کهدی دالذت تر خوله شی — ځای دی پاس دی له ملکــه
خلیفه دکـل عا لم یـــی — چه معراج دی نهه فلکــه
داجـــهان پـــه تا لیـــده شـــی — دلید و نیو مرد مکـــه (٦)
دا دپښتو سا ده خبـــری — خوند یی زیات دی له نمکه

دمیرزا په مخ قـــدم ږدی
پیر رو ښا ن دحق عینکه (۷)

---

۱ـ دهمیش په نسخه کیِد«اشتاته»پهځای«آشناته» دی .
۲ـ همیش : (ښه اختیار یی تنپهتنپسیویشلیـ بیلابیل به دارواح وصورت کړهکه)
۳ـ دهمیش پهنسخه کـی د(باورلریدی) پهځای «باور لسدی» .
٤ـ دهمیش په نسخه کی (تهپـه کومهنرجاروزی ـ دلطیف مزی رامچکه) .
٥ـ دهمیش په نسخه کی د«حکه»پـهځای«چکه»دی .
٦ـ دهمیش «دلیدونه یومردمکه»
۷ـ دهمیش اوپه لرغونی نسخهکی (دمیرزا پهمخقدم ږدهـ ایدحقیقت عینکه)

نـن مــى وليــــده ولا ړه — محبوبا په پښو با ريكه (۱)
په اخلا ص يى خپسر جوړكړ — او س وجنګ ته تيارى كه
يوعجب يى سپين جمال‌دى — پرى يى دام دزلــف ښښى
خال يى لون لون زيب كــا — پسو ډير ډير مكارى كه (۲)
دوى وروځى تكى تــو رى — پرى دپاسه وسمه كـــړى
لكه او ږ مــى وى نـــر ى — كر شمى يـــى دلبرى كه
دواړه ستر ګى يى ډيوى‌كړى — دغه كسى يـــى څـــو ونــه
او باڼو يى نا وك كـــــړى — په ګذار دوى په‌تهورى‌كه (۳)
بيا يى نته كړه په پـــوزه — ترى وتلى ځنځيرو نــــه
لكه شسته دما هيا نـــو — اوس دزړو ګر فتا رى كــه
دواړه لب يى كټو رى كـــړ — غاښ‌يى دردى ګوښى ګوښى
يو يى چا ه زنخــدا ن دى — بيا په ژبه رهبرى كه (٤)
چه دشاه‌په‌زندان كښيووت — هيڅ علاج يى پا ته نه شو
دى مجنون كه چه څه‌وكړى(٥) — هره چار په هو ښيارى كه
څه عجب يى سپينى ګوتى — پرى دپاسه سره نو كونه
او پلو په مخ نيو لــــــى — په كا ته كښى طرا رى كه
محبو با دزړونو ښكار كــا — نن را ووته له كـــــو ره
پر وحشى چه ګذار وكــــه — ترو به څرنګ قرا رى كــه
هرغل غلاپه‌توره شپه كړى — چه دا پير دار اوده وى(٦)
له هيچا يى ويره نه شى — شپها لوټ په بيدا رى كــه
دمير زا زړه يى تالا كـــړ — له ازا ره نه وير يــــږ ى

لا بتــــره يــــى سزا ده
چه له شاه سره يارى كه

---

۱ـ دهميش په نسخه‌كى د (پښو) په ځاى (څو) دى .
۲ـ دهميش په نسخه‌كى «حال‌يى لونى كه، عالم په‌ډيره مكارى‌كه»
۳ـ دهميش په نسخه كى «اوباڼه‌يى‌تاوكى‌كړه ـ هرګوزار پربيسوارى كه»
٤ـ هميش: د«دى» پـه ځاى «كـه»اود«رهبرى» په ځاى (اميرى) دى .
٥ـ هميش: «كه مجنون وى څاڅكړى».
٦ـ دهميش په‌نسخه كى «چابه غلاپه‌توره‌شپه كړه‌چه‌يى پيردار اوده وى»

چه حسد کا ندی له بینوا بی برگه

همیشه به ی زړه ډك دغم له گر گه (۱)

په دنیا په آخرت کښی به بدرنگ شی

لکه اوښ چه خار ښتی وو زی له ور گه

جاو دان به له ښادی بـــی نصیب شی

غم اندوه به یی رخنه که دزړه تر گـــه

هغه کس به تر ابده ولاړ نـه شی

هر چه پر یوزی دفقیر دزړه له ار گـه

دوصال راحت به هیځ ورځخه نه وی

دهجران په اور به سوزی لکه(٤) گر گه

دده ځان به دخپل ځان په ځان بلا شی

عجب لټ په لټ به واوړی بغر گه بغرگه(۳)

دراحت ژو ندون به هیـــځ ورځخه نه وی

تل عذاب به یی باقی وی پس له مر گه(٤)

بیهوده دی وقتال وتـــه سرکښیښو

چه هرگز یی غشی نه لگی بی تخر گـه

ای میر زا اخر به گل له ښاخه بیل کا

تیره خار چه هـــم نشین شی له صد برگه

ظاهر بین چه و فایی غوا ړی له ځکه

ددوران ولی هر گوره دی لگـلگـه (۵)

قافله یی عجب ښه ښا یسته راغله

پر منزل باندی مقام نه کـه بـــی تگـه

---

۱- همیش: «همیشه به یی زړه ډك وی لدغه مرگه» او ارغونی نسخه (له غرگه) دی .

۲- په لرغونی او همیش په نسخوکی د(لکه) په ځای «نمده» دی.

۳- په قلمی اود کندهار نسخه «غرگه غرگه»

٤- همیش: «د ژوندون رمق به هیځ ورځخه نه وی- تل عذاب ......»

٥- دکندهار اوپه قلمی نسخه کی د«ولی» په ځای «واله» اود «لگلگ» په ځای (الگ)دی.

دحباب په مناره باندی بـه‌کښینی (۱)
چه دبارقوت یی طمع وی له ځګـــه
دهوا په زور به واړه تار په‌تارشی
دنفس‌تـا نسته سسته ده شلګـــه
ښه ژوندون یی په نفس پوری‌تړلی
په اومـه‌سپڼسی اټکل کـوی له رګـه
که هر څو پخپل اختیار باندی‌قادر دی
وقد رت‌و ته لاس نه رسی بی تګه (۲)
په داهسی لار به څښکله تنهائی
چه په‌هیڅ‌قدم یی لار نه ده بی تګـــه
یو شیطان ور ته له څنګـــه‌بغلی دی
لایـی‌ترس دی له نیژدی بخیله‌سګه
دغفلت په خوب وده پا څیدای‌نه شی
وتو ره‌وته هوس لری لـه مګـه (۳)
حقیقت ته‌به هیڅ رنګ‌رسیدای‌نه شی
کم دلیل‌په عقل کم دی له لګلګـــــه
ای میرزا محیط له‌هیچا لیری نه دی
وهر چا وته نژ دی‌دی له ښار ګه
پرون می وپو ښته لـــــه‌دلاله (٤)
په زړه‌باندی می کشف شو څو مثاله
چه دکـل جهان ما یـــــه‌یـی
له تامی په خا طر دی څو سوا له
چه اول زند ګا نی ددنیا څـه‌دی
ویل یـی‌چه ډیر خوب دی یا خیا لـــه

---

۱ـ لـرغونـی نسخه د(مناره) پـه ځـای(نواره) دی .

۲ـ لرغونی اودهمیش نسخه «وقدرت‌وتـه‌بی‌لاسه‌دی ، بی‌تګه» دهمیش نسخه د«بی‌تګه» په‌ځای (بی‌یګه) دی .

۳ـ دهمیش نسخه (وتوری ته هوس لری‌له‌مګه) قلمی اود کندهار نسخه (وتاوان وته هوس لری له‌لګه)

٤ـ دانظم دکتابخانی لـه بشپړی نسخـی‌څخه واخیستل شو.

ما ویل ددنیا بحث په خــــه‌دی
ویل یی‌گرفتاری ده بیهوده له‌قیل وقاله
ما ویل نفسك به په څه رام‌شی
ویل یی‌منگر ور کړی څو گو شما له
ما ویل مثال ددنیا څــــــه‌دی
ویل یې زړه‌ده په‌مخ یی‌یښی یوڅوخاله
ما ویل ددغو له حـــا لـــــه‌وایه
ویل یی‌غم‌یی خوړ دن دی څو ملا لـــــه
ما ویل دظالما نو اصل څــه‌دی
ویل یـــی‌یو لیوه په څو اشکا لــــــه
ما ویل چه کتخدای شی حال‌یی څه‌وی
ویل یی‌هوس لړه اندوهه څو کا لـــه
راشه ای میرزا ثنادخدای کړه
چه باقی به جاویدان‌وی بی زوا له
داشنا په خوړ خرا به دلـــــه‌دله
څوك‌دی‌کوم علاج په چا کا کله کلـــه
ته پخپله دخپل ځان‌په ویرانی‌وی
چه پـــرسر دی دغم تیغ وز له زله (۱)
محبت ودانه مینه ویـــــــرانوینه
ته وځان‌ته اشارت کړه کلــــه کلـــه
نبی نبادی دی وغا فلو وتـــه‌پریښوی
اوس‌دغم پر غو لی راغلی مله مله
دقتالو صف پرتا باندی چا رپیر دی (۲)
لور پـــه‌لور هسی نا ری چه وله ولـــه

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی «چه‌په سردی‌دغم تیغنه ژله‌ژله»

۲ـ همیش: (د قتال وسر پرتا چوپیـر شوی ....)

خالی ځای می پاته نه شو پروجود (١)
چه لیده شی سپین خدنګ تر تله تله (٢)
چه په قصد وهسی جنګ وته هوس کړی
اول خپله خونریزی کړه پله پله (٣)
چه له هسی خوارِه عمره نــاراضی شوی
ترو ومرګ وته هو س کړه زغله زغلـــه
له پر یشانو اند یښنو پریوه لور شه
تل دو تاا ندیښنه مه کړه بله بله (٤)
سل سل کم همته هیڅ دی که باور کړی
یو تنها باور یی زیات له سله سلـــه
ای میرزا پخپل اختیارله ځایه پاڅه
دون همت اند یښنه مه کړه بله بله (٥)
که دی زده شی ددی مینی له منزله
اشنا یی به له چانه کړی تل تر تلـــه
که هر څو دی وبهار وته هوس دی
دخزان له حا له وپو ښته بلبلـــــه
چه منزل دی دسیلاب په مــخ کی کښیښنووت
هر قدم په فهم ږده په لوړه مله (٦)
چه خاطر دی دهوا ونغو تــی ورکړ
دهلک په دود دبام تر سره ځغلـــه
په جهان تر اشنا یی خوا ږه څه نشته
دهجران تلخی یی زیاته یو په سلـــه

---

١ـ لومړی مصرع دهمیش په نسخه کی داسی ده «خالی ځای دیوستن پاتونه شی»
٢ـ پــه قلمی اود کندهار پــه نسخوکــی (دبېو غشی دی هسی وورېده شی تله تله)
٣ـ همیش: د «قصد» پــه ځــای «مقصداود «پله پله» په ځای (پس له بله) دی.
٤ـ د همــیش له نسخی نقــل شــو پــه نوروکی «چه آخرشی دنه کړلو ډله ډله»
٥ـ همیش (ای میرزا پخپل اختیار ترځانه تیرشه ـ چه آخــر سبه دی نه شی ډله ډلــهٔ)
٦ـ دهمیش دنسخی د «مله» پــه ځای پــه نوروکی «تله» دی .

سنگر یزی په میوه دارو ونوووری
ددی غم له باره خلا صه ده دا ولـــه
رنگ وبوی داشنا یی ورسره‌وو
دشمشادد چنـدنِ لار یـی و هلـــه
نور تاوان دهیچا هیڅ ورپاته‌نه‌و
خپل هنریی‌د پښوبندشو په‌تږله(۱)
دا خود رای فلك دچا په رضانه‌دی
لږ په‌مراد دځینو ور شی کله کلــه
افرین ددرو یشانو په دلیـــل‌شه
چـه‌دنیا یی درو غجنه وبللــــــه
حقیقت به ودانا وته څر گندشی
چه پـه‌زړه یی دحق مینه وکر لـــه
هغه کس چه‌د کامل څـــراغ‌روښان که
دروښان‌روښنا یــــی ور غله تر دلـــه
ای میرزاپخپل مقدارخبری وایه
ښه وینا دشپی‌ډیوه‌دور ځی تله

| | |
|---|---|
| نن به وکړم څو کلا مـــه | دمحبوب له بزر گه نا مـــه |
| چه یی نوم په کار یاد نه شی | هغه چار شی نا تما مـــــه |
| په وحدت یی خبر وا خست | دکثر ت له سر انجا مـــه |
| په لاهوت کښی یی جلوه‌کړه | نا سوت ډك شو له اوهامه |
| دالست پیاله یی را کـــړه | دازل له مسته جـــا مـــه |
| دا جـرعـه دحقیقـــت ده | په غا فل با ندی حرا مـــه |
| غافل خوښ‌شوپه غفلت کی | بی بهره دی له مدا مـــــه |
| چه یی داپیاله ونه څښلـــه | جاو دان شی بی ارا مـــه |
| کم دلیل حقیقت نـــه زده | کل کوښښ یی بی مقا مــه |
| له دانشه بی نصیب شـــو | عقل غوا ړی له انعا مــــــه |
| که انسان یی‌می به‌نوش کړی | وصلت نشته بی دوا مـــه |

۱ـ لرغونی اودهمیش په نسخه‌کی (خپـل‌هنر ددواړو ولی وورژله)

دا سفر به هغه وکـــــا چه په زړه دروِمی بیگا مــه
هر چه دا رفتن یی بیا موند دانا درو مــی تر قوا مــــه
که‌د شاه په کیل دی زړه دی لیری نه دی ستا له گرا مه
له عاشق سره کنـــار شـــوه نن را کو زه شوه له بامــه
دا مونده په‌نور څه نه شی مگر ور شی تر امـــا مــــه
چه زرشل کاله یی وشو ه داند وه وعـــــده تما مــــه
دإتناب پریکړای نـــه شی پیو سته شو تر قیا مــــه
نن میر زا په پښتو کــړی
کل صفت لـــه الف لامـــه

په سو(۱) ډیر یی ددنیا پـــریشانه غمه
په هر زړه‌دی وریځ مښتی ده محکمـــه
دا خوږ عمر په سړیو باندی‌تریخ شو
دصحت‌غړلی دی ونیــوه المـــــــه
دخزان دلمبو تاو تر عا لــم‌وخوت
در یغـــه دریغه دبهار سره شبنمـــــه
لور دلوری اند ښښنی په زړه‌څر خیږی
څوك‌خبر نه دی دفکر له مر همـــــه
دا لذت شهوت په خلکو باندی‌خوږ شو
څکه هیرشوی دحیات شیر ین دمـــــه
یو بی مثله له هر چـــا سره‌محیط دی
نا اشناماهی خبر نه دی له یمـــــــه
په وصال به ډیرقومونه په‌فرمان‌وای
که چـــازده وای حقیقی لویی خاتـــمه
دجهان نښانی واړه دی پــــه‌ځان کښی
په پادشاه‌یو ری ساتلی (۲) یـــی حشمه
دا صورت په مثال ښار زړه‌یی تخت دی
معر فت‌لکه عیسی ،عقل مر یمـــــــه

---

**۱ــ دهمیش نسخه (په‌څو)دکندهار اوقلمی نسخه (څه‌شان)**

**۲ــ دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی د«ساتلی» په‌ځای «تړلی» دی .**

دسکندر دآیینی ننداره چــاکړه
دا جهان په جام کښی چا لیده بی جمه
ای میرزا په عمل علم تفاوت دی
دبی حد هستی لههرچا سره سمه

زړه پسو وفا یی غوا ړی — له دی بی وفــــا صنمــه
څو دغه هنر در څخـــه — ځان به نه مو می بی غمه
چه هو س له دنیا غوا ړی — په خندا کښی به وژا ړ ی
ددی اصل لــــه ښا دی — گهی زیا ته گهــی کمــه
هغه زړه چه اختیار وړ که — ورځ په ورځ به حال بتر که
چه قارون یی پرځای پریښو — هسی پاته شو له جمــه
ددنیــا مثــال سراب دی — او طالب یی په عذاب دی
چه په راغله یی هوس که — په غم ولاړ له دی عا لمــه
دنیا سرای ددیوا نــه دی — او بازار یی ویرانــه دی
قرا ری پری با ندی نشته — ځینی تله دی دم تر دمــه
مخ یی وینه څړه څټ دی — څرگند عیب پسو پــټ دی
له اندو هه به خلاص نشی — چه گر فتار یی دی په تمــه
تل فر یب و مکــا ری کا — هر عمل په طرا ری کـــا
لکه لو ن (۱) د غنمـــــو — رهبری (۲) کا له آد مـــه
کل اشیا ددی زینــت دی — پکښی دام دملا مـــت دی
چه له دی غمــه ازاد شو — ترو ښا دی پری مسلمــه
که په دا نظر یی وینـــی — سود وزیان له خپلی مینی
دمر شد خبره پند کــړه — ورځ رو ښا نه لار ده سمه
ته دزړه ستر گی بینا کړه — دگو مان اوره فنــا کــړه
دمعنـــا مثا ل لیـــده دی — کسی تور دی له قلمـــه
قلم گر زی سر پر یکړ ی — څه صفت کا دغــه مړ ی
دا ستاد له لاسه روغ شو — ډیر ډیر فیض له رقمــه
میر زا خپل خویونه سوی — د کا مـل په امــر ژو ی

چه له مر گه پخوا و مـــری
جسم اسم لـــه اعظمـــه

---

۱ـ دهمیش نسخه «لونی» .

۲ـ دهـمیش نسخه د «رهبری» په ځـای«رهزنی» دی .

دجهان له حاله څه وایم تـــر کومه
دهستـــی صفت به څو کړم له معدو مه

ددنیا ناوی بی حده ښا یسته‌ده
که یی خوا ښی وفا یی لری له زومه

یو افسون یی پر جمله عا لم کښی پوکړ
چه باطن وا ړه مجهول، ظاهر معلو مه

چه هر څوك یی ددانش پـــه نظر گوری
دنادان تر فهم ښه له ښو محرو مـــه

همیشه ددی دنیا وفا یـــــی نشته
کم دلیل دعقل قیا س که له نجو مـــه

دغافل داخپل غفلت په ځـــان بلا شو
وخزان وته پناه وړی له سمو مـــــه

داخلاص اثر یی هیڅ په‌زړ گی نشته
په تحقیق عبا دت غوا ړی له رسو مـــه

دمشر کو دباور ستر گـــــی ړندی دی
چه‌دفهم دیدن بیل کا له مو هو مـــه

بد گومان یـــی همیشه دزړه کاهښس شو
په حیات صورت به خلا ص نه شی له‌پومه

په تاریکه شپه ارمان کا ندی دورځی
اوروښانه ورځ بـد لـه که په شو مـه

دمیرزا خبری لږ معنایی ډیره
بینایی چه‌ده په‌کسی کښی مکتو مه

دا شیرین اشنا چه ډیر ډیـــر یادومه
په‌دا بزرگ نامه یی سود دزړگی کړمه

له دی هسی یار به څر نگـــك صبوری کړم
چه په زړه‌دصبر نخښی نه وینمــــــــه

همیشه یی په دا فکر درمانده یــــم
چه ددی علاج به څه کړم څوك پو ښتمــــه

ددیدن په هوس درست لـــه‌پردی ووت
دابی رنگـــه‌زړه په کوم ځنځیـــر تړ مـــه
مگر زلفی دخو بانو یی په‌مخ‌دام کړم
اوخا لونه‌یی‌دانی په کښی پاشمه (۱)
دعالم هنر به واړه پری تمام‌کړم
که‌سرکښس خاطر په غیږ کی ونیسمه
سر تر پایه په هوا باندی پریشان شو
چه اثـریی په هیڅ لوری نه مو ممـه
په اشنا پسی له شش جهته‌ووت
زه لـه‌شش جهته څښکل ووز مـــه
هیڅ خبری په هیڅ لوری‌مونده‌نه شی
له طلبـه‌نه کښینم نه پسی ځمـــــه
دصورت حیات یی زړه دزړگی‌روح دی
تروبی زړه‌بی رو حه څښکلـه پا یمـــه
یو رمق می له ژوندونه پا ته‌نه‌شو
بی خبرله ځانه لاس وپښی وهمـــــه
دغه مرگ می‌تر ژوندون رالره‌به دی
چه دخپل‌اشنا په مینه ځان ښند مـــه
نن میرزا په تر کوجود هسی گواهی لی
چه له دی هستـــی‌نیست شوم هست به شمه
بی وفا محنت به څو څکـوی‌تر کومه
په امیددسحر گری دنیا زو مـــــه
دا خالی طمع دی وزی ده‌فریادکـــا
دحرص‌خوله‌یی تر هنده ده تر رو مـــــه
دزینت لذت یی ځای په ځـای‌دانه که
اود ځمکی‌مخ یـی ونیـوه پـــه لو مه
هر سړی چه دهوس په حلقه‌کښیووت
دم په دم‌یی پری کوی له مرزو بو مه

---

۱- دهمیش په نسخه‌کی «اوخالونه یی‌دانه پری وکرمه»

واړه بود یی دنابود په اجـــرورکې
دهستیهنر غوا ړی له معدو مـــه

هیڅ اثر دفرا غت ور پاته نـهشو
زړه یی‌ډك دی دغمو نو له هجو مـــه

په ریا دخلکو نمری رنگـــوینه
ددروغو بوی یی تل خیژی له خو مه

بد خارښت یی په نادانو باندیخور که
دانایانخپسر سا تې له هسی بو مه

عار فان له وهم وفهم لـــریراغله
دو همیوسر یکار دی له مو هو مـــه

ظا لمان له خپله ظلمه پـــهعذاب دی
همیشهدرحیـــم رحـــم له مر حو مه

دهر چا عمل په نیت پـو ریتړلی
هر سړیله خپله نیته بخره مو مـــه

نی شکر له خپله اصله خوږهمومی
دتلخـیاثر یی‌نه ځی له زقو مــه (۱)

در ښتیا خبر ی قدرپهچاکم د ی
دمیر زاصورتخرگندمعنا مکتومه

بله مه وای دهجران تیـــــرهخارونه (۲)
چه همیشپه خوږو زړو کا پر ها رو نه

وسکه غم دحیات یی سر مایهدی
پههر چاباندی روغ کړی بازا رو نـه

که پر ځینو باندی ور شیکلهکله
دفقیر پهزړهپرا ته دی انبا رو نـــــه

---

۱ـ دهمیش پهنسخهکی «دتلـخی اثریی‌زیږی لهزقومه »

۲ـ پهقلمی اودکندهار په دواړو نسخوکی(بولوی‌می) اودهمیش پهنسخهکی«بدیمیویدی دکتا بخانی پهنسخهکی «بـل موی» لیـکل شوی دی .

غم اندوه دی لور دلوری غلبه‌شوه
عجب‌خولی را لگوی لکه ما رو نــه

په دنیاکښی چه‌بنیاد داشنایی‌کا
جدا یی‌پری باندی تل کا نا تا رو نه

پر باڼو یی لویی لویی او ښی‌درومی
لکه درچه وپیی په تور تا رو نـــــه

ما وی زه به حصا ری دصبر وکړم (۱)
گرمواوښو می را ما ت کړه حصا رو نه

چه جرس می له فراقه نــاره‌وکړه
پردیسو زلمیو وتړل با رو نـــــه

دمهرو یو کډی لاړی لـــــور په‌لوری
لکه‌په گڼ‌انبوه کښی وشلیږی ها رو نه

چه خاطر می په اشنـــــا پسی‌کوښښ کا
لکه مست‌قطار ښکـــوی په مها رو نـــه

چه دا هسی پریشانی‌در باندی زور شوه
ای میرزا وسکه دی‌ډیر کړه ازا رو نه

دنو سك پسر وی ولی کړ ی نادانه
په‌نادان‌پسی به ورشی تر زندا نـــه

نتیجـــه به پښیما نی له دی ځای یو سی
که پـــه‌مینه همنشین شی له بدا نـــه

ترو هاله که ارمان کړی فایده‌به‌نه وی
چه‌دپلك په قوت ور شی تر سندانه

اوس له نفسه سره جنگ درلره به دی
نه چــه بخره(۲) می‌خواری‌شی جاودانه

بی زواله باد شاهی بـــه دی‌روزی شی
که داهسی بری یوسی‌له میدانه (۲)

---

۱- لرغونی نسخه (ماوی زه‌به کوټ‌دصبر روغ‌کړم)

۲- دابیت دهمیش له‌نسخی‌نقل‌شو په‌نورو نسخوکی نشته .

په دا هسی غلیم ځه لرهسرفه‌کړی
چه په‌واك یی دیار مینه شی ودا نه
هر زمان پخپل اختیار با ندی‌قادر یی
که ووقت‌وته بیدار اوسی کار وا نـه
له فانی جهانه تله دی دم تـردمه
دمهلـت‌طمع به ځو کړی له گر دا نه
دصفات جامه پـــه ذات ده‌مرتبه
له عد ده‌به بیل نه شی عدد دا نــــه
دخبری په معنا هغـــــه پـوهیږی
چه یی‌فهم رسید لی تر نا دا نـه(۱)
ای میرزا که هـــرځو ډیر لونه ویل شی
کل صفت دی لـه‌یوازی همه دانه
بنه پتنگ چه ډیوه ولیـــده‌رونبانه
دی لیدویی پټـــه مینـــه کړه عیا نه
جینا یی په رو ښنا یی باندَی‌شیدا شوه
دخپل‌ځان خبر یی بیا مو نده‌له‌ځانه
له هوسه وهوس وتـــه روان‌شو
دصورت‌حجاب یی وا چاوه له میا نه
پسو مرگ یی دوصال دپـاره‌وغو ښت (۲)
تر ژوندون‌شوه جدا یی پر باندی گرا نه
له فنا په‌فنا هسی رنگ خـوښیږی
لکه سخت‌بندی چه خلا ص شی له زندانه
چه رضا یی داشنا په رضـــاکښیښوه
ترو گرانی‌تر اسا نی شوه پری اسا نه
له فنا تر بقا یی یی پـــوری‌راغی
دکمال‌ویره یی نه شی له نقصا نـه

۱- دهمیش نسخه یی نه‌لری.

۲- دهمیش په‌نسخه کی د (وغوښت)پـه‌ځای «واخیست» دی .

معرفت یی ترتوحیده پوری ورووست
دایمان‌پرملك یی نشته بی ایما نــــه

په خاطر یی تل تر تله نوربهارشو
دگلــزاراندوه یی نه شی له خـزا نـه

هر زمان یی دمعنا په ستر گوگوری
په هر څــه‌کښی شته نښان له بی نښا نه

دا میرزایی دخپل زړه په رڼـا پوه کړ (۱)
ته همه یی په همه کښی همه دا نــــه

لر غونی یی هم اوسنه (۲) هم تازه یــی هم ر یمنـــه
گه زړه شی گهی څـــوا نه بیا ساده یی مکر جنـــه
په خواږه کی دی تر خه دی له ښو بد ،پر بد مینـــه
عجب لیری نژدی بو لـــی چه نژدی وی بیخ یی کنـه
صورت شهد ورخرگند کړی خوی دی څرخ‌شی ،لکه ستننه
چه نهال شو ستا له لاسه بیا یی ولی وور ژنـــه
که څوك زړه وتا ته در کا ته یی را څکوی پر غنـــه
عالم تاله لاری ویـــو ست دگنه هیر ښا یسته ونــه
چه هوس له دنیا غوا ړی تل پرځی دغـم ریځنـــه
بد گون یی تا نسته کـــړ کینه قهر پر ی پینـــه (۳)
په خوله څر نگه استاد شو ورځ په‌ورځ کادا او هنـه (٤)
شیطان تګـی در ونـــه د ی دی په زړه کښی کا وهنــه
زوی وپلار سره دښنه کــا میندی لو نــی لکه بنـــه

۱ـ لرغونی نسخه «دامیرزایی درمـوزپـه‌مثال پوه که»
۲ـ دهمیش په نسخه‌کی (لـر غونی‌نه‌یـی‌اوسن).
۳ـ لرغونی نسخه «کینه‌قهریی پیړنه»
٤ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو نقل شودهمیش په نسخه‌کی د (او هـنه) په ځـای «اودنه» دی . په نورو نسخوکی داسی دی «ظاهر څرنگه ارامه» دی .

رو ښان غر شو ددوو کونو دغافل ستر گـــی لچنـه
میر زا وایی حال دغه دی
که څوك زیان کا یا گټنــه

دبلبل چه اشنا یی شوه لـــهسمنه
ددی گل په مینه راغی تر چمنـــــه

دا تمام صورت دزړه په رضادرومی
اود زړهسفر دستر گو له وز نـــه

که هر څو په حجا بونو کښیدی نغښتی
ددیدنپه مینــــه ووت له بد نـــه

په هوس یی دملکو نو پادشاهی کړه
دنظر پهنغو ته ولاړ شو له وطنـــــه

اختیار یی دپتنگ تر فهمهښهشو
چه پهبله لمبه پریو وت له چمنـــه

داشنا محبت زور پری باندیوکړ
دغه اورپری ښا یسته شو له گلشنه

چه دا هسی شها دتور څخهمومی
وښا دیوته به ښه ځی له شیو نه(۱)

په باور کښی له جمله اختیارهووت
لهمردهؤسره پروت دی بی کفنـــه

او صورت یی دیوسف بوییدمشکو
اود عشقلوگی یی ځـــی له پیر هنـــه

کل عالم یی له دی بویهمعطـرکړ
دعطاروزړه یی وا خست له ختنـــــه

او ظاهر یی په باطن پرور دهکړی
په هرڅهکښیتماشا که لهسجنه (۲)

---

۱ـ دهمیش په نسخهکی (شیون) اوپهنورو نسخوکی «شونه» دی .

۲ـ دکتابخانی او همیش دنسخو د«سجن» پهځای په نوروکی (جبنه) دی .

معر فت له محبته ور پیـــداشو
دبزرگی‌خلعت یی زیب که له قر نـــه
دا مر زا وینا پـــه‌خامه ژبه وایی
او معنا پر عار فانومعینــــــــه

نورو سر سره څه شینـــه　　لکه علم وهستی (١)دینـــه
سر له نو ره پیژا نده شی　　نور بی سره نه پا یینـــه
مینه نه شی بی دید نـــه　　دیدن بنه ایسی په مینـــه
عشق په عقل بنا یسته دی　　عقل بی عشقه مه وینـــه
باطن واړه په ظا هر کښـــی　　هر ظا هر با طن لر ینـــه
معر فت دی تر تو حیـــده　　عبادت دی تر یقینــــه
هر چه واړه یگانه کـــا (٢)　　پاس پر تخت به وخیژ ینه
دی مسجود دملا یك شو　　خلا فت پر ده بنا یینـــه
چه په اسم اعظم پـــوه دی　　ځان له ځا نـــه پیژ نینه
دخپل زړه پر تخته‌کښل که　　بی کرام الکا تبینــــه
میر زا مدح دکا مـــل کا
چه یی دا فهم رسینـــه
داسلام گرو هـــه(٣) متینـــه　　را پیدا شوی له یمینـــه
دیسار لښکر یی مات کـړ　　تل دفتح له جبینـــه
چه گومان له میا نه وو ت　　ملك دی وسا تـــه یقینـــه
پاد شاه حکم په عا لـــم کا　　هیڅ ځای نه وی بی امینـــه
عقل تله حقیقـــــی ده　　دلی چاړ په کښی تلینه(٤)
روح له حقـــه خلیفـــه دی　　پا یتخت لره به ځینـــه
له نور چا سره نـــه او سی　　چه څوك نه وی دی به وینـــه
رنگ یی چا لید لی نـــه دی　　یو بی رنگه رنگ لر ینـــه
له نیاز منو بی نیا زی کـــا　　دبی نیاز وناز سهینـــه

---

١ـ دکتابخانی په نسخه‌کی د (هستی) په‌ځای (هسی) دی .
٢ـ دکتابخانی په‌نسخه‌کی «هرچه دواړه»دی .
٣ـ دکتابخانی په‌نسخه کی‌د(گروه)په ځای(گرده) دی .
٤ـ دهمیش په‌نسخه کی (دلی چاړ)په‌ځای«ویل چاری» دی .

دچا قهر یـی هنـر کـــه    دچا عیب کا خپله مینــــه
ځینی دین په دنیا پیـــر ی    ځوك دنیا غوا ړی له دینــه
ځینی گډ شی بی ویلـــــو    ځوك که وایی نه بهشینه(۱)

میر زا بد پرښو نه وا یی
نه ځوك وژ نی بی سکینــه

نن زما پرخپل اشنا شی ډیره‌مینه
وا ړه‌دوك له خپلی مینی را رسینــه

گه گهی دزړه په ملك کښـــی‌پاد شاهی کړم
گهی غم‌راته لښکر شی ودر ینـــــه

ښه دیدن لکه باران په تا زه‌کیږم
جدا یی‌په مثال اور په ما لگینـــــــه

په تحم ل‌زما خراب خا طر وررسیږی
او که آه‌کړم ډیر عالم به وسو زینــــه

محبت خبری گرمی تر لمبـــه‌دی
کا تبان‌به یی په کو مو گوتو کښینــــه

چه قلم په دا لمبه کی لو غړن‌شی
تروباریك‌کاغذ به یی ځښکله سهینـــه

یکباره به قراری له خلکـــــوپاځی
که دزړه‌شعله تر ژبی تیره شینـــــه

دعشق اور می یو په یو تـــرعالم پریووت
په‌محل‌به یی ځوك څه حصار وینه (۲)

هغه راز چه په خلو ت کښـــی‌پوشیده و
په بازارعالم دغه خبری کړ ینــــــه

---

۱ـ دهمیش او دکتابخانی دنسخو دابیت‌په نورو نسخوکی داسی دی (ځینی گډشی بی ویلو ځوك نه وایی بی پوښتنه.)

۲ـ دکتابخانی په نسخه کی دابیت داسی‌دی :

( دعشق اورمی یو په یوترعالم پریوت ـ په‌محفل به‌یی ځوك چه حصار وینه)

او قسمت یی دهر چا جــداجدا کړ
لاس‌وپښی‌په خپل مقصود پسی وهینــه
او میرزا په بر هان‌پور کښی ننداره کړه
له اصلی وطنه‌راغی‌بیا به ځینه
که دزړه دحال خبر شی تـــه‌مسکینه
ای لــه‌یار سره همدر ده همنشینــه
دمعنا اصل دی هـــم پسی وغواړه
په‌صورت‌یی تر همه عا لم مهینـــــه
بد گومان دی دیقین په کسی‌کښیووت
چه دا یویوازی دوه وینی دو بینـــه
دبی فهمه سړی هسی رنگ‌سزاده
چه دزړه‌تخته یی توره سترگی سپینه
داشنا له ساده گی‌نا اشنـــاشو
دکثرت‌جامی یی واغو ستی رنگینــه
چه تمام وجود دی عین کسی‌نه شی
ددی یارمخ به په کومو ستر گو وینه
محبت دی‌وهر چا ته رهنمــاکړ
دهر چادزړه(۱) دارو شوه خپله مینه
چه هر څو کدی پخپل ځــا ن‌پسی ستانه کړه
ای‌دکفرپه ځان کفره ددین دینـــــه
وهر چا وته دی خپله رضــاکښیښوه
حق‌په‌حق ومسلمان هندو امینـــــه
په زنارتسبیح دی‌راښکول‌دوی‌دواړه
ته‌همیش‌یی‌په داخپله چا ر متینه(۲)
معرفت دی دبندیانو آزادی ده
دمیر زا دزړه‌تکیه، ده‌سر بالینه

۱ـ دهمشین دنسخی د«زړه» په ځای پــه نوروکی «زهرو» دی .

۲ـ دهمیش په‌نسخه‌کی دابیت نشته .

پووندە ومزارع تە وكـــــړەسانە (۱)
دزړەذكر دی پتهی شو پولەپانـــە
دحضور زمان لە ذوقە خبر نەشوی
تل دگا ندەپە غـــم لىنىلی ای انجا نـــە
دحرص طمع دی څە ډیر اوږدەدە
چە پەځمكەكښی ورستە كړ ی غتە دانە
كە حریص دزیړو زرو پە تخت‌كښینی
دقانع ترفهمە كڅ ښە دی بی با نـــە
دغە بخت د بختور پەحسا ب‌نەدی
زناردارکەور تە ډیر وایی گلیا نـــــە
ښە دهقان عجب ځواب پـــەصواب وركړ
چە پخته‌كلام دی ووایە سنجانـــە (۲)
دمعنا پە حقیقت یی نظـــــروكړه
ورغستلی‌وینا مەكړە ښەیی وا نـــە(۳)
حق باطل یی پە تحقیق وځبلەبیل كړه
ددی عقل‌پە غلبیل كښی یی وچا نـــە
پە پریشان خاطر بە چیـری‌فراغت كړی
شپەوورځ‌دە پە بار گیر با ندی پلا نـــە
تفاوت دنژ دی لیرو اندیښنودی (٤)
كل پە بادپوری تكیە دی څە یی كا نـــە
څو دجهل پە خویونوكښی محكم یی
دمیرزا وینا بە څەاروی پتانە

---

۱ـ همیش «پوهندە ومزارع‌تەوی كرسانە» دكندهار پەنسخەكی «سانە» تە (خبره) لیكل شوی دە .

۲ـ لرغونی نسخە د (سنجانە) پە ځـای (سوجانە) دی .

۳ـ همیش د(وانە) پەځای «دانە» دی اود«ورغستلی» پەځای (درغستلی) دی .

٤ـ دهمیش پەنسخەكی «تفاوت دنیكو بدووكړای نەشی» .

ډیر منت لرم لـــه هسی ښهښیکنه
چه می بیامونډ طریقت حریفجوګنه (۱)
په ادب می دتوحید پو ښتنـــه‌وکړه
په رموزیی ښښان راکړ له پتنـــــه
تیره لور دالا الله یی را پـــه‌لاس کړ
چه‌په‌داته (۲)غـــیر الله لـــه زړه و سکنـــه
څو له خاره له خا شاکه خالی‌نه‌شی
پـــه‌پتهی ګلو نه نه کری ما لنـــه
درنګر یز هنر به هاله پـــری‌څرګند شی
چه کوره‌جامه‌یی پریمنځی دوبنه (۳)
دذاکر خاطر له غیرو پاکیزه‌شو
چه‌په‌هرنفس یی ذوق‌شی له سجنـــه
الا الله پاکیزه تخم دو حـــدت‌دی
ته‌یی‌کړه اوس(٤) دباور په اوبوپنه
دمشتاق ژو ندون په وصل‌داشنا دی
دحیات‌حیا تی نه شی بی جیو نـــه
نیك وبد وبله نژدی څبلـــه‌جدا دی
له میوی‌سره اغزی لری کر ګنـــــه
دغه لوی نوم یی دهر نا مـــه‌مصدر کړ
که هیڅ‌نوم یی بیرون نه دی له انګنـــه
ای میرزاکه یی‌دخوی‌بهتری‌نه‌وی (۵)
دسید تفـــا وت څـــه دی له با نبنـــه

---

۱ـ (جوګنه) دکتابخانی اودهمیش په‌نسخوکـــی همـــداسی ده او پـــه نـــورو نسخوکـــی «جګنه» ده دکندهار په نسخه‌کی د (سیدقوم‌وبلند رتبه درعرفان وعشق) معنا ورته لیکلی شوی ده دکتابخانی په‌نسخه‌کی د (ښکنه) په‌ځای «شکوڼ» دی .

۲ـ دکتابخانی په نسخه‌کی (چه مدام)...،

۳ـ دکتابخانی په نسخه‌کی «چه‌کوره‌ختری» دی اوپه لرغونی نسخه‌کی (خزری) دی .

٤ـ دکتابخانی په نسخه‌کی «یګانه».

٥ـ دکتابخانی په نسخه‌کی «ای‌میرزاکه‌نیك‌عمل درڅخه نه‌وی»

که راووزی دنا سوت له توره‌بنه
پەسادە جامەبەبیا مومی ما لنـــه(١)
ملکوت یی دپا کا نو کنبلـــی‌هار که
جبروت‌یی درو حانو سها گنـــــه
او لاهوت یی معر فت دعـارفانو
چه هیخوك‌یی خبر نه دی له پر ینـــــه
تل په ذات شها یوه ده بـــی‌جهته
په هرلور یی دصفات انبو هی گنـه
یو عجب بنایسته منی یــــی‌پیلی
چه هزارویك یی لږاته کـــږ ینه (٢)
همیشه تر دا ځلور څـادر دلاندی
عجب (٣)ذوق وتما شا کا له سجنـــه
پاد شا هان یی تر ابد حلقـه‌بگوش وی
درو یشان که‌زږ و نه‌کږ ی دعشق کهنه (٤)
پر سپین مخ یی توری زلفـی‌جار وتلی
دبنا مارو سر یکار وی له چند نه (٥)
چه له هسی محبو بایی‌اشنایی‌شوه
ددبننـو ورسره صلح بی بند نـــه
دیوانه له خپله عقله بیگا نـه(٦) شو
پەدریاب‌با ندی قدم ز دی بی پتنـــه
دفقیر میرزا په کسی‌قدم کنبیږده
داشنا دمعنوی سترگو انجنه

---

**١ـ دکندهار په نسخه کی د«مالن» معـنا(دغیرالله نه دزړه پاکونکی) لیکلی‌دی.**

**٢ـ دکندهار پەنسخەکی(گږین) تەد«زیور» معنی لیکل شوی ، بنایی‌د «گانه» سره ربط لری .**

**٣ـ دکتابخانی پەنسخەکی د«عجب» پەځای (پسو) دی .**

**٤ـ دکندهار نسخی د«کرهنه» مخففبللی‌دی .**

**٥ـ دابیت دهمیش نسخه نه‌لری .**

**٦ـ دهمیش پەنسخەکی د (بیگانه) پەځای (یگانه) دی .**

څو ژوندون دیدی‌په سه(۱)　　مقصود وغوا ړه ابلـــــه
تر ښارګ وتا نژ دی دی　　ته غلط درو مـــی لـه ره
دغه تګ دزړه په پښو دی　　دا خـلا ص لا ر ده کـو ته
څو دی سترګی بینا نه شی　　نه به نمر وینی نه مـــه
دحر ص په خوږ لیچن یـی　　تشس پندار در با ندی پـه
فقیر خپله فقیری کـــا　　سود وزیان دی له باد شه
زنبور شهد خزا نه کـــا　　که‌در پاته شوه لـــــه زه
چه لویی په دنیا غوا ړ ی　　ځان‌به ورولی تر چــه (۲)
چه رضا یی خپله نـــه وی　　تخت هلك دی لــه منــه (۳)
له یوه چه دووم غـــوا ړی　　دوه به ور شی تــر ده (٤)
دپرون وعـده دی نـــن وه　　نن دی پا ته شوه تر ګـــه
پس له مرګه‌به پښیمان‌شی　　سود به نه وی لـــه وه وه

ستا دسود خبـــره دا ده
چه میر زا کړه مو جـــه
یو عجب عزت به بیا مو مـی‌عـــلا
چـــه‌طلب کا دبا طـــن لـه فضـلا
د کا مل دتلقین هســی رنګ‌تاثیر دی
چه نابودوغیر یـــی محوه شی پـه لا
دخناس له وسو سی به یی‌زړه‌خلاص وی
چه دایم‌په ذکر وفکـــر شی مـــلا
په نفی به له کل غیرو پا کیزه‌شی
چـــه‌اثبات په لااله کا تـــو لا
عرش الله وهسی زړه وته‌ویل‌شی
چـــه‌مدام دمعر فت په نـــور جـلا
د صو ر ت دا هل فهـــم نه‌رسیږی
چه څرګند له غیبو وا یـــی‌عقـلا

---

۱ـ دهمیش په‌نسخه کی د«په‌سه» په‌ځای«په‌څه» دی .
۲ـ په‌لرغونی اونمیګړی نسخی‌کی «بیایـی‌ویره وی له‌څه»
۳ـ په‌کندهار اوقلمی نسخه‌کی : تحـت‌هلك لره لومه .
٤ـ دهمیش اوپه نیمګړی نسخه‌کی (دوه‌به‌وریشـی ترده) په‌ځای «له‌یوه ورشی ترده»

هر زمان به یی پر لوح‌محفوظ‌وینی

قام پرقام قا لــــو ابلی او هم بـــلا

ځینی ځینی ذوق وشوق ښه‌یی دیدن کا

ځوک‌د اوسهی مما کا نوا عمـــــــلا

یو په‌یو به وفایی ځنی بیـــاموی

هر چه‌او سی مما کــــا نوا ءعمـــلا

ظاهر بین عالم به څرنګه باورکـــــا

چه په‌اور په اوبه درو می بـــــــدلا

ای میرزا خبری واړه‌لاس په لاس دی

چه هوړی دوری یی‌غواړی جهلا

دهجران له دوکه تا وهسی په‌زړه ځی

لکه‌باد له‌مخه‌ور په‌وچ واښه ځـــی (۱)

دفراق دلمبو هسی رنګـــــک‌تاثیر دی

چه له مخه‌یی سوړ آه ګر می او به ځـــی

له دی هسی رنځ عـــلاج بـــه‌څوک پسو کا

چه‌دزړه‌وینی روا نی تر لیمـــــه ځـــی

دواړه کسی یی په وینه کښی‌ډوبیږی

سپینی‌اوښی‌لویی لویی‌پر بانه ځی(۲)

په دا هسی حال به صبر ځوک‌په‌څو کا

چه‌داهسی‌شیرین عمر په‌کاته ځی (۳)

یو عجب فراق په ستر ګـــــوباندی پیښ شو

اوس‌داوښو څه ارمان کا چه لیده‌ځی

له قسمته لا چا ری ده عـــلاج‌نشته

په‌ناکام‌لکه تنا، بر یښنا، اوره ځـــی

---

۱ـ دابیت دکتابخانی اود همیش له نسخو سره سم نقل‌شو په قلمی اودکندهار په‌نسخه کی داسی دی «دهجران له‌دوکی هسی‌تاولـه‌زړه ځی»

۲ـ دهمیش په نسخه‌کی د (روڼی روڼی) په‌ځای «لویی لویی» دی دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی دلویی ـ لویی په‌ځای روڼی روڼـی‌دی .

۳ـ دکندهاراوله‌قلمی نسخی واخستل‌شو.

ددی خپلی مینی پنه(۱) پری باندی پر یوو ت
کەصورت‌یی روا نیږی زږه یی نه ځـی

مړی ایری داور(۲)لەدردەشوی‌فارغی
تل داوردلو گی بحث په سکاره ځـی

اوس‌یی(۳) پردمحبت په ډیوەوسو
بی‌وزرو مرغه څو درو می په څه ځی

بی دیداره را حت نه غوا ړی‌رښتنی
عا شقـان‌به وبهشت و ته سا ړه(٤)ځی

چه ددین ددنیا بار لـــه سرەواخلی
مخلصان‌به سکو نت لره ها له ځــی

څووصال دخپل‌اهل‌روزی نه شی
دمیرزاترستونی کل خوارەترخەځی

| | |
|---|---|
| اواز واړه دو هــاب دی | که در حم یا عتـــاب‌دی |
| په هر لور چه نظر وکـړم | دمولی چنگ وربــاب دی |
| حکم وا ړه گو ښی گو ښی | بیا وده وته مـــآ ب د ی |
| تر دا مخلو قا ت وتلــــی | پسو بی مثله طنا ب دی(٥) |
| درست جهان‌یی احا طه کـــړ | یو عجب لطیف در یاب دی |
| مخلو قات چه خر گندیږی | هم ددی دریاب حباب دی |
| حباب روغ دی له در یا به | بیا ددی در یاب حجاب دی |
| ناسوت نەد ی بی‌لا هو ته(٦) | نوم یی یخ شو اصل آب دی |

---

۱- دهمیش پەنسخه کی د«پنه» په ځـای«بند» دی .

۲- دکندهار ، قلمی اودهمیش پەنسخوکی‌د«اور» پەځای (واړه) دی .

۳- دهمیش پەنسخه کی د«اوس‌یی»پەځای(چەمی) دی .

٤- همیش: د«ساړه» پەځای (څاړه)دی.

٥- دهمیش اودکتابخانی دابیت پەنوروکی(ترټوله مخلوق وتلی- یوبی‌مثله لوی‌طناب‌دی)

٦- دهمیش دنسخی ددی مصرع په ځای‌پەنوروکی (ناسوت نەدی بی‌لاهوته) دی .

په کثرت کښې تارپه تارشوه　　اور اوبه باد وتــراب دی
وییدونی (۱) اروید و نی　　گه سرود گهی مضراب دی
پــه څلــور عنصر دپا سه　　کبریای لــوی جناب دی(۲)
هم پر دا جناب ختلـــی　　اوس دمعر فت افتـا ب دی
دا افتاب په هر چا بریښې　　ددوبین گو مان نقــاب دی
بی نصیب شو له را حتـــه　　دده ځان په ځان عذاب دی
دغبار په تیاره کښیو وت　　باران نه لری سحا ب دی
خود پرست په خودی بندشو　　څه بنده، څه یی حساب دی
که ته نیست شی هست‌به‌مومی　　که سا ئل یی دا ځواب دی
هرچه دا ځواب یی بیا موند　　ترو ددی عالم ار با ب دی
مختصر کلام مـــــی ووی　　حرف یی څه وینی کتاب‌دی
تل باده دمحبت خو ری　　هر څو شیخ شی‌زړه یی‌شاب‌دی

میرزا ډیر وایی په لږ کښې
ډیرپه لږکښې انتخاب دی(۳)

ددی مستی شہا زلفی تار په‌تار دی
غوړیدلی‌لکه سیو ری پــه رخسار دی

هر وینښته یی گو ښې گوښی‌کمند روغ کړ
خوری (٤) شوی‌دزخمی زړو نو په ښکار دی

پر هغو زړونو به‌څر نگ‌قراری‌وی
چه څکولی‌یی دمینی پـــه مهـــار دی

چه له هسی خپله ځایه شوبی‌ځایه
داستوگی ملک‌یی کوم دی چه قـــرار دی

چه ددی محبوب‌په مینه دیوانه‌شوه
اوس‌وتلی له تسبیح وله زنار دی

۱ــدهمیش د «وییدونی» په‌ځای په نــورونسخو کی د«بی‌دینو»دی.

۲ــ دهمیش په نسخه‌کی«یادکبریاجناب‌دی»اودکتابخانی په‌نسخه‌کی «یودکبریا جناب‌دی».

۳ــ دهمیش په‌نسخه کی (میرزالږدی پــه‌لږکی ــ لږپه‌لږ کښې انتخاب دی)

٤ــ دکتابخانی او دهمیش په نسخوکــی‌د(خوری) په‌ځای په نوروکی (نن سپور) دی.

واړه چهاري خپله مينه شوه‌دوړاندي

اوبي مينې‌له‌جمله كار و بي كا ردي (۱)

په خلوت په ميخا نه كښې‌يې‌ځاى نه شي

نه پـــه‌مينه دمسلم نه دكفـــار دي

له دي هسي مستي ثنگـــه‌احتياطي كړم (۲)

چه‌كاته‌يي وويشتو وتـــه تيـــار دي

ښايسته صورت يې‌ونه دچندڼ كړه

دا گيسوتري پر يوتلي لكه مـــار دي

چه داهسي رنگ ديدن وتـــه‌هوس كړي

دجهان‌غمونه واړه پـــر انبـــار دي

هميشه دعاشق زړه باندي‌ورتيږي

دمحبوب‌كاته لمبي، سترگي انگار دي

نن يي بياد خپل جمال ډيـوه‌كړه بله

عا شقان‌لكه پتنگ تـــر جارو زار دي

عند ليب دعاشقى نا مـــــه‌ويلى (۳)

په ثنايي‌خبر زړو نه مـــو سيقـــار د ي

دغه ستر گي يي كنول كسي‌بورا شول

اوكاته‌لكه هستي صاحب اختياردي(٤)

---

**۱ـ دهميش دنسخي دابيت په نورونسخوكي داسي دي «تر واړه چـاروبي مينه شوه دوړاندي ـ په‌دامينه» او دكتابخاني په‌نسخه‌كي«خپله مينه» ده .**

**۲ـ دهميش په نسخه كي د«مستي»په‌ځاى(خوه) اوپه گلشن روه كي «شها» دي .**
**اودكتابخانې په نسخه‌كي «له‌دي هسي‌خويه‌څه رنگ حياتي كړم » دي .**

**۳ـ دهميش اودكتابخاني پـــه نسخوكـــي‌د(ويلى) په‌ځاى (يوړه) دي .**

**٤ـ دلته دلـرغوني اودهميش دنسخوسره‌سم نقل شو په‌قلمي اود كندهار په نسخه‌كي دابيت داسي دي :**

**(دغه كسي تيز شراب سترگي پيالي‌دي‌ـ‌په‌نظر سره‌يي مست صاحب اختيار دي)**
**اودكتابخاني په‌نسخه‌كي :**

**(دغه سترگي يي بوراكسي گلونه ـ اوكاته‌يي لكه صاحب اختيار دي)**
**(هستي) ته هميش دبلي نسخي په حواله(هوسي) ليكلي ده .**

دواړه وروځې یې لیندی باڼــه‌یې غشی
واشناته‌یې نیولی په گــو زار دی
مخلصان په دواړو کونو آزادی کا
دمحبوب‌وښه دیدن وتــه حصــار دی
تر دغه خوښی به زیاته خوښی‌څه وی
چه‌هردم‌یې ونظـر تـه انتـظا ر د ی
دا کثرت یې په وحدت با ندی‌ارهټ کړ
او راتله‌ور تله دهرچا پخپل وار دی
وهر چاو ته یې خپله پو هــه‌کښیښوه
دهر چالیده دفهم پــه مقــدار دی
ای‌میرزا ته داملالی‌ستر گی‌وینه (۱)
چه مدام دیار لــه‌مینې په خمار دی

پیر کا مل درحم وور دی — ووریدلی لورپه لور دی (۲)
درست جهان یې ښایسته کړ — بیا دکل‌ښایست‌انځوردی(۳)
معر فت ځنې پیــدا شو — عشق دعقل پلار ومــور دی
زنگ یې لیــری کړ له دلــه — فهم نور محبــت اور دی
ایری سکور له یوه اصلــه — یقین سپین شوگومان توردی
فقیر بله ډیوه وړ ینـــه — دفانی اختیار لا نـــور دی
له هر چا سره یکتــا شو — علم وحلم هسی زور دی(٤)
یو دریاب دی یوه څمکـــه — گنی خوږ شو زقوم شوردی
دا سړی له یوه پشتـــــه — عارف وینی غافل (٥) کوردی
هر چه دا معنا نه وینـــی — روح یې مړصورت یې‌گوردی
میرزا مدحه دکا مل کـــا
ونا قص وته پیغـــور دی

---

۱ــ دکتابخانی او دهمیش پــه نسخوکــی«مرزادی داملالی سترگی وینی»
۲ــ دهمیش په نسخه‌کی (پرکاملو رحــم‌ووردی ــ ووریدلی په هر لور دی.)
۳ــ دهمیش پــه نسخه کی‌د«کل»په‌ځــای(گل) دی .
٤ــ دهمیش په نسخه کی‌د«حلم» په‌ځــای«حکم» دی اودکتابخانی په نسخه‌کی (دعلم‌حکم هسی زوردی)
٥ــ دهمیش په نسخه‌کی د(غافل)په ځای«محبوب» دی .

زبنتيني عشق ددواړه جهـانمير دی (۱)
هرچه کل عالم يیلاندی ترنظير دی
په هر لور چـه دده مـخشو
په هغهزړګی يی کړی خپل بهير دی
مينه پههيچا کښی منع نـهده
ترنظريیلکه ځوان وی هسی پير دی
مست شبها وته پـــهسيل
دصباح‌نسيم‌هميش پهمښك امبير دی (۲)
شبها چه هم نشينه شوه لـهګله
پرعاشق‌باندی بلبل اندوه لشکير دی(۳)
جليا لـه خپله لا سه آتش بل کـړ
نن‌يیپرزړه (داغ) ايښی دفقيـر دی
فقير له دی غمه فارغ نـهشی
چـهنو نو سا عت پـر ويـر دی
پهداهسی حال به خـر نګـهقرار شی
چه يك‌لخته‌دزړه ملك ځنـی تفسيـر دی
مكان يی هسی داستو ګـیپاتی نهشو
پهناکام‌يی وغيرت و ته تـد بير د ی
(په) هسی سفر تله شی لـهضروره
عا قبت‌دهر چا خپل وطن کشمير دی
بی بها دده ديدن (و) په بهـاشو
پههر خهيی په دا پټ عيبو نو ځير دی
(و) پتنګ چه وبل اور تـههوس کا
په هردم‌يی پهخندا کی دځان وير د ی
فقير مير زابه ومری‌ستا له دوکه
بيا به وايی لهقسمته‌يی تقدير دی

---

۱ـ داشعر دکتابخانی له بشپړی نسخـیواخيستل شو پهنورو کی‌نشته.

۲ـ عمبر .

۳ـ لښکر.

دمخلص بنده همیش پرخښتن **ناز دی**
پرخښتن باندې مخلص بنده ایـاز دی
که خطایی دسړی په بخـــره کښېښوه
تر قیامته پورې ور دتـو بـــې واز دی
زه چه هسې په امید په ویره اوسم
په دا کور کښې راسره بدخواه (۱) غماز دی
نا خدا به خوب پسو په بـې غمې کا
یوبې حـــده لوی دریاب زبون جهـاز دی
دپساره حساب یې څوك ویلای نه شي
نه د هیچا پراوږدو دلیل جواز د ی (۲)
حد پایان به یې څوك چر تـه پسې غواړي
چه یې عقل تمام شوی په آغا ز د ی
چه په هر زمان مې ویره شي له موجه
دامید لاس مې نیولې په اړ بـاز دی
دکامل یوه بې حده لورښـــاشوه (۳)
دباور لاس یې په هـــــر لوری دراز دی
وهر چاوته ناری وهی پـــه زوره
دنیك بختو رهنمای دغـــه اواز دی
په تحقیق یې منزل وړی تـــر مقصوده
چه اول یې قدم ینبې په مجــــاز دی
که تمام دمحبت په اور وسوځـــی
بې گومان له هسې سوزه سره ساز دی
فقیران چه د دوو کو نو پروانه کـــا
دصورت پـه کمینی کښې یې اعـزاز د ی
ای میرزا وصال په رسم مونده نه شي
تر گومان وا تـــه دخپل صورت گداز دی

---

۱ـ دهمیش دنسخې د (بدخوا) په ځای په نورو نسخوکې «نیکخوا» دی.
۲ـ دهمیش په نسخه‌کې د (پساره حساب به‌یې څوك موندلی نه‌شي ـ نه‌یې پر اوږده دلیل جوازدی) .
۳ـ دهمیش په‌نسخه‌کې نه‌شته اوپه‌لرغونې نسخه کې «کامل پیردبیحدی مهانی شو»دی.

چەدهر زړگی کړاس (۱)دی یو نوسك او بل خناس دی
په هر چا کښی یی ځای‌سازکړ وهر زړه ته‌یی وسواس دی
چه وسوا س یی وسینی‌ته من الجنة والنـــا ســ دی
چه له حقه په غفلت شی چار شیطان کادی لباس‌دی
تل په غیرو مشغو لیـــږی عبا دت یی دخرا س (۲) دی
هغه زړه چه اشنا نه وی عمارت یی بی اساس د ی
دریا کرل ریبل کــــا تمنا یی تیــــره دا س دی
دبا ور دا نه یی نشتـــــه تش گومان پر بله پاس دی
دمقصود طلب دی بو یـــه ځو اختیار دی په خپل‌لاس‌دی
که ناگاه له لاسه وا وړی صورت ډك دوینو طاس‌دی
سړی درست په هغه لوری چه یی دا خمسه حواس دی
غافل ځان په خپله هیر کړ دیار یاد پەهر انفا س دی

دمیرزا حجاب یی غوځ کړ
دکامل تلقین المـــاس دی

دی فقیر ویلی حـــال دی دا دحقیقت ار سا ل دی
یو صورت ځلور یی حاله (۳) گو ښی گوښی یی احوال دی
هر زمان سره دعوه کـــا په دا کور کښی یی جنجال‌دی
یو نادان دی‌بل بدی کـــا یو ناقص اوبل کمـــال دی
کل هجران یی‌دی له کفره په اسلام کی‌یی وصال دی
ځوك طاعت او ځوك گناه‌کا گه ثواب گهی وبـــال دی
یو کلام یــوه معنـــا ده یویی څوی شویو مثال دی
هم پەکسی کی دیـــدن شو بیا له مخه سره خـــال‌دی
خود بایع او مشتری شی بیا متاع او هـــم دلال دی
تمام شیخ دمجا لس شو(٤) بیا سرود کا هم قوال د ی
درنځور دزړه طبیـــب شی دخیره ستر گـــو کحال دی
کامـــل نمر دمعر فت شو دا جهان پری مالا مـــال دی

---

۱ـ لرغونی نسخه (گراس) دی .
۲ـ دهمیش پەنسخه‌کی د (خراس) په ځای«خناس» دی .
۳ـ دهمیش په نسخه کی (یوصورت ځلورعالمه).
٤ـ دکتابخانی اوهمیش او نیمگړی نسخوکی دامصرع داسی ده (تمام‌شمع دمجلس‌شو)

دتو حيد ډيوه شوه بلــــه ځه تياره ځه يي مجــال دی

دميرزا گومان يـــی وسو

اور له مړو ايرو محــال دی

هر سړی مې ددنيا په چـــارعاقل دی

چه سړی‌پر سړی کيږی عقل بــل دی

دهغی وينا (۱) معنی دلی سازيږی

چه سل سل‌نادان په هيڅ ،دانا په سل دی

چه اول هلك پيدا شی شيدی‌روی

اوله‌نوره سود وزيانه لاېعقـــل دی

په هر چا کښی دی خلـــورجنسه دعقل

صحيح شو ی‌دا گـفتـار پـه دلا يـل د ی

دشيطان دانش عذاب د ی که‌با ور کړی (۲)

چه يی‌نغوږی بدليوه دتور ځنگل‌دی

دهر خوی دپاره يو اشا رت‌بس دی

په گياهوکی اغزی شو يا سور مل دی

چه دنفس په خوی نادان دی‌که‌يی وينی

تر دواب‌يی لابتر گنه جا هـــل دی

کم دليل سړی له رسمه‌مقصودغواړی

چه طلب‌دمقصود نه کا نا قا بـــل دی

اود زړه داهل مينه په طا عت‌وی

چه اميدیی دجنت دښه منــــزل دی

په خيرات پـــه حسنات پسی‌کوښښ کا

دی پخپله‌وخپل ځان ته محا صـــل دی

نا تمام په دغه هسی خـــوی‌باله شی

چه قانع‌په دغه هومره لږ حاصل دی

ددانا دانايي تله هم ځـــراغ‌شوه

چه کل حق‌يی جدا کړی له با طـل دی

---

۱ـ دکتابخانی د «وينا» په ځای پـه‌نوروکی (جهان) دی .

۲ـ په‌لرغونی اود کتابخانی په نسخه‌کـی (دشيطان دانش زيانکار شو که‌باورکړی)

واړه عقل مسلم شی دلـــــی باندی

چه‌د روح‌په نغو ته‌چار کاندی کامل دی

اوس مدام په ذکر وفکر مشغولیږی

دزړه‌شوق‌یی له دیداره تل تر تـل دی

چه عارف تخلقوا با خـلا قی‌شی

دصورت‌صفت‌یی در ست زهـر قا تـل دی

چه داهسی دگومان له خو یه‌ووت

رسیـــده‌درویش کا مل هم مکمـــــل دی

په میر زا یی‌دمعناعنا یت وکړ

دنا قص عالم نظرپه آب‌و گل دی

چه آدم صفی دی نـــــو م‌دی

په ذات‌له چا یی اصل دکــــــوم دی

سر تر پا یه ځړه حکمـــــــت‌یی

تمام‌وجــود دی علــم نجـــوم دی

که هر خو ته یی با قی به نه‌یی

که‌یوځل‌نیست شی هستی معدوم‌دی(۱)

په گومان هست یی په هستی‌مست یی

دانش‌دی نشته عقـــل دی اوم دی

---

۱ـ دکتابخانی او همیش دنسخو د «معدوم» په‌ځای په نورو نسخوکی (معلوم) دی .

عقل به څه کړی چه وینی یی‌نه کړی
وجوددی‌غوږ دی په سا ږه مـــوم دی
لطیف لطیف دی حجاب یـــی‌نشته
کثیف حجاب‌شو په ځـــان محـــر وم دی
دځان حجاب یی له ځا نـــه‌پاځه
چه هست‌یی نیست شو هغه معصوم‌دی
ژوندون که غواړی په مر ګی‌ومره
درحیم‌رحم په دا مـــر حـــو م‌دی
په مینه یـــو شه دوم بسوکړی (۱)
دویی بلاده شر کت یـــی شو م دی
مقصود حضور دی نسیا پـــه‌څه کړی
مجهول‌به زیان شی‌حاصل‌معلوم‌دی(۲)
عارف ذره دی‌دنمرپه مخ کښی
میرزا یی رنګ کړروښان یی خوم دی (۳)
دهغو می چه دعشق په لوری‌رودی
هر زمان پـــه‌زمان تاخت پر باندی نـــو دی
په هغو زړونو به څرنګـــــګ‌قواری وی
چه لیدلی‌یی دشاه دمخ پر تـــــو دی
که اول یی په جلوه خپسرڅرګند کړ
اوس یی‌بیادوړاندی کړی لـــر پلـــو دی
سا لکان یی دهجران په تـــاوپاځه کړه
اوس یی‌ګوره استعداد ورته دلـــو دی
دا باڼه یی ګو ښی ګو ښـــی‌ناوکی کړه
اوابرو یی‌په څکو لی لینده خـــو دی
اند ینښنه دحیا تی یی واسطه‌ده
چه‌له‌مرګه‌پخوا ومری څـــه یی هـــو دی

---

۱ـ دکتابخانی دنسخی «بسوکړی» په‌ځای‌په‌نوروکی «په‌څه‌کړی» دی .

۲ـ دکتابخانی په نسخه کی(مجهول‌به‌زیات‌شی حاصل معلوم دی )

۳ـ دهمیش دنسخی دامصرع په‌نوروکـــی‌داسی ده (مرزا چه‌رنګ شو کامل‌یی خوم‌دی)

چه له دی شیرینه ځانه یی‌زړه‌واخست
ترو جهان‌یی دهمت په نظر جـــو دی

حقیقی محبوب څه نه دی له‌تالری
بیهـوده دی‌ځپل گومان دوړا ندی کودی

دا عارف چه دفنا په مقـــام‌راغی
کل عالم‌پرده الـف شو پسی دو دی

محبت له دواړو کسو زده‌کړه‌بویه
چه ظاهر‌څبله جدا، نظر یی یـــو دی

دا میرزا چه لری‌نه‌ځی له وطنه
وسکه‌زړه یی‌دمحبوب‌په جمال گرو دی

دا پر یشان خاطر می تللی‌په‌پره دی
واړه قصد یی دمحبوب‌په‌بنه(۱)بشره دی

که هر څویی تولوم را نـــه‌تولیږی
داشنا په‌مـحبـــت ذ ر ه ذ ر ه د ی

جدا یـی یی له جملـه عا لمه‌وکړه
یـــــویوا زی دیار مهر ور سره دی

چه‌په هسی جمال مینه نهالوینـه (۲)
مـدام‌غم ددغی ونـــی ثمــــره دی

کل اندوه یی تر هو سه (۳)پوری ور ووست
او س‌وتلی داشراك تر خطـــره دی

جمعیت یی داخـلا ص پرمینه‌وشو(٤)
پر کم‌فهمـو دغـــه کلی کفـره دی

هر طالب چه تر تو حیده‌پوری‌راغی
په‌توحیدکښې بدی نشته بنو لره دی (٥)

---

۱ـ لرغونی نسخه (ښه) نه‌لری .

۲ـ دهمیش کتابخانی ا و نیمگـړی نسخوسره‌سم نقل شو په نوروکی (چه دابنه جماله مینه نهال وینه) دی .

۳ـ دکتابخانی ، همیش اوپه نیمگړی‌نسخوکی د(هوس) په‌ځای «دی‌حد» دی .

٤ـ په‌ځینو نسخوکـی د (وشو) په ځـای«پریمیشت» دی .

٥ـ دکتابخانی نسخه: «سوال‌رویه دی».

په دا هسی هنر خلك پو ری‌خاندی
دعا شق په نظر خلك مسخـــره دی
کل عالم پخپله بخره هـــــوسیږی
دهر چاتر فهمه خپل هنر کـره دی
په تحقیق دی پر ایمان با ندی‌ویریږی
چه هر صبح وشام یی‌رسم روز مـره دی
منا فق له پته شرکه وتی نه‌شی
درست امیدده‌په نفس ایښــی ار ه د ی (۱)
دایم عمر په غفلت کښی تیـروینه
دگناه‌په‌خوی کښی ومری فجـــره‌دی
په ژوندون چه له‌ژوندونه خبرنه‌وی
پــــه‌ژوند یودغه ښهر مقبـــر ه دی
په هر گور کښی تر قیا متـــه‌عذا بیږی
چه‌گومان‌یی پر یقین با نـدی اره دی
او تسبیح یی تړاندی ده دتگـــــانـــو
بیا مسواك یی‌بی وزرو قر قـره دی (۲)
دمیرزا په ویناځکه‌نه پوهیږی
چــه مدام‌په‌نا قبول طا عت غزه دی
هر سالك چه دسلوك په لارکښی سم مری
چه‌دحقیقت دمینی پر صنـم مـری
دغه عقل چه پر عشق با نـدی‌شیدا شو
دعرب‌په مینه گو ره چه عجم مـری

---

**۱ـ دکتابخانی اوپه نیـمگړی نسخوکـی (په‌نفس اوپه تره) دی دهمیش په نسخه‌کـی په‌نفس یاپه «ښبیره»دی.**

**دکندهار چاپی نسخه «نفس وپـه‌شره»دی قلمی نسخه (په‌نفس وشره) دی. په‌لرغونی نسخه کی «په‌نفس دبشره»دی.**

**۲ـ دهمیش کتابخانی اونـیمگړی نسخـو«بی‌وزرو» په‌ځای په نورو کی «بی‌آوازه»اود کتابخانی په نسخه کی د«او تسبیح» په‌ځای(تور تسبیح) دی .**

حیاتی بەتر ابدە اررو نــــەکا
عا شقانچەلە محبوب سرە محرم مری
تر دغە بنادی بە زیاتە بنادیخە وی
چە پـــەهسی محبت کنبی دم پە دممری
معرفت یی دعارف دزرەخراغ کر
دتوحیددریوەچە بلە شوە تورتم مـــــری
بد گومان دنابیناو رنخو ریدە
چە صحتورلرە ور یشی الم مـــــری
ذوق وشوق یی داندوە پـــەغولی پریمشت
چە بنادییپە کمال شوە اوس ییغم مری
عنایت دمسیحا ور سرە مــلشو
پە افسون یـیگهی مار گهی لــرم مـــر ی
وارە چاری یی پە امر پــورەکیبری
بدخواهان ییلە دبنو سرە در هم مـر ی
دا لف یگا نگی بز ر گـــــیگورە
چە دوییددرست عالم یی پە رقممری (۱)
خدایی خوی دمخلصا نـــوحیاتی دی
لکە کبچە یو زمان بیرون لە یم مری
مشر کان دخان پە سیـوریفراغت کا
چەدا یو یوا زی وو ینی دو وم مــــری
ذات صفات یی همیشە پەیوحال دی
دفقیر میرزا خویونەزیات وکم مری
دعاشق لە حالە خە پو بنتـــیوگری
دبیحد دلاریقیا س نە دی چا کـــــــر ی
پە دا هسی غم بە ولی مبتــلاوم
کە خاطرمید نظرلە نغو تـــــی رغـری
پر هغو باندی بە خرنگە قراری وی
هرچەزرەیی دمحبوب کر شمـــو ور ی

---

۱- دکتابخانی پەنسخەکی (چەدوییییدعالم پرقلم مری)

محبت یی دخراب خاطر زنځیر کړی
ددیدن په زور یی را ښکاوه دا پـــړی
یو عجب دمینی حال پری برابر شو
بی دید نه نـا قرار په طلـب ستـــړی
بی اختیاره داختیار تــلا شکوینه
له دی مرگه دژو ندون هو س کـا مـــړی
چه میوه په کما لیت له ونـی پریو زی
په خوبنی له ځمکی سر پور ته کا ز ړی
داحباب له اوبو روغ په اوبـومات شی
دسیلاب په مخ کنبی تنبتی نیـــز وړ ی
کم دلیل له خپله بخته مشوش دی
دا هـوایـی گـر زوی لکـه خسړ ی
دمعنی په معنی یـو یو کس پوهیږی
په خره لاری سفـــر کـا خـره وړ ی (۱)
ای میرزا وآیینی وته نظر کړه
دپولادپه میان کنبی نه وی اوسپین خړی

دکا مل تر قلـــم ووری — دهما یی ددو لت سیو ری
هغه زړه له غمه خلاص دی — چه پری کنبیناسته داتوری
دا سیاهی مثال عینك شو — کل معنی تر پوری گو ری
عجب تور حر فو نه گوره — رهبری کا لکـــه ستو ری
ستو ری کل پر یوه مخ دی — که پریشان دی لور په لوری
هغه کس به غلط نه شی (۲) — چه له نهی خپسر ژغو ری
پر یوه اواز له شو قـــه — عام وخا ص وبله بنو ری
د هر چا عمل گوا هـی لـی — خوك ثنا کا ځینی زو ری
دا جهان په نعمت پـوردی — په خواری کی(۳) دی وچ موری

---

۱ـ دکتابخانی په نسخه کی د(یو یو کس) په ځای (لوی دانا) اودهمیش په نسخه کی د(خره وړی) په ځای (خره سړی) دی .

۲ـ په لرغونی او دکتابخانی په نسخه کی(هغه به له امره غلط نه شی) .

۳ـ دکتابخانی نیمگړی اودهمیش له نسخی نقل شو ، دهمیش په نسخه کی (په خواری کیږی) دی . په نورو نسخو کی (په خواری کنبی)دی.

بخت هیچا پیرو دی نه‌دی نه یی څوك په بها پلو ری

میرزا نن په قلم را وړ ه
دازل د قسمت غـــو ر ی

دا بلبل چه ډیر ویر یړی زړه یی موج کا نه سهیږی
گل دحسن با زار جوړ کړ په‌تعجیل ترده تیریـــږ ی
نه قد رت لر ی نه صبـــر عجب کنبینبووت نه‌خلاصیږی
محبت بی مثلـه جال شو لا علاج په کنبی تپیـــږی
دازل قسمت وگـــو ره نه به زیات شی نه کمیږی
از موینبت یی په ځان تیرکړ چه واصل شی نه بیلیږی
چه له ځانه امید وا خلـــی نور پر څه باندی ویریږی
دمقصود دیدن یـــی وشو عارفان دی‌ډیر (۱) ویریږی

میرزا خوبن دی خوبن‌به‌اوسی
هر چه شوی هغه کیـــږی

زړه می په خپل یار پسی خوږیږی
نن می‌په بار بار اشنا یاد یـــږی
که هر څو کـــړم ډیـــره‌مینه
دست‌وپای می نه رسیـــــږ ی
کُـــم دلیلو ځنـــی څـــه‌زده
چه‌پر خوږ خا طر تیر یـــږ ی
محبت بـــــی مثلـــه اورشی
دعا شـــق پـــه زړه بلیـــږ ی
د هجـــــر ان عمـــا زی اونبی
چه پرمخ با ندی بهیږ ی
دا دراز ډیــــــوه شو بله
پـــه‌محفل کنبی نه پټیـــږ ی (۲)
دعشق درد څـــه هسی نـــه‌دی
چـــه‌حکیـــم پری وپـــو هیـــږی

---

۱ـ دکتابخانی پـــه قلمی ، دهمیش اودنیمگړی نسخو د (ډیر) په‌ځای په نوروکـــی (نه) دی .

۲ـ دکتابخانی په نسخه کی نشته.

نه علاج نه یی در مانشته
په دارو به نه رغیږی
طبیبان شوه بی علاجه
څوکو ښښ کا بتر کیږی
دا بیلتون دزهرو گوټشی
درنځورتر حلق تیریږی
په تقدیر می داساعت دی
چه خپل یار له ما بیلیږی
هره بخره ازلی ده
په قسمت به ورسیږی
نن میرزا تیاری وکړه
و وطن ته روانیږی (۱)
تل می زړه په دافکرو نو مشغولیږی
چه سړی له حقه ولی نه ویریږی
د مولا طلب یی ترك کړ
په غفلت کښی شیرین عمر دی تیریږی
دنیا سرای دغا فلانو
چه هرگز په عارفانو نه سازیږی
ددی اصل دی له بدو
د بدکار پر مخ تیریږی
اوس که دور د اخسرشو
د رسول خبری قتی (۲) صحیح کیږی
چه امید کا د ښیگړی
روځ په روځ بدی زیاتیږی.
که پا رسا په فلك بر (۳) شی
چه وچاته یی ظلم نه (٤) رسیږی

۱- دکتابخانی اودهمیش په نسخو کی (وطن وته ساختیږی).

۲- «قطعی».

۳- نیمگړی نسخه د «بر» په ځای (ور) دی.

٤- دکندهار په نسخه کی د «نه» په ځای (و) دی.

حرمت به یی خوك کم کا
بنه عمل یی تر بد خوی پو ری پټیږ ی (۱)
که اوا ز دظلم واروی
پیاله ظلمه یی تر هیږ ی
رنګا رنګ نعمت و رواخلی
په تعجیل به یی ومخ ته روا نیږ ی
زیا ت کو ښښ به په هغه کا
چه دده په زړه قبلیږ ی
هم به ځای وده ښه سازکا
په حرمت به لور دلوری ور ته لیږی
که هر څو نعمت پر یوان کا
ظا لم زړه پری نه مړ یږ ی
بی حر مته افز و نی شی
که زا ری کا و قهر یږ ی
دمظلو م روز ګار مشکل شو
مګر خدای پری و رحمیږ ی
د شا ها نو عد ل کم شو
زیات عالم په ظلم کښی څور یږی (۲)
د سپا هیا نو خوی داور شو
درعیت په زړ ه بلیږ ی
جهان ډك شو له ستمه
دعا دل حکم به کله و چلیږ ی
میر زا ښه کړه څو دی توان شی
وهر چاو ته به خپل عمل رسیږی .

۱ـ په نیمګړی نسخه کی (شاه یی خوی پوری شرمیږی)
۲ـ دکندهار په نسخه کی (زیات عالم ظلم خوښیږی)

لکه ابر په بهار شی (۱)
چه را یاد دیار دیدار شی
یوه نریه پرخــــه او ری
خــه عجبــه نندا ره دمر غزار شی
خوله پسته تر گل سوزا نه
گــل صد برگه کوتاه وتارپه‌تارشی
زړه می په یار پسی کوشش کا
لکه اوبه چه‌په‌خرخ لگی تار په‌تارشی
زمــا ښه وه ستا نـــــه طمع
چه گـــه‌گهــی می په زړه ځنی ازارشی
دوی (یی) تــو ری عجـــبستر گی
کشکی‌دعا شق دزړه زنـــار شی
دروغ لــــــه هیچا مـــــه‌کړه
یوه‌روځ‌به ددرو غو څښتن خوار شی
د جهان کا فران ډیــــــردی
او زمــاله کلمه گو کا فــره ډار شی
یـــو گــو زار یـــی په مــاوکړ
یوه‌روځ به می پـــه کـــار شی
ما په جها ن ډیر گلو نه‌بوی کړه
اوس‌می‌په دا خپلو گلــو ډار شـــــی
دفقیر میر زا صورت دښځ‌تو تی دی
که هر څو یی ښه‌ساتی له تابه ولا ړ شـــــی
که دی مینه دکا مــل پـــــه‌ملاقات شی
ستا پرزړه‌به حقیقی محبت زیــات شی
ودولت به دی په سیو ری پسی‌گرزی
که پرتاددرو یشا نو التفا ت شـــی
دا صورت په مثال قبر، زړه‌لحد دی
په‌لحد کی‌مرده روح به دی حیــات شی
تابه عقل نو رانی له څو بـــه‌ویښی کا
ستا به‌حل‌ددوا ړو کونو مشکلا ت شی

۱ـ دانظم دکتابخانی له بشپړی نسخی‌واخیستل شو.

په هر دم به له محبو به مشغوليږی
اوقدم‌بەدی ثابت پر مقا مـــات شی
او اول به په نیستی هستـــی‌نفی کړی (۱)
په اخر بەدانفی وا ړه اثبـا ت شـــی
ترو هاله به په اخلاص قبول په حق شی
ذمیمه‌بەدی‌بدل په محمـــو دات شی (۲)
نیك وبد به دی په ځان کښی در ښکاره شی
په معنا به دی داخپل وجود مر آت شـــی
کەد رسم حجا ب لیری کړی‌لەمخه
المدام‌پەترك وجو به صلـــوا ت شـــی(۳)
کل عا لم (٤) به ستا له فیضه‌بهره مومی
لکه هنـــد چه ښایسته په بر سات شـــی
که یو ځل پەعنایت‌راته وګوری
پەفقیرمیر زابه‌کشف وکرا ما ت شـــی
چه زما ګهی نظر پر دا صفات‌شی
دصفات‌استوګه ځرنګه بی ذات شی
داوبو دیګا نګی نوم در یا بدی
چه لږلږ ځنی بیلیږی قطرا ت شی
په بار بار به می دیار ثنـــاویله
پەادب‌می‌له شر طو ډیـــر احتیاط شی(٥)
یو می زړه په خاموشی کښی‌نه سهیږی
که دژبی‌جلب نسم یون یی زیات شی
دصورت دارواح خوی ســـــرەدعوه کا
دغه‌زړه‌ګهی نفی ګهی اثبـا ت شی

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی د (نفی) په ځـای (فالی) دی .
۲ـ دابیتونه دهمیش په نسخه‌کی نشته .
۳ـ دهمیش پەنسخه د (بەصلوات) پەځای (حالات) دی .
٤ـ دهمیش په نسخه‌کی‌د(کل عالم)په ځای (کلیات) دی .
٥ـهمیش: «پەادب‌می دشرطونوډیرمتیات‌شی».

دزړه حال دسړی (۱) پېدی‌له عا لمه
دا گفتار بـه‌یی په حال با ندی برا ت‌شی
دهر چاعقل‌داصل متا بـــعدی
لکه‌ښاخ‌وخپلو ولیوو ته مـــا ت شی
په تحقیق مسلمان کس بللـی‌بویه
چه ایمان یی‌برقرار تن یـی زکـا ت شی
معرفت څه دمجاز رو ښنایی نه ده (۲)
چه حـــجاب یی په دیوار او په قنات شی
پیر کامل دتو حید نمر پـــه‌جهان وخوت
یخ که هـــرڅو ډیر محکم وی خوبه مات‌شی
چه‌قسمت یی‌دمیرزاتریقین ورووست
چه‌هیڅوك به‌یی نه‌کم‌کانه به‌زیات‌شی
که په رحم دی پر ما با نـدی‌نظر شبی
توره شپه‌بـه می بـد له په سحر شی
په دا زړه می عجا یب داغو نه‌یښی
که دا یارپه هسی حال له ما خبر شی
په دا زخم ملهـــم مـــه ږده‌همنشینه
کشکی لارابانډی زیـات دغه اثـــر شی
دغه داغ چه می‌خوږیږی پـه تازه یم
دیر هارپه رغیدو می حال بتـــر شی
که په غم پسی دی څغلم له‌ماتښتی
چه یی قصدکمو لو کړم شجر (۳) شی
یو زمان که دزړه حا ل په‌ژبه‌راوړم
هریو حر ف‌به یی دهر دیوان دفتـــر شی

---

۱ـ دهمیش نسخی «دزړه حال‌دسړی» پـه‌ځای په نورو نسخوکی (او قـلوب دسړو) راغلی دی .

۲ـ دهمیش په‌نسخه کی(حقیقت څه‌مجازی‌روښنایی نه‌ده) .

۳ـ دهمیش نسخی د«شجر» په‌ځای «بخر»لیکلی دی .

په طالب باندی می‌سخ دی‌تل ترتله (۱)
چه هر دم‌یی په مقصود پسی سفـر شی
خراب دل می بی دیدنه صبـرنه کا
په طلب‌یی شش جهت را ته کمر شی
نه‌مکان نه‌یی جهت شته نه‌یی‌لوری
دغه هسی‌دید به ځنبکل میسر شی(۲)
کل اشیا دحقیقت په ژبـــــه‌وایی
یو صفت‌دیوه حرف دی مکـــرر شی
که‌هر څوک دځپل هو س په‌مینه تللی
او میرزا دی لـــــه‌دیداره بهره ور شی
که قرار دی په زړه ذکـر دمذکور شی
نا پو هی‌به‌دی بډله په شعـــور شی
په دا سر به دی دسر ډیـــوه‌شی بله
خلقه بـه‌درڅر گند په‌دغه نو ر شـــی
چه نه رنګ نه یی مکان شته‌نه‌یی لوری
هسی مخ به‌په آخر درتـه حـضور شـی
هغه زړه چه دګو مان په‌تیاره‌ډك و
یکباره به‌دایمان په رڼـا پــــور شی
یو په‌یو به دلی واړه دڅرگندکا
هغه کړه‌چه‌په‌اخر درته حضور شـی (۳)
دلا هو ت دیگا نگی سیـوری‌نشته
که‌ناسوت‌می‌دکثرت په‌پا ږو گور شی (٤)

---

۱ـ د همیش په نسخه کی داسی دی: (پرطالب باندی می‌مخ دی تل ترتله)
دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی د(سخ) پـه ځای سختی دی .
۲ـ دهمیش نسخی ـ (چه داهسی دیدن‌ځنبکله میسر شی )دی.
۳ـ دهمیش په‌نسخه‌کی (هغه کړه‌چه‌په‌آخردور صورشی)
٤ـ دکتابخانی دنسخی سره‌سم ولیکل‌شودهمیش په نسخه‌کی د(سیوری) په‌ځای(لوری)
دی اوپه نورو نسخوکی داسی دی :
(دلا هوت یگانه‌گـی به سایه نه‌شی) اود (گور) په‌ځای (پور) دی .

لکه ذات په هر صفـت کښې تجله ګا
له عارفه به په کوم حجاب مستـــور شي
هغه زړه چه د دیدار په خوښې مست شي
څه پروا به یې دحورو دقصـــــور شي
که مجاز دحقیقت له مخـــه واخلي
بې ګومان بـه سري لمبې دکوه طـور شي
که رموز دمعر فت له حا لـــه وکړم
هغه تیـر ګناه به مدحه دمنصــور شي
دغفلت په اند یښنو کښې به نه اوسي
چه میرزا غو ندې په هسې حال مسرور شي
نن زما پخپل اشنا محبت ډیر شي
وا ړه دوك له خپلې مینې را بر سیر شي
بې له یاره نور هوس پر مـاحرام دی
اوس په څه به مې بل غم وزړه ته تیـر شي
که اشنا زما دیدن دی په لیمه کښې
تور بانه یـې پهر دار لکه سپنګیر (۱) شي
دغه ذکر مې څراغ په خا طربل شي
دایقین لکـــه پانوس ترده (۲) چـاپیر شي
مخلصان چه د باطن په علم پوه شوه
په ظاهر یې څه حاجت په زور زیـر شي
په هر لور چه د باور په سترګو ګورم
دا کلي اشیازما دیار پـــه خیـــر شي
بې له یاره مې نور هیڅ پـه خاطر نشته
هر زمان چه اشنا یاد کړم ځان مـې هیر شـي
کم دلیل به یې دسر په سترګو ګوري
دمعنادیدن باریك دی په بل پیـــر شي

---

۱- دهمیش د (سپنګیر) په ځای په نورو نسخوکې (شبګیر) اود کتابخانې په نسخه کې (سنګیر) اوپه لرغونې نسخه کې (چشې په څیر) دی .

۲- دهمیش په نسخه کې د (ترده) په ځای (تردل) دی .

چه ښښتن له شش جهته منزه‌دی

بیگانه دلـــی خپلیږی دښمن زیر شی (۱)

عار فان ددواړو کونو ننداره‌کا

هر ځواب می‌دی‌لیدلی ملك دلیر شی(۲)

دمیر زا خبری‌نرمی‌تر اوبه دی

او تیری په ظالمانوتر شمشیر شی

هر ساعت چــه په تا دیـرشی (۳)

مقام‌نه لــری به تیـــــر شی

هوی (٤) دور دگر گـــو ندی

په زمان‌یی‌چاری واړه په بل پیـــر شی

گهی تلخ گهی شیـــر یـــن‌دی

کله خوږلکه نبات کله گنه یـــــر شی

گه بیگه دی که خوله ډکه له‌شکرو

او سباح یـــی‌تر خوږو نه زهر ډیـــر شی

په کوښښ به تر قسمته‌زیات‌رانه وړی (٥)

که خوك تیرترسمر قند یا تر اجمیر شی

شاه گدای فقیر پـــــاد شاه‌کـا

دازل‌بخره‌به هر چا لـــــره ویـــر شی

خدای به خوار هغـه کسا نکړی

چه‌یی‌مال‌ددنیاباد حق به یی هیـــــر شی

ددنیا لـــذ ت فا نـــــی‌دی

خوك‌به ښښکله پری سیـــر شی

خصا لـت یـــی دی لـــــه‌بدو

له اوله‌ودروغ وتـــه دلیـــــر شی

---

۱- په لرغونی‌او دهمیش په نسخه‌کی‌د«زیر»په‌ځای (میر)دی .

۲- دهمیش په نسخه کی (پرځواب‌یی‌دلیدلی‌ملك دلیرشی)

۳- دهمیش نسخه دانظم نه‌لری دکتابخانی‌په نسخه کی «دیر» اوپه نوروکی «ډیر» دی.

٤- داصل نسخی د «هو» اودکـتـابخانـی‌د، نسخی د «هوی » په نورو دواړو «کون»دی.

٥- دکتابخانی دنسخی دابـیت په نوروکـی(په‌کوښښ یی تر قسمته زیات یاران‌وړی)

یو ځل چه پوه شی په دروغویی (۱)
دکذابویل اکثره تیر وبیر شی
په لباس یی عامی خلك نه پوهیږی
او عار فته یی پنهانی عیب برسیرشی
هر چه مینه په نابود وبا ندیوکا
روښان زړه یی ترزنگو نو لاندی زیر شی
قنا عت بهیی په زړه قرا ری نه کا
هغه زړه چهدحرص په سورو گیر شی
په هو ابه لهدی قیده وتی نشی
بیا نجاتبهیی دخپل صبر شمشیر شی
چهد صبر توره نه لری پهلاس کښی
تجربه بهدنوفل پاد شاه په خیر شی
دمیرزا وینا خوشبو یه تر گلو نو
پر غافل با ندیخارونه دسنگیر شی
داشنای جفا تر کوم وفا پهکل شی
چه دا هسیتلخی تلخوری خوږ بهبلل شی
دعاقل فکر تمام په مقامراغی
چه په لویامید هوس کا غم کرل شی
ددی یار غشی به څوك وڅکوینه
چه نفس پهنفس زوی تر زړگی تل شی
محبت په مثل دی تازه سکروټه
داسوزانهاور به څر نگه سهل شی
اود خام قوت له کوم طا قتیی څه وی
چه داهسیگرم اور په څه زغمل شی
دسوزان له درده چا زده چهحال څهدی
دساړهآه په لمبه یی نور سیځل شی
که طلب دښادی څوك کا غمبهتل وړی
دغهخویدی په جفا وفا مو ندل شی
دچنډن دخو شبوییی صفت بهڅو کړم
دگنه پهگنده بوی سره رژل شی

۴- دکتابخانی د نسخی دابیت پهنوروکی (نه یوځله چه خطایی په دروغو) .

بلا ټول دمحبا نو بخــــــــره‌راغله
هم په‌قسم‌قسم ټول پر دوی نــا زل شی
دغمو یی پیری هسی پر دوی‌راغلی
چه‌یوه‌څنی‌کو چیری نــازل بــــل شی
چه‌د خپل رضا طالب شی غم‌به مومی
په‌کوم‌عقل‌به په خسو رود تــــړل شی
که مختاره کمینی کړی‌لوی‌به‌شینه
که بندی کړی‌دا نفسك روح به دی خپل شی
دا دحال بیان‌مشکل‌اخبار به‌یی خوك کا
مگر فضل دمو لی‌چه‌د میرزا په‌ژب ویل شی
داشنا یی‌جفا ترکومه وفابه‌کل‌شی (۱)
که دا هسی تلخی تل وی خواږه بلل شی
دعا قلانو فکر تمام تر مقــام‌ورغی
چه په لوی‌امید هو س که دغم کرل شی
دیار دیادو غشی بی مثله څوك‌وینی
په نفس می‌نوی نوی تر زړگی تـــل شی
محبت می په مثال عین تــازه‌سکروټ شو
دغه سوزان‌سکروټ‌څه رنگ په زړه سهــل شی
اود خامو قوت له کوم طا قت‌یی څه لری
دغه هسی‌گرمی په سوی (۲)زړگی زغمل‌شی
دسوی له درده چا زده چـــه‌حال یی څه دی
په‌ساړه آه یی‌لمبه په نورو زړونو ویشل شی
که طلب دنبادی ته کړی‌غمونه‌ومنه
دا یی خوی دی وفاپه ډیره جفا مو نـــدل شی

---

۱ــ دغه شعر تکراراً ونیول شو . لومړی ډول یی‌د لرغونی ، دهمیش ، نیمگــړی اود کتابخانی دنسخو سره په لږ توپیر سمون‌لری او دویم ډول یی دکندهار اودقلمی نسخی‌سره.

۲ــ دهمیش په‌نسخه‌کی «پسولی»اودکتابخانی‌او نیمگړی نسخی (په‌سوی) دی .

دچنەن دونی دبوی صفت‌ترکومه کرم
دهنر پرگناه‌پرکند پر کند ور ژل شی (١)

بلا یی درسته دمحبا نو پـــه‌بخره کنبیبنوه
قسمت پـــه‌قسمت به‌واړو باندی نازل شی

دغمونو یره هسی ور با ندی‌ورغلی
چه یوه‌یی‌پری باندی‌ملی‌څرگنده بل شی(٢)

چه گوبنی گوبنی خپله رضاکه ارام نه مومی
په‌کوم حکمت‌به‌د محیط لارپه خاشاك تړل‌شی

چه کمینی که په تن اختیـاره‌لویی به‌بیا مومی
تل‌دروح‌آزادی‌دتن په بند کی گټـل شـی

له‌هسی حاله خبرگرانه معنی څـوکوا یی (٣)
آسانی چیری چـــه‌دمرزا په‌ژبه ویل شی

که یوځل دمحبت عجب با ران‌شی (٤)
دغه پــټ ښایست به رنگ په رنگ عیان‌شی

باد به‌بوی ددغه زړه وړی لون‌لون (٥)
هغه زوړ عالم‌به سر له سره ځـوان شی

ار غوان به عقیق جام وسمـــن‌ورکه
چه نرگس وشقا یـــق ته نگـــران شی

بنفشه به تفرج کا په خا طـرکنبی
اود بوی پـــه‌عمل مینـــه دریحـــان شی

دا لاله به دزړه داغ پر پاڼـی‌راوړی (٦)
او نگاه به له‌حسر ته ځان په ځـــان شی

---

١ـ دنیمگړی اود کتابخانی دنسخو (دونی‌له‌بوی) دی او دهمیش په نسخه‌کی (ونی)دی. په‌نیمگړی نسخه (پرکند ،پرکند دی)

٢ـ دکتابخانی اونیمگړی نسخو د«ملـی» دهمیش په نسخه کی «بلی» دی او«یره»پـه ځای دکتابخانی په نسخه کی «ویر» دی.

٣ـ دکتابخانی اونیمگړی نسخو د«وایی»په‌ځای دهمیش په نسخه‌کی (وینی) دی .

٤ـ دهمیش په نسخه کی (که یوځلی‌پری‌دمحبت باران شی) اودکتابخانی نسخه (عجب) نه لری .

٥ـ دهمیش په نسخه کی (بادبه‌بوی‌مړی‌له‌کافورو لون لون) .

٦ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو د«پاڼـی» په‌ځای په نوروکی «خاطر» دی.

پر بلبل چه دهجران غمو نـه‌تیر شی
په دیدن به‌دگلو نـو پـر فغــــان شی
داچه زه‌په گل ومل کړم ډیره‌مینه
سر له سره‌اند یښنه می له خـزا ن شی
په شعبان کښی ته پیاله لـه‌لاسه مه ږده
بیا وعده به‌یــــی تـر عید درمضا نشی
ددی نن ورځی امید په گانده (۱) مه کړه
بیادتیرساعت څوك څه لره ضمـا ن شـی
هر یوگل چه پر دالار را غـی‌وباغ ته
دغه هسی‌به پر بلـــه لار روا ن شی
نن ساعت چه‌دی په‌لاس دی‌ښه‌یی گوره (۲)
بیهوده به‌دی پر تیر ساعت ارمان شی
دپتنگ اختر دغه دی چه یی‌وکه (۳)
په طلب کی‌به دی ډیر هسی قربان شی
دا میرزا په جهان‌ستا په رضا راغی
په رخصت به‌دی له‌دی سرایه روان شی
که‌یوځل دا یگا نه محبـو بوگوری
په یقین‌به قلم را څکوی پــــر نوری
دغه گڼی وڼی وروځی یـــی‌لیندی دی
اوس یی‌تاوته‌توبری‌دی سترگی توری(٤)
بیا اوبه له محبته ور کـــــوینــــه
دغه توررانجه یی‌زهرکړه پری‌پوری(٥)

---

**۱ــ دکتابخا نی اودهمیش دنسخود«گانده» په‌ځای په‌نورو نسخوکی (پگاه) دی .**

**۲ــ دکندهار اوپه قلمی نسخه کی(اوس‌چه نن‌دی دغه عمر پخپل لاس دی).**

**۳ــ دهمیش په نسخه کی (پتنگ‌اختیارپوره شوچه یی وینی) .**

**٤ــ دهمیش اودکتابخانی په نسخوکـی‌دامصرع داسی ده (اوس یی‌تاب توبری سترگی دی داتوری) .**

**۵ــ دکتابخانی اودهمیش دنسخو دابیت‌داسی دی (دغه سپین بازویی سیند دی تـه یی‌گوری).**

ښایسته باڼه (۱) یی غشــی‌دخدنګ دی
تر دا سختــوزړو به ووزی پوری وو ر ی
دا نازك نظر به څر نګه تــری‌تیریږی (۲)
چه چاپیرباڼه‌یی ستنـــی دی سمسو ر ی
ترو به ته له‌هسی خوږو خبر دارشی (۳)
چه ارام‌دی نه په نمر شی نه‌په‌سیوری
یکباره به قراری در ښخـــــه‌پاڅی
ددی دردناری به کړی پر بل به ښوری
دبی نیازو پر خا طر به اثر نه‌کـا
که‌داوښکوپرڅای در وګـو هـــر اوری
عجب زړه یی له تا یووړ پـه‌ځای پریښوی (٤)
اوس یی ډیـرډیر غمخواری وکړه غم خوری
به ناکام په فراغت در لــر ه درشی (٥)
ترو چه هیڅ‌درڅخه نه وی څه به ژغو ری
دخو دی پرده که ته له مخـه‌واخلی
دمجاز غوږبه‌کاڼه کړی ستر ګی کـو ری
چه هاله دی لور په لـــوری‌غرولی (٦)
یکباره به یی‌وخپل ځان ته کړی نسکو ری
دمیرزا قدر به هاله‌در څرګند شی
که اشنا ته داشنـاپه نظر ګوری

---

۱ـ دلرغونی اود کتابخانی دنسخی‌د«باڼه» په‌ځای په نوروکی (دیدن) دی .

۲ـ دهمیش په نسخه کی دامصرع‌داسی‌ده(دانازك خاطر به څرنګ تری تیریـږی) اود کتابخانی په نسخه‌کی (تر نازك نظر به څرنګه تیریږی).

۳ـ دهمیش په نسخه کی دامصرع داسی‌ده (په‌ناکام به‌فراغت درلره درشی)

٤ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو دامصرع‌په‌نوروکی (چه‌زړګی دی‌له ماوړی تش‌ګوګل‌یم)

٥ـ دکتابخانی او همیش دنسخو دامصرع‌په‌نوروکی (چه له‌تولو فراغت درله‌حاصل‌شو).

٦ـ دهمیش اودکتابخانی د «غرولی»په‌ځای‌په‌نوروکی (اړولی) دی .

ددی نن ورځی امید چه پهفرداوړی (۱)
همیشهبه دغه(۲) دروند وری په شا وړ ی
کل اختیار دنیکو وبدو دیپهلاس دی
هر چه او سدرسره وړی هغه به راوړی(۳)
په دا هسیعاقلی کښی بیغمی کړی
چه مردهروح دیپه وخت دمسیحا وړی
پر خاطر دی دغفلت رنځو نهدیر شول
حقیقیطبیب راغلی کـــه دوا وړ ی
که تر هسی کاملانو پوری ورشی
دین دنیابهد نیکا نو لـــه دعا وړ ی
پیر کامل به وتا هسی تلقیندر کړی
چهپه هرنفس ددوو کو نو بهـــا وړی
چه دا هسی حاصل بیا مو میپه کور کی
بیهوده منت(٤) به ولی دنور چـــا وړی
دگو مان له تاریکی بـــه دیخلاص کا
وباور تهکه ته مینه په رښتیـــا وړی
دا نفی به دی فنا وعا لـــــم درکړی
داثباتقدم بـــه عین وبقـــــا وړی
که یو ځل تخلقوا با خلا قـــیشی
دجهـــانچاری به واړه په رضا وړ ی
دمیرزا په ځیر بـــهحقه گواهی ولی
دتوحید څراغ رو ښا ن دی کهرڼا وړی (٥)

---

۱ـ د(وړی) په ځای دهمیش په نسخهکـی (وری) اخیستی دی .

۲ـ دکتابخانی دنسخی د (بهدغه) پهځـای پهنورو نسخوکی «دعذاب» دی .

۳ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو د«راوړی» پهځای پهنوروکی (بیا وړی) دی .

٤ـ دکتابخانی او همیش دنسخو د (منت) پهځای پهنوروکی (نغوته) ده .

٥ـ په قلمی اود کندهار په نسخهکید«رڼا» پهځای (ضیا) ده .

په اخلاص که دکامل خبره‌پندکړی
په نفی بـــه‌داثبات (۱) قدر خر گند کړی
که دا فکر دی د ذکر پـهـره‌دار شی
دغه‌نفس‌به‌د پڅ اثبات کمند کـــړ ی
امنیت به دی هاله په زړه‌قرارشی (۲)
که خاطرته له جمله پروازو بند کړ ی
ستا به غیر اندیښنی له دله‌پاخی
که دا یـــادته له دیدن سره پیو ند کړی
په هر لور به یو بی مثله‌دریاب‌وینی
دحیات‌اوبه‌دی دا، که ته‌یی خوند کړ ی
یو ژوندون به جاودان درلره‌درشی
همیشه بـــه‌دخپل زړه په حال انند کـړی
پر داسر به‌دی دسر ډیوه‌شی‌بله
عا شقان‌به پر دغه ډیـــوه سپند کړ ی
محبت به دی دعقل پیـــرو ی‌کـــا
که داعقل‌ته‌د عشق په رضا بند کـــړ ی
او قوت به‌دی هر دم پسی زیاتیږی
چه علاج یی‌په داهسی شا ن گلقند کړ ی
هر صورت به دسیرت پــــــه‌نظر وینی (۳)
چه مقصود له‌واړه یو له یـــــوه چند کړ ی
ای‌میرزا ظاهر باطن‌به‌در خرگند شی
که سنگین گو مان‌ترپښو، یقین بلند کړی

---

۱ـ دکتابخانی په نسخه‌کی د (اثبات) په ځای «اسلام» دی .

۲ـ په زړه قرار شی په ځای دکتابخانی اوهمیش نسخو (وزړه‌ته ورشی) لیکلی دی .

۳ـ دکتابخانی او همیش له نسخو سره‌سم نقل شو په قلمی اود کندهار په‌نسخو کـــی دا مصرع داسی ده :

(هرصورت به‌ته دسر په‌نظر وینی)

چه هردم وهری‌چاری تەهوس‌کړی (١)
دمقصود چاری به واړه تروخت‌پس‌کړی
شیرین عمر دم په دم درځخه‌درو می
که‌د زړه‌دغوړو فهم په جرس کـــړی
ددی عمر حلاوت به در څرگندشی
نندارەکەدژوندون په هر نفس کـړ ی
بده طمعه دی په ځـان پسی‌څکو ینه
بیهوده نغوتەبـــه ولـــی دوسو سس کړی
استعداد دهری چاری در سرەدی
دسیمرغ‌پەتا بیا زیرمه دمگس کړی (٢)
کل مقصود به دمعنی وتا څـر گند شی (٣)
کەلەغیروپا کیزه دزړه جو س کــــړ ی
دایم یاد بەدی هاله پــه زړەقرار شی
که یقین‌ته پهر دار لکه عسس کړ ی
تش گومان دی دمجاز په مـخ‌کنبی بند شو
دباورپەزور به مات دغه قفس کـړ ی
په هر لور بەد حیات او بـــەووینی
هر زمان بەپه زمزم دزړه او دس کـړ ی
خزانه دقنا عت به دی پەلاس‌شی
دا شړی بەته بدله په اطلس کړی (٤)
ای میرزا که دی دروح آزادی بویه
داصورت بەدکامل دانگړ خس کړی

---

١- دکتابخانی په نسخه‌کی (تەچه هردم و هرچاوته هوس کړی)دی دهمیش نسخەدابیت نەلری اودکتابخانی په نسخه کی «بیهودەنغو تەبەولی دوسوس کړی» دی.

٢- دامصرع دکتابخانی اوهمیش لەنسخوواخیستل شوه په نوروکی (ای سیمرغه پەځه زیرمه دمگس کړی) دی .

٣- دامصرع دکتابخانی اوهمیش لەنسخوواخیستل شوه(مقصود بەپه معنی‌دتاځرگندشی)

٤- دهمیش نسخه دابیت نەلری‌دکتابخانی‌دنسخی دامصرع په نوروکی داسی ده :
(داشړی بەته شرینه تراطلس کړی)

په رښتیا که په مقصود پسی‌مزل کړی
اویوا زی‌یو اخلاص در سره مل کړی
که ته اوس له بدو چارو وچاروزی
هغه کړی‌بد به هم په ښه بدل کړی
دغه زړه دی په مثال د آینی‌دی
که‌له غیرواند یښنو یی ته صیقل کړی
حقیقت به داشیا وتا ځر ګندشی
که ځراغ‌دمعر فت پری باندی بل کړی
نیك وبد به دخپل ځان پخپله‌وینی
ترو هاله‌به هره چار پخپل محل کړی
په باطن به له با طنو سره‌اوسی
او ظاهربه له ظاهرو سره دل کړی
عارفان به خپل مقصود په تاکښی وینی
په‌اشنابه‌ځان شیر ین تر داعسل کړی (۱)
دادوستی به ودوستانو و ته‌ورو‌ړی
اوډښنی‌به‌له‌دښنو سره مل کړی (۲)
په داهسی حکمت ځرنګ پوهیدلی
چه مصر ی‌له نیشکره ونای له نل کړی
یوه مرغی په‌هاکی په‌دم‌ژوندی‌شی
بیایی وینی‌له صور ته به وتل کړی (۳)
هر سړی ده پراختیار با ندی‌قادر کړ
هر چه‌لافی‌دقدرت کا لاس به‌یی‌شل کړی
له اوله داجهان دغه یی‌چاری
چه‌له چاسره نیکی له چا ذلل کړی

---

۱ـ دهمیش او کتابخانی دنسخو سره سم ولیکل‌شو په قلمی اود کندهار په‌نسخوکی دا مصرع داسی ده : (ناآشنا پرځان شرین دوی ترعسل کړی)

۲ـ دابیت دکتابخانی او همیش دنسخوځخه داسی اخیست شوی دی (دادوستی به‌ودوستانو وته ورکړی-اودښمنی به‌له دښنوسره‌اورل‌کړی) د(اورل) په‌ځای په لرغونی نسخه‌کی (ارل) دی .

۳ـ دکندهار او قلمی نسخه (مرغی ګوره‌چی‌یی ها ژوندوی په‌دم شو) .

معرفت دی دمیرزاپه‌بخره کنبینبنو
داد بدو چاری واړه پهٔازل کړی (۱)

په هوس به ډیر ناکام وتـــه‌وخیژی
چه‌له فهمه‌واو هام وته وخیـــــــژ ی

مگر علم دیقین در څخـــــه‌نشته
چه‌د خاص‌له ځایه (۲)عام وتـه و خیـږی

له لطیفه دی کثیف پر مــــخ‌حجاب شو
چه له‌دی‌صبحه وشام وته وخیـــژ ی

د ریا په عمل څر نگه تکیـــه کړی
ددانی‌په هوس‌دام و ته و خیـــــــژ ی

دکامل په لور به وگر زی راکعه
که(۳)دمعر فت وبا م وته وخیـــژی

ملامت دخلا یق په خدای قبول‌دی
په داکفر به اسلام وته وخیـــژ ی

له عادته به خبر په عبـا دت‌شی (٤)
له مقا مه‌به مقام وته وخیـــــــژ ی

تل بنادی به پر تازه با ندی(٥) تازه کړی
له وختی‌به ودوام وتــــه وخیـــژ ی

له نفاقه به اخلاص وته روان‌شی
دم پـه‌دم به ومدام وته وخیـــژ ی

دجلیل کعبه بهووینی په کورکنبی (٦)
که پـه‌زړه دجم و جام وته وخیـژی

---

۱ـ دامصرع همیش داسی اخیستی‌ده: (دابد چاری دواړه پهٔازل کړی)

۲ـ دهمیش اوکتابخا نـی په نسخوکـی(له‌ځایه) په ځای (تابیا) دی .

۳ـ دهمیش او بشپړی نسخی سره سم‌نقل شو په قلمی اودکندهار په نسخه‌کـی‌د (معرفت) نه تر مخه (ته‌اوس) هم‌شته چه‌زیات‌بنکاری .

٤ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخو سره‌سم‌نقل‌شو په نورو نسخوکی د (عادت) په‌ځـای (عبادت) اود «عبادت» په ځای (عبدیت) دی.

٥ـ دکتابخانی اوهمیش دنسخو دلومړی«تازه» په‌ځای په نوروکی «بنادی»ده.

٦ـ دکتابخانی نسخه : « دخلیل‌کعبه‌په‌کورکی ده سازلی» .

ای میرزا اول آخر به در خر گند شی
له تشو یشه بەارام‌وته وخیژی

دگو مان په قوت هر څو پورته‌خیږی
عا قبت‌به بیا دشگو په دود ریـــږ ی

دشیرین عمر بنیاد یی پر بادیښی
که هر څـــوهپونه کلکه څبله لو یږی (۱)

یو عجب حکمت دلی وته لیده‌شی
که اصلی‌قوت کمیږی غوښی کیږی

لوی وری دامانت در با ندی‌یښی
که‌قدم لـــه‌ځایه نه اخلی غو لیـــږی (۲)

ددانا په نغو ته ولی جمع نـــه‌شوی
په نا پوه‌پسی غږ یږی لکه ویږی (۳)

مگر بخل دی په حلم با ندی‌زور شو
وجحیم وته‌تیارشوی لکـــه ایـــږ ی (٤)

دسړ یو له صحبته دی بـــلاشوه
وملخو ته‌ور درو می پر له لیـــږ ی

په بزر گانو باندی ولی اهانت‌کړی
مه‌کړه‌لار به‌دی شی‌بنده وبه پیږی (٦)

چیری نه چه مخ لمن به الوده‌کړی
چه وبا دوته تو کی و لوړ ته میـــږی

---

**۱ـ دهمیش پەنسخه‌کی د (څبله لویږی) په‌ځای (گنهی‌پلی ویږی) اود کتابخانی پەنسخه کی «گنهی بی‌لو یږه» دی .**

**۲ـ لرغونی اود کتابخانی نسخه (که‌قدم‌له ځایه واخلی وبه غولیږی) دی .**

**۳ـ دکندهار پـــه نسخه‌کی (ویږی) تـــه‌د(خربوزی پیروتی بوتی) معنا لیکل شوی‌ده .**

**٤ـ دهمیش او دکتابخانی د«ایږی» په‌ځای په‌نوروکی (غلیږی) دی .**

**٥ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی :(تل‌ولهو لعب ته‌هوسیږی)**

**٦ـ دکتابخانی په نسخه‌کی دامصرع‌داسی‌ده (چیری لاریه دی‌شی بنده وبه پیږی) اود همیش په‌نسخه‌کی هم «وبه پیږی» دکندهار په‌نسخه‌کی (وپتیږی) اوپه قلمی نسخه‌کـــی (وته تیږی) دی .**

په افسوس دی تللی عمر نــه‌راگرزی
کــه‌دی اوښکی‌دباران په دود او ر یږی (۱)
ومیرزا وته اوس څه‌وایی نا دانه
چه په ځان څه عمل‌کړی هغه به کیږی
دکمال په حقیقت بـــــه ورسیږی
کــه‌دعشق‌په در سته پوهه وپو هیـــږ ی
که نظر دی دمحبوب په جمال‌پریملی
په دیدن‌به ځنی گو ښی نه پا یـــږی
له هجرانه به وصال وته روان‌شی
په وصلت‌به په هستی کښی‌نه پو هیږی
هر نفس به له وجوده قـــدم‌اخلی
لــه‌دی هسی‌ښه ژو ندونه به تر هیـــږی
وپتنگ وته په دا عمل پیغورکړی
چه جداله یاره څر نگ توا نیـــږ ی
خپل صورت در بانــدی څر نگه‌هلك دی
دډیوی‌په میان کی‌ولی نه ځا ئیږی (۲)
ښا یسته‌لمبه به پاس پر تندی‌واخلی
تروپـــه‌میان به دخپل اهل ودر یږ ی
که خندا ژړا دی دوا ړه یگانه‌کړل
پــه‌دا‌هسی‌رنگ‌سو ختن کی به ور یتیږی (۳)
هرزمان بـه‌دی له تنه سر پـــری کیږ ی
بیا په نوی‌سر به لا تـــازه بلیـــږ ی (٤)

---

۱ــدابیت دکتابخانی په‌نسخه‌کی«په‌افسوس به‌تللی عمر نه ستنیږی ــکه‌دوس په‌دودډیرو وریوری میږی» دی .

۲ــ دامصرع دهمیش اودکتابخانی‌له‌نسخی‌نقل‌شوه په‌قلمی‌کی (که په‌میان داهل وعیال، نه‌ودریږی) دی .

۳ــ دکتابخانی اودهمیش دنسخو سره‌سم‌نقل شوپه نوروکی (په‌داهسی رنگ مقام‌باندی به‌خیږی) .

٤ــ دکتابخانی دبشپړی او دهمیش‌دنسخوسره‌سم نقل شو په قلمی اود کندهار په‌نسخه کی دا بیت داسی دی :

هرزمان به‌یی له‌تنه سرپری‌کیږی‌ـ بیابـه‌نوی سرتازه پری زرغونیږی)

پا کیزه له خپله عقله بــــــه‌مجذوب شی
هر زمان‌به په ژړا کښې هو سیـــړ ی
دمیرزا په دود بـــــه‌چیری خاموشی کړی
چه‌د حال په ژبه هرچیری وییړی
دل ازاره خوی دی ونیـــــوه‌دیړی
چی پـــه‌ظلم دمظلو مو زړو نه کوړی
پسو سخت دی‌دستم په‌منگول راکیښی (۱)
په کینه یی‌هر زما ن پر بله مـــــــړی
تل تر تله به خلاص نه شی‌له‌عذابه
چی‌سینی‌د مظلو ما نو ځنی خـــو ړ ی
چی اوړه یی دمظلوم په وینـــه‌واخښه
په هغـــوشوی جا ودانه ښا دی زو ړی
نا صبور که پاد شاهی دکـــل‌جهان کا
حر صـــاك‌زړه به یی خلاص نه‌شی له‌لوړی
دژو ندون په تیریده یی نظـــرنه دی
پسوډیری خزا نی پر باندی لړ ی
په غفلت یی خاطر ښر نگـــه‌ښنگل شو
اندیښنی‌پری مؤ کلـــــی لکه سپـــړ ی
کل مدا ر یی دغلو لو په هنردی
دسباق(۲)په سیو ری گر زی لکــــه‌مړی
ای میرزا نظر لـــــه‌عیبه پر هنر کړه
بی‌وفا اند یښنی مه‌کړه واړه‌بری
که یو ځل دخدایی عشقه هـــم‌خانه شی(۳)
یو په‌یو به له عا لمه بیگا نه شـــی

---

۱ـ دبشپړی اوهمیش دنسخو دامسری‌په‌قلمی او دکندهار په‌نسخو کی داسی ده: «څه ډیر زړونه یی دستم په منگول‌وکښه»

۲ـ دکتابخانی په بشپړه او دهمیش پـــه نسخو کی «سباق» ، دعامی کتابخانی‌په‌نسخه کی (سیاق) اوپه نورو نسخوکی «دیوار»دی.

۳ـ دکتابخانی دنسخی دامصرع په‌نوروکی داسی ده (که‌دزړه دخدای له‌عشقه‌هم‌خانه‌شی)

له هستی به نیستی لـــــره ورشی(۱)
په دا نیستبه له کل هسته یگا نه شی
دکمال عقل به واړه تا خخـــه وی
په نظر به له کل هسته یگا نـــه شی
دتهمت غشی به واړه پر تـــااوری
ترو بـــه‌ته‌د خا صو عا مو ننبنا نه شی
دزړه حال به له نااهله خلکـــواخلی
همیشه بـــه‌لکه گنج په ویــــر انـــــه شی
دغه خپله ودانی به ویرا نـــــه کړی
بیابه ته‌د کل ویرا نو ودا نـــه شـــــی
که دی ځان پردا سو زانه‌لمبه‌کنبیبنو
په دا درد(۲) به جانگدا زه‌پر وانه شی
یو شراب حقیقی به دی تـــرخولی شی
تل (۳) به‌مست په‌دغه‌مسته‌مستا نه‌شی
په هیڅ دود به ددوه کو نـــوپروانه کړی
که توا نگر دقنا عت په خزا نه شی
ته باران به در حمت پر عالم‌ووری
هم‌به‌تخم‌پر جهان دا نه دا نــــه شی
ددی حال اهل به ستا له حاله‌وایی
په رښتیابه‌د رښتینو افسا نـــه شی
په ویل به وویو نکو ادب ور کړی
تروبه زیـــب دواړو چنگ وترا نه‌شی(٤)
که گویا دی دگویـــاپه ثنا کښیوزی
دمیرزا په دود به‌یادپه‌زمانه شی
چه ته هسی مستغنی په گلـــوملی
دریدی‌په وفا خر نگ پو هید لـــــی

---

۱ــ په لرغونی اودکتابخانی په نسخه‌کی«له‌هستیه به نیستی درلره‌درشی‌ـ‌په‌دانیت‌به..
۲ــ لرغونی نسخه د(درد) په‌ځای «دود»دی.
۳ــ دکندهار اوقلمی نسخه د«تل»په ځای(بل) دی .
٤ــ دهمیش په‌نسخه کی (دوویونکوادب)په‌ځای د «ویلو ځواب» اود واړو په‌ځای (دواړه) دی .

محبت دی‌له هر چا سره آغازکړ
لور پـه لور دی‌تانستی ونښلو لـی
دزړگی پټی دی خر نگ‌مختصردی
اوتا پسودا هو مـره مینی پری کر لی
ښه تکیه دی دبی نیاز په‌عهدوکړه
او پــه‌باد دی دزړه ولی وتړ لـــی
که شیرین اشنا دی کوچ درځخه وکا
دفــراق‌ناری به کړی پسی به ځغلی
چه‌د هسی لاله زار تما شه نه‌کړی
دخزا ن‌په لمبو و سو ځی بلبلـــی
بار یکی به‌د نظر در لره درشی
چه‌دیارنښانه‌وی پو ری ښنبلـــــی (۱)
دم په‌دم چه دوصال آواز پــه‌آه کړی
دهجران‌اوښی به کښیبا سی په تلـــی
دغفلت خوب به ته څو پــــه‌بیغمی کړی
چـــــه‌سحر جر س دتلو نا ری وهلی
دا غونچه چه له اوله تار په‌تارشوه
په رموز یـی‌دبیلتون وینا ویلـــــی (۲)
ښن میرزا دمحبت‌پرمینه ومیشت (۳)
په ازل یی دا بدی‌بخری ویشلی
نـن مـــی دا شـهـا لیدلی
پـــه‌یقیـــن می پیـــژ نــد لی
دوا ړه زلفـی یی کړی لـــومی
پرسپین مــخ یــی غوړ ولـــی

---

۱- دهمیش دنسخی نقل شو په نوروکی (چه‌هرچیری دیار ښنبه پری منبلی)
۲- دهمیش په نسخه‌کی د (وینا ویلی) په‌ځای «ناری وهلی» دی .
۳- د (ومیشت) په‌ځای په‌قلمی کی(میشت) او دهمیش په‌نسخه‌کی «پریمشت» دی .

خال یی لو مـه (۱) کـــرعالمه
قا فلـهیـــی پـری نیو لـی

د جـلا دی (۲) شهـــــامینه
دهرچـــا پــه ز ره کـر لی

چه له شاه یی اشنا یـــــیشوه
زرهیی در ست وکیبنس له ولـــی

پــه تهمت دخـــو نــریزی
پهاخـلاص یی مـــلا تړ لی (۳)

دمر غی ونه یی رنگـــــکړه
دخزانپـــــه او بــو وللـــی

له زعفرا نه یی رنگـــک واخست
بیاپه وینو پړ وهلـــــــی (٤)

نن یی بیا خمار پـــه سردی
ومظلومتـــــه قهـــر ولی (٥)

څوك یی تاب سهـلای نــــهشی
چهیی وینی تو یو لـــــی (٦)

لــــه ازا ره نــه ویـــــریږی
خلقهیـــــی دی وژ لـــــی

---

۱ـ دهمیش په نسخهکی (لون) پهنوروکی«لومی» دی . دکتابخانی په نسخهکی (لونی) دی .

۲ـ دهمیش دنسخی «دجلات» په ځایپه نورو نسخوکی (جلا) دی دلتهدکتابخانیدنسخی سرهسم ولیکل شو .

۳ـ دغه بیت دهمیشاود کتابخانی لهنسخو واخیستل شو په نورو کی نشته. د«تهمت»په ځای دهمیش په نسخهکی (نیت)دی .

٤ـ دهمیش اودکتابخانی پـه نسخوکـید(پړوهلی) پهځای (فوغ وهلی) دی .

٥ـ دهمیش اودکتابخانی پهنسخوکیدابیت نهشته خمارد (خ) پهزیرد(خادر ،پړونی)معنی عربیکلمه ده .

٦ـ په لرغونی نسخهکی د«تویولی»پهځای(جوړولی) دی .

پر عا شق شوه برابره
تقد یر تو ر ه وکښلی
په هیڅا به منع نه شی
دمیر زا په قصدراغلی
چه دعام وحال می ولیده پهولی
غافلان لکه‌ژوندی په مړو شمیر لی
دغه مرگ می دصورت اودمعنادی
دمرده وهد یری دخلکو کلی
چه په دا حیات له ذاته خبر نه‌شوی
هرحیوان‌څه انسان نه دی چا بللی (۱)
دهغو به ورځ په ورځ خوا ری‌زیا تیږی
چه خنا س‌پخپله نغو ته کښی وژ لی
دگومان په دریا بونو لاهوکیږی
دگرداب‌په‌مخ کښی گر زی لکه خلی
له‌مجازه یی بساط دی غو ږ و لی
ناسو تیی‌با ندی تیار دی سواره پلی
اماره او لوامه‌په کښی سطرنج‌کا
دا لښکری‌په فر مان وبله څغلی
نو کران یی په شدت وجنگ‌ته ساز کړه
بیا وسلی یی‌خپل خو یو نه پری ویشلی
بد گومان لکه لینده غیرت یی‌ژی
کم‌دلیل دهر زمان وبله ولی
نا مشروع وینا ددوی په مثال‌غشی
پرقبضه‌باندی‌یی کښیښنو جوړ یی ولی (۲)

---

۱ـ دهمیش په‌نسخه‌کی دابیت نشته اودکندهار په‌نسخه‌کی (چه‌دقال دحال خبری چانیولی)

۲ـ دکتابخانی او په‌قلمی نسخوکی‌همداسی‌ده‌دهمیش په نسخه کی(پرقبضه باندی‌کیښنود جوړولی) اودکندهار په نسخه‌کی (پر قبضه‌باندی یی کی ښوولی) ۰

دغه قهر یی قوت لینده ښکوینه
اوریده یـی ګـذا رو نـه تر ختـلی
بد اواز په زړه پر هار وکابی مثله
پر اندوه دی دسړی شیطـان خند لـی
وبد یو ته یی خر نګه تلـواردی
له بنیګنهـی قـرا ری کـړی لکه ښلـی
او دا زړه دهر چـا ځای دی ددارو (۱)
ددا روپه ځای یی زهر دی کر لـی
دنو سك عالم یی زور په زړګی وکا
اود روح په ملك یی ګوښی شیطان ملی(۲)
که قامونه په جهان کښی تارپه تار دی
فقیرا نو پخپل ځان کښی د ی پیر لـی (۳)
دمسکین سره دهیچا سیا لی نه شی
چه یی کړه تر تلی وړا ندی دی تللـی
ای میرزا وخپـل صورت وته نظر کړه
امرو نهی پرهر چاباندی راغلی (٤)
داشنا په اشنایی می دی سوګند وی
که(۵) ناحق می زړه په بد چارو خر سند وی

---

۱- په قلمی نسخه کـی د«دارو» پـه ځای(کـهرلو) دی .

۲- دکتابخانی اود همیش دنسخی د«ملی» په ځای په نوروکی «خملی» دی .

۳- دلرغونی نسخی د (پیرلی) په ځای په نوروکی (پیژندلی) دی .

٤- دهمیش دنسخی په حاشیه کی همداسی دی اوپه متن کی «چه دا امرنهی بار په سړی لښلی» او لرغونی نسخه «امرنهی په هرچاندی لښلی» دی .

۵- دکتابخانی او دهمیش دنسخود«که» په ځای په نوروکی «چه» دی .

هر چه سمه لار پرین دی پـرکزه درومی
تر گردنیی پر یو تلی دا کمند و ی(۱)

دشیر ین دیدن قیمت به هغـهمومی
چه دی بنددجدا یی یی په پیوند وی (۲)

ظالمان (۳) چهله ازاره و یره نه کا
همیشهدی دهجران په اور سپند وی

چه داهسی دگو مان په نغو تهکښیو وت (٤)
دحاسدبه نور په کوم هنر انند وی

چهد نام وننگ شیوه په بیړهی کا
کم دلیـــلعالم دلاندی تر الو ند وی(٥)

جاهلان دی په مثال دستـړیزرکی
چه یيسرپه وانبه پټ(٦) لمیی خرگندوی

خود پرست به له عذابه نــهخلاصیږی
که ظاهر پهصورت خلاص روح بهیی بندوی

هر ناپوه چه ناحق شرم پـهځان ولیښی
دوز گا روخوشا مند بهیی ریشخند وی

کم دلیل له نا پوهی په عذابدی
ددانابه ددانا خبـری پنــد وی

دعارف له ژبی هسی میـــوهرژی
چه خاصیتیی ددا رو لذت یی قنـد وی

ای میرزا دکا ملانووینا نغوره
چه یو یو کلام یـیبه تر سل سمنـد وی

---

۱ـ دهمیش پهنسخهکی (ترگردن دیپریوتیداکمند دی) .

۲ـ دهمیش پهنسخهکی «چهلیدلیییدجداییخوندوی» دکتـابخانـی په نسخه کـی هـم دهمیش دنسخی په شان دی یوازی د (خوند) پهځای (پیوند) دی .

۳ـ دهمیش په نسخه کـی ««ظالمانو»پـهځای (ظالم زړه) دی .

٤ـ دهمیشپهنسخه کی «چهداهسیبدگومانپهعیب کښیښوت»

٥ـ دابیت دهمیش په نسخه کی نشته.

٦ـ دهمیش نسخه د«پټ» پهځای «کښ»دی.

اوس می بیا په دا خراب‌خاطرشو نوی
داشنادلر غو نیو دا غو سکوی (۱)
دغه تور زړه به می هسی بنایسته کا
په اول‌بهار چه وتو کیږی سوی (۲)
ددی عشق له تاوه هسی‌رنګ‌لویی ده (۳)
په ظاهردباطن چار کا دغه لوی
لکه مخ دخال وخطه سره زیب‌کا
هسی سترګی‌بنا یسته په تور بانه وی
چه ددی اصل سیا هی ورځخه‌پاځی
رڼا ورځ‌به‌پر هغو ستر ګو تیاره وی
بی مثلی دواړو مثل وحیا تی‌ده
اوبی‌ذاته‌دصفات استو ګه نه وی
زه همیش دخپل اشنا په دیدن‌پایم
دما هی‌حیا تی هومره څو اوبه وی
دکثرت دوحدت څنبکل (٤)تفاوت دی
لکه یخ‌چه‌رنګ ونوم یی په سا ړه وی
دخود بین له ویری حال‌ویلای‌نشم
دا دخولی‌خبری نه دی زړه می چوی
داشنا مینه زما په زړه لګیاشوه
دا زمازړګی دروی په دود رو ی
دخپل یار جدا یی هسی پر ماګرانه
لکه روح‌چه له صورته په واته وی
که له خپل اشنا قر با ن شم‌باك می نشته
دا شیرین‌اشنا دی تل تر تله ژو ی

۱ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو دامصرع په‌نوروکی (دآشنا دلرغونی داغ خودبه‌یی څکوی)

۲ـ دهمیش اودکتابخانی دنسخی د(سوی) په‌ځای په‌نوروکی (شوی) دی .

۳ـ دهمیش په نسخه‌کی (لویی‌ده) په‌ځای (څبلی) دی .

٤ـ دهمیش په‌نسخه‌کی د «څنبکل» په‌ځای (هومره) دی .

ددی رنځ په‌آخر هسی رنګ پوهیږم
چه بی‌نیازاشنا(۱) به‌وی میرزابه‌نه‌وی
ته چه ستر ګی غړوی په‌جهان‌لوا ښی (۲)
(عاقبت) به یی دځان‌په لور کړی تا تـی
دوا ړه ستر ګی غړوه په هرلور ګوره
دمر ګی په‌لار دی یون دی په حیا تـــی
...     له دی مینځه خبـــرشه
...     حلقی کړی برا تـــــی
په څه خیال په څـه هو ســرغولی
چه‌یی‌لوړی‌ماڼی پا تی شوی میرا تـــی
دهجران سیلی را وا لو تـــه‌عظیمه
دچنډن شیـرینی ځانګی یی کـړی ما تـی
(په قسمت دی) میرزا صبـــرکړه صبور شه
دازل‌بخری به نه شی کم وزیا تی
که دعشق په میو مست لـــه‌ځایه پاڅی
نوربه هیڅ‌کله خلاص نه شی له‌دی ښناخی
چه سیلاب دمحبت پری برابرشی
زړه تمام کوڅ ,کوڅی شی راځی را څـــی
که په حال تر اهل دلو پوری‌ورشی
په خنداخندا به سوزی هم به ځاځـی
ددنیا را تله دی ځر نګ پـــه‌شتاب وو
خوشی ګوره‌په فریاد وپه غـو غا څـــی

---

۱ـ دهمیش په نسخه کی د«آشنا» په‌ځای «عالم» دی.

۲ـ دغه غزل دهمیش‌له نسخی‌اخیستل‌شوی په‌نورو کی ونه موندل شوه په قوسینوکـی نیول شوی ځایونه اټکلی دی.

دقضا شاړه به ستا خنګو نه‌مات کا
که ته هر څوپورته پورته په هوا ځی

دغه هسی رنګ سینی زنبورخانی دی
معرفت لکه‌عسل زړو نه یی بیا ځی (۱)

که یوځل په محبت ور ته‌وګوری
عاقبت به‌له‌دی هسی فا نی پا ځی

ای میرزا که‌دی دغه‌خوښی روزی شی
دلو ګی په دود به پاس په لمبه نا ځی

مقیمی وطن دی کوم دی چه پرلار ځی
ای چه‌سم له خپله عمره نا قرار ځی

نا تمام عقل دی هسی رهبری کا
چه خزان‌وته په مینه دبهار ځی

تفاوت دعین وغین کو لای نه‌شی
په نقطه‌باندی چار پیر لکه پرکارځی

دیقین څراغ دی نه راوړ دوړاندی
ددیدن قوت‌دی‌کم د ی نا هوا ر ځی

په دنیا کښی اخرت ته غزیږی (۲)
بیا له‌لاری یوسر بل سر لکه مارځی

اند یښنی دی په فکرت بدلی‌نه کړی
لکه اوښ‌په خود رایی کی بی مهار ځی

لوی وری دامانت در با ندی‌ایښی
وجنت‌وته به لښلی په‌دا بار ځی

دوحد ت په بی حدی دی صبر نه‌شی
دکثرت‌په‌رنګارنګ (۳) کښی تار په تار ځی

---

۱ـ همیش: «معرفت لکه عسل دزړونو پیاځی».

۲ـ دکتابخانی او دهیش دنسخو سره‌سم‌ولیکل شو په‌نوروکی «په‌دنیاکښی آخرت څخه څخیږی» دی .

۳ـ همیش : «یګانګی».

ومقصود وته به ورسیدی نه‌شی
څو دخپل‌خاطر په مینه کښې حصار ځی
له اخـلاصه ونفاق وته ما یل‌یی
دیمین له‌لوری ځکه پر یسار ځـــی
دمیرزا خبره‌نه‌نغوږی‌کم بخته
په‌دا وخت دتو بـی‌ولی گنهگار ځی
چه دا هسی رنگ په ناز وکرشمه ځی
ته‌د چاپه‌قوت ځی لـه چا سره ځــی
دصفات استو گه نه کیږی بی‌ذاته
بی خبر ته‌د غفلت په توره شپه ځی
له حیوانه سره څرنگ‌فراغت‌یـی
له انسانه‌په وحشت لکه غر څه ځــی
درحمت اثر دی نه وینم پـــه‌زړه کښی
بیهوده دی‌وبله ټولی کړی ور یځی (۱)
دگو مان په ساړه کلك یی‌لکه‌کاڼی
دیقیـن‌له مخه تښتی بځی بځـــی
یا نادان په نادانی له اصـــل‌گوښی
یاکم‌بخت‌له خپله بخته په کیـنه ځـــی
په مقصود پسی به ور سیدی‌نه شی
چه دا هسی‌دخنا س په وسو سه ځـــی
عجب نمر دمعر فت په جهان‌بریښی
دړندو دستر گو څه فایده له رو ځــی
داصراط تر تیغ تیره ترشپی‌تا ریك دی
په‌داسختـه‌لار به څو په مظنـــه ځی(۲)

---

۱ـ دکندهار اوپه قلمی نسخه‌کی دامصرع«بیهوده سره ټول شوی تش اوره ځی» اوپه لرغونی‌نسخه‌کی«بیهوده دی‌ویلی‌ټول کړ‌مدر یځی»

۲ـ همیش:«مظلمه» اولرغونی‌نسخه«مطله».

پر دغه مقام به صبر وکړ ی نه شی
که قدم پهوړا ندی واخلی وبه سو ځـــی
دمیرزا دوینا قدربه بیا مومی
که دا خپله خر قه وا چوی څړه ځی (۱)

په پښتو ژبه عجـــب دی داخبری
پـــــــهصفت دیگا نه محبوب حا ضری
دکثرت بازار یی جوړ کړلونلون
پههر څهکیتما شا ده بازی گری
دصفات نوم یی پههر چاباندی کینښو (۲)
اودذات یگانگی یـــی زو رو ی
په ازل یی قسمت بیا مونـدگوښی گوښی
اوس لیـــده شیچیری ویر چیر ی سند ری
دعا شق خاطر یی پول کـــړدښادی
بیا گهی گهی پر ځیدغم یی پیـــــری (۳)
جدایی می په مثال زهر قاتلشوه
دديدنشیر ینی زیاته تر شکـــر ی
دهجران ناوکی هسی رنگـــهتیروی
چهعلاجیی نه په سپر شی نه په زغری
پر مهجور به عمر څر نگـــهتیر یږی (٤)
چه نژدیلید لی یار شو ځنی لیـــر ی
هو سناك یی له هوسهتماشاکـــا
دخزان دو نیاور ځی په هتـــری (٥)

---

۱ـ دهمیش نسخه (کـه درنـه خـرقهدیواچوی ......)

۲ـ دکندهار اوپه قلمی نسخهکی (دصفتجلوه پههرچا باندی کیږی)

۳ـ د«ییپیری» پهځای دهمیش اوکتابخانیپهنسخوکی «یری» دی دکندهار په نسخهکی (ییری)ته محشی د«کاروان»معناليکلیده.

٤ـ همیش دامصرع داسی اخیستی (دمهجور به زمان څرنگه تیریږی)

٥ـ دلر غونی اودهمیش او کتابـخانیلـهنسخو داسی نقلشوه «دخزان دونی اورځی پههتری» اوپه نورو نسخوکی (دخزاندونیغمگنی بهتری)

دفراق په ، رخی زیب دسترگو گوره
بیا پـه‌تور باڼه چه ځانگی مر غلـری
ای میرزا دصبر اجرددیدار شو
چه دا هسی‌دهجران‌غمونه نغری
که جهان دحقیقت په نظـــــرویني
سود وزیان دی دهر چاله خپلی میني
که لاهوت له سادگی ښایسته‌دی
دناسوت‌جامی یی رو غی کړی رنگینی
دانا یان په‌هر ظاهر کښی‌باطن‌گوری
دجا هلوزړونه تور شو سترگی سپینی
یو اصل داوبو دی یـــــــودځمکی (۱)
او میوی‌ځینی تر خی ځینی شیر ینی
دمشرك آیینه یوه، مخونه دوه‌شوه
دعارف‌ستر گی هم دوی‌نه‌دی دوبینی
حقیقی محبوبه خرنگ‌دی‌صفت‌کړم
چه‌اخری‌بخری را وړی او لینـــــــی
نن یی ځان له سود وزیا نـه‌فراغت کړ
واړه‌امر امر وینم د مسکینـــــی
یو زمان هستی نیستی نیستی‌هستی کا
دفر مان‌چاری یی واړه دی متینـــــی
سا معان یی درموز په معنا‌پوه‌کړه
دواصلوذات صـفـات دی لـه امینـی
سا لکان یی سکو نت لره‌روان‌کړه
داول‌چاری یی واړه دی سپینـــی
دمیر زا مخ می‌ومخ‌ته آینه کړ
دبینا سترگو لیده‌دزړه په وینی (۲)

---

۱ـ دکتابخانی په نسخه‌کی (یواصل دباران یودزمکی) دی .

۲ـ دقـلمی نسخـی سره‌سم نقل‌شو دکتابخانی او دهمیش په نسخوکی(دبینا سترگو لیده دزړه یقینی) او دکندهار په نسخه‌کـی«دبینا سترگو لیده ده په ووینی» دی .

کوم سحر گرو کړی په تــــاټونی (۱)
چه داهسی یو فساد پر بله مو نــی
که هر څو یی ټولوی ټو له به‌نه شی
دا دنیا در شــخه‌غو ړیــړی تــه یی چــو نــی
دخلور عنصرو کــټ پر بلــه‌کښیووت
دم په دم‌دوی ځبله خیژی ته‌یی بو نی
دهلك خویو نه پریږده کـــه‌دانایی
دکمال‌گواهان‌دی تیر شو زوی و لو نی (۲)
یکباره دنفس په نغو ته پسی‌ولاړی
له څر ښښتــه‌دتند یو په دود پو نـــــی
دخفی ذکر له ذوقه خبر نــه‌شوی
په‌غفلت‌کی‌دچار پایو په دود سو نـــــی
رحمانی فکر دی نه وکـــــړدوخته
اوس خنا س‌در څخه وکیښس دزړه ټو نی
دغافل خاطر تمام اند یښښــووخوړ
دوی دا هسی‌پوری نښتی لکــه کــو نی (۳)
په جهان دکم دلیلو پیتی‌دروندی
چه دزړه‌په‌حال هم گونگ دی اوهم کونی
په هیڅ دود په یوه عقد نــــه‌کښیو زی
دغه دین ودنیا خو یندی دی‌نه یونی
ای میرزا ظاهرباطن‌به‌ور څرگند وی
په کامل‌به‌د معنـــــاسترگی کړی رونی
ای عاجزه بنده مست په کوم‌انند شوی
په اختیاردامانت په‌بار خورسند شو ی

---

۱- دکتابخانی اوهمیش دنسخو د«ټونی» په‌ځای په‌وروکی (تبونی) دی .

۲- دهمیش په‌نسخه کی دابیت نشته.

۳- د کتابخانی اوهمیش په نسخوکی(تل بی‌مثله پری‌لگیا دی‌لکه‌گونی) دکتابخانی پــه نسخه‌کی (تل‌په مثل ،،...) دی

پخپل قصد دی عجب ظلم پـه‌ځان وکړ
په څه (۱)جهل‌وخواری ته ارزو مند شو ی

نور هر گز دخلاصیدو فکر دی‌مه‌کړه
اوس چه‌بنددخپلی مینی په کمند شو ی

نه پا کان دملکوت دی پر ځای‌پریښوه
دناسوت په دغه‌تنگ با زار کښی بند شو ی

دوحدت په قراری دی صبر نه‌کـړ
دکثرت په‌عددو‌نو کښی پیوند شـو ی

په آسمان کښی ته مسجـــود دملا یك وی
او په ځمکه‌دحیوان عالم (۲) ریشخندشوی

دجنت جامه یی کل در څخـه‌وکښه
سر تر پایــه‌په تمام عیبو خــر گند شوی

دغفلت په تار یکی کښی دی‌ځان هیر کړ
دیقین په اصل،یو په گومان چنـــد شوی

ته اول یوازی یو یگا نه خوبی‌وی
اوس پسو ذره‌ذره پر گند پر گنـد شـو ی

د با ران د اوبو اصل سـره یو دی
اوس نوولی‌چیری زهر چیری قند شو ی

دمیر زا په وینا لږ (۳) عالم پوهیږی
پر نادان با نـدی‌گناه ددانا پند شوی

څه دی زده چه دصفات پـــه‌اصل څه وی
یاد ذات‌اصل دی کوم دی چه پر ژوی

ستا راتله ووپه اول له کومـه‌ځایه
بیا پسس له‌دی دکوم مکان مر غه وی

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی د (په‌څه) په‌ځای «په‌بد» اوپه نورو نسخوکی (له‌څه) دی ٠

۲ـ دهمیش په‌نسخه‌کی (اوپه زمکه دجمله حیوان)

۳ـ دهمیش دنسخی د(لږ) په‌ځای په‌نورو نسخوکی «ډیر» دی ٠

څو اول اخر په حال با نــدی‌رانه وړی
لکه ووړ کـی‌په تی پـو ری پـــی رو ی
ددا نا په دانا یی باندی ویښ نه‌شوی
دغفلت‌ترشجر (۱) لاندی شوی او ده و ی
په خاطر دی دغفلت فکرو نه‌ډیر شوه
اند یښنی په‌کښی څوینږی لکه زو ی (۲)
دکثرت په ډیر حساب کښی‌بیگانه شوی
اوس ویښته‌پـر ویښته یو څبله چـــوی
بی وفا په تش رسمونـو (۳)پسی ولاړی
نور عالم‌که فراغت وی خوار به‌ته وی
عجب نوم دی دحجاب خپسر کښیښو
په هوا باندی‌چو پیړ څړه او بـــه وی
گه ذره چه دسا یی په میان‌کی‌بریښی
گه زلی‌یی په زور جمع دسا ړه وی
په نیمگړی صورت څه لـــره‌نازیږی
که پر سیوری‌دی نمر در شی ته به نه وی
پخپل شك دی خپسر سخـت‌گانه ترکانی
دیقین پـه‌تاو کښی وسوی لکه خـــوی
له دی سوز دی یوبی حــده‌عزت بیا موند
ځای په ځای‌دښا یسته ستر گو رانجه وی
دا قدسی جامه دیواغو سته روښانه
دفقیر میرزا په‌کسی‌کښی لیده وی
تل قد یــــم یی تل تر تـــل‌یی
دعاشق‌پـــــه زړه کـــر ل یـــی
پر سپین مخ دی را خپر ی‌کړی
تو ری‌زلفـــــی غـــوړ ولـــی

---

۱- دهمیش په‌نسخه‌کی د «شجر» په‌ځای په‌نوروکی (سحر) دی .
۲- دهمیش په نسخه‌کی د (غفلت) په‌ځای (گومان) اود «څوین» په‌ځای (سوزی) دی په قلمی نسخه‌کی د (څوین) په‌ځای «خویږی»دی.
۳- په لرغونی نسخه‌کی د(سمونو) په‌ځای «غمونو» دی .

په کا ته کنبی دی کړی غوځی
دعـاشق دزړ گـــی ولـــی
یو زما ن می نـــه هیـــریږی
زر غونـــه زما پر دل یــــی
حد پا یان دی مو نده نـــهشی
ترکلیات یـــی جار وتلــــی
د کثـر ت په کیـــــل دیزړه و
نن پـــــر چـــار عنصر را غلی
یو لطیف مــــزی دی روغ کړ
خلقهدی پـــــری پیلی
را نژ دی تـــر بنار گړنو
وهرچــــا یی رسیـــد لـی
کم دلـیل دی لیـدا ی نــهشی
پهگو مان ځنـــی پـــو بنلـــی
اه او اوه پـر هغـــه کسدی
چهیی ته نه یی لید لی (۱)
وا ړه ستادمـــــخ خبری
دا فقیـــــر میرزاویلی
ذکر عین ځنکدن دی دژوندونیی (۲)
هر نفسدانبیاژوندون کیده دی له لیدون یی
هره سا هه چه په غفـلتد رځخه درومی
انبیاقتلکوی گر فتار په خـــون یـی
پهداهسی ازماینبتچه ازمودهشوی
ځنکدن بهخپلاسان کړی که مر دون یـــی
دمعنا ذکر چراغ په زړه کنبیبل کړی
دغه ځانجهان به وینی په کړ ون یـی
خدای بی مثله پاك در یــابدکل هستی
په قدرتیی فهم وکړه کهپه چو ن یـی

---

۱ـ دابیت دهمیش نسخه نهلری .

۲ـ دانظم دکتابخانـی لـهبشپړی نسخیواخیستل شو.

هر اواز ثنا ثنا په بم وزیــرکـا
په تسبیح یی وړو هیره په مضمون یــی
په وصلت له هره اصله پیــژندوی شوی
لکه اصل په خپل اصل پیو ستون یــی
داسرار له پټه شرکه خبردارشه
په یقین دیوه پوه شه که سمون یــی
په دار سم موجد ځنی ملحــدشو
نا اشنادی خپل اشنا کــړ نجو مــو ن یی
دجهان نښانی واړه دی پــــه ځان کښی
دقد رت په آینه درون بیر ون یــی
په سجین له سکو نته خبر دارشه
«تخلقوابا خلاقی» په حق زر غون یی
یو الله په زړو یو نامه بالــــه شی
دکثرت په ملــک پریشان دی نون یی نون یی
ای میرزا که د باطن سترگی بینا کړی
دقدس پرباغ انعام شوی بیرون یی
کوم امید په دا فانی ورا نــه نړی
چه فرصت یی یو څو پهره څــو گړ ی
دبی نیاز په عهد ځنبکله تکیه شی
چه د زړه مینه پــه باد پــو ری تــړ ی
سرا سر دایرو څلــــــی دی رغیرړی (۱)
بیهوده د شگــو پــړی د ی غـــړ ی
په ارزو پسی چه تلی سزادی داده
مینــی دیری خلقی کړی رنځـــړ ی
اوږدی طمعی سمه لاردربا ندی بند کړه
لور په لوریی درته کښیو لــی اړ ی

---

۱ـ دهمیش په نسخه کی (سراسر دواورو څلی دی رغیږی) اوپه نورو نسخو کی د«رغیږی» په ځای «روی»دی.

دعیال ځنځیر یی سخت پــه‌غاړه کښیووت
محبــت‌یی وبله ه.و یستی، کــړی (۱)

دځوانی پسرلی یی څه ښکله‌تازه و
دپیری‌سهیل‌یــی وچــی کــړ ی جــړ ی

دقدرت له مخه رنګ پر بلــه‌اوړی
پسو توروینبته شو سپین لکه وړ ی

ددانا پو هه مدام په اشا رت‌وی
دنادان‌ادب په قهر پــه چــړ ی (۲)

په اوبو به دزمزم شی کلــه‌سپینه
چه‌په ذات‌او دلی تو ره وی شړ ی (۳)

په اول می توری زیری تــــه‌هوس کړ
او سـارمان کوم د څنهو و څــړی (٤)

ای میرزا وینا څــرګنده رښتیا وایه
څوګویا ژبه دی نــه‌ده تتــړی (٥)

| | |
|---|---|
| دا څه وخت شو دهو لی | هندوان تولهٔ شو لولی (٦) |
| زه وتاسی وته وا یـــــم | ای د بر همــن تهــو لـــی |
| عقل کل در څخه وا لو ت | چه ایام شو دهـــو لـــی |
| نار ینه چه دیوانه شو ه | همسی ښځی دی بهو لی (۷) |

---

۱ـ دهمیش اودکتابخانی په نسخو کــی‌د(محبت) په‌ځای په‌نورو نسخوکی «چه‌حبو»دی.

۲ـ دهمیش په نسخه کی د«چړی»په‌ځای په‌نوروکی «چنړی» ده .

۳ـ دکتابخانی اودهمیش دنسخو سره سم‌نقل‌شو ـ په‌نورو نسخوکی د(اودلی) په‌ځای «دلی» دی .

٤ـ دهمیش په نسخه کی‌د«می په ځــای«دی» اودکوم په‌ځای (کوی) دی .

٥ـ دهمیش په‌نسخه کی د«تتړی» په‌ځای«تړتړی» ده.

٦ـ دکتابخانی ، همیش اوپه نمګړی‌نسخوکی دابیت نشته او «دهولی» دکندهار دنسخی محشی د«خوشوقتی او مستی په معناخیستی‌دی »٠

۷ـ دکتابخانی ، همیش اونیمګړی نسخود(بهولی) په‌ځای په‌نورو کی «بولی» دی.

ستاسی اصل دی له کومه    ځان په کوم نا مه بو لې
خوله توپك ژبه ما شه ده    بد گفتار پکښی گو لـــی
نا مشروع موارگجه کړه(۱)    په دستا رو په جو لـــی
بد خو یان تیره اغـــزی دی    بد کـاران لکه ځـو لـی
نا دان یو له بل څکو ینـه    بی صر فی لکه پـو لـــی
سړی خوی دی که باور کړی    دا صو رت تشه ډو لـــی
وخپل یار وته دی عشوه‌که    خبسر ساز که‌تن بولی(۲)

میرزا حال وایی نه عیـب
که په زړه یی وتو لـــی

---

۱ـ دهمیش په نسخه‌کی « نامشروغمـی ارگجه‌کړه» دی اودکتابخانی پـه نسخه کـی «نامشروع راپوری الکجه کړه»دی اودکندهار په‌نسخه‌کی نامشروغ په‌ځان‌کړی پوری‌دی.

۲ـ دهمیش اونیمگړی نسخی (وخپل‌یاروته عشوه‌که ـ خپسر سازکه تنبولی) اخیستی‌دی.

# ٤

# متفرق اشعار

# شمع او پتنگ

پتنګ وو یل:

زه چه ستا شمعی ثناکړم　　تا عاشق پخپل رڼا کړم
سر ښند مه بی اختیاره　　چه برپای دعشق سوداکړم
پتنګ ما بو لی با تی　　پر تا مینه زه رښتیا کړم
چه زړه ور وا ور ته ځمه　　محبت وا ړه له تا کړم
داشنا له ږیری مینی　　زه کشتن په ځان روا کړم
چه مقصود می ځان بازیده　　اوا ره فا نی هوا کړم
له طلبه نه جار وځم　　خو شیرین صو رت فناکړم

کل مقصود می یو دیدن‌شو
دوا ړه کو نه پسی شاکړم

اوله تا می دا ما نه شی　　چه‌زړه سوی‌دی په‌چانه‌شی(۱)
شهیدان دی بی حسا به　　لابه خو فقیران مړه شی
که حجاب له مخه وا خلی　　لور دلوره درخواره شی (۲)
محبت چه په زړه کښیوزی　　ښه ځا نونه پری ترخه‌شی
دبا قی دیدن دپاره　　دفنا پرلوری تله شی

---

۱ـ دابیت دهمش نسخه نه‌لری

۲ـ دهمیش اوکتابخانی د «خواره» په‌ځای په‌زوروکی (ستانه) دی .

چه پر تا خپسر فا نی کـا		قرا ری به یی ها له شی
په سو ختن یی خوبنی‌دیره		لوی اختر دی چه پرده‌شی

دبی کس وژلی غسل
مگر ستا په او بنو (۱) وشی

شمع ووی بی وفـــا دی		دا امید چه ستا پخوا دی
که‌دی ځغا سته په‌شتاب‌ده		بیش و پس دی‌بی سپا دی
څه اند وه دمړ صورت‌کړی		کل یقین دی مـــاسوا دی
دکامل طلب دی ترك کـړ		زړه دی تللی په هـوا دی
ته‌په خپله خوبنی درو می		غلط کـړی دی پیشوا دی
هر چه بی رهبره گر زی		له مقصو ده بینـــوا دی
زه چه هسی قیمتی شو م		دکا مل صحبت دوا دی

دشهید په وینـــه غسل
بل اود س پری نا روا دی

شمعی وویل:

زه چه‌تل دځان غربت کړم(۲)		دخپل زړه په محبت کړم (۳)
آسانی (٤) می په چانـه شی		ځان با زی په‌خپل صورت‌کړم
چه صحبت شی دپا کا نو		بخپل سوزکی‌یی‌حرمت کړم
پر ځای وسوځم تما مـــه		بی‌اختیاره لوی همت کـړم
او رز ما پر ســر بلیـبړ ی		زه روبنان تمام خلوت کړم
نه تاوان کړم له چا طمـع		نه‌په چا باندی تهمت کړم

نام نښان می پاته نه شو
ترو اندوه دکوم امت(٥) کړم

---

۱ـ دکتابخانی اوپـه نیمگړی نسخوکـی‌د(اوبنو) په‌ځای «وینو» دی .

۲ـ دکتابخانی په بشپړه اودهمیش‌په‌نسخوکی (شمعی وویل) نشته اوپه نوروکی‌دبیت سره یوځای لیکل‌شوی.

۳ـ دهمیش او نیمگړی نسخی دامصرع‌په‌نوروکی «اوداهسی ځان‌سیزل په‌محبت‌کړم»دی.

٤ـ دهمیش په‌نسخه کی «احسانی»دی.

٥ـ دهمیش د(کوم امت) په‌ځای په‌نـورو نسخوکی «به‌زه په‌څه» دی .

پتنګ وو یـل پیو ستـه — تا پرځای وینم پای‌بسته
شمعې ډیردې خپسر خوبش کړ — لیو نې شوی یاکه مستـه
څه دا هسې لوی دې ووی — کوم اختیاردې دې‌له دسته
درسته شپه په تاوان سو ځې — صباح پرو ته خواره خسته
لکه وخت دبیګا هو ن شې — بیا دې اور لره که مر سته
هیڅ اختیار دې‌په لاس‌نشته — په ګومان یې خود پرسته
څوك چه کاندې په تاو کـه — هیڅ اتکل نه‌کـړی‌له وختـه
زه که لاف کړم در نـــدې — شیرین ځان سیځم دقسته
مخ په مخ په‌اور کې سو زم — بیارته نه‌ګـو رم‌یـك لختـه

که اختیار دغه اختیار دی
ما په ځان و کـه هر و ختـه

شمعې پټ وویل‌په‌خوله‌کې — ته پتنګ څه یې په څه کـې
وسکه پوخ نه یې لاوم یې — ډیر غلط وایې داله (۱)کې
نه دلیل وا یې نه فهـــم — نه‌جهت لری په زړه کې (۲)
دباور ستر ګې دې نشتــه — څه‌اختیار غواړې په‌مړه کې
پس له مرګه فا یده نشته — نه‌یې سود شته په وه‌وه‌کې
عارف محوه شو یکبـــاره — لکه ځاځکې په‌اور به کې
په رضا یې چارې کیـږ ې — هر چه یو شو په یوه کې
چه له مرګه پخوا ومـــرې — اوس فر مان که په هر څه‌کې

دمیر زا ګفتار رمـــوز دی
که‌دلیـل لـری پـه زړه کـې

## مخمس

دا پیغـــام دپیغمبـــر دی — لکـــه شمع منـــو ر دی
پیدا کړی یې شجـــر دی — چه فا نې ظـا هر بشر دی
په فا نـــې دې څه با وردې

---

۱ـ دکتابخانې اود همیش دنسخو «ډیرغلطوایې داله کې»په‌ځای اوقلمی نسخې (ډیرغلط یې‌په‌وله‌کې) دی .

۲ـ دکتابخانې په بشپړه او دهمیش پـه نسخوکې دابیتونه نشته .

له عا شقه یگا نــــه شو ه
له قر یبــــه بیگا نه شوه
په جهان کښې افسانه شوه
دا دنیا کو تر خا نه شوه
د انسا ن مثال کو تر دی

دمحبت یا ران و ور یــږی
شیر یــن عمــر دی کمیږی
یاد گاری دی پا ته کیږ ی
یو کښینی بل ولاړ یږ ی
دغـــه هسی رهگذر د ی

له قیا مته نه ویر یــږ ی
چه دلی سم ودریږی (۱)
په دنیـــا بــه عذا بیږ ی
اوآخر به ترې تیر یږ ی
څه صفت دسیـــم وزردی

دچند ړو په دود میښن شه
اود شهد په دود خیښن‌شه
دالف په دود سم کیښن‌شه
دغفلت له خوبه ویښن شه
راختلی د عشـــق نمر دی (۲)

دا فا نی دنیا ده تیــــره
دفانی ا ندیښنه هیره (۳)
په دریاب یی پل بر سیره
یودعشق نامه یی د یــر ه
محیط شوی په هرهر دی (٤)

داعالم دی په سو به‌کی (۵)
لکه بــاد د ی پــه قــبه کــی
گناه ریژی په توبه کښې
له مسلمه په کعبه کښې
په کنشت کښې له‌کافردی

له مشر که څخه ورا شه
له دی ویری تبـــــرا شه
په وحدت کی سر برا شه
یگا نگی لره ته را شه
په دویی کښې دی خطردی

---

۱ـ دهمیش نسخه(چه‌دوه ورځی سم‌دریږی) اودکتابخانی په نسخه‌کی «چه دروځی ...،»

۲ـ دهمیش نسخه د (کامل ختلی په وره نمردی)

۳ـ دهمیش په نسخه کی د«دافانی»په‌ځای‌دواړه ځایه «دوفا»دی .

٤ـ دکتابخانی اودهمیش پــه نسخوکــی‌د(هرهر) په‌ځای په‌نوروکی «دربدر» دی .

۵ـ دکندهاراودهمیش دنسخو د(داعالم‌دی) په‌ځای په‌نوروکی «ددی دور» دی .

یو چند گاه خاوری انسان‌است          که انسان‌دی روبران است
دصا لح عقل میزان است          میرزا مرغ لا مکــان است
یاد گار یی ځای خیبر دی

# پاتی غزل

زه که یو ځله اخلاص وتا تــه‌درم (۱)
دا اخلاص بـــه تـــر باوره پوری ورم
دغه وهم چه دشك په سا ړه‌کلك دی
په اخربه‌دتوحید پــه تــاو شی گـر م
لکه نمر دمعر فت په جهـــان‌وخوت
دغه یخ بــه‌داوبو په دود شی نــــــرم
له مجازه می قدم په حقیقــت‌کړ
ددریاب‌په‌مخ کښی ولاړم تــرم تــرم
دغه هسی رنگ نیستی زمــاهستی ده (۲)
گنهه‌بل هنر می نشته نه یی لــرم
دا حباب چه ددریاب په مــخ‌کښی مات شو
او سړاوبه له اوبو ځرنگه وامرم(۳)

---

۱ـ داغزل د«م» له ردیف څخه سهواًپاتی‌شوی نوځکه دلته راوړل شوه.
۲ـ دهمیش په نسخه کی دهستی‌په‌ځــای (نیستی) ده .
۳ـ دکـندهار په نسخه کی «امـرم»تــه (بیلی کړم) معنا لیکلی ده .

له یوه اصله را تله، هو ری‌ورتله دی
داجهان دغه‌یی کار دغه‌یی‌درم(۱)

گه گهی بهار خزان ، خزا نبهار شی
دایو کبنت‌گهی ریبم گهی یی کـــــرم

دا سړی په علم وعقل ښایسته‌دی
دحیوان‌هم‌و ماغزه شته گوښت وچرم

چه په روح ددواړو کـو نـوآزادی کړم
دصورت‌په‌کمینی‌می مونده‌برم(۲)

دبدن کمینی هسی‌رنگ لویی د ه(۳)
چه مسکین کادمیرزاپه نامه شرم

---

۱- دهمیش په‌نسخه کی «له‌یوه ځایه‌راتله‌وبل‌ته تله‌دی. دجهان دغه اوبال دی دایـــی دی هرم».

۲- دهمیش په نسخه کی د«برم» په‌ځای‌کی (آباد) دی .

۳- دکتابخانی په‌نسخه کی د«بدن»په‌ځای‌د «ددی‌تن» لیکلی دی .

# لغتنامه

ترتیبوونکی

خیرمل دوست

PROPERTY OF ACKU 9285

«الف»

اوژه «پ» وریده ـ وریځ.

اور پښتی «پ» پتنګ.

انند «پ» خوشحالی ، آرام ، عیش.

اوری «پ» پسرلی .

اهیر «پ» ۱ـ غوبه ۲ـ ښکاری.

(دکندهار نسخه = تدبیرکوونکی)

ارسی «ه» شیشه ، غمی.

انجاڼ «پ،ه» خبر، آګاه «ناجاڼه = ناخبر»
په اردوکی «جانته ـ پوهه»

ارګ : کـلا ، حصار.

انجڼ «ه» رانجه ، کجل.

اوزمه «پ» میاشت.

اړی «پ» ۱ـ دام ۲ـ لښ.

اوریده «پ» غوږ، سامعه.

اخـٍل «پ» غوره کول ،انتخابول.

ارګجه «پ»ګلوړ، دورګه«ه» ارګجا = دیوی
مرکبی خوشبویی نوم، ګلوړ رنګونه.

«ب»

بیتا «ه» خوی، پسر.

برغو «پ،ف» سورنۍ ، (اصل یی«غبرګو»
پښتو ښکاری).

برګټ «پ» ځرګند، ښکاره.

بور : غرنی چرګ.

بلیښل «پ» پیچل.

بیور «پ» راز نیاز، مناجات.

بیلودل «پ» غزیدل.

باړ «پ» شپول.

بهت «ه.» ډیر.

بګاړ «پ» وران، خراب.

بهتواری «ه.» ډیر ځله.

بزه «پ.ف» ګناه.

بوږ «پ» ۱ـ نیمګړی ، ناتوان ۲ـ مرور.

«پ»

پتڼ «پ،ه» ګودر، ساحلی کلی،دسیند
په‌غاړه کلی، آبادی ، بندر.

پاپ «ه» ګناه.

پـل «پ» معاف.

پیاځه «پ» ۱ـ دباجری، باجوارو مـړی
۲ـ دګبینی پاتی خیری.

پار «پ» توان، طاقت.

پلاڼه «پ» کته ، پالان.

پسو «پ» هسی ، هسی شان.

پند «پ» سفر، رحلت، تګ.

پولی «پ» دشولو تاوکړی وابښه.

«ت»

تاب: تاو، تپ.

ترو «پ» نو.

تـج : تیکی، کـاتن ،نیام (پـه هنـدی کی = تش ، وړوکی سپك).

تاړ «پ» دکمچوری یـوقسم شراب چـی دهغی له کنډه اخیستل کیږی.

تیږل «پ» توږل.

ترك «ف» پولادی خولی.

تروټ «پ» کوټه ، ناقص، تاوانی.

ترنگو خه «پ» چیترو، شاگردی، تیندی، کودری (دکندهار دنسخی محشی ورته = هغه گرد سولول شوی کودی چیماشومان لـوبی پری کوی. لیکلی دی .)

«ټ»

ټگل «پ» ځان پهټگیاچول.

ټیچ گاڼه ، اټاله.

ټناټول «پ» (د«ټ» په زورکـی) کلـکول، محکمول «ټنډ = قوی، زور ور».

ټندیا «ه» تمهناؤیخ، سرد، سوړ.

ټونی «پ» جادو ، تعویذ، کوډی، ټوټکه..

(ج)

جیون «ه» ژوند، حیات.

«چ»

چوړا «پ» بنگړی، گجری.

چوز «پ» یوکلن باز.

چړی «پ» جرړی، نیلی .

(خ)

خشکل «پ» خرنگه، څه شکل.

خړه لار «پ» تنگه لار دپلیـو لار، هغـه لارچی بوازی پلی پری تلایشی.

څویدل «پ» نری درد کول.

خړی «پ» زلفی، اوربل.

څولی «پ» څولی، مجازاً اغزی.

(خ)

خمسور «پ» همراز.

خزری «پ» جامی ، کالی.

خڅ «پ» دخاورو خلی .

خپسر «پ» خپل ځان.

(د)

داله «پ» دلته (د«ه» په زورکی).

درغستل «پ» غولول ، تیرایستل.

داوڼ «پ» پرونی.

دهرم «ه» مذهب، انصاف .

دربلیدل «پ» پریوتل، غورزیدل، پهشك کی لویدل.

دښنه «پ» دشمن.

ډیوټ «پ» چراغ دان.

(ر)

رټ «پ» ۱- خرگند ، ۲- دژړا کیفیت.

رنځری «پ» رنځوره.

راخی راخی «پ»ولیولی ، گراخی گراخی لختی لختی.

ربځنه (ریزنه، ریژنه) «پ» رینه، رینه.

ریمن «پ» خیرن، مجازاً مراوی،نیمژوندی.

رامچك، رامجك «پ» لړی.

(ز)

زیرمه «پ» ۱- تدبیر ۲- ذخیره.

زلیچه (زلوچه) «پ» قالینه ، قالینچه.

ژغرل «پ» ساتل ، ژغورل.

زوږ (د«ز» سکون ، د«و» زورکی)
«پ» نابود، نشت.

(س)

سوټبوټ «پ» بغ بوټ، دغصی پهحالت کی ناست.

سهېدل «پ» ۱ـ آرامیدل ۲ـ هضمیدل.

سجن «پ» ۱ـ معشوقه ۲ـ هغه ځوکچی دکومی پیغلی سره دواده اراده لری.

ساهه «؟» پههندیدشریف شخص معنالری. دکند هار دنسخی محشی ورته (خبر)لیکی.

سوڼ «پ» سونیدل.

سوهاګڼ سهاګڼ «ه» هغه ښځهچه خاوند یی ژوندی وی.

سرهل «پ» یوقسم اغزیدی.

سپنګیر «پ»سری، کروهه یواغزنبوټیدی.

سکوی «پ» سوی، نیم سوی لرګی.

سازه «پ» خنې.

(غ)

غوزیدل «پ» ښوئیدل ، غورزیدل.

غوری «پ» پچه قرعه مجازاً ازلی برخه.

(ک)

کـان «پ» پښت (دعربی کـان = مـعدن په معنا نهدی).

کك «پ» خسنې ، خس.

کاهښ ، کهښت «پ» خاربښت.

کهت «پ» ګرول.

کوول «پ» ګرول.

کلیاڼ «؟» دکندهار نسخه: بزرګ.

کـاڼ «پ» کوه (دفعل لرغونی فـورمه لکه خوانه.)

کرین : کنړی، یاکړی.

کوکو «پ» ښکلی ، ښایسته.

کښی «پ» دکښت ساتونکی.

کنول «ه» دبرسنډیګل ، ګلنیلوفر.

کیل «ه» راز، معاشرت.

(ګ)

ګرهوخ «پ» ګراخه، کنده.

ګهلی «پ» مخلوط ، ګډ.

ګو «ه» ۱ـ شبحه ،وړانګه ۲ـوینا،خبره.

ګو ڼ «پ» ګونې ، یوډول خزنده.

ګانده «پ،ه» سبا ـ ګهیځ.

(ل)

للون «پ»خیشاوهدهرزه بوټولیریګول،خوی.

لواتی «پ» پرانیستی (غا لـباً دسترګـو صفت راځی.)

لهر: ویاله.

لویټ«پ» دیوه مرغه نوم دی چهدچـجی نومی مرغه سره یوځای ګرځی.

لښلی «پ» ۱ـ بارشوی ۲ـکوچیدلی.

لـم «پ» ۱ـ دنبه ۲ـ مجازالکې.

(م)

مغ «اوستا» زر دشتی روحانی.

موټ «پ» دسته، محافظ .

موخه «پ» نخښه ،نښه، هدف.

میور «ه» طاوس.

مواس «مغفن» شیطان.

میلیا «پ» وصال ، یوځای.

مـلل «پ» ساکـن کیدل ، قـراریـدل، استوګی کیدل.

منی «پ» هار، امیل.

ﻧﺎﻟﻬﻪ «ﭖ» ﻣﻠﻴﺎﺯﻩ ، ﺩﮔﻠﺴﻮ ﮔﺮﻭﻧﺪ ﮔﺴﺮﻓ ‌(ﺩﮐﻨﺪﻫﺎﺭ ﺩﻧﺴﺨﯽ‌ﻣﺤﺸﯽ ﻭﺭﺗﻪ«ﺑﺰﮔﺮ»ﻟﻴﮑﻠﯽ‌ﺩﯼ) «ﻨﻪ» ﺩﺗﺎﻧﻴﺚ ﻭ ﺭﻭ ﺳﺘﺎ ړﯼ ﺩﯼ ﻟﮑﻪ ﺩﻭﺑﻨﻪ، ﻧﺎﻳﺎﻧﻪ.

ﻣﻮﺧﻪ «ﭖ» ﻣﭽﻪ (ﺩﮐﻨﺪﻫﺎﺭ ﺩﻧﺴﺨﯽ ﻣﺤﺸﯽ ﻫﻤﺪﻏﻪ ﻣﻌﻨﺎ ﻭﺭﺗﻪ ﻟﻴﮑﻠﯽ ﺩﻩ)، ﭘﻪ‌ﺧﻴﻨﯽ ﭘﻴﺸﺘﻨﻮ ﮐﯽ ﺩﺑﺮﺧﯽ ﻣﻌﻨﺎ ﻟﺮﯼ،

(ﻥ)

ﻧﺴﺖ : ﮐﻮﻧﻬﻪ ﻫﻨﺪﻭﻩ «ﺩﮐﻨﺪﻫﺎﺭ ﻧﺴﺨﻪ».

ﻧﻐﻮﺗﻪ «ﭖ» ﻟﻤﺴﻮﻝ ، ﺗﻠﻘﻴﻦ.

ﻧﺮﻭﺏ، ﻧﻠﻮﺑﻪ «ﭖ» ﻣﺎﻳﻊ ، ﺍﻭﺑﻠﻦ.

ﻧﻴﻠﯽ «ﭖ» ﺍﺱ.

ﻧټ «ﭖ» ﺳﺨﺘﻪ ﻧﺎﺭﺍﻣﯽ، ﭘﻪ ﺑټ‌ﮐﯽ‌ﺩﺍﻭﺭﻟﻪ‌ﺗﺎﻭﻩ ﺩﻧﻴﻨﻮ ﺣﺮﮐﺖ .

ﻧﺴﯽ «ﭖ» ﺧﻨﯽ.

ﻧﻴﻮﺯ «ﭖ» ﺳﻴﻼﺏ، ﻧﻴﺰ.

ﻧﺎړﯼ «ﭖ» ﺩﺧﺮﻩ ﺁﻭﺍﺯ.

ﻧﺴﻮﺍﺭﻩ «ﭖ» ﻳﻮډﻭﻝ ﺑﺴﻴړﯼ. (ﻫﻨﺪﯼ ﻧﻮﺍړﺍ = ﻳﻮډﻭﻝ ﮐﺸﺘﯽ.)

ﻧﺎﺯﻩ «ﭖ» ﺳﻮﭼﻪ ، ﺧﺎﻟﺺ.

(ﻥ)

ﻧﻬﺮﯼ «ﭖ» ﺟﺎﻣﯽ، ﮐﺎﻟﯽ.

ﻧﺘﺎﺭ، ﻧﺎﺗﺎﺭ «ﭖ» ﻧﺘﻞ، ﭼﭙﺎﯙ، ﺗﻴﺮﻟﯽ،

ﻧﻴﻨﻪ «ﭖ» ﺩﺳﺘﺮﮔﯽ ﮐﺴﯽ.

ﻧﻬﺎﻝ «ﭖ» ﻭﺩﺍﻥ، ﺁﺑﺎﺩ.

(ﻭ)

ﻭﺭﻡ «ﭖ» ﻧﺼﻴﺤﺖ ، ﻣﺸﻮﺭﻩ.

ﻭټ «ﭖ» ﻋﻴﺐ، ﻧﻘﺼﺎﻥ.

ﻭﻫﻮټ : ﻟﻮﺑﻨﯽ ، ﺧټ.

ﻭﺧﭽﻪ «ﭖ» ١ـ ﮔﻮﺗﻪ ٢ـ ﮋﻭﺭﻩ ډﻭﻧﮕﯽ، ﭘﺨﻮﻭﻧﯽ

ﻭﺭﮒ «ﭖ» ﺩﻳﻮﮐﺎﻝ ﻧﻪ‌ﺗﺮﺩﺩﺭﻳﻮﮐﺎﻟﻮ ﻧﻮﭘﻪ‌ﻋﻤﺮ ﮐﺒﻨﯽ ﺩﺍﻭﺒﻦ‌ﺑﭽﯽ ﭘﻪ‌ﺧﻠﻮﺭﻡ‌ﮐﺎﻝ‌ﺑﻴﺎ ﺩﻭﺭﮔﻪ‌ﻭﺯﯼ.

ﻭﺭﻏﺴﺘﻠﯽ «ﭖ» ﮔﻮﺭﯼ، ﺩﻟﻮﮐﯽ، ﺩﻝ‌ﺩﻝ‌ﺷﻮﯼ ﺟﻮﺍﺭ ﻳﺎﻏﻨﻢ.

ﻭﺳﮑﻪ «ﭖ» ﺧﻮ، ﻣﮕﺮ، ﻻﮐﻦ.

ﻭﻳړﻳﺪﻝ «ﭖ» ﻭﻳﺎړﻳﺪﻝ، ﻧﺎﺯﻳﺪﻝ.ﻓﺨﺮﮐﻮﻝ.

ﻭﻟﯽ‌ﮐﺘﻞ «ﭖ» ﻳﻮډﻭﻝ ﻓﺎﻝ‌ﮐﺘﻞ‌ﻟﮑﻪ‌ﺩﻭﺭﻏﻮﯼ.

(ﻫ)

ﻫﺖ «ﭖ» ﻫټﯽ، ﺩﻭﮐﺎﻥ.

ﻫټ «ﻫ» ﺿﺪ، ﻳﺎﻏﯽ، ﺳﺮﮐﺒﻦ.

ﻫﻮﯼ «ﭖ» ﻫﻐﻪ، ﻫﻮﻏﻪ.

ﻫﻴﺒﻦ «ﭖ» ﺣﻴﺮﺍﻥ.

ﻫﻮﻟﯽ «ﻫ» ﺩﻫﻨﺪﻭﺍﻧﻮ ﻳﻮﻩ ﻣﻴﻠﻪ ﭼﻪ‌ﭘﻪ‌ﻳﻮﺑﻞ ﺑﺎﻧﺪﯼ ﭘﮑﺒﻨﯽ ﺭﻧﮕﻮﻧﻪ ﺍﭼﻮﯼ.

ﻳﺒﺮ «ﭖ» ﮐﺎﺭﻭﺍﻥ «ﺩﮐﻨﺪﻫﺎﺭ ﻧﺴﺨﯽ‌ﭘﻪ‌ﺣﻮﺍﻟﻪ».

# DEWAN

*of*

# MIRZA KHAN ANSARI

Pushtu Academy

KABUL , AFGHANISTAN

1975 .

دولتی مطبعه